له کندهاره تر اټکه

(په پښتو کلاسیک ادب کې د لوېدیځې لهجې څرک)

څېړنه د
محمدمعصوم هوتک

۲۰۱۰ع

www.hotakonline.com

اهداء

په ژبپوهنه کي د لوی لاس ښبنتن او منلي عالم

ډاکټر عبدالرازق پالوال

ته !

معياري پښتو او دړي وړي پښتانه

سر ئې هوري يو دمغار بل کندهار دئ
تر دا مـنځ همه ميشـــته واړه عبس دي

اوښ لــه باره ســـره کــور ته ورغــلئ
په هوس د اوښ د غـــاړي د جـرس دي
خوشحال

قوم پر قبايلو باندي ځله وېشلئ، ښاخ – ښاخ، ځانګي ځانګي او بيدء دئ. نو دا قوم به لا تر څو بيدء وي، څوک به ئې ځنګه ويښوي، څو غړيي ئې د فهم او شعور خاوندان سوي وي؟ يئه، قوم بيدء نه دئ، نشه دئ، په چرسو او تارياکو اخته دئ. "چرسي زوی، نه زوی، تارياکي دوه په ايکي". څوک له نشيانو څخه نشه په يوء دم بندولای نه سي. ځکه چي په لېونتوب اخته کېږي او دا به تر بد هم بدتره وي چي د چا نشه په لېونتوب سره اووښتي وي. هاله به ئې چاره لا نوره هم ګرانه سوې وي. دغه آني کار نه دئ، بل لا د زماني په اوږدو کښي سوکه – سوکه تدريجي کار دئ. بايد د نشه يي موادو پر ځای باندي عوضي اليشوني د پر هوښ راوستلو مواد وربرابر کړل سي او ورکړل سي. کله چي قوم پر سد سي، وېوهېږي، بيا نو هاله خپله ژبه او خپل نور

ژوندون هم سمولای سي. ای توجه به ئې له نشه يي موادو څخه و نور ژوندانه ته ور اووښتې وي – په خپل تاريخ، په خپل ثقافت، او په خپله ژبه به پوهېدلي وي چي په دنيا کښي يو قوم بېله خپلي ژبي څخه نسته، او ژبه بېله قومه څخه نسته. که تاريخي ژبه پر ډېرينو کتيبو باندي يا په کتابونو کښي پاته وي او قوم ئې مړ وي هغه ژبه هم مړه ژبه بلله کېږي.

د ژبي د مرګ يوه لار او عمليه دا ده چي متعصب کسان په لوی لاس او ناپوهۍ سره خپله ژبه له خلکو څخه پرېدی کړي. کله چي خلګ په خپلي ژبي کښي ناخوالي او ګډوډۍ ووينې، او په دوی کښي ئې زغم نه وي، دغسي کسان هرومرو و بلي ګاونډي ژبي ته ورګرځي چي هغه به له دغسو لهجوي ګډوډيو او ناخوالو څخه پاکي وي. نو کله چي له ژبي څخه يوه يا اوز دغسي د تېښتي لار يا لاري پرانيستلي وي، آيا دوی به ئې لا بيا هم په چاره نه پسي کيږي؟ په داسي حال کښي چي عاملان به ئې هم په خپله دوی وي.

که به څوک پښتون له خپل پښتانه قومه سره خواخوږيتوب لري، هغه به ئې هرومرو د دغه قوم له ژبي سره هم لري. که به دغسي څوک د پښتنو يووالئ او اتحاد غواړي، نو ئې بايد د ژبي د يووالي له پاره هم کار او هڅي وکړي. هره ژبه لويي او کوچنۍ لهجې لري. په رسېدلې ټولنه کښي تر دغو لهجو د پاسه يوه معياري ژبه هم وي چي هغه ئې د ښوونځ، خپروني، او دفتر ژبه وي. د نورو لهجو ږغېدونکي مکلف دي چي دغه معياري ژبه وکاروي. دغه معياري ژبه بايد عام فهمه وي، له ګډوډيو څخه ژغورلي وي. په سرې سره بايد وياندان له دغه راز تشبثاتو څخه چي وروسته به ئې يادوءنه وسي منع کړل سي – مرسته ورسره وکړل سي، وپوهول سي.

که چا هر کله و معياري پښتو ته وده ورکوله، هغوی بايد دغه کار هرومرو له

علمي لاري څخه وکړي، نه د لاس په پورته کولو سره چي "موږ" دي وکښل سي که "مونږ"؟ يوه ښه او ګټوره لار ئې هم دا ده چي ښاغلي معصوم هوتک کار څني اخيستئ دئ – ای د ختيځي او لوېديځي لهجې تر منځ ئې مشترکات او مشابهات موندلي او راسربېره کړي دي. د معياري پښتو په جوړښت کښي دي و دغو او دغسي مشترکاتو او مشابهاتو ته وده ورکړه سي. دغه د خلګو تر منځ له نژدېوالي او پوهاوي سره مرسته کوي.

بل دا چي يو شمېر منلي اصول دي طرح او تطبيق کړل سي – ای په خپرونو کښي دي عملي کړل سي. د څرګندوني په توګه، آيا بشپړ پښتو لغاتونه غواړئ، که نيمګړي؟ آيا پښتو دي له ګرامري ګډوډيو څخه پاکه وساتله سي، که دي هسي ايله ورکړه سي – هر چا چي هر څه ويل او کول؟ آيا د کاتبانو تحريفات دي په کلاسيکو اشعارو او نثري متونو کښي اصلاح کړل سي، که دي همدغسي ومنل سي؟ آيا په صفاتو او افعالو کښي دي د تذکير او تأنيث توپير وساتل سي که دي هسي ايله ورکړه سي –هر څوک چي ئې هر راز وايي او کاږي؟ آيا د پښتو ژبي توري او ږوغونه دي، چي خوشحال يو دېرش (۳۱) شمېرلي ول، بېله عربي خاصو تورو څخه، او بېله د وواتو او يېګانو له توپيره څخه، هم په همدغه شمېر سره وساتل سي، که دي پنځه توري او ږوغونه څني کم کړل سي چي ۲۲ توري سوي وي. له دغو پنځو تورو څخه مراد /ځ، څ، ژ، ږ، ښ/ او د دوی ږوغونه دي. آيا دغه ږوغونه بايد په ژبه کښي ورک او نست کړل سي، داسي چي په /س، ز، ګ، خ/ سره اړول سوي وي يا اليش کړل سوي وي، که دي وساتل سي؟ په ساتنه کښي بايد د معياري پښتو زغرد ږوغونه او توري وي چي په وينګ او کښنګ کښي ئې بايد وياندانو او ليکوالانو په هر ځای کښي مراعات کړئ وي. ګټه يا ښېګڼې به ئې څه وي؟ يوازي د تورو او ږوغونو د ږېرښت؟

شپېږ – اووه کاله ترمخه زه په کابل کښې یو ه ټکسي ته ور وختم. ټکسي وان هغه ځای لیدلی نه ؤ چیرې چې زه تلم. ده ویل چې دی و کابل ته نوی راغلئ دئ او ترمخه ئې په پېښور کښې ټکسي چلاوه. ده له ما سره ښه وضعیت کاوه. ده راته وویل چې ته تش لار راوښیه، زه دې هر ځای ته بیایم او کریه چې دې هم هر څو راکړه. ده ویل کله چې به په پېښور کښې کندهاری و ټکسي ته راوختئ او له ما سره به ئې پښتو ویله، و ما ته به ئې داسې خوند راکاوه لکه زما په مورنۍ ژبه چې به راسره ږغېدئ. په هر څه ئې پوهېدم، او د فهم هیڅ تکلیف مې نه لاری. خو پېښوریان یا نور چې به راسره ږغېدل زه به په فکر کښې ډوب وم چې مقصد ئې څه دئ. په آسانۍ سره نه په پوهېدم.

ولې و کابلیانو او نورو فارسي ژبانانو ته د سهېل – لوېدیځ پښتو، چې د کندهارۍ پښتو په نامه سره پېژندله کېږي، آسانه او عام فهمه ده؟ دا ځکه چې د پښتو هغه خاص پنځه ږوغونه، او په سرې سره /ژ، ږ، ښ/ ږوغونه له اردو او درې ژبو له /چ، ز، ش/ ږوغونو سره مشابهت لري. د پښتو او درې د دغو ږوغونو اوازونه سره ورته او د تلفظ مخرجونه ئې په خوله کښې سره څرمه یا سره نژدې دي. نو لغتونه ئې هم داسې دي چې ځینې ځرګندونې ئې په لاندې ډول سره دي:

ژلئ:	ژاله، جاله
ژور:	ژرف
نژدې:	نزدیک
ژوونه:	جویدن
ژوند:	زندګی
ژړ:	زرد
کوږ:	کج
ږنګ:	زنګ

ږغ:	چيغ
غوږ:	گوش
غېږ:	آغوش
مږه، موږک:	موش
مېږ:	مېش
تږئ:	تشنه
کږدۍ:	غژدي
پړئ:	پژ
کوښښ:	کوشش
پوښ:	پوش
پوښښ:	پوشش
کښتۍ:	کشتي
لښکر:	لشکر
روښان:	روشن
ښار:	شهر
خښم:	خشم
خواښې:	خوشو

د پښتو او دري دغه تلفظي او هم خطي مشابهت او نژدېوالئ دئ چي دري ژبي ږغېدونکي په کندهارۍ لهجه تر نورو ښه تره پوهېږي او هم ئې په اورېدني باندي خوند اخلي، په سرې سره چي ئې بيا بدلي او سندري اوري. سره له دغسي عمومي امتيازه چي عام فهمي ده، بيا دي هم څوک و دي ته زړه ښه کړي چي /ژ، ږ، ښ/ دي ئې نست کړي – اى په /ج، گ، خ/ سره ئې اړولي وي.

د پښتو لهجو تر منځ هغه خورا زغرده ناخواله دغه د /ژ، ږ، ښ/ اړول په /ج، ګ، خ/ سره دي چي د ختيځي او لوېديځي پښتو تر منځ ئې نه رغېدونئ بېلوالئ را پيدا کړئ دئ.

ب– اوس به د دوو نورو داسي ناخوالو يادوءنه وکم چي که به موږ د خپلي ژبي ښېګڼي غواړو بايد مخنيوی مو ئې کړئ وي. دغه ناخوالي لهجوي نه دي، بل لا په ژبه کښي ګډوډی پېښوونکي دي. لومړی په امريکا ږغ راديو کښي، او اوس ئې و کابل راديو ته هم سرايت کړئ دئ. دغه ناخواله د ټپي او ټپيانو تر منځ د مفرد او جمع توپير نست کول دي. د څرګندوني په توګه وايي چي يو نفر ټپي سوئ دئ، او پنځه نفره ټپي سوي دي. خو په مغيره (مجرور) حالت کښي نه وايي چي د ټپيو حال نازک دئ. په دغه حالت کښي بيا وايي چي د ټپيانو حال نازک دئ؟ همدغسي نه وايي چي ښځي ټپی ئې و روغتون ته رسولي دي، بل لا وايي چي ښځي ټپياني ئې و روغتون ته رسولي دي.

دغه هم عقلي ګډوډي ده او هم ګرامري ګډوډي ده. دغه د هغه چا له خوا څخه و ژبي ته ورکښې ايستله سوې ده چي دوی په دري ژبي محيط کښي لوی سوي او هم و دري ژبي ښوويځونو ته تللي دي. دا ځکه چي په دري ژبه کښي د مفرد او جمع تر منځ توپير نه کېږي – يک نفر زخمي شده است؛ پنج نفر زخمي شده اند.

ج – بل دا چي د افغانستان په راديوګانو کښي عيدالفطر هر ځای کوچنی اختر يادېدئ، خو د آزادی راديو کمکی اختر وباله او امريکا ږغ راديو ووړ اختر يا وړوکی اختر وباله. دا په داسي حال کښي چي د دوی په لهجو کښي تر پرونه پوري و اختر ته عيد ويل کېدئ. نن ئې ووړ يا کمکی بولي.

د – بله ناخواله د پښتو ويباندانو توري په توري ترجمه ده. پښتو ويباندانو لا

تر او سه پوري د دې استعداد او لیاقت موندلئ نه دئ چي دوی دي له اصلي منبع څخه په خپله ترجمه وکړي. دوی ئې له دري ترجمې څخه ترجمه کوي، او نو ځکه ئې ترجمه د دري تقلیدي ترجمه وي. دا به ښه تره وي چي دوی خبرونه، راپورونه، نوري تبصرې او مضامین په خپله له اصلي منبع څخه ترجمه کړي وي. ولي د خپرونو په آمریت کښي، په حکومت کښي، زموږ په غونډه پښتني ټولنه کښي داسي د فهم وړ کسان نسته څو دوی ئې له دغسي یو راز او بل راز ناخوالو څخه منع کړي وي؟ څرګندوني ئې په لاندي ډول سره دي:

دري ترکيب	تقليدي ترجمه	پښتو بوب معادل
لباس سبز به تن دارد.	زرغونه کالي يې په تن دي	زرغونه کالي ئې اغوستي دي
پنج سال عمر دارد.	پنځه کاله عمر لري	پنځه کلن دئ، د پنځو کالو دئ
طفل لادرک است	ماشوم لادرکه دئ	کوچني ورک دئ
دستآوردهای دارد.	لاس ته راوړني لري	پيداوي، برياوي، موندلي لري
اشخاص دستبوس اند .	لاس پوخي کسان دي	غوړه مال، غوړه مالان، چاپلوسان دي
دستآويز	لاسوند	سند ، ثبوت
اطاق تجارت	د تجارت خونه	د تجارت دفتر
به راه انداخته است	په لاره اچولي دي	پيل کړي دي، سره پرله پسې کړي دي
از بين برده	له منځه وړي دي	تباه کړي دي، نست کړي، وران کړي دي
چشم به راه	سترګې په لار	لار به مو څارو، و لارې ته به مو ګورو؛ په خپل راتګ سره مو ونازوئ؛ د خپل راتګ وياړ راوبخښئ؛ په خپل راتګ سره مو سرلوړي کړئ (هم ووينئ د دې کتاب ۴۰ مخ)

که دغه راز تقلیدي ترجمه نوره هم دوام پیدا کړي، او په نورو ولایاتو کښې ئې هم د کندهار غوندي ویاندانو رُوند تقلید کړئ وي، له پښتو څخه به ترجمه کړې ژبه جوړه سوې وي. آیا د فهم خاوندان دغسې ترجمه سوې پښتو غواړي؟ ولې ئې د فهم احساس، اصلاح او مخنیوی نسته؟

هـ - پر پښتو ویاندانو او لیکوالانو باندې درې ژبې یوه بله جوپه اغېزې هم کړې دي چې زهٔ ئې د ټولنې په ژبه کښې څرک نه وینم. دغه داسې دي:

درې ترکیب تقلیدي اخیستنه پښتو ساده څېره ئې

1. چند باب مکتب دارد. څو بابه ښوونځي لري. څو ښوونځي لري.
2. دو قاب ساعت دارد. دوه قابه ساعتونه لري. دوه ساعتونه لري.
3. یک زنجیر اسپ است. یو ځنځیر آس دئ. یو آس دئ.
4. سه پایه کمپیوتر است. درې پایې کمپیوترونه دي. درې کمپیوترونه دي.
5. کشف شش حلقه ماین. د شپږو حلقو ماینونو کشف. د شپږو ماینونو موندل.

د باب، قاب، ځنځیر، پایې او حلقې له پاره په ژبه کښې ضرورت څه دئ؟ ولې باید دغه اضافي لغت پورې وتړل او وویل سي؟ په داسې حال کښې چې نوټ بوک او لپ ټاپ کمپیوټر به هیڅ پایې هم نه ولري.

و - یادونې خو خورا ډېرې دي چې یو بل غونډ کتاب پر کښل کېدای سي. نو ځکه مې وروستنۍ د اندېښنې وړ یادونه د سمونوال لغت کارول دي. د یوهٔ شخص غلطي یوازي د دهٔ په تناسب ده. خو د یوهٔ ګوند غلطي د هغه د ټولو غړو د شمېر په تناسب ده. د پولیسو او ترافیکو و یوهٔ یا بل مشر ته

سمونوال ویل معقولیت نه لري. پولیس ساتنوالان دي، او مرکز یا اداره و دفترئي ساتنوالي کېدای سي.

ترافیک د عراده جاتو په عبور و مرور کښې نظم و نسق راولي یا ئې دغه کار دئ. دوی پر لار کوونکي دي.

سمونمل او سمونوال و داسي کسانو ته ویل کېدای سي لکه مدیران او رئیسان چي دوی د ډېرو بېلابېلو څانګو په کارونو کښې سمون راولي، یا دغه ئې وظیفه او کار دئ چي دوی باید د سمون او سماوو ماهران وي، او له دوی څخه د دوی په اړونده څانګو کښې د سمون او سماوو توقع کېږي چي دغه ئې کار او مسلک دئ. و اداري ته ئې کېدای سي چي سمونوالي وویل سي لکه د کرهنې سمونوالي، د اقتصاد سمونوالي، د تجارت سمونوالي، د ورهنې (صنعت) سمونوالي او هم نوري داسي.

ز – زه چي له اصلي موضوع څخه لږ و ډېر وتلئ وم اوس به بیرته وروګرځم. پر ځای د دې چي د نورو غونډې ئې لهجې پاللي او تقویه کړي وي، ښاغلي محمدمعصوم هوتک ئې د سره نژدې کولو زیار ایستلئ دئ. دا چي د ده کار نور هم پیاوړئ سوئ وي، دی دي په هغو بیتونو کښې چي ده د استناد له پاره ور اخیستي دي او په هغیو کښې د کاتبانو تحریفات سته، دغه تحریفات دي ئې په داسي ډول سره وښوي چي د کلاسیکي پښتو لغت دي له ښکله سره په پتریانو کښې دننه ورته وکاږي. ځیني ښرګندوني ئې داسي دي:

۱ – ښکله چي د کلاسیکي پښتو هر یو سپوښئ "څخه" په "نه" سره اړول سوئ دئ، نو دي د "نه" له ښکله سره، هر چیري چي به وي "څخه" په

پتريانو کښي [ښخه] ورته وکښل سي.
۲ – دغسي هم د کلاسيکي لهجې هر "پر " په "په " سره اليش سوئ دئ، نو دي د "په " له ښنګه سره په پتريانو کښي [پر] ور زيات کړل سي. ما ئې په لومړني سر کښي تر ځينو لاندي کرښه کش کړې ده، او نور مي په خپله و ليکوال ته ور پرې ايښي دي. ځکه چي دی په خپله هم د "په " او "پر " په توپير پوهېږي، نو زما و نخښې ته څه اړتيا ده.
۳ – دغه راز دي هم "کي [کښي] او پکي [پکښي] " وکښل سي. دوی دغه کلمات دغسي ويل او کښل.
۴ – دغسي دي هم له نورو تحريفاتو سره د کلاسيکي پښتو لغت يا ترکيب وکښل سي. د ځرګندوني په توګه پر شلم مخ باندي د خوشحال و يوء بيت ته، د اوسنۍ لهجې، "لاړو " ور کښې ايستل سوئ دئ. دغه دي هم په لاندي توګه وکښل سي:

نوم ئې لاړو [تللئ] تر دکن تر قندهاره

۵ – بله يادوءنه مي دا ده چي په کتاب کښي سر تر پايه د مفرد غائب ضمير "ئې "، د مفرد مخاطب فعل "يې " غوندي کښه سوئ دئ. د دغو دوو تر منځ توپير لازمي دئ. په نورو ليکنو کښي هم دغه توپير نه مراعات کېږي. يوه ځرګندوءنه ئې هم درکم:

ته ئې دوست يې.

لومړنی "ئې " د مفرد دربيمګړي ضمير دئ، او دوهم يا وروستنی "يې " د مفرد مخاطب فعل دئ. "ئې " له غايب سره اړه لري، او فعل "يې " له مخاطب "ته " سره.
۶ – ټول هغه کلمات چي تر ښېرني لاندي وي، بايد په بيتونو کښي غورس

کړل سي څو لوستونکی، ورته څیر کړل سوئ وي.

۷– په ۳۵ – ۳۲ مخ کښي د خوشحال یو بیت څېړل سوئ دئ، چي بیت ئې داسي دئ:

عشق یو هسي یو دېرشم توری رازده کړ
چي په دېرش توري [تورو] څکوم [څخوم] د قلم کیلي

ښایي خوشحال به د عشق پر مهال د الف او همزه (ا – ء) تر منځ په توپیر پوهېدلی ؤ ، نو دی به دغه دوهم توري (ء) ته هم څیر سوئ ؤ چي په دغه سره نو رشتیا هم د ء د پښتو توري یو دېرش (۳۱) کېږي.

نه عشق، نه وصال، نه هجران، او نه بل څه دی د ووانو /و/ او یاوو /ی/ تر منځ و توپیر ته څیر کړئ ؤ چي په پښتو کښي دري رازه واوونه او دري رازه یاوي سته چي په دغو سره به نو د پښتو ږوغونو او تورو شمېر پنځه دېرش (۳۵) سوئ وي.

د خوشحال د پښتو تورو له وراخستني څخه خو د ښاغلي معصوم هوتک نیت و نیامت دا دئ چي په کلاسیکه پښتو کښي خوشحال /ژ، ږ، ښ/ داسي نه تلفظ کول لکه نن چي په هم هغه چاپېریال ختیځه پښتیانا کښي د /ج، ګ، خ/ غوندي ویل کېږي. ای هغه او دغه دوي لهجې د ورځي او شپې غوندي څله ببلي وې، او په تحریفاتو سره یووالئ ورکول کېدای نه سي.

ډاکتر عبدالرازق پالوال
۲۵ وری ۱۳۸۹
کندهار

بسمه تعالی

ما ته چې به د خوشحال ختېک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰هـ ق) له ژبې سره د خپلې لهجې مشابهتونه ځای ځای په مخه راتلل، هر وخت به مې فکر کاوه، چې که په دې برخه کې څېړنه وسي، د پښتو په خير به تمامه سي او د معياري پښتو د منځته راتګ له جريان سره به مرسته وکړي، خو د خپلو پښتنو ورونو بېځايو او بې موردو حساسيتونو به هر وخت په دغه برخه کې د علمي کار او څېړني څخه خواتوری کولم. يو وخت چې مې[1] له ګوربت مجلې (لومړی کال، ۲ ګڼه - ۲۵مخ) سره د خپل خواخوږي استاد علامه رشاد ◂ مرکه په پردېسې کې وکتله او په هغې کې مې د علامه مرحوم له خولې ولوستل چې د لهجو قطعي ترک په هيڅ ژبه کې نسته او په دې باب "... تاريخي سلسلې بايد سړی په نظرکې ونيسي. کوم وخت چې فيصلې سره کېږي، هغه وخت پر دې مفصل بحث په کار دی..". نو مې له ځانه سره عزم وکړ، چې د دغو تاريخي سلسلو يوه برخه به هرومرو څېړم.
په دې ترڅ کې زه په نورو کارو مصروف سوم او کله چې د ډاکتر عبدالرازق پالوال (معياري پښتو) کتاب راووت او په هغه کې مې د دوی دغه سپارښتنه ولوستله، چې وايي: "پښتانه دې د تقليد پر ځای باندې پالنه غوره کې ... پښتانه پوهان، اديبان، او ليکوالان دې خپل کلاسيک آثار وپالي چې خوشحال، رحمان، حميد، قادر او نورو په

[1] معياري پښتو - ۱۸مخ.

میراث ورپرې ایښي دي. دوی دي دغه خپل مُثل اعلی وګرځوي او د فهم له مخي څخه دي ئې پالنه وکي څو په دغه کار سره ئې د دوی امانت لغات او جملات بشپړ او منظم ساتلي او پاللي وي". نو مې پخوانی عزم، جزم سو او کله چي بیا د پوهاند ډاکتر مجاوراحمد زیار (د خوشال ادبي پښتو) کتاب لاس ته راغی[۲] په ما کي ئې بیرته د خپلو کت سوو پاڼو د بیا رااخیستلو او سره اوډلو هڅه ژوندی کړه. د ډاکتر پالوال صاحب او ډاکتر زیار صاحب په کتابو کي ډېر داسي مطالب راغلي دي، چي زه ئې پر خپله څېړنه باندي نور هم باوري کړم. دغه راز آثار د معیاري ژبي تر ټاکلو وړاندي ډېر ضروري دي او زه هیله من یم، چي د ژبي دغه پیاوړي استادان دغه شان نوري څېړني هم پر "خوارکۍ" پښتو باندي ولوروي.

زه په دې حاضره لیکنه کي د خوشحال خټک او نورپښتو کلاسیک ادب ژبه له خپلي هغي ژبي سره مقایسه کوم، چي د مور په غېږ کي مي زده

[۲] د ډاکتر پالوال کتاب په ۱۳۸۴ ش کي خپور سو خو لیکلی ئې د وختهوو او د ډاکتر زیار کتاب واردواره په ۱۳۸۲ش کي او دوهم وار په ۱۳۸۴ش کي چاپ سو. ما ته د ډاکتر زیار کتاب د ۱۳۸۶ ش = ۲۰۰۷ع په نومبر کي په لاس راغی. دغه وخت زیار صاحب کاناډا ته تشریف راوړی وو او ما ته ئې دغه کتاب د ښاغلي رحمت آریا له پاره راکړ. ما د ښاغلي آریا په اجازه له ځانه سره وساته، چي له مطالبو څخه ئې ګټه واخلم. که څه د ډاکتر پالوال صاحب د کتاب د مستدلو او مفصلو څېړنو په موجودیت کي به زما د دې کتابګوټي خپرول، "تکرارمکرر" وي خو ما خپله کښنلي خواري هیسته نه سوای غورځولای او که تکراري هم وي، له درنو لوستونکي سره ئې په دې نیامت شریکوم ،چي ګوندي څه ګټه به ځني واخیستلای سي.

کړې ده، د خالپوخو (خاپوړو - خاړپوخو) پر مېنه مې پسې تعقیب کړې او له وړکیني څخه تر زاړه سن پورې په ږغبدلی یم او لا اوس هم په ږغېږم، له دېرشو څلوېښتو کالو راهیسې مې شعوري څېړنه پکښې کړې ده او قلم مې پکښې چلولی دئ.په دې مقایسه کې مې ترزیاتې اندازې پورې دخوشحال خان اودده دکورنۍ ژبه په پام کې نیولې ده خوپرځنګ مې دکلاسیک ادب نورآثاردخپلې څېړنې دپیاوړتیاپه نیامت هم پرکتلې دي.

زه په دې څېړنه کې د خوشحال ژبه له هغې پښتو سره ایږدم، چې ما د مقر (مکور - مرکور) د پښ له کندې څخه تر فراه پورې، له روزګان څخه تر کوټې و قلات (بلوچستان) پورې، له لښکرګاه - بُست (هیلمند) څخه تر لکې و صفار پورې اوربدلې ده. دغه لغاتونه چې زه ئې تر څېړنې لاندې نیسم، د دغې پراخې حوزې په یوه یا څو برخو کې ما اورېدلې او تحقیق کړې دي او یقین مې دئ چې ښایې یوه زیاته برخه به ئې همدا اوس هم د خلګو په خولو کې متداول وي او بله برخه به ئې ښایې اوس دونه عام رواج ونه لري او یا ښایې اوسنی نسل به ئې پخپله ورځنۍ محاوره کې نه کاروي، خو ما دا ټول په سرې سره اورېدلې دي، په معنا کې مې غور کړی دئ، د استعمال موارد مې په یاد دي.

زه نه غواړم په دې څېړنه کې وښیم، چې د خوشحال ژبه کټ مټ زما د

لهجې ژبه ده او په دې ډول ځان او خپلې لهجې ته امتیاز وګټم. زه غواړم چې د خوشحال د ژبې او زما د مورنۍ لهجې تر منځ مشابهتونه وښیم. دغه لغات چې زه ئې پخپله لهجه کې ځرک درکوم، ښایي په نورو لهجو کې هم ژوندي او مروج وي. زما یقین دئ چې دا شان مشابهتونه د نورو لهجو ویونکي هم موندلای سي. د پښتو لهجې خو د یوې ونې ښاخونه دي. اصل ئې یو او تاداو ئې یو دئ:

در اصل مذهب همه صاحبدلان یکیست
از ناقـــــلان بد سخن اینجا رسیده است

خو زما د خپلې مشاهدې او څېړنې له مخې راته معلومه سوې ده، چې که دغه لغتونه په نورو لهجو کې موجود هم وي، بیابه ئې تلفظونه توپیر سره لري، د استعمال ځای به ئې متفاوت وي او نور راز راز بدلونونه به باندې راغلي وي.

ما دا څېړنه له دې اسیته هم کړې ده، چې په دې وختو کې هڅه کېږي د لوېدیځې لهجې ټولې ګرامري او تلفظي ځانګړتیاوې د دغې لهجې په بېنظمیو، ګډوډیو او بې قاعدې ګیو کې وشمېرلې سي. لوستونکي به د دې کتاب په راتلونکو پاڼو کې وګوري، چې د دې ځانګړتیاوو له پاره پاخه کلاسیک تاداوونه موجود دي.

ما چي له خپلي څېړني څخه کومه نتيجه رااېستلې ده، د هغې پر بنسټ باندي وېلای سم، چي د خوشحال خان او نور کلاسیک ادب د ژبې زیاتره ګرامري جوړښتونه، لغتونه، ترکیبونه او وراشي په لوېدیځه لهجه کي تر ننه لا هم خوندي دي. ما ته د خپلو مقایسوي څېړنو له مخي ښکاره سوې ده، چي لوېدیځه لهجه د نورو لهجو په نسبت د لرغونو ځانګړتیاوو په خوندي ساتلو کي محافظه کاره پاته سوې ده.

ما ته ثابته سوې ده، چي په کلاسیکه پښتو کي د سوچه توب تمایل کورټ نه لیدل کېږي، بلکي د هغه پر خلاف ئې د نورو ژبو د کلماتو د هضمولو قابلیت ته لاد لاسه وده ورکوله[۳]. د سوچه پښتو او د سوچه کولو ذهنیت زموږ پر ژبه باندي وروسته راخپور سوی دئ. د دې ذهنیت تر شا سیاسي انګېزې پرتې وې او دي.

ما ته دا هم ثابته سوې ده، چي د پښتنو د ژوند اجتماعي، اقتصادي او سیاسي شرایطو د هغوی ژبې ته د هغوی د استوګني د مبني په تناسب د ودې او تکامل بېلابېل استقامتونه ورکړي دي. د هغوی د ژبې د پرمختګ آهنګونه ئې متفاوت کړي دي، د هغوی د ادبي او ژبني

[۳] وګ: د خوشحال، حمید مومند، کاظم خان (د خان لفظ پالوال صاحب خراب کړی دئ) شیدا او نورو دېوانونه. د دوی په کلام کي د فارسي وعربي لغاتو پرېماني پر دې خبره دلالت کوي، چي دغو شاعرانو د نورو ژبو له لغاتو سره هېڅ راز ستونزه نه درلوده.

فعالیتو لوري ئې پر مشخصو او سره بېلو جهتو باندي روان کړي دي. زه د خپلي دغي ادعا د ثبوت له پاره د ډيورند د منحوسي کرښې د دواړو غاړو پښتنو د ادبي او ژبني تحرک جريان ته اشاره کولای سم، چي نه ئې د انکشاف او پرمختګ سرعتونه سره يو دي، نه ئې د ژبنيو او ادبي ايجاداتو ساحې سره ورته دي او نه ئې د ژبني جوړښت شکل او محتوی سره يو راز پاته سوې ده.

ما په دې خبرنه کی د خوشحال خان ختک له آثارو څخه د هغه غزليات او قصايد (يوه برخه)، دستارنامه، سواتنامه، فراقنامه غوره وګڼل. د طب نامې ژبه د طبابت ژبه ده او د بازنامې دا هم د يوې ځانګړي تخصصي څانګي ژبه ده او د خوشحال د لهجې په څېړنه کي ډېره مرسته نه سي کولای. سره له دې مي دا دوه اثره هم له پامه پر يوه مخ نه دي ايستلي او مرور مي پر کړی دئ. د خپل کار په جريان کي مي د خوشحال خان او د هغه د کورنۍ د غړو دا لاندي چاپي او خطي نسخې کتلي دي:

۱–د خوشحال ختک مرغلري:
د لوی استاد علامه عبدالحي حبيبي له خوا په ۱۳۱۷ ش کال په کندهار کي خپور سوی دئ.

۲ - ارمغان خوشحال:

د میان سیدرسول رسا په زیار په ۱۹۶۴ ع کال د یونیورسیټي بُک ایجنسۍ له خوا په پېښور کي خپور سو. ما چي له کومي نسخي څخه استفاده کړې ده، ښاغلي عبدالباري جهاني له خپل کتابتون څخه رالېږلې ده چي مننه ځني کوم.

۳ - سواتنامه د خوشحال خان خټک:

د پوهاند عبدالحی حبیبي له سریزي او ځرګندونو سره د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو انستیتوت له خوا په **۱۳۵۸** ش کال په کابل کي خپره سوه.

۴ – دستارنامه:

دستارنامه د خوشحال خټک د **۲۸۲** تلین په مناسبت د پوهاند صدیق الله رشتین په سریزه د پښتو ټولني له خوا په **۱۳۴۵** ش کال خپره سوې ده. دغه راز د پښتو اکېډیمي پېښور له خوا د پروفیسر محمدنواز طائر په سریزه او د حاجي پردل خان خټک په زیار په ۱۹۹۱ع کال چاپ سوې ده. ما (هوتک) په دې حاضره لیکنه کي زیاته استفاده د پېښور له چاپه کړې ده.

۵ - د خوشحال خټک کلیات - لومړی ټوک:

د پوهندوی دوکتور ګل محمد نورزي په سریزه او څېړندوی محمد

صديق روهي په پېژندګلوی د افغانستان د علوموااکاډيمی د ژبو او ادبياتو د انستيتوت د ادب او فولکلور څانګي له خوا په ۱۳۵۹ ش کال خپور سوی دئ.

دا متن که څه هم له "خو" څخه خلاص نه دئ خو بيا هم تر بل هر متن ما ته دقيق ايسي ځکه چي د هغي نسخي بدېلونه ئې هم راوړي دي، چي د خوشحال خان په ژوند کي ليکل سوې ده او ويل کېږي، چي د خوشحال پخپل خط ده[۴].

۲–د خوشحال رباعيات:
د پوهاند رشتين په سريزه (پاييزه) د پښتو ټولني له خوا په ۱۳۴۹ ش کال په کابل کي خپاره سوي دي.

۷–فراقنامه:
د زلمي هيوادمل له سريزي، څرګندوونو او ويي پانګي سره د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا په ۱۳۶۳ ش کال خپره سوې ده.
په سر کي د علامه پوهاند عبدالحي حبيبي، پوهاند ميرحسين شاه په

[۴] د (خوشحال ادبي پښتو) په ۲۱ مخ کي د استاد بختاني په حواله د خوشحال خان د خپل لاس کښلي نسخه "په پېښور کي راخوندي شوې فضلنامه" ښوول سوې ده. په دغه مخ کي د استاد له نامه سره د "ع" راوړل، چي د "عليه السلام" لنډيز دئ، د حيرانتيا وړ خبره ده.

قلم یادا ښتونه (پښتو او پارسي) هم لري.

د فراقنامې متن د اعتماد وړ دئ، ځکه په تهیه کولو کې ئې له ډېرو نسخو (چاپي او خطي) څخه کار اخیستل سوی دئ. زه فکر کوم چې د خوشحال د کلام د ژبنیو خصوصیاتو په څېړنه کې حساب پر کېدلای سي خو بیا هم ما د هغه متن څخه د را اخیستل سوو برخو مقابله له نورو چاپو سره له پامه نه ده ایستلې.

۸– د عبدالقادر خان خټک دیوان:
وارد واره د علامه عبدالحي حبیبي په همت له کندهار څخه په ۱۳۱۷ ش کال خپور سوی دئ او دوهم وار د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز له خوا د نورالله ولسپال په سریزه، تحشیه، تصحیح او مقابله د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په ۱۳۶۸ ش کال کې خپور سوی دئ. په سر کې د پوهاند رشاد، پوهاند عبدالاحمد جاوید او سرمحقق محمدصدیق روهي په قلم یادا ښتونه هم لري.

ما له دواړو چاپو څخه استفاده کړې ده، خو ډېره تکیه مې پر دا دوهم چاپ کړې ده. د عبدالقادر خان نوی چاپ دیوان سره له دې چې په دقت تهیه سوی دئ خو د لیکدود تجانس ئې یو څه کمزوری دئ.

۹ – د کامګار ختټک دیوان:
د افغانستان د علومو اکاډیمۍ له خوا د څېړونکي عبدالمتین متین په زیار په ۱۳۵۸ ش کال د خوشحال ختټک د درېم سوم تلین د بین المللي سیمینار په مناسبت خپور سوی دئ. په سر کي د څېړندوی محمدصدیق روهي یو یادابنت هم لري.

۱۰– د هجري دیوان:
د همېش خلیل په زیار په ۱۹۵۸ع کال د پېښور په شاهین برقي پریس کي چاپ سوی دئ.

د دې تر څنګ مي په ځینو برخو کي د کلاسیک ادب دا لاندي دیوانونه هم پر کتلی دي:

۱۱– د عبدالرحمن بابا دیوان:
په ۱۹۷۲ع کال د یونیورسیټي بُک ایجنسۍ له خوا خپور سوی دئ د میاسیدرسول رسا په قلم اوږده دیباچه لري. دا چاپ د پادري هیوز په لاس د خپاره سوي دیوان فوټوکاپي ده. د دې خبري یادونه د دیباچې په ۱۷ مخ کي سوې ده.

۱۲– د عبدالحمید مومند کلیات:

دا کلیات د محمدآصف صمیم په سریزه، څېړنه، اوږدون او وییپانګي سره د دانش خپرندویي ټولني له خوا په ۲۰۰۴ ع کال خپور سوی دئ، چي د عبدالحمید مومند دیوان، نیرنګ عشق او قصه شاه وګدا لري.

ما په دې حاضره لیکنه کي پر دغه کلیات سربېره د عبدالحمید مومند دیوان (د زلمي هیوادمل په زیار - ۱۳۶۳ش)، د عبدالحمید مومند دیوان (د صدیق الله رشتین په زیار - ۱۳۳۰ش)، دُر او مرجان (مرتبه سید انوارالحق جیلاني - ۱۹۷۸ع) او زما د کتب خانې د نیرنګ عشق له خطي نسخې څخه استفاده کړې ده.

۱۳– د میرزاخان انصاري دیوان:
دا دیوان د څېړنمل دوست شینواري په زیار ترتیب سوی دئ (۱۳۵۴ش).
د دې دیوان په باب په زړه پوري خبره دا ده، چي په ټول دیوان کي ئې (چي) د (چه) په شکل کښلی دئ. اروا ښاد دوست شینواری پخپل وخت کي منلی ژبپوه وو او د ژبي په باب ئې درانه آثار کښلي دي. ده چي په دغه دیوان کي (چه) په همدې شکل راوړی دئ آیا معنا به ئې دا نه وي چي ده دا کلمه په اوږده (ې) نه تلفظ کوله؟

د میرزاخان انصاري پر دغه دیوان سربېره مي زما د کتبخانې د میرزاخان د دیوان له خطي نسخې څخه هم ځای ځای استفاده کړې ده.

د اروابناد استاد کامل مومند په لاس (د خوشحال کلیات) ته مي تر دې ګړیه (د اپریل دریمه ۲۰۱۰ع) لاس نه رسېږي.

د میرزا حنان بارکزي او شمس الدین کاکړ د دیوانو له هغه چاپه مي کار اخیستی دئ، چي د صحاف نشراتي مؤسسې له خوا په ۱۳۸۸ش کال خپاره سوي دي.

زه دا اوسنۍ مقایسوي څېړنه په دې نیامت کوم، چي ګوندي د معیاري پښتو د منځ ته راتګ په کار کي مي د څېړونکو او متخصصینو کار یو څه وراسانه کړی وي. د معیاري کېدلو او معیاري کولو کار په دفتر کي نه کېږي، چي څو تنه مامورین سره کښېني او د ژبې مقدرات پخپلو منځو کي سره فیصله کړي[۵].

د ژبې د معیار د ستري ودانۍ د جوړولو له پاره اومو موادو ته اړتیا سته. اومه مواد د ساحوي څېړنو او کتبي متونو د سپړلو له لاري تر لاسه

[۵] په دې شپو و ورځو کي د پښتو د یوه مشر او درانه حقدار لیکوال له خولې په یوه انټرنیټي ویبپاڼه کي د "مونږ، موږ - ږغ، غږ - پزه، پوزه" په باب ځیني تبصرې خپرې سوي دي، چي د ډېري اندېښني وړ دي او ژبپوهنه ئې تر مضحکي سویې پوري راټیټه کښته (پالوال صاحب د ټیټه پر ځای کښته لیکلې) کړې ده. دغه راز لیکني، هغه هم د حقدارو مشرانو استادانو په آدرس خپرول د دغو مشرانو په حق کي ظلم دئ. نه پوهېږم پښتانه ولي پخپل خیرو شر نه پوهېږي؟

کېدلای سي. زه پخپل دغه حاضر کتاب کي پر دغو مسئلو باندي، چي پورته مي اشاره ورته وکړه، رغبېدلی یم. په دې بیان کي مي ګرامري جوړښتونه ډېر لږ څېړلي دي. زیاته پاملرنه مي د لغاتو مقایسې ته اړولې ده. له ګرامري جوړښتو څخه د اجتناب دلیل مي دا دئ، چي نه غواړم د ژبې د متخصص رول ولوبوم او هغه بیا په دې دلیل نه غواړم چي زه د دغه راز تخصص له پاره نه رسمي جواز لرم او نه هم علمي صلاحیت و توان. مګر دا خبره په پوره ډاډ سره کولای سم چي څېړنه مي تر سر تېره کړې نه ده. د خپل صلاحیت په حدودو کي مي پر هره برخه باندي ښه پوره دقت کړی دئ. د مثالو ډېرښت به ئې ښایي پر لوستونکو باندي ستومانوونکی تمام سي خو ما په دې نیامت نه دي راا خیستي چي لیکنه بېځایه په وپړسوم. له امکانه لیري نه ده، چي زما له دقت سره سره دي بیا هم تېروتلی یم. په هغه صورت کي د هر راز سالم انتقاد اوربدلو ته تیار یم. دم درحاله تاسي د کتاب لوستلو ته رابولم او خبري به د ستر خوشحال په دې بیت پای ته ورسوم:

خدایه !چاوته ئې کښېنم، څوک به پرې پوه شي
مـــــا ویلی هــــــــر یو بیت دی دفـــــــــترونه

په درنښت
محمد معصوم هوتک
اوکویل - کاناډا

اول فصل

۱ - خوشحال خان خټک او کورنۍ ئې:

اروابناد سید رسول رسا (۱۹۱۰ - ۱۹۹۰ع) پېښور د "پښتو شېراز" بللی دئ[۱]. له شېراز څخه ئې مراد د پارس هغه مشهور ښار دئ، چې د پارسي ژبې دوه مشهور نوابغ، شيخ مشرف الدين مصلح بن عبدالله سعدي شېرازي (۶۹۱ یا ۶۹۴ هـ ق مړ) او خواجه شمس الدين محمد حافظ شېرازي (۷۹۲ هـ ق مړ) ورته منسوب دي[۲].

خواجه حافظ شېرازي د دغه ښار د فضیلت او د هغه د اوسېدونکو د کمال په باب پخپله ویلي دي:

خوشا شيراز و وضع بيمثالش
خداوندا! نگه دار از زوالش
به شيراز آی و فيض روح قدسی
بجوی از مردم صاحب کمالش

د خوشحال خان خټک کړوسی کامګار خټک چې کله د خپل

[۱] د رحمان بابا دیوان دیباچه - ۳۴مخ، د ۱۹۷۲ع چاپ.
[۲] خوشحال خان د (شېرازي) په نامه د یو راز ښو خوارړو یادونه لري:

شېرازي که ښه خوراک و، وار وه تېر شه
ملوکي که ښه پوښاک و، وار وه تېر شه

(مرغلري - ۳۴۲مخ)

پلرني ټاټوبي (سرای) پر توصیف باندي راسي نو ئې له (شېراز) او (خجند) سره پرتله کوي:

د کامگار د سرای په مثل
نه شېراز دی نه خـجند [۳]

(دیوان - ۳۴مخ)

پېښور له شېرازسره پرتله کول یوه تعارفي خبره نه ده. د دغه ښار په لمن کي د پښتو ادب داسي ستر نخبه گان زېږېدلي او لوی سوي دي، چي تر څو پښتو او پښتانه پر دې نابوده دنیا باندي ژوندي وي، د دوی په نامه به ویاړي[۴].

د پېښور د تاریخي سیمي ادبي اهمیت هغه وخت یو په سله سوی دئ، چي پر دغه مېنه باندي د یوه شعوري ادبي خوځښت تاداو کښېښوول سو او تر مراده ورسېد. دا زمانه د یوولسمي هجري قمري پېړۍ د منځ کلونه دي او دا بیا هغه وخت دئ، چي د سرای اکوړې د

---

[۳] (خجند) د ماوراء النهر د مشهورو تاریخي ښارو څخه دئ، چي د سیحون رود پر غاړه پروت دئ. په پخوانیو کتابو کي خجند (د دنیا ناوې) بلل سوی دئ. دغه ښار اوس د تاجکستان د جمهوریت دوهم لوی ښار دئ. د شوروي واکمنۍ په دوران کي د دغه تاریخي ښار نوم په (لنین آباد) باندي واوښت (۱۹۳۹ع) خو د شوروي اتحاد تر ړنگېدو وروسته ئې بیرته خپل پخوانی نوم (خجند) راژوندی سو.

[۴] رحمان بابا (۱۱۲۸ هـ ق مړ) که د "ظالمانو حاکمانو" له اسیته دا ښار له (گور) سره یو شان بللی دئ، خو دا غندنه د هغي ستاینې پله نه ورسېکوي چي د پېښور په باب کماحقه بیان سوي دي.

مشرتابه بګړی د ملک اکوړي د کړوسي، د یحیی خان د لمسي او د شهباز خان د زوی خوشحال خان ختېک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰هـ ق) پر سر اېښوول‌ه سوې ده.

دا ادبي خوځښت زه ځکه شعوري حرکت بولم، چي تر یوه ټاکلي پروګرام لاندي ئې د یوه ټاکلي هدف له پاره هڅه راپیل کړې ده. په منظمه توګه ئې اشخاص روزلي دي، د ادب او شعر لارښووني ئې کړې دي، په پښتو ژبه ئې د آثارو د ژباړلو کار پر مخ وهلی دئ[۵]. د دې خوځښت باني، ستر خوشحال خان د پښتو ژبي خوار موقعیت درک کړی وواو په پوره بریالیتوب سره ئې دا کاروان تر ډېري اندازې و منزل ته رسولی دئ. خوشحال خان له خپل دغه ادبي تلاښ څخه رضائیت په دې بیت کي ښه پوره ښوولی دئ، چي وایي:

له خوشحال سره که ښې ني یو ځو کاله

دا د غــــــره ختېک به واړه شاعران شي

دا خوځښت له پلاره زامنو ته او له هغو څخه لمسیانو ته راوغزېدی او په دې ډول ئې د پښتو ادبیاتو د تاریخ یو پښپړفصل جوړ کړ.

---

(۵) د پښتو آثارو د ترجمې او خپروني کار تر خوشحال خان دمخه د روښاني خوځښت پیروانو او د هغو مخالفینو هم کړی دئ (قصیده برده، د مخزن نوري برخي) خو د هغه ډېره پاملرنه د مذهبي شخړو او تصوفي فرهنګ لورته وه.

***

خوشحال ختک یو خانزاده پښتون وو. پلارونیکه ئې د خپل وخت ننګیالي و توریالي پښتانه مشران ول. دی وايي:

راپاتې یو نه شو دوولس مې ترونه وو
ولاړل فنا شول چه اولسونه وو
څه بادشاهان ولاړل، څه څه خانان ولاړل
چه په دربار ئې ولاړ زرګونه وو

(رباعیات -۳۴مخ)

دغه وخت پر هندوستان باندې د مغولي شاهانو واکمني چلېده. د ډهلي دربار که په اتنیکي لحاظ د مغولي تورکانو په لاس کې وو، خو په فرهنګي لحاظ ئې تر پارس او ماوراء النهر وروسته د فارسي ژبې او ادب یو بل پیاوړی مرکز تشکیل کړی وو. له دغه سیاسي او فرهنګي مرکز سره د خوشحال خان د کورنۍ اړیکو د دغې کورنۍ غړو ته د پارسي ادب د مطالعې پراخه زمینه برابره کړې وه او ستر خوشحال له دغې زمینې څخه تر بل هر چا پراخه استفاده کړې وه. ده د پارسي ادب کلاسیک آثار لیدلي ول او پخپل کلام کې ئې د دغو آثارو نومونه پر دې خبره دلالت کوي، چې هغه ئې ټول لوستلي هم ول.

چه لاس مې نه رسی غلیم می یار دی
چه لاس مې ورسی غلیم مې پلار دی
دا پند به نه مومی پــه شاهنامه کښې
په شاهنامــه کښې که ډېر اسرار دی

(رباعیات - ۱۲۹مخ)

خوشحال خان خو لا ځان په فارسي شعر "طاق" بولي.

زه خوشحال پښتون چې په پښتو په پارسي طاق یم
لامې په پښتوژبه کې ژبه درغلېږي[۲]

اشرف خان ویلي دي:

د پښتو ژبه مي ناوې کړه په نظم
د مغلو په شعر هم عالي مکان یم

(دیوان - ۱۰۱مخ)

یا:

هسي نه چي شـعر کـړم په خـپله ژبه
تر پښتومي د فارسی شعر والا دی

(۵۰۱- مخ)

خو دا چي ولي ئې پښتو شعر ته مخه کړې ده، داسي وايي:

د پښتو ژبي مي آب ورکه پـــه شعـر
د فارسی شعر چي نه وايم افغان یم

(۹۸- مخ)

د ډهلي له دربار سره روابطو پر ده باندي د کتاب پرېماني هم میسره کړې وه. دی په دستارنامه کي د داسي کتابو حوالې ورکوي،

[۲] خوشحال خان خټک په دستارنامه په یوه مخ کي(۱۳۲مخ) د مثنوي معنوي، سلسلة الذهب، نفحات الانس، معارج النّبوة، شاهنامه، سکندرنامه، ظفرنامه، اخلاق ناصري، گلستان، بوستان او نورو کتابو نومونه راوړي دي، چي په پارسي ژبه د ده د پراخي مطالعې ښکارندويي کوي.

چي د سرای اکوړي یوه اولسي خان ته ئې د هغه وخت په شرایطو کي تر لاسه کول له ناممکناتو څخه وه. دی په دستارنامه کي د چنګېزخان په ارتباط پر تاریخ روضة الصفا باندي حواله ورکوي. دا تاریخ خواندمیر هروي (۹۰۳ یا۹۰۴ هـ ق مړ) د لسمي هجري پېړۍ په سر کي لیکلی دئ. تاریخ روضة الصفا خو به د هندوستان پایتخت ته رسېدلی وو، خو د روه د یوه پښتانه لاس ته رسېدل ئې که له ناممکناتو څخه نه وه نو ډېره مشکله خو هرومرو وه. دا د ډهلي د دربار له علمي و ثقافتي اشخاصو سره د اړیکو برکت وو، چي د خوشحال لاس یې د خپل وخت نادرو او مهمو کتابو ته رساوه. له دغي مساعدي زمیني څخه د ده پلار ونیکه دومره استفاده نه وه کړې او هغوی له دې دونه قومي او اولسي دبدبې سره سره عالمان یا لږ تر لږه باسواده خلک نه ول. د خوشحال خان د پلار د بې سوادۍ شهادت خو پخپله خوشحال هم ورکړی دئ. دی د پلار د سخا او توري توصیف کوي خو بېسوادي ئې نه پټوي:

پلار مي شــهبازخان په سخاوت لــکه حــاتم وو
زړه ئې د مـــــزري پــه تـــوره تېر وو تــر رســـــتمه
تېنګ ولاړ په شرعه تل ئې کار وو په رښتیا کښې
خط ســـــواد ئې نه وو نــــــور دانا وو له فـهَمه

(ارمغان - ۲۵مخ)

له دې څخه څوک حدس وهلای سي، چي د خوشحال خان نیکه

يحيى خان هم د سواد له خوا بابېز وو، ځکه باسواده پلار هرومرو پخپل زوی ليک لوست زده کوي.

د دې کورنۍ علمي و ادبي تاريخ له خوشحال خان خټک څخه راشروع کېږي او د علم او پوهې څراغ پکښې له خوشحال خان په هيسته بل سوی دئ خو د روڼا اوازه ئې عين تر دکن و کندهار پورې لا هم رسېدلې وه. عبدالقادر خان خټک وېلي دي:

نوم ئې لاړ وو تر دکن تر قندهاره[7]

نه وو بل هسي نامي لـــه زميندارہ

(۴۶۲- مخ)

خوشحال خان په دستارنامه کې شاه اويس صديقي ملتاني د خپل استاد په توګه راښيي او وايي چې "ډېر بزرگ متبرک سړی وه – د علوم ظاهري او باطني بهره ور وه "(دستارنامه ۳۹مخ). دغه راز ئې د شاه جهان د دربار له ستر عالم مولاناعبدالحکيم سيالکوټي سره د پېژندلو يادونه هم کړې ده، (دستارنامه۷۰مخ). د شاه اويس ملتاني د پېژندګلوۍ په باب مې څه ونه موندل خو مولاناعبدالحکيم سيالکوټي (۱۵۷۱ - ۱۶۵۶ع) د شاه جهان په دربار کې تر ټولو محترم عالم وو. وايي چې شاه جهان يو وار له سرو زرو او دوه واره له سپينو زرو سره تللی وو. نوموړی عالم د ۱۰۶۲ هـ ق کال د صفري پر

[7] په چاپي متن کې "تر دکنه تر قندهاره" دئ چې د شعر وزن ئې يوه هجا زيات کړی دئ.

ثلېرویشتمه مړ سوی او د سیالکوټ په تاریخي ښار کي ښخ دئ[۸]. د ده د قبر پر شاوخوا احاطه باندي اوس یو پارک سته چي د ده په نامه نومول سوی دئ[۹].

خوشحال خان خټک له دغه ستر عالم څخه د باغي (یاغي) د مال د رواوالي او نارواتوب په باب او دغه راز د سعد و نحس "ساعت" په برخه کي پوښتني کړي وي.

خوشحال خان خټک د نابغه (Genius) شخصیت څښتن وو. پیاوړې حافظه ئې وه. ده د دستارنامه د رنتنبور په جېل کي په داسي حال کي کښلې ده، چي هیڅ راز ماخذ ته ئې لاس نه رسېدی او وایي، چي: "...کتابونه راځخه نه وو او که نه ښې ټکی مي به په دا کتاب کړی وې. نظم نثر عربي، فارسی مي به په اشتهاد په کښې ډېر راوړي وو. اما په عندیات په حافظه خو به دا هونبره څه کېده..."، (دستارنامه – ۲۳۸، ۲۳۹مخونه).

خو د کتاب په دغسي نېستي کي ئې په دستارنامه کي تقریباً شپېته آیته، حدیثه، ادعیې، مقولې راوړي دي او د غزل، مثنوي، قطعې، رباعی، فرد او مصرع په چوکاټ ئې خپل و پردي فارسي و

---

[۸] وګ: ویکیپیډیا - په تقویم تاریخي (مرتبه عبدالقدوس هاشمي ۲۲۷مخ کي د عبدالحکیم سیالکوټي وفات د اپریل ۲۵ مه ۱۷۵۶ ع کال د سه شنبې ورځ ښللې ده، چي دغه نېټه د صفري له میاشتي سره سر نه خوري).

[۹] د سیالکوټ تاریخي ښار د پاکستان د پنجاب ایالت په شمال ختیځ کي د چناب رود ته نژدې پروت دئ له لاهور څخه ئې واټن ۱۲۵ کیلومتره دئ (ویکیپیډیا).

پښتو دوه سوه اتیا بیته له حافظې څخه رانقل کړي دي.

خوشحال خان جهان ګښته سړی وو د پښتونخوا زیاتره برخې ئې تر پښو کښلي وې او په هغو کې ئې د اولسو د ژوندوژواک، ژبې او کلتور په باب پراخ مشاهدات راغونډ کړی ول. د دې پر څنګ یو با فرهنګه جنرال وو د جنګ و جګړو پر میدانو یې ډېرې سړې و تودې لیدلي وې او هر څه ته ئې د یوه مدقق سړي په توګه کتلي ول او د دې تولو پر څنګ ښیا ښکاري وو. ما ته د خپل ژوند تجربې رانبوولې ده، چې ښکاریان په مختلفو سیمو کې د ګښت و ښکار کولو له اسیته له خورا ډېرو اولسي لغاتو، د ونو، بوټو، حیوانانو، مرغانو او نورو له نومو سره مخامخ سوي او هغه ئې په یاد کړي وي. دې کار د ده شعر ته د رنګینو لغاتو او وراشو د لاري موندلو زمینه برابره کړې ده.

د خوشحال خان تر وخت ښه ډېر کلونه پخوا د هندوستان نیمې وچې ته د اروپایانو تګ راتګ شروع سوی وو. د ده او د ده د زامنو له اشعارو څخه څرګندېږي، چې دوی له اروپایي کلچر او مصنوعاتو سره یو څه بلد سوي ول. خوشحال خان د پرتګالي شرابو یادونه کوي:

دواړه شونډې دې شراب پرتګالي دي
په ســره والي له یاقوتو په سیالي دي
(کلیات ـ ۳۸۵مخ)

عبدالقادرخان هم دې ته ورته مطلب لري:

ساقي مې بــویه چې وي پرتګالي

خواه پیاله وي مرصع خواه سفالي
(۳۰۲-مخ)

خوشحال خان په ښکار کي د "فرنګستان" له توپکو څخه کار اخیست او په دستارنامه (**۵۵** مخ) کي لیکي: "د ټوپک ښکار له فرنګستانه اوس په دا آخر پیدا شه".

د شطرنج، نرد، موسیقۍ، نقاشۍ په اصولو پوهېږي او په دې برخه کي ئې لیکني داسي ایسي لکه د یوه ماهر شطرنج باز، موسیقي پوه او نقاش له خوا چي لیکلي سوي وي.

دا ټول مطالب پر دې خبره باندي دلالت کوي، چي خوشحال او کورنۍ ئې مهذب، باسواد او مدني اشرافي خلک ول.

خوشحال خان د دیني علومو پراخه مطالعه درلوده خو متعصب او ړانده مذهبي افکار ئې نه درلودل، بلکي د ژوند په چارو کي دی او د کورنۍ زیاتره غړي ئې لیبرال کسان ول. زه نه غواړم چي له دوی څخه د نن زماني روښانفکران جوړ کړم لکه دا کار چي د ثور په اوله پاچاګښتی کي ځینو کسانو کاوه او له صوفي رحمان بابا څخه ئې د یوه بیت له اسیته "طبقاتي مبارز" جوړکړ[۱۰]. موږ وینو چي د خوشحال کورنۍ کله چي د خانۍ منافع پر غالب سي، له خپل تنور

---

[۱۰] هغه بیت دا وو:

نشي د خــــانانو او ملـــــنګو ســره کلي
چیرته عزیزخان چیرته ملنګ عبدالرحمان

سره سره بیا د محتسب او احتساب حمایه د "امراوو" وظیفه او د "غیرت" جزء بولي او هغه هم په دې دلیل چې ګویا که دوی نه وي خلګ بې لارې کېږي (وګ: دستارنامه ۲۱۷مخ، د ۱۹۹۱ع چاپ، پېښور). مګر پخپل خصوصي ژوند کې بیا د اشرافي ژوند له غوښتنو سره سم مذهبي حدود ماتوي او "پر بکره باندې لاس برې" د "هغه جهان د سقر" په بیه رانیسي:

که دې لاس په بکره بر شي پرې ئې مه ږده
که دې ځـــــای شي په هـــغه جـهان سـقر

(ارمغان–۵۷ مخ)

او اشرف خان د بیجاپور په بند کې په سپینه ږیره له نامحرمو ښځه د وصال غوښتنه کوي او کله چې د "رد" جواب اوري نو بیا خپل خبط و خطا د شعر په ویلو پاکوي (وګ دیوان - ۵۵۳، ۵۵۴ مخونه).

د خوشحال خان د کورنۍ ژوند د "امراوو" په شان دئ د یوه عادي پښتانه خان ژوند ئې نه دئ. د خانۍ په ژوند کې زامن د پلار اطاعت پر ځان باندې لازم ګڼي خو د امراوو او سلطانانو دود و دستور بیا بل راز او د سیاست پر غوښتنو ولاړ دئ. د سلطنت او آمریت د بقا له پاره بیا پلار و زوی سره وژني. شاه جهان ته زوی د سر په کاسه کې اوبه ورکوي او د بهرام له لاسه خوشحال خان په غرو کې سرګردانه ګرځي. داسې معلومېږي چې نااهله بهرام دې دا ور (میکروب) د هند له درباره ښځه اخیستی وي.

د خوشحال د شخصي و ټولنيزو ادبي ژوند په باب کتابونه بويه چي وکښل سي او کښل سوي هم دي. زما د همدې ليکني سره په ارتباط کي، فکر کوم، همدومره به بس وي.

***

۲-د خوشحال خان خټک او د هغه د کورنۍ ادبي ژبه:

که څوک د خوشحال خان خټک د ادبي ژبي يا لهجې په باب پوښتنه کوي نو ساده او بسيط جواب ئې دا دئ چي خوشحال خان په ختېه خټک وو، په سرای اکوړه کي اوسېدی. د دې سيمي خټک چي اوس په کومه لهجه ږغېږي، د خوشحال ژبه هم دغه او لهجه ئې هم همدا وه. دا راز جواب په کلياتو کي سم خېژي خو کله چي خبره د ژبی تحولاتو، انکشافاتو، جزئياتو او بدلونو ته ورسېږي، هلته بيا دا راز استنباط د دغي مسئلې په واقعي پېژندنه کي مرسته نه کوي او يا دا چي ځيني ما وارو! بيا کله چي د خوشحال خان په ژبه کي محوري فعلونه په شين سره ووينې، سمدلاسه حکم وکړي چي د ده ژبه د پښتو ختيځه لهجه وه. دا تحليل تر ها بل څو چنده ساده او عاميانه دئ.

د خوشحال خان د ادبي او شعري ژبي په باب زموږ محققينو تر يوې اندازې پوري ورته نظريې وړاندي کړي دي.

سيد رسول رسا په ارمغان خوشحال (۱۲۰مخ) کي د خوشحال خان خټک د ژبي په باب ليکي، چي: "د خوشحال خان خټک د شعر ژبه، ساده خو الهامي او ادبي ژبه ده. عام ژبې ته نږدو، خو عام ژبه نه

ده. د هغه په دیوان کښې د هرې طبقې او هرې قبیلې د مخصوصو الفاظو استعمال شوی دی او په دې وجه د هغه د شعر ژبه، عالمګیر وسعت لري. خو په حیثیت مجموعي په محاوره کښې د ختکو ژبه ده ".

پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار صاحب هم دې ته ورته نظر ورکړی دئ او لیکلي ئې دي: "خوشال په تولیز ډول دا هڅه کړې ده، چي په خپله پښتو لیکلار او په ځانګړي توګه په شعر کې د خپل ټبرني (ختېکي) ګړدود تر څنګه له نورو شاوخوا ګړدودو څخه هم کار واخلي، نه یوازې د وییپانګې، بلکې په رغاونیزه (ګرامري او غړېزه) برخه کې هم. په دغه لړ کې ئې وینګ له اړوند لیکدود سره، هغه هم لړ و ډېر د ګرامر په بیه، دومره د شعري تول وتال، پښبلي او پایبلي (قافیې او ردیف) لاستکوی کړی چي کله کله له لاسکښونکیو هم لار و لودن ورکوي، پاتې لا له ټولیزو لوستونکیو او اورېدونکیو څخه[۱۲] ".

که په دغه رانقل سوي عبارت باندي زه سم پوه سوی یم نو د پوهاند صاحب مراد دا دئ، چي د خوشحال خان په شعري ژبه کی چي د نورو لهجو لغتونه او ګرامري سکښتونه راغلي دي، دا د خان ارادي هڅه وه او ارادتاً ئې د نورو لهجو لغات کار کړي دي او هدف به ئې غالباً د پښتو لغوي زېرمه خوندي کول وو او دوهمه خبره دا ده، چي د

---

[۱۲] وګ: د خوشحال ادبي پښتو- ۲۵، ۲۲ مخونه، دويم چاپ.

خوشحال خان د دېوان په خطي نسخو کي چي د ليکدود او تلفظ کوم توپيرونه ليدل کېږي، دا د کاتبانو لاسوهني نه دي، بلکي خوشحال خان پخپله د ژبي وينگ او ليکدود د شعر تر قافيې او رديفو دومره قربان کړی دئ چي له کاتبانو څخه ئې لار و ليکه ورکه کړې ده.

د دغو دواړو حکمونو په منلو کي زه (هوتک) ځان ته قناعت نه سم ورکولای. د خوشحال په ژبه کي چي د پښتو له نورو لهجو سره لغوي مشابهتونه په سترگه کېږي، سبب ئې دا نه دئ چي گويا خوشحال د نورو لهجو لغتونه اورېدلي دي، هغه ئې خوښ سوي دي، نو ئې په شعر کي کار کړي دي. د دې لغتو ستنه والی زما په فکر پر دې خبره دلالت کوي چي هغه وخت د پښتو لغوي زېرمه او گرامري سکښتونه دومره سره ليري سوي نه ول، لکه دا نن چي ئې موږ په ليکنۍ پښتو کي وينو او لولو ئې. هغه وخت پښتو "بکره" وه او لاس نه وو په وهل سوی، ځکه ئې لغوي او گرامري مشترکات پر ځای پاته ول. د ښاغلي ډاکټر عبدالرازق پالوال صاحب په عقيده خو "په ختيځي او لوېديځی پښتيانا کښي لا تر ۱۲۰۰هـ پوري يوه لهجه ويله کېدله (معياري پښتو- ۵۱ مخ). ډاکټر پالوال صاحب دغه لهجه د پښتو لومړنۍ لهجه بولي چي "دآښيیانو، غرغوښتيانو، ابداليانو او سړبنيانو ټبرونو مشترکه لهجه وه". نن چي پښتو د سره ليري کېدو پر خوا روانه ده، لامل ئې د خواخوږۍ او دښمنۍ په نامه بېځايه لاسوهني دي. د دې حکم له منلو سره چي د کاتبانو د لاسوهنو پړه دي

پر خوشحال خان یا کوم بل شاعر باندي واچول سي، زه جدي مشکلات لرم. د متونو د اړولو او مسخه کېدو جریان ما په یوه بل کتابګوټي کي څېړلی دئ. محترم لوستونکي دي د دغه کتابګوټي د خپرېدو تر وخته غاښ وچیچي.

دا خبره سهي ده، چي د خوشحال خان خټک شعري ژبه د دې سیمي د خټک قام ژبه وه خو د نژدې څلورو سوو کالو وړاندي ژبه. د دغي ژبي د پېژندلو له پاره موږ مجبور یو ، لږ څه وړاندي ولاړ سو او د تاریخي و ژبنیو واقعیتو پر اساس باندي ئې ځان ته معلومه کړو ، چي د خوشحال او کورنۍ ژبه د پښتو ژبي په اوسنیو لهجو کي له کومي یوې سره د مقایسې وړ ده.

د لیکدود مسئله:

د ژبي پوهان او د دې سیمي د تاریخ څېړونکي او لرغونپوهان په دې عقیده دي چي تر میلاد زیات وکم پنځه سوه کاله وړاندي د پښتونخوا په ټوله پراخه اورشو کي خروښتي لیکدود باب وو. علامه رشاد ◂ د عکسي خیرالبیان د سریزې په سر کي لیکي: "په پښتونخوا کي د آمو له غاړې رانیولې تر سیستان، کندهار، ږوب، کورمې، پېښور، ټیکسیلا ، سوات، امب، باجوړ، هډه (ننګرهار) او وردګو پوري په هر ځای کي په دغه خروشتي لیک سره کښل سوي سکې،

لوښي او کتيبې پيدا سوي دي[۱۳] ". خروشتي (خروښتي) هم د خلګو نوم وو ، هم د ژبې او هم د ليک. ډاکټر عبدالرازق پالوال ليکلي دي چې خروشتي ليک "...له پرثوي آرامايک سره کټ مټ ورته دئ، خو ږۊغۊنه ئې ځله بيل دي. دغه مانا دا چي هغه يو تورئ په خروښتي کښې يو ږغ لري، او په پرثو آرامايک ليک کښې بل ږغ لري. په دغه ليک کښې د/ښ/ او/خ/ توپير سوئ دئ ... په خروښتي ليک کښې دواړه توري سته والئ لري. خروښتي په ختيځي او منځنۍ پښتونخوا کښې سته والئ لارء ". له دې څخه ئې دا بله نتيجه هم راايستلې ده، چي تر دوهمي هجري قمري پېړۍ وړاندي د هندوکش د جنوب اوسېدونکو ژبې د (ښ) او (ږ) دواړه آوازونه درلودل[۱۴].

د پښتونخوا د اوسېدونکو په ژبه کي د (ښ) او (ږ) د سته والي مستند ثبوت د لسمي هجري پېړۍ په ليکلو آثارو کي راپاته دئ. په دغو ليکلو آثارو کي د روښاني خوځښت د موسس بايزيد روښان (۹۲۵ – ۹۸۳ هـ ق) آثار او د هغه د مخالفانو د مشر اخوند درويزه ننګرهاري (۹۴۰ – ۱۰۴۸ هـ ق) آثار د زماني له تويانو څخه خوندي سوي او اوس زموږ په اختيار کي دي. د دغو دواړو تحريکو مشرانو د پښتو ژبې د الفبې نيمګړتيا درک کړې وه او د هغې له پاره ئې ځيني

---

[۱۳] وګ: د خيرالبيان په سر کي د "خيرالبيان ليکدود" تر نامه لاندي د علامه رشاد مقاله، ۵۸ مخ.

[۱۴] وګ: معياري پښتو- تر ۵۸ مخ په هيسته، او د کابل چاپ خيرالبيان ۵۲، ۵۷، ۵۸ مخونه

سمبولونه یا په ننني اصطلاح (ګرافيمونه) غوره کړي ول. د روښانيانو په الفبې کي د دغه خوځښت د مبلغ شاعر دولت لوانړي له خولې د پښتو له پاره "ديارلس حرفونه" ټاکل سوي دي. دی وايي:

افغاني لفظ مشکل و، لوست کوښن نه شه

ورته وشــــــــوه کننده ديارلس حــرفونه

څېړونکي د (ديارلس حرفونه) په باب لږ څه مشکوک دي ځکه د پښتو الفبې د عربي او فارسي الفبې په مرسته جوړه سوې ده او په هغې کي تر عربي الفبې دوولس توري زيات دي نه "ديارلس". چي په هغو کي اته توري (ټ، ځ، څ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) د پښتو خپل توري دي، چي په عربي او فارسي الفبې کي نسته او څلور توري (پ، چ، ژ، ګ) له فارسي سره مشترک دي، چي ټول دوولس کېږي. د روښاني تحريک په اساسي کتاب، خيرالبيان کي چي کوم توري کار سوي دي، په هغو کي، ويل کېږي، د ګاف توری مکرر راغلی دئ. د پېښور چاپ خيرالبيان د عالمانه مقدمې ليکونکی حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي وايي چي "ګ، بايزيد دوه ځله ليکلی دی چه مونږ ئې په فرق پوهه نشو"(۱۵). علامه پوهاند عبدالشکور رشاد (۱۳۰۰ - ۱۳۸۳ه ش) د دغه مکرر ګاف په باب کومي وروستۍ فيصلې ته نه دئ رسېدلی او د عکسي چاپ خيرالبيان په سر کي د خپلي ليکني په ۲۷ مخ کي تر يو لږ دلايلو وروسته ليکي: "تر څو چي د

(۱۵) وګ: خيرالبيان - ۲۲ مخ، د پېښور چاپ.

مکرر ګاف په باب کومه نوې څېړنه منځ ته راځي، زه د پورتنيو دليلونو له مخې د خيرالبيان الفبې څلوېښت توري شمېرم او پر عربي الفبې باندې د دوولسو تورو زياتوب سم بولم ".

ډاکټر عبدالرازق پالوال د خيرالبيان په الفبې کې د "دیارلسو تورو " د زياتوب د توجيه له پاره دليل موندلی دئ او وايي چې هلته ګاف مکرر نه دئ، بلکې "د بايزيد پير روښان د خيرالبيان په پيللوستي کښې پښتو/ګ/ دوه رازه کښه سوئ دئ. د يوء راز /ګ/ مرکس ته ئې کړی ورکړې ده. دوهم راز ئې د/ګ/ مرکس ته د کړی پر ځای باندې يوه کرښکه ورکړې ده، يا ئې تر /ک/ لاندی درې ټکي ايښې دي... ".

ډاکټر پالوال صاحب زياتوي: "دا په زغرده سره ويلای سم چې کړی لرونکی /ګ/ يوه ستوی /ګ/ ؤ، او ټکيالی /ک/ يا کرښکن /ګ/ يا /ک/، غبرګ ږوغئ، تېنکيز /نګ/ ؤ... ". ډاکټر پالوال د يوه ستوي ګاف په مثالو کې (ګنج، ګرګه، ګرګن، ګوګ، ګوګلی، ګلاګل، ګګيانۍ، بګۍ، برګ...) او د تېنکيز غبرګ ږؤغ په مثالو کې (جنګ، چنګاښ، شرنګ، ړنګ، ...، رنګارنګ، ترنګ او ترونګ، ...) راوړې دي[۱۲].

د ډاکټر پالوال صاحب دغه نوې څېړنه د خيرالبيان په متن کې د دوو ګافونو د سته والي له پاره تر ټولوزياته موجه او د قناعت وړ

---

[۱۲] معياري پښتو- ۲۳ مخ.

ښېړنه ده چې د دولت لواڼي د "ورته وشوه کننده ديارلس حرفونه" په باب خرخښنه هم له منځه په وړله کېږي.

د خيرالبيان په الفبې کې د (ډ) له پاره ګرافيم داسي جوړ سوی دئ چې د دال په منځ کې ئې ټکی ايښی دئ او د (ښ) له پاره ئې د علامه رشاد او حافظ محمد عبدالقدوس هاشمي په قول همدا اوسنی شکل خو د ډاکټر پالوال په قول، تر سين لاندي ئې دري ټکي ايښي دي[۱۷].

ما (هوتک) د خيرالبيان په عکسي چاپ کي د علامه رشاد او حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي د قول ملاتړ موندلی دئ.

زما د اوسنۍ ليکني له پاره د مطلب ټکی دا دئ چي پير روښان (ږ، ښ) جلا توري بولي او (ګ، خ) جلا توري.

د اخوند درويزه ننګرهاري له خوا د پښتو د دغو دوو آوازو (ږ، ښ) له پاره همدا اوسني شکلونه، چي موږ ئې کاروو، منلي دي. دی په مخزن الاسلام کي ليکي: "... گاهی زاء معجمه چون ثقيل شود سه نقطه بر فوق او داده (ژ) می شود و چون ثقيل تر شود يک نقطه بر فوق و يک نقطه در تحت ايزاد کرده (ږ) می شود و گاهی سين مهمله چون ثقيل شود يک نقطه بر فوق و يک نقطه در تحت آن نهاده (ښ) می

[۱۷] وګ: معياري پښتو- ۲۲، ۲۳ مخونه.

شود "[۱۸]. گويا اخوند درويزه هم (ږ، ښ) له (گ، خ) څخه بېلول او دوه جلا توري ئې ګڼل.

د دغو دوو تحريکو په ادامه باندي په پښتونخوا کي د خوشحال خټک په لاس د يوه بل سياسي نظامي او فرهنګي خوځښت تاداو کښېښوول سو. د دغه خوځښت په فرهنګي تګلاره کي د پښتو ژبې، چي د دوی په نظر تر دغه وخته پوري لا "بکره" پرته وه، د غنا له پاره منظمي هڅي د ټولو نورو کارو په سر کي راغلي وې. خوشحال خان هم د روښان پير او اخوند درويزه په شان د پښتو الفبې د ايجاد اړتيا درک کړه او نوې الفبې ئې ترتيب کړه، چي د ده د زامنو، لمسيو او د ده د نورو پيروانو له خوا په لړو ډېر توپير سره پالل کېدله[۱۹].

---

[۱۸] وګ: مخزن الاسلام د ۱۳۰۰ هـ ق (يکم ماه صفر) = ۱۸۸۲ع چاپ، دا چاپ له نن څخه يو سلو اته ويشت کاله وړاندي د دهلي ښار د يوسفي پريس په مطبع کي د پېښور د کتابو د تاجرانو ديوان ايشرسنگهـ او چهجوسنگهـ په فرمايش چاپ سوی دئ، چي يوه نسخه ئې زما هوتک په کتب خانه کي خوندي ده. د دې چاپ پر څنډو باندي د حاجي بهادر صاحب کوهاټي تصنيف سوی اثر، مفتاح الدقايق ليکل سوی دئ. دا نسخه د کندهار د زړې جامع د امام ارواښاد عبدالاحد اخندزاده "غرېبک" د کتابتون وه، چي پر دريم مخ باندي د دغه ارواښاد مهر هم سته او ما د کراچي ښار د کتابفروش مرحوم حاجي عبدالغني په کتابو کي وموندله.

[۱۹] د دغي کورنۍ يو غړي دوست محمد خټک پخپل يوه اثر بحرالعلوم کي د (خټک) نوم په خوشحال خاني الفبې ليکلی دئ. د بحرالعلوم يوازنۍ نسخه د دوست محمد خټک پخپل خط د افغانستان په ملي آرشيف کي په (۱۲/۲۲ محفظه) نومره خوندي ده.

د ده له خوا په وضع سوې الفبې کې د (ږ) توري د ښوونې له پاره
ئې تر (ژ) لاندې همزه او د (ښ) توري د ښوولو له پاره ئې تر شین
لاندې همزه ایښووله[٢٠].

که د روښان، اخوند درویزه او خوشحال خان په ژبه کې (ښ) د
(خ) په شان او (ږ) د (ګاف) په شان تلفظ کېدلای نو دا دوه توري خو
یو په عربي او بل فارسي الفباوو کې موجود وو او دوی هم پخپلو
نوو ترتیب کړو الفباوو کې رااخیستي ول، نو بیا د نوو تورو د وضع
کولو ضرورت څه وو؟ جواب ډېر ساده دئ او هغه دا چې د دغو درو
سرو ذواتو په ژبه کې (ښ) د (خ) او (ږ) د (ګاف) په شان نه تلفظ
کېدله. دغه دوه آوازونه ئې هغه راز وینګ ته ورته تلفظ کول، لکه
اوس چې په لوېدیځه لهجه کې تلفظ کېږي.

د دغه حکم بل ثبوت هغه بیتونه دي چې خوشحال خان خټک
پکښې (ازمایښته، بهشته، زِښته، غوښته، نښته، کښته، خښته،
خارښته، بالښته، رغښته، جوړښته) سره قافیه کړي دي. زه به دا
بشپړه غزله دلته رانقل کړم:

څه به وایم د ې نفس له ازمایښته
چې ادم ئې را ایستلی له بهشته[٢١]
چې په کې[٢٢] د دواړو کونو مراد مومي

---

[٢٠] وګ: د خوشحال خټک کلیات - لومړی ټوک، تر ١ مخ وړاندې پاڼه، ١٣٥٩ش.
[٢١] په (مرغلري) او (ارمغان خوشحال) کې دا نیم بیتی داسې دئ:
"نفس آدم دی را ایستلی له بهشته"

هغه چار دي تر نظر لاندي کا زشته[۲۳]
د کېمیا د بوټي ګل کله موندو شي
چي د پښو تلي ګلګون نه شي په غوښته
د سرېو په غفلت پوري حیران یم
چي په ګور کي توري خاوري هو مره نښته
بیا به څله څوک طلب د دنیا کاندي
چي ئي خلاص نه وي یو دم د کار له کښته
که تر سر لاندي بالښت کېږدي[۲۴] د پرونو
عاقبت به تر سر لاندي کاندي خښته
د دنیا مینه په مثل د خارښت ده
هیڅوک نه وینم خالي له دي خارښته
د صحرا په کاني رخه د شیطان شوه
عیسی سر په مځکه کښېښه[۲۵] له بالښته
د زړه مینه په مثال لکه پټک ده
چي د ګوی ښتن وهله هورته رغښته
غم ئي واړه د اشنا د بیلتانه دی

---

[۲۲] په (ارمغان خوشحال) او (مرغلري) کي "چي پکښي " دئ.

[۲۳] په کابل چاپ کلیات (۱۹۲مخ) او نوي چاپ کلیات کي "زښته" دئ. "زښته" دلته سمه معنا نه ورکوي زښته د (ډېر) معنا لري او (زشته) د (بد ، خراب، ناوړه) معنا لري، چي دا دوهمه معنا له بیت سره سمه راځي. ما د ارمغان خوشحال او مرغلري ثبت واخیست.

[۲۴] په (ارمغان خوشحال) او (مرغلري) کي "کښېږدي " دئ.

[۲۵] په ارمغان خوشحال کي "عیسی سر په مزمه کېښو... " او مرغلري کي "عیسی سر په مځکه کښېښو... " دئ.

د خـــوشال څه ســـریکار شـو له جـوړښته
(د خوشال خان ختټک کلیات -۱۲۴مخ)

په دې پسې په یوه بله غزله کې (بالښته، خښته، زښته، خارښته، کښته، غوښته، پښته، رغښته، بهشته، ونغښته، رغښته، تښته).

که داسې وای چې خوشحال خان خټک ښین د (خ) په شکل تلفظ کولای نو (نشته) او (خښته) به ئې هیڅکله نه وای سره قافیه کړې

له دې ټولو خبرو څخه داسې نتیجه راوزي، چې د خوشحال خان په ادبي ژبه کې د کلماتو تلفظ د لوېدیځې لهجې وینگ ته نسبت تر نورو لهجو نږدې وو.

خوشحال خان خټک تر روښان او اخوند درویزه د ژبې د الفبې په برخه کې هم دقیق وو او هم ئې په منظمه توگه تعقیب کړې ده. ده پخپله ایجاد کړې الفبې کې د عربي خاص توري په حساب کې نه راوستل. ده د پښتو الفبې د بړش توري بلله.

د "خوشحال ادبي پښتو" ښاغلي مؤلف د خوشحال خان خپله الفبې د بړش توري بللې ده او د خپلې ادعا تاداو ئې د خوشحال خان پر دغه بیت باندې درولی دئ:

عشق یو هسې یو د بړشـم توری را زده کړ
چې په د بړش توري څکوم د قلم کیلي[۳۲]

(د خوشحال ختټک مرغلري–۵۱۰ مخ)

[۳۲] کیلي = لیکي، کرښي، خطونه.

خو وروسته ئې په يوه احتمالي خبره چې "... بنايي موخه ئې د بيواکو نښې وي او په دې توګه تش يو توری زيات راځي" تر مطلب ګام اړولی دئ.

زما په ګومان دلته د خوشحال مطلب سم نه دئ درک سوی. د خوشحال پښتو الفبې پوره دېرش توري ده او دی په همدې دېرشو تورو قلم چلوي:

(اب پ ت ټ ج چ ځ څ خ د ډ ر ړ ز ژ ږ س ش ښ غ ک ګ ل م ن ڼ و هـ ی).

خالص عربي توري (ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق) په حساب کي نه راولي. په تېر بيت کي د خوشحال مطلب دا دئ، چي د ده قلم د دېرشو تورو په مرسته چلېږي او همدا دېرش توري د ده د قلم چلولو محرکه قوه ده، خو پر دې محرکه قوې باندي يو بل قوت هم ورزيات سوی دئ، چي د ده قلم په چلېږي او هغه "عشق" دئ. ګويا "عشق" د ده د الفبې (د قلم چلولو د محرکه قوې) يو دېرشم توری دئ. او دا هغه محرکه قوت دئ چي د پښتو "غيب اللسان" رحمان بابا ئې په تعريف کي ويلي دي:

دا جهان دئ خدای له عشقه پيدا کړی
د هـــــمه وو مخلـوقــاتو پلار دئ دا

او د پارسي "لسان الغيب" حافظ شيرازي ئې په توصيف کي ويلي دي:

طفيل هستی عشقند آدمی و پری

ارادتی بنما تا ســـــعادتی ببری

د خوشحال ژبه د خپل اولس ژبي ته نږدې ده خو د زامنو ژبه ئې د اشرافو ژبه ده. د خوشحال خان د زامنو ژبه یومخیزه د فارسي تر اغېزې لاندي سوې ده(۲۷).

د ژبي پوهان په دې پوهېږي، چي د علماوو ژبه، د ښاري خلکو ژبه، د کلیوالو ژبه، د نارینه وو ژبه، د ښځو ژبه، د کوچنیانو ژبه، د ټولني د بېلا بېلو طبقاتو ژبه یوه له بلي سره توپیر لري. دغه راز د اشرافو ژبه هم د اولس له عادی ژبي سره فرق لري. خوشحال او کورنۍ ئې په سرای اکوړه کي اوسېدل خو ژبه ئې له هغي کلیوالي ژبي سره فرق درلود، چي عادي خټک په رږغېدل.

له دې ټول بیان څخه مي مطلب دا دئ، چي د خوشحال خان د ژبي او لهجې د څېړلو پر وخت یوازي دا خبره کافي نه ده، چي دی خټک وو، په اکوړه کي اوسېدی نو ژبه ئې هم د نن ورځي خټکوا له ژبه وه. د ده ژبه پر نننیو معیارو باندي سنجول علمي غلطي ده. همدا سبب دئ چي ما پخپله حاضره څېړنه کي د ده د ژبي او د پښتو د

(۲۷) د هجري ژوند د یوه اشرافي خانزاده په شان دئ. د شعر اصطلاحات ئې ټول درباري دي. اشرف خان زما په خیال که فارسي و عربي لغات پیدا نکړ، بیا نو پښتو لغت لیکي.

د عبدالقادرخان خټک ژبه هم له عربي و فارسي څخه متاثره ده او د ده په شعر کي بیا د اسلامي ثقافت خوا د خوشحال د نورو زامنو په پرتله غالبه ده او دې غلبې ئې هم د شعر ژبه یو څه ملایي کړې ده.

لوېديځي لهجې تر منځ مشابهتونه بيان کړي دي نور قضاوت مې نه دئ کړی.

د لهجې استازيتوب څوک کولای سي[۲۸]؟

انسانان چې پر يوه مېنه وزېږي د زېږېدلو له هماغي لومړۍ ورځې څخه د خپلې مور د ناز او مينې خبرې او د خپلې شاوخوا نور ږغونه اوري او په مغز کې ئې ثبتوي. د ثبت تر دې عمليې وروسته چې بل هر وخت کوم آواز اوري، مغز ئې له هماغه ثبت سوي ليست سره ګوري او که له هر ثبت سوي ږغ سره دا نوی اورېدل سوی آواز موافق و، د هماغه آواز حکم پر کوي. که نوی اورېدل سوی آواز د مغز په ليست کې موجود نه وو، نو بيا مغز هغه ته د بل قريب المخرج آواز زيګنل ورکوي. دمثال په توګه هغه کوچنی چې د خپل چاپېريال په ژبه کې ئې د (ډ) آواز موجود نه وي او يوازې ئې دال اورېدلی وي، د ده د مغز په ليست کې هم (ډ) نه وي ثبت سوی. کله چې د پښتو (ډوډۍ) يا د انګرېزي ژبې (door) کلمه واوري د (ډ=d) آواز، د انسان مغز له خپل ثبت سوي ليست سره وګوري او طبيعي ده، چې نه سي ئې موندلای خو هغه ته يو بل قريب المخرج آواز په ليست کې موجود وي چې هغه (دال) دئ، ځکه نو د (ډوډۍ) وينګ د (دودۍ) په شکل اود

[۲۸] په دې برخه کې به زه د خپلي يوې پخوانۍ مقالې يوه برخه دلته رانقل کړم، چې د ۲۰۱۰ع کال د جنورۍ پر ۲۴ مه نېټه مې په ښېنوا او نورو ويبپاڼو کې خپره کړې وه.

(door) د تلفظ له پاره د (دور) حکم صادر کړي. د دغه ژبني قانون اغېزه ده چي فارسي ژبی اورېدونکی د پښتو ژبي (ډوډۍ) د (دودۍ) او د انګرېزي ژبي (door) د (دور) په شکل اوري. مګر دا کلمه که یو پښتون واوري، ځرنګه چي د ده د مغز په لیست کي د (ډ) آواز له کوچنیوالي څخه ثبت سوی دئ، ده ته هیڅ نابلده نه ښکاري او په نتیجه کي د (door) کلمه هماغه شان واوري لکه یو انګرېز چي ئې تلفظ کوي.

په انټرنیټ کي د یوې کلمې یا یوه نوم پلټنه هم کټ مټ د مغزي عملیې په شان وي. کله چي تاسي د یوې کلمې د سر دوه یا درې توري ټایپ کړي لا نه وي، بیا نومورې کلمې ته د ورته تورو یو لیست د کمپیوټر پر پرده باندي درته راښکاره سي او تاسي ښایي خپل د غوښتني لغت یا کلمه پکښې ومومئ.

په مغز کي د ثبت سوو آوازونو لیست چي هر څومره اوږد وي، هغومره ئې د تلفظ ستونزه کمه وي.

د کوچني ژبه او لهجه له همدې ورځي څخه شکل نیسي او د ځوانۍ تر مرحلې پوري ئې لهجه پخېږي. دی که په هر لهجوي چاپیریال کي رالوی سوی وي، لهجه ئې هم د هماغه چاپېریال مسلطه لهجه وي.

که د کوچني د کورنۍ ژبه یا لهجه له دباندني ماحول سره یوه وه نو د کوچني ژبه یا لهجه هم کټ مټ د هغې سیمي لهجې ته ورته وده

کوي خو که ئې بیاژبه د کورنۍ ژبي یا لهجې او تر کورنۍ دباندي د شاوخوا ماحول ژبي یا لهجې یو له بلي سره توپیر درلود ، د کوچني ژبه یا لهجه هم د کورنۍ او دباندني ماحول د ژبو یا لهجو دواړو اغېزې اخلي.

لهجې چي یو د بل په څنګ کي واقع سي یوه پر بلي اغېزه کوي. دغه راز که دبلي ژبي په شپول کي راسي هم بدلېږي. دا اغېزه او بدلون یوازي په لغاتو کي نه وي بلکي په وینګ او د جملو په جوړښت کي هم منځ ته راځي. زه په سر سره خپل ځان درښیم چي څو پرله پسي کلونه مي په داسي چاپیریال کي کار کړی دئ، چي هلته زما د مورنۍ لهجې ویونکي یا نه ول او که ول هم، بیخي لږ ول. اوس چي خپلي پښتو لیکني ته ګورم، هغه راز پښتو نه پکښې وینم لکه پخپل محیط کي چي مي له مورو پلاره زده کړې وه.

کابلي سوي پښتانه پخپله ورځنۍ محاوره کي هغه جملې او ترکیبونه په پښتو راژباړي چي د کابل فارسي ژبي ئې پخپلو خبرو اترو کي کاروي. دا پښتانه خو خامخا یوې پښتني سیمي ته منسوب دي او دوی هم ځان د هغې سیمي بولي خو دغه ترکیبونه چي کابلي سوي پښتانه ئې استعمالوي، د دوی په مسقط الرأس کي څوک نه سي موندلای. دا څو مثاله به سره ولولو:

فارسي	ناسمه پښتو	سمه پښتو
درخانه ما بچه شد	زموږ په کور کي زوی وسو	زموږ په کور کي زوی وزېږېد

برف افتید	واوره ولوېده وغورځېده	واوره واورېده
دلتنگ شدم	زړه مي په تنگ سو	خوابدی سوم، خپه سوم
در کار ته سه می نشینم	په دریمه کارته کي کښېنم	په دریمه کارته کي اوسم
مهمان آوردم	مېلمه مي راووړ	مېلمه مي راووست
گریه میکند	ژړا کوي	ژاړي

نو اوس که څوک د دوی دغه ترکیبونه د هغوی په مورنۍ لهجه پوري وتړي، غټه ژبنۍ غلطي به ئې کړې وي.

څه موده مخکي مي يو کتاب کاته چي د لوېديځي لهجې ويونکی ځوان ژباړلی دئ. په دغه کتاب کي د "رانيول = خريدن" فعل د "راونيول - ۹۰مخ" په شکل، او د "مندکي" پر ځای "مندتي" کار سوي دي، چي دا کلمات په هيڅ صورت د ده د مورنۍ لهجې نمايندگي نه سي کولای. دا کلمات ئې د ختيځي لهجې له ويونکو ملگرو څخه اخيستي دي. زه د دې اخيستني پر بنه والي يا بدوالي خبري نه کوم بلکي مراد مي هغه اغېزې دي چي د لهجو ويونکي ئې يو پر بل باندي کوي[۲۹].

د لوېديځي او ختيځي لهجې وېش بايد هيڅکله داسي تعبير نه سي چي په دغه لهجوي حوزو کي ټول پراته اولسونه په يوې داسي طريقې سره رېغېږي، چي د لغاتو تلفظ او د جملو سکښت او جوړښت

---

[۲۹] کاظم خان شيدا د خوشحال خټک د کورنۍ غړی دئ، خو ژبه ئې د خپل مشر نيکه له ژبې سره له خپل وکور و کلي څخه د اوږده مهاجرت او د پارسي او هندي ژبو د اغېزې له اسيته توپير لري او په هيڅ ډول د خټکو د لهجې پوره نمايندگي نه کوي.

ئې بالکل يو دئ. مونږ د لوېديځې لهجې ويونکي د کندهار د ښار، د هغه د اطرافو، د هيلمند، روزګان، زابل، چمن، کوټې، ږوب، ښوراوک، ګرمسير، فراه او ... اوسېدونکي د هغوی د خبرو له مخې پېژندلای سو. په داسې حال کې چې دا ټولې سيمې په لهجوي لحاظ يوې حوزې ته منسوبې دي. دغه راز د ختيځې لهجې ويونکي پخپلو منځو کې د کونړ، لغمان، ننګرهار او پېښور اوسېدونکي د هغوی د لهجوي توپيرونو او د کلماتو د ادا کولو له مخې تشخيصولای سي. د پکتيا د پراخو اولسو تر منځ خو دا راز توپيرونه تر دا نورو لهجوي حوزو لا زيات اوراز–راز دي. د هرې لهجوي حوزې اوسېدونکي هم پخپلو منځو کې د وينګ جزئي توپيرونه لري.

د لهجې استازيتوب هغه څوک کولای سي، چې د زېږېدلو له وخته څخه بيا د ژبې د پخېدلو تر زمانې پورې په هماغه ټاکلې ژبنۍ حوزه کې پاته سوی وي او تر هغه وروسته هم د زياتو پرله پسې کلونو له پاره له

دوهم فصل

کل عالم پخپله بخره هوسيږي
د هر چا تر فهمه خپل هنر کړه دی
(ميرزاخان انصاري)

د خوشحال ژبه د لوېديځي ژبخانګي په ترازوکي

۱،۲–د کندهار او پښتونخوا تاريخي اړيکي:

په دې څېړنه زما مراد له کندهار څخه همدا اوسنی ښار او ولايت نه دئ. د کندهار تاريخي حدود تر دې ډېر پراخ دي. د روښانيانو د وخت کندهار د کاسيانو او شينوارو د اوسېدني له مېني څخه شروع کېدی. د کاسيانو او شينوارو (شېرانيو؟) تاټوبی د ننني بلوچستان د کوټي ښار ټول اطراف دي. دا سيمه د مغولي شاهانو له خوا اداره کېدله. د ميرويس نيکه د زوی شاه حسين هوتک (۱۱۱۴ هـ ق زوکړی) په وخت کي دا سيمه له مغولو څخه ونيول سوه.

د خوشحال خان په وخت کي هم د کندهار حدود له همدې برخي پيل کېدل. دی يو ځای وايي:

د مغلو سره ګډ په زيست روزګارکښي

غــوريه خــېل دي يا ترين د قـــندهار

(مرغلري - ۱۰۲۱مخ)

د ترينانو سيمه د اوسنۍ کوټې، شال او پښين حدود دي. خوشحال دا سيمه د "قندهار" په نامه بللې ده. د خوشحال خان په وخت کې به دا سيمه د مغولي او پارسي پاچهيو تر منځ لاس پر لاس کېدله.

د ميرويس نيکه د فرهنګپال زوی شاه حسين هوتک په وخت کې پېښور ته د يوه فرهنګي مرکز په سترګه کتل کېده. ځرنګه چې دغه فرهنګپال پاچا، د پټې خزانې په روايت، په کندهار کې هم د دغه ښار د فرهنګپالو په مرسته د پښتو ژبې او پښتنو شاعرانو يو مرکز جوړ کړی وو، نو ئې د پښتونخوا له ګوټ ګوټ څخه د پښتو آثارو د راغونډولو کار ته پاملرنه کوله او په دې لړ کې به له کندهاره پېښور ته د پښتو آثارو د رانقلولو له پاره کاتبان لېږل کېدل(۱).

وايي چې لوی احمدشاه بابا د خمکنو د مياعمر ؒ لاسنيوی کړی وو. زما استاد علامه رشاد ؒ کښلي دي: "د حضرت ميا عمر ؒ د ملايي او بزرګۍ ږغ کندهار ته هم رسېدلی و، د کندهار نامتو عالم ملا شاهو اخوند ساګزی هوتک، چې په ارادت سره مشهور و، د ده خليفه و. زه باور لرم چې لوی احمدشاه بابا (۱۱۲۰ - ۱۱۸۲هـ ق) ته به هم تر پاچا کېدلو دمخه د ده د ښه سرېتوب آوازه رسېدلې وه...

(۱) پټه خزانه – ۹۳ مخ، د ۱۳۲۳ش چاپ.

لوی احمدشاه بابا که له یوې خوا بزرګانو ته ارادت او ملایانو ته احترام درلود، له بلې خوا ئې د خپلې پاچهۍ ستنې هم په دوی ټینګولې. د۱۱۷۰ هـ ق کال د میانۍ په میاشت کې چې لوی احمدشاه بابا له خپله لښکره تر خیبر واوښت او پېښور ئې له ناصرخان زیګ (د ډهلې د دربار والي) څخه ونیو، له میا صاحب ◄ څخه د دعا اخیستلو له پاره ځمکنو ته ورغی د ځینو په قول مرید ئې سو او د لنګر له پاره ئې په وارو وارو ډېرې سرکارې مځکې وروبخښلې... "[۲].

د ختېکو کورنۍ کندهار ته په درنه سترګه کتله کله چې پر کندهار باندې د پارس له لورې څخه د علیمردان خان په مشرۍ لښکرې راځې، خوشحال خان ختک خپله ناراضې داسې ښکاره کوي:

هندوســتان به ګوره څــه شي ســتا له فعله
خـدای دې ورک کړه رافــضي علــیمردانه
له هغې ورځې چې راغلې په دا ملک کښې
غـــــم دې راوړ تر ســـــپاهه تر د هــقانه
چې دا هسې شوم قدم دې په ملــک کړ کـړ
چې دې ګــورم څه ناپوه ئې شـــاه جــهانه

(ارمغان - ۲۹مخ)

دا واقعه د هغې اسماني بخولې (وبا) سره یو ځای بیانوي، چې د زرونو انسانانو سرونه ئې وخوړل.

---

[۲] پوهاند رشاد، د ځمکنو میا عمر ◄، ۲۲ - ۲۳ مخونه.

خوشحال خان د کندهار مېړمني "نیکفرجامي" بللې:

کشمیر فرخار کابل قــندهار څو چې خــراسان دی
په دا کښې نیک فرجامې ډېري ډېري موندې کېږي

(ارمغان-۹۱مخ)

او د کندهار ښایسته وو ته د کشمیر دا (بنده = مریی) کوي:

ښایسته د کــندهار د چــا په یاد دي
په دا حسن ئې بنده واړه کشمیر کړ

(۷۲-مخ)

افضل خان ختک په کندهار کي د میرویس نیکه په زعامت سره خوښي او خوشالي کوي. ده په تاریخ مرصع کي د "ذکر میرویس غلجي" تر سرلیک لاندي مفصل بیان کړی دئ او په پای کي ئې کښلي دي "... تر دا تاریخ چې سن زر څلوښت دی، په قندهار ناست خپل حکومت او سرداري کا توفیق ئې رفیق شه ښه پښتون دی "(۳).

د ختکو د کورنۍ او نورو پښتنو مرورو به کندهار ته ځکه مخ نیوی چي دلته ئې هم عزت کېدی او هم ئې حرمت ساتل کېدی. په دوی کي د بحرالعلوم او اخلاق احمدي مؤلف دوست محمد ختک راتګ کندهار ته د یادوني وړ دئ. دوست محمد ختک د محمداکرم

(۳) تاریخ مرصع: ۴۴۵ مخ، د ۲۰۰۲ع مې چاپ، پېښور. د تاریخ مرصع دغه برخه علامه پوهاند عبدالحي حبیبي د تاریخ مرصع تر چاپ شپږ کاله وړاندي په وږمه مجله - ۱۳۴۷ ش کي خپره کړې وه.

خان زوی د کرم خان لمسی او د زمان خان کړوسی وو. دغه زمان خان بیا د زرنام خان زوی د پاینده محمد خان لمسی د عبدالقادرخان ختېک کړوسی او د خوشحال خان کوسی وو. دوست محمد ختېک د امیر شېرعلیخان د پاچهۍ په دوهمه دوره کي د ځینوکورنیو خوابدیو له امله کندهار ته راکډه سوی وو او د کندهار خلکو ورته د یوه خانزاده مېلمه په سترګه کتلي او د ارغنداب د رود پر غاړه ئې د محتشم په کلي د استوګي له پاره مځکه ورکړې وه[۴].

د میانعیم متي زي کورنۍ هم له پېښور څخه کندهار ته مهاجره سوې ده او په ناکودک کلي کي ئې اړولي دي. دا کورنۍ د کلات د شیخ متي بابا له اولادې څخه ده خو د پېښور په خلیلو کي زېږېدلی دئ[۵].

د خوشحال په کورنۍ کي یوازنی سړی چي "کندهاري" ئې کړلي دي، هغه اشرف خان هجري دئ. دی وایي:

نوم د وفا شته اثر ئې نه وینم په دور
خلق د جهان دي همه ټګ قندهاري

(وګ: ۵۵۰ مخ)

---

[۴] وګ: بحرالعلوم، سریزه (و) مخ، د لیکونکي په زیار.
[۵] د تفصیل له پاره وګورئ: پښتانه شعراء، دوهم ټوک، ۴۱۹مخ. د میانعیم دیوان د خیال بخاري په دیباچه، ترتیب او تدوین سره د پېښور یونیورسیټۍ پښتو اکیډیمۍ له خوا په ۱۹۲۴ع کال چاپ سوی دئ. "پېژندګلو" ئې مولانا عبدالقادر لیکلې ده.

ما ته د دې کړنې انګېزه نه رامعلومېږي.

۲، ۲–د ګرامري سکښت او جوړښت مشترکات:

لهجوي توپيرونه يوازې د لغتو او کلماتو په وينګ پورې محدود نه پاته کېږي، بلکې هره لهجه ځينې ځانګړي ګرامري سکښتونه او جوړښتونه هم لري. د همدغو ګرامري سکښتو له توحيد څخه د ژبې عمومي ګرامر تهيه کېږي. لهجوي سکښتونه لکه د ژبې لغتونه، زېږي، وده کوي او مري لا هم.

زه به په دې راتلونکو کرښو کې هغه ګرامري سکښتونه بيان کړم چې د لوېديځې لهجې او د کلاسيک ادب تر منځ سره مشترک دي. لکه مخکې چې مې هم يادونه وکړه له ليکنې متن څخه دا خبره معلومول سخته ده، چې دغه سکښتونه به د شاعر يا ليکوال له خپل کښنګ سره سم کټ مټ رانقل سوي وي که يا؟

۲، ۲، ۱-اسان، اسونه:

آس مذکر نوم دئ. په پښتو کې د مذکرو نومو د جمع لاحقه (ان، ونه) ده. آس-اسونه، لاس-لاسونه، اوښ-اوښان، چرګ-چرګان. د کندهار په لهجه کې د آس جمع (اسان) ده.

خوشحال خان د "اسان" او "اسونه" دواړه راوړي دي.

خدای چې ښه کړي په دا جهان دي

که پري پوهېږې انسان، اسـان دي

چې ســـــره يو شی دا دواړه تـوکه

مشــکل کارونه ورتـــــه اسـان دي
(رباعيات - ۱۸۴مخ)

يا :

اسپي اسونو وته ســـــاتلی شي
ټټو ئې خرونـــــو سره شړلی شي
ټټوان يا خــــرونه باندي ختنه کا
ځيني نابودې ګلي حاصلي شي
(د خوشال خان خټک کليات – **۴۵۵** مخ)

***

۲،۲،۲: و - ونو (مغيره جمع):

د پښتو په زياترو لهجو کي د مفرد مذکر نومو مغيره جمع په (ونو) سره کېږي، لکه: کتابونو، لاسونو، ځنګلونو او نور. د کندهار په لهجه کي ئې د "کتابو"، لاسو، ځنګلو ..." شکل کارېږي. د خوشحال خان خټک او نورو کلاسيکو شاعرانو کلام هم دغه راز ترکيبونه لري.

لاس، لاسو:

بند په بند د لاسو ګوتې وبله کښېږدي[۲]
ســـر تر پايه درست صورت سره يو راز کا

[۲] په کابل چاپ کليات، نوي چاپ کليات کي "کيږدي" دئ خو په ارمغان خوشحال (۳۱۰ مخ) کي بيا "کښېږدي" راغلی دئ.

(مرغلري-۲مخ)

زږه، زږو:

خوشحال وايي:

يو بخرى درومي، واړه ښهر سرې لمبې کا
مه گوره ښه مخ تــه زږو ته غم راوړي بصر

(۲۰-مخ)

دا بيت له هغي نسخې څخه رانقل سوى دئ، چي د خوشحال خان په ژوند کي ليکل سوې ده.

څنهي، څنهو:

خوشحال ختېک ويلي دي:

بيا له کــومه لــوريه بوى راځي د څــنهو
چي خاطر مې په هاى هوى راغى د څنهو

(۱۲۹-مخ)

(څنهو) ته ئې په حاشيه کي زياته کړې ده چي "د کامل په دواړو چاپونو او کندهار چاپ کي (خونيو)..." راغلى دئ خو په دريمه خطي نسخه کي "... (څينهو) راغلى دى". د خوشحال خپل تلفظ ئې (څنهو، څينهو) دئ او د پښتو د لوېديځي لهجې تلفظ ئې هم په همدې راز دئ.

په (۴۱۷مخ) کي ئې په متن کي "څنيو" ليکلى دئ خو په لمنليک کي ورته کښلي دي چي "په کندهار چاپ کي (څونهو) او په نورو کي (څنهو) دى" له دې حاشيې څخه ثوک ويلاى سي چي د (څنهو)

شکل ئې تر (ځنيو) عام استعمال لري. بيت داسي دئ:

په هر چين کې ئې د ځنيو منبک چين دي
لخـــلخې ځـــني تـــويېږي چې پـــه لار ځي
(۴۱۷- مخ)

رحمان باباوايي:

رحمان ستاپه مخ بې ځنو هم مين دی
بېـــهوده دي ورته کېښــو دام پــه څــه
(۱۳۳- مخ)

مړ، مړو:

د کندهار په لهجه کي د (مړ) مغيره جمع (مړو) ده په نورو لهجو کي (مړيو) ويل کېږي. په خوشحال خاني ادبياتو کي هم زه د (مړو) له شکل سره ډېر مخامخ سوی يم.

د خوشحال خان زوی اشرف هجري وايي:

په مسند ئې هسې غوره نمسي ناست دي
چې ئې فخر که پـــــه مړو باندي نيـکونه
(ديوان- ۱۷۵مخ)

وار، وارو:

د خوشحال په بل اثر فراقنامه کي د "وار" جمع د لوېديځي لهجې په شان "وارو" راغلي ده نه "وارونو".

زما فکر ستاوارو ته

ته تیار د ما خـارو ته

(۲۱ - مخ)

د دوهم نیم بیتي "د ما " زما په نظر د خوشحال خان له خوا کار سوی لغت نه دئ. د نسخې د کاتب اراده پکښې ډېره دخیله معلومېږي. خوشحال خان هر وخت د (زما ، ستا) ضمیرونه کاروي. د ختېکو په لهجه کي د "دِما " ضمیر رواجېدل تر خوشحال خاني عصر وروسته انکشاف دئ.

لېونی، لېونو:

رحمان بابا هم د "لیونیو " پر ځای "لیونو " کاروي او داسي ثرګندېږي، چي دا قاعده یوازي د ختېکو په لهجه پوري منحصره نه وه او د دغي سیمي پراخو اوسېدونکو اولسو کاروله. د رحمان بابا د کلام مثال ئې دا دئ:

لـیونتوب لــه لـیونو نه تلونی نه دی
که ئې راج په خونه ورشي که تاراج

(۲۸ - مخ)

ژوندی، ژوندو:

حمید مومند هم د (لېوني) مغیره جمع (لېونو) راوړې ده، نه (لېونیو). ده ویلي دي:

وې ئې څه له ګذشته وو شر و شور کړئ
د ژوندو ترانه واورئ مـړه درګـورکړئ

(کلیات - ۳۴۸مخ)

دا قاعده د کندهار په لهجه کي زيات عموميت لري او موږ ئې د حاجي ولي محمد مخلص کندهاري په کلام کي ګورو، چي د (موټر) مغيره جمع (موټرو) ليکي. دی وايي:

نن خـــاوند ئې د مانۍ او د موټرو
چي عالم دئ ستا د درب په ننداړو
درپوهـېږو ځــــان به نه اچـوي پلن
چي لــــه بدو دي مـيندلي په زړو

(د لوی مخلص کليات - ۱۹۹
مخ)

مولوي بريالی هم د (سرې) مغيره جمع (سرو) ليکي نه (سريو).

ته هم مـا رنګ يو سرې ئې لـه سـرو څه
کمينې درخخه صرف کئ پشمي کوټ

(اهاړ - ۱۷مخ)

پوهاند دوکتور زيار صاحب د دغه راز مغيره واو د کارولو په وخت کي له واو سره د (ی) نښلول لازمي بولي خو ورپسې زياتوي، چي "که د ګډون ويره نه وي او رواني پېښوي، نو د (ی) غورځول دومره نادوده نه برېښي، په تېره بيا په شعر او وينا کي". (ليکلاړښود - ۵۱ مخ).

***

۲،۲،۳: واو – سربل:

په پښتو کلاسیک ادب کې د (و) سربل ډېر لرغونی دئ او زیات په سترګه کېږي. لکه و کابل ته، و بل چا ته، و اسمان ته، ... د منځنۍ دورې شاعرانو هم پاللی دئ. دغه د جهت ښوولو (و) په انګرېزي ژبه کې د (to) معادل دئ. د کندهار لهجې دغه ځانګړتیا خوندي کړې ده او نورو لهجو له لاسه ورکړې ده. اوس د پښتنو لیکوالو عمومي تمایل هم د دغه راز (و) د نه کارولو و خوا ته زیات دئ.

خوشحال خان دغه ګرامري ځانګړتیا پاللې ده.

و نور چــــا وته به څـــه لره څـــه وایې[۷]
و خپل ځان وته خوشحال ختک دا پند کا
(۴ - مخ)

یا:

چې دنیا ورته ښـــکاره شوه بې وفا
و دنیا تــــــه به مــخ نـه کا بې قـفا
(۹ - مخ)
دا بې درد عالــم پرې هیڅوک خبر نه شو
و خوشحال ته ئې خـــوله ورکـړه په اخـفا
(۱۰- مخ)

---

[۷] په ارمغان خوشحال (۳۱۱ مخ) کې دا نیم بیتی داسې دئ:
"و نور چا وته به څه وته څه وایې"

یا:

اول ښـــه شهپر پیدا د الــــوتو کړه
بیا له پسه الـواته کړه و اســمان ته

(۲۰۱- مخ)

د هغه غزل، چي دا بیت ورڅخه رانقل سوی دئ، نوري قافیې (وجهان ته، و درمان ته، و ایمان ته، و مهمان ته، و باران ته، و پان ته) دي

یا: د رحمان بابا (۱۱۲۸ هـ ق مړ) په کلام کي هم دغه راز ترکیبونه سته. دی وایي:

هر چي اچوي و اور ته واړه سوزي
مــوږ به نه شي طلــبګار د دې دنیا

(دېوان، د سیدرسول رسا په تصحیح، ۴ مخ)

یا:

بت خاني و ته ئې مخ وي
و مسجد وتـــــه ئې شــا

(۱۲- مخ)

عبدالقادرخان وایي:

نصیحت و لــېوني ته لــېونتوب دی
که یا خـــــه وایي او مه وایي واعظ

(۷۲- مخ)

هیڅ له کبره نـظر نه کاندي و خــوار ته
ښایسته پــه معنی زر درومي زردار ته

(۱۲۰ - مخ)

مولوي بريالی وايي:

هـدايت و نا اهــلانو ته عبث
لاړښوونه و ړنديانو ته عبث

(اهاړ - ۱۹مخ)

***

۲،۲ ،۴: د عدد او معدود رابطه:

دا رابطه د پښتو په ټولو لهجو کي يو شان نه ده او لږ څه توپير لري. د کندهار په لهجه کي چي کله د جمع مونث کلمي له پاره د (دوه) عدد کارېږي، خپل شکل اړوي او د معدود سره د مطابقت په حکم (دوې) څني جوړېږي. لکه: دوې سترګي، دوې نجوني، ... د پښتو په نورو لهجو کي دغه راز موارد د "دوه سترګې، دوه نجونې، ..." په ډول ويل کېږي. د خوشحال خان په کلام کي د لوېديځی لهجي دغه ځانګړتيا موندله کېږي.

زمـــا دوې سترګې و لاري ته څلور شوي
که ښکاره د يار له لوريه خدای رسول کا

(۴ - مخ)

په کليات خوشحال خټک کي ئې کښلي دي چي په "ارمغان" کي (دوه) سترګې ثبت دي. د نورو بدېلونه راوړل ئې پر دې خبره باندي دليل

کېدلای سي چي ګويا په هغو کي هم (دوې) سترګي دي. يا:

دوې دي تورې ســــترګي لــکه دوې تورې بلا
دوې دي تورې وروځې لکه دوې تورې تر ملا

دا بيت د کليات د مرتب له خولي په لومړۍ خطي نسخه کي په همدې شکل دئ خو په دوهمه او دريمه کي د (دوې) پر ځای (دوه) راغلی دئ.

يا:

په سپين جمال چي تار په تار دوې زلفې عنبر فام کا
محبوبه غواړي دا چي رڼا ورځ پــــه عاشق شام کا

(۲۹- مخ)

يو ځای ئې د حضرت علي کرم الله وجهه په وصف کي ويلي دي:

ذوالـفقار ئې اژدها و دوې ئې ژبې
چي د دين مخالفان ئې وو خوراک

(۱۰۳- مخ)

بل ځای:

چي په هره مياشت کي دوې ورځې دي نحسي
هـــم دغــــه دي چي حساب وشــــوخـــوبک

(۱۰۴- مخ)

يا:

ځيني يــــوه کا ځيــني دوې درې کا
پــــه انځــورونــو کنبــېدې سرې کا

د دنيا خلــک ياری ياری کــــــــړي
چي سود ئې نه وي ياری ئې پرې کا
(رباعيات-۵ مخ)

حميد مومند ويلي دي:

په ژړا کې دې دوې سترګې
دوه رودونــــــــه کا ذاهـب
(کليات-۳۹مخ)

په "در او مرجان " (۱۳مخ)، د عبدالحميد ديوان (۴۲ مخ) کې د (دوې سترګې) پر ځای (دواړه سترګې) او د عبدالحميد مومند ديوان (۴۸مخ) کې بيا (دوې سترګې) ثبت دي. دلته ما ته نه معلومېږي چي دغه "دوې" به د کليات د ترتيبونکي اراده وي او که د حميد خپل وينګ.

ميرزا خان انصاري ويلي دي:

دين دنيا دي په مثال سره دوې خويندي
چي يوه ئې په عـــقد کښې بله طــلاقــه
(۱۲۸- مخ)

يا:

دوې وروځي تکي توري
پرې دپاسه وسمه کــړي
(۱۷۵- مخ)

يا:

د مشـــرک آیینه یوه، مـــخونه دوه شوه
د عارف سترګې هم دوې نه دي دوبیني
(۲۴۵-مخ)

میرزا حنان بارکزي ویلي دي:

په کثرت د اسباب نه شي مطلبونه
په دوو ژبو دوې خبرې نه کړې مار
(۵۸ - مخ)

هغه غزل چې دا بیت پکښې راغلی دئ، د کوټې بلوچستان په چاپ کې نسته. د دغه چاپ په ۲۲۲مخ کې د ښاغلي سعید ګوهر په قلم د هغو غزلو یادونه سوې ده، چې زما (هوتک) په واسطه د ترتیب سوي دېوان په لومړي چاپ کې نه دي راغلي خو د دې خبرې یادونه څني پاته سوې ده چې دا غزله بیا د دوی له خوا په ترتیب سوي دېوان کې نسته. د کابل د پښتو ټولنې چاپ بیا دا غزل لري، خو دغه بیت پکښې نسته. زما (هوتک) په لاس د ترتیب سوي دېوان په دواړو چاپو کې دا غزل خوندي ده.

پوهاند زیار صاحب هم په لیکلاربنود (۲۳۳مخ) کې "دوې ښځې" کره او "دوه ښځې" ناکره بللي دي. د کابل پر مطبوعاتو باندې واکمن د پوهاند صاحب دغه لارښوونه نه پالي او پر خپل سر ئې ډنګوي او دی هم دا سرغړونه جدي نه نیسي!

د خوشحال خان په کلیات کې د عدد په ارتباط پر یوه بله قاعده

هم پېښېږو او هغه داسي ده: په لوېدیځه لهجه کي د نورو لهجو پر خلاف (دوه اویا) د (دواویا) په شکل ویل کېږي. د خوشحال د دېوان په قلمي نسخو کي هم (دواویا) لیکل سوی دئ، خو د چاپي متن ترتیبوونکو له هغه څخه (دوه اویا) جوړ کړی، مګر کور ئې ودان چي د قلمي نسخو د ثبت (دواویا) خبره ئې په حاشیه کي پټه کړې نه ده. بیت دا دئ:

یو ئې اصل سره، دوه اویا مذهبه
خدایه څه بني ادم فریق شو
(۱۸۷- مخ)

یا:

چي مي ولیدې څو خولې، همره خبرې
راخرګند شول واړه دوه اویا ګروهه
(۲۸۰ - مخ)

په قلمي نسخو (دریمه او څلورمه) دا عدد بیا د (دواویا) په شکل ثبت دئ.

رحمان بابا د "دوه دېرش " پر ځای "دودېرش " کارولی:

زړه مي تراشي د بڼو په تېره نوک
ماتوي مي دودېرش غاښ واړه په سوک
(۶۷ - مخ)

د عبدالقادرخان خټک په دې لاندي بیت کي چي د "دوشپېته "

پر ځای "دوه شپېته" راغلی دئ، د مرتب ناسمه لوستنه باید وګڼل سي.

دوه شپیته کاله دې ولاړ عــمر په لهو
عبادت دې په عادت نیکي په سهو
(۴۹۲ - مخ)

پوهاند زیار صاحب لیکي، چې د خوشحال خان په کلام کې "اووه" هم له کندهارۍ لهجې سره سم دوې څپې کښل سوي دي (د خوشحال ادبي پښتو ۳۷ مخ) تر کمه ځایه چې ما ته معلومه ده، په ختیځه لهجه کې "اووه ویشت" عدد د "وه ویشت" په شکل تلفظ کېږي.

دغه راز په ارمغان خوشحال (۳مخ) کې "ځلریشت" د کندهارۍ لهجې "ځلیرویشت" ته بیخي نږدې دئ:

یو لک ځلیریشت زره کم و زیات پیغمبران دي
کل واړه مــــــدام دي ثناخوان د مـحمّد ◂

***

۲،۲، ۵: ښځینه (تأنیثه) هې او د هغې د جمع قاعده:

په کلاسیک ادب او لوېدیځه لهجه کې هغه ښځینه کلمې چې فشار ئې پر وروستۍ څپه وي، په اوږده (ې) سره جمع کېږي. کله چې ځوک په کلاسیک ادب کې دا قاعده وګوري، د پېښوریانو خبره،

ایکي یوه استثنا لاهم نه سي پکښې پیدا کولای. مثالونه ئې: منه – منې، خښته – خښتې.

حمید مومند وايي:

چې زغمم ستاد رقیب بدي فتنې زه
یاره کلــه یم دا هسې بې کــینې زه

(کلیات - ۲۱۹مخ)

د دې غزل نوري قافیې (ینې، سینې، نینې، پښتنې، ستنې، ادینې، مدینې) دي چې د ټولو فشار پر وروستۍ څپه دئ.

اشرف خان هجري وايي:

د دنیا خــونه د باد په مــخ ایرې دي
پاینده چارې هورې دا مسخرې دي

(۴۷۲ - مخ)

نوري قافیې ئې (خورې، دیرې، څهرې، تبرې، اسرې، منارې، هورې، پېرې، سپېرې، سورې) دي او یوه ئې هم داسې نه چې فشار دې ئې پر لومړۍ څپه وي[۸].

***

۲، ۲، ۲: د فعل په ګردان کې د مصدري لام ساتل:

[۸] دا موضوع ما پخپل کتاب "پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه" ۱۱۱ – ۱۱۴ مخو کې مفصله څېړلې ده.

د کندهار لهجه د فعل د ګردان په وخت کي د مصدر وروستی لام ساتي او یا یې غبرګوي. لکه راغللم، ورغلله، غوزار سولم،...
زموږ لیکوال اوس د راغلم، ورغلم، غوزار سوم، ... شکلونه غوره ګڼي. خوشحال خان ختک هم د غبرګ لام قاعده پاللي ده.

راغللم په شهر لاس په لاس شوه له ما ورکه
کوی په کوی جاروزم پسې غـــوارم بخــارا
(۷ - مخ)

یا:

په درتللـــو ئې شـــرې پــــه تلــو ئې بــولې
چې ئې نه پرېږدې په هیڅ کې خوشحال څه کا
(۲۱ - مخ)

یا:

ښــه چې راغللې په غبږ کې
بیا مې لرې د زړه زنګ دی
(۳۱۵- مخ)

یوورله (یووره):

خوشحال وایي:

هــغه یــوورله له ځــانه، دا فــــاني دنیا اې ځــوانه!
چې ئې تار په تار خوره کړه، نه هغو چې ئې ونغښته
(۱۹۸- مخ)

په نورو لهجو کې (یووړه) د (یووړله) پر ځای ویل کېږي.

شوله (شوه):

خوشحال خان وایي:

عارفـــانو ته ترخه شوله تر زهرو
په غافل باندې شیرینه تر ګني ده
(۲۵۲- مخ)

په فراقنامه کې هم دا قاعده موندلای سو:

دا خبره لـــــه اســـتاده
په دا ځای شوله رایاده
(۲۳ - مخ)

(شوله) په نورو لهجو کې (شوه) ویل کېږي خو خوشحال خان د لوېدیځې لهجې په شان راوړې ده.

حمید مومند ویلي دي:

هـــنګامه د جنون هسې شـوله ګرمه
چې دانش ئې دم واهه نه شو له شرمه
(۳۵۸ - مخ)

کړله (کړه):

کامګار ختېک وایي:

په پوښتنه زمارا غلې

که دې لار کړله غلطه

(دېوان - ۴۹مخ)

وروستی نیم بیتی که له ختیځي لهجې سره سم وویل سي باید (که دې لاره کړه غلطه) وي.

***

۲، ۲، ۷: وای (تمنایي حالت):

د (وای) تمنایي کلمه په ختیځه لهجه کي د (وې) په شکل استعمالیږي.

خوشحال خان خټک ئې د (وای) په شکل راوړي.

څه ګنده عالم دی مه ئې دود وای مه ئې رسم

وړی په ځـــــای پرېږدي و مـړو وته صلا کا

(۲۸ - مخ)

یا:

که دې زلفي نه وای تارتار

مــــــــا به نه ژړل زار زار

(۲۴ - مخ)

یا:

بــــــدرګه کـه مـحبت راســــره نه وای

یک تنها به په خونخوارو لارو تلل څوک

(۱۰۴- مخ)

یا:

تروه ترخه که نه وای د خوږو قدر به نه وای
سکه ځکه جدايي شوه اشنايي سره واجبه

(۱۹۱ - مخ)

"د خوشحال رباعيات "په ځينو ځايو(۱۲۳، ۱۲۴، **۱۳۵** مخونه) کي (وی) کښلی خو په ۱۴۷مخ کي ئې بيا (وای) ليکلی دئ.

مرګ وای هم رنځ وای هم ناتوانی وای
عـــــــمر په غم کښي پريشــــانی وای
د ښــــو ښـــو جـــــــــونو ديدن د پاره
يا سل يا دوه ســـــــو کاله ځوانی وای

(رباعيات- ۱۴۷مخ)

رحمان بابا ئې د (وی) په شکل راوړي (۲۰۸مخ)، که د کاتبانو لاسوهنه نه وي.

د هجري په ديوان کي ځای ځای "وی" د "وای" پر ځای ليکل سوی دئ:

روښـاني مـيرزا به اووي که زنده وی
چي هجري په نظم نن نوی حکمت کا

(۲۲۵- مخ)

خو د عبدالقادر په کلام کي بيا "وای" ډېر په سترګه کېږي.

يا وحوش وای يا طيور يـــــــا بل اشيا وای
کشـــــکې زه نـــــــــــه وای پيدا بني آدم
يا مې مرگ د هلکوالي وای چې خلاص وای
وه مې نه لـيدای دا هـــــــــــومره ډېر الم

(۱۰۲ - مخ)

حميد مومند ويلي دي:

وران به وای جهان له بې نياوۍ که بادشاهانو
کړای د ستا په خبر دا هـــــومره کبر و تغافل

(کليات- ۱۳۴مخ)

د حميد مومند په کليات کې د (وای) پر ځای کله کله (وې) هم په مخه راځي:

د زړه زخـــــــــــم وم وژلی نهــــــايت
که مې نه وې تر خولې شوی سرايت

(۵۱ - مخ)

دلته (وې) د شرطيه (وای) پر ځای راغلی دئ او دا فيصله گرانه ده چې دا به د حميد خپل وينگ وي که د کاتب يا مرتب تلفظ.

ميرزا خان وايي:

که مې وای د حقيقت ژوندون ليدلی
يو زمـــان به بې ديـــد نه نه پـــايېږم

(۸۲ - مخ)

يا:

که مقصود ئې د خپل مخ ننداره نه وای
د انسان جامـــــه ئې څـه لره کړه سازه

(۱۴۳ - مخ)

کامګار ختټک وايي:

يا مې مــينه په يار نه وای
يا مې يار ستمګار نه وای

(۱۵۴ - مخ)

ميرزا حنان بارکزی وايي:

نسب نه دئ شرط په مينه کې که وای
د محـــمود مـــينه به نه وه له ايــاز

(۶۷ - مخ)

د حميد د سبک پيرو شاعر مولوي بريالي کندهاري ويلي دي:

د طلب نغـده چې وړي په ناکـامۍ کې
بالکل مـــه وای د دې دهر د بازار مخ

(اهار -۳۲مخ)

معصوم هوتک ويلي دي:

که د ميني ترون نه وای د "معصوم" په حساس زړه کي
لا د مــــخه بې ســـوځـــلي وای قلـم و جـــزدان دواړه

شوای:

خوشحال خان وايي:

هیڅ سزا ئې نه شي باندې لاس د ماد زړه شوای
تورې زلــفې ستا وای چې دایم د زړونو غلا کا
(۲۹ - مخ)

دغه راز ۲۱۱مخ، ۲۱۹مخ، .... خو ځای ځای د دېوان له ترتیبوونکي څخه د لیکدود تجانس ګډوډ سوی دئ.

واست، واستئ:

په دستارنامه (۲۰۹مخ) کي د "واستئ" حالت ثبت دئ "که واړه سره یو ځای په یوه اتفاق واستئ، ځوک مه به مات نه کا، ... ".

په دغه راز حالاتو کي د کندهار په لهجه کي د "واستئ" پر ځای "واست" ویل کېږي.

د (وای، واست، یاست) شکلونه په لوېدیځه لهجه کي عمومي استعمال لري او په نورو لهجو کي ئې پر ځای (وی، وې، یی) کارېږي د کلاسیک ادب استعمال ئې لوېدیځ ګړدود ته ورته دئ.

پوهاند دوکتور زیار صاحب د (واست، یاست) شکل د (استئ، یاستئ) په وړاندي معیاري ګڼي.(وګ: لیکلاربود - ۴۸مخ)

* * *

۲، ۲، ۸: "ستا، زما، زمونږ، ستاسي" ضمیرونه:

د خوشحال خان په کلام کي دا ضمیرونه له کندهاري لهجي سره سم راوړل سوي دي. پوهاند دوکتور زیارصاحب وایي چي دا

ضميرونه د ختځکو په اوسنۍ لهجه کي (دتا ، دما ، دموږ، دتاسي) ويل کېږي (د خوشال ادبي پښتو - ۳۰مخ).

د کندهار په لهجه کي (زما ، ستا ، زموږ) يوه څپه ويل کېږي او خوشحال ئي هم يوه څپه وايي. په ختيځه لهجه کي (زما) دوي څپي (زَما) ويل کېږي، (ستا) د (دَتا) په شکل دوي څپي او (زموږ) د (زَمونږ) په بڼه دوي څپي ويل کېږي.

د رحمان بابا په ديوان کي (ځما) دوي څپي دئ:

ګـــوره هسي کـــردګار دی رب ځـــما
چي صاحب د کل اختيار دی رب ځما

د کندهار په لهجه کي چي د (ځما) ضمير د دوو څپو وينګ ضرورت احساس سي نو په دغه صورت کي د (زُما) په شکل تلفظ کوي يعني لومړي توري ته ئي (پېښ = ضمه) ورکوي او په ختيځه لهجه (زې) ته زور = فتحه.

شمس الدين کاکړ په يوه بيت کي د (زما) يو څپيز او دوه څپيز شکلونه دواړه راوړي دي:

زما د حسن ځراغ ګل شو "شمس الدينه "
اې زُما د زړه پتنګه څه وې څــه شـــوې؟

په (ليکلارښود – ۵۳ مخ) کي د (زما ، زموږ) ضميرو دوه څپيز وينګ په دې دليل معياري ګڼل سوی دئ، چي ويونکي ئې زيات دي خو پر ځنګ ئې دا فتوا هم ورکول سوې ده چي "په شعر کي دواړه بڼې

جواز لري، ان (زموږ) دريې څپيز (زموږه) هم راتلای شي". زه د دې عجيبې فتوا په سِر پوه نه سوم[۹].

***

۲،۲،۹: ولاړ، ولاړل:

د کندهار په لهجه کې د (تلل) مصدر د ګردانولو پر وخت هره صيغه په سر کي (واو) اخلي: ولاړ، ولاړم، ولاړل. د پښتو په ځينو لهجو کي دا حالتونه د (لاړ، لاړم، لاړل) په شکل راځي.

خوشحال خان ئې ډېر ځايونه د (ولاړل) په ډول کاروي.

[۹] کله کله ليدل کېږي، چي ځيني ليکوال د خپلي خوښي لهجې د کومي قاعدي له پاره د ژبپوهني د مجوزِ موندلو په خاطر پرنسيبونه د خپلي مرضا سره سم پرله اړوي او رااړوي. دغو کسانو پخپل ذهن کي يوه لهجه د معياري په توګه منلې ده او د هغې د مسجل کولو له پاره د ژبپوهني له پرنسيبو څخه په بې پرنسيبۍ سره استفاده کوي. د مثال په توګه د (ډېروالي، نه التباس، باقاعده ګۍ، سپما، اسانۍ او روانۍ، بلاغت، لرغونوالي) پرنسيبونه مني. خو له هر يوه څخه په هغه ځای کي کار اخلي چي د ده د خپلي خوښي لهجې سره مرسته کولای سي. که د ده د خپلي خوښي لهجې ګټه په لرغونوالي کي وه، لرغونوالي ته ډېر اهميت ورکوي په ډېروالي او نه التباس او نورو کي بيا ری نه وهي؛ که ئې فايده په ډېروالي کي وه بيا پر ټول کلاسيک ادب، روانۍ، ساده ګۍ او باقاعده توب باندي چليپا کاږي؛ که ئې مفاد په سپما کي وو، بيا دا نور ټول پرنسيبونه په لغته وهي. دا روش نه علمي دئ او نه هم عملي. پرنسيبونه بايد د خپل ژبني اهميت او منطق له مخي درجه بندي سي او قيمتونه ورکول سي. په دې صورت کي د عندي خوښيو او ناخوښيو مخه نيول کېدلای سي. (دغه مدلله څرګندونه بايد د متن برخه وي ای د حاشيې په توګه نه وي – ع. پالوال).

ستا د مخ په ياد ئې دواړه له زړه ولاړل
د خوشحال د زړه ارام، د سترګو خوب

(۳٦ - مخ)

يا بل ځای وايي:

هم مې زړه په غمزه وړي، هم ځان نادان کا
راته وايي وايه بيا دې زړه په څـــــه ولاړ

(۷۳ - مخ)

يا:

ما ليدي په دا چشمانـــــو، وراني مبني د شاهانو
يکباره ورځني ولاړل چې ئې درسته دنيا غوښته

(۱۹۷ -مخ)

يا:

نـه نـه يـاران وو نه اشنايــان وو
چه په دولت کښې راسره ځــان وو
دولت چه ولاړ شو راته ئې شا کړه
جـدا له مـــــــا نه په يوه نان وو

(رباعيات - ۳٦مخ)

پوهاند زيار صاحب هم د دې خبرې تاييد کوي او ليکي: "تر لاړ، لاړ شي ... ولاړ، ولاړ شي د ېرکاروي، بې له دې چې د خپل کرلاني ګړدود له مخې ورته له و بلاړ سره ټکر ورکړي" (وګ: د خوشحال ادبي پښتو – ۳۳ مخ). د ده په ديوان کې که ځای ځای لوستونکی له "لاړ شي، لاړ" سره مخامخ سي هغه دي د کاتب لاسوهنه وبولي.

د شمس الدین کاکړ په دیوان کي هم د (ولاړل) پر ځای (لاړ شول) اچول سوي دي، چي په هیڅ ډول ئې د شمس الدین کاکړ خپله ژبه نه سو بللای.

د خوښی د هوس خلق له ما لاړ شول
اوس راپاته شول په غــم لــړلي خلق
(۷۳-مخ)

سم شکل ئې:

د خوښی د هوس خلق له ما ولاړل
اوس راپاته سول په غم لړلي خلق

✱✱✱

۲، ۲، ۱۰: (Metathese) اوړون:

په پښتو کي د ځینو لغتو توري سره اوړي. دې عملیې ته په ژبپوهنه کي (Metathese) وايي. لکه (روخ) او (ورخ)، (اروبدل) او (اوربدل)،(ازانګه) او(انګازه)، ....

د کندهار په لهجه کي تر موږ یو نسل وړاندي (روځ) او (اروېدل) په ویلو او کښلو دواړو کي باب ول خو اوس دا لغتونه د (ورځ) او (اورېدل) په شکل ویل کېږي. (ازانګه) اوس هم د خلکو په خولو کي جاري ده. شمس الدین کاکړ ئې داسي راوړي:

لکه غر د خپله درده ازانګه کړم

داسي زجر مي دلبره له تا وخوړ

(۵۹ - مخ)

د خوشحال خان خټک په کلام کي د لوېديځي لهجې دغه ځانګړتيا سته.

البته د خوشحال خان په کلام کي د (ورځ) استعمال هم زيات سته. په ارمغان خوشحال کي خو هر ځای (ورځ) راغلې ده. له چاپي دېوانو څخه د دې خبرې سپينېدل ګران دي، چي دا به د کاتبانو تصرف وي، که به د خوشحال خان خپل کلام.

د ميرزاخان انصاري په چاپي دېوان کي (ورځ) تر (روځ) زياته وينو. ما ته يو ځای دوه د (روځ) شکل په مخه راغلی دئ:

روځ ئې نوراني په خپل جمال کړ
شپه ئې هم د دوو زلـــــــفو دواج

(۲۵ - مخ)

يا:

د جمال جلــوه ئې زياتــه ده له روځي
بيا د تورو زلفو زېب ئې توره شپه در

(۷۰ - مخ)

خو کله چي مي د چاپي دېوان هغه ځايونه چي (ورځ) پکښې په همدې شکل ثبت سوې ده، زما د کتبخاني له خطي نسخې سره مقابله کړل، په ټولو کي د (ورځ) پر ځای (روځ) ليکل سوې ده. د ميرزاخان

انصاري د دېوان دغه قلمي نسخه په ۱۱۲۷ هجري قمري کال د عبدالغني کاسي په لاس په ملتان کي خطاطي سوې ده.

کندهاری شاعر شمس الدين کاکړ د (روڼ) شکل کاروي:

روڼا روڼ پر ما بې ياره توره شپه ده
دا تاريکه شپه به کله شي سحر بيا
(۳۴ - مخ)

اروېدل:

يو سر بل سر په سر جوړ کا دوه غوږونه
چي پـــــه دواړو اروېدنــــه د اواز کا
(د خوشحال خټک کليات–۱ مخ)

د دغه کليات ترتيبوونکی وايي چي په "ارمغان خوشحال" کي دغه لغت "اوربدنه" دئ. د نورو چاپي او خطي نسخو بديلونه ئې نه دي راوړي نو ګويا هورې هم "اروېدنه" ثبت دئ.

يا:

که کاته دي که لـيده که اروېده دي
دا د بنـــو يارانو واړه دی شفا[10]
(۹ - مخ)

---

[10] [11] د خوشحال خان خټک کليات (۲۵مخ) کي او ارمغان خوشحال (۳۳۳مخ) کي په ترتيب سره "آوريده شو" او "اوريده شو" راغلی دئ خو په مرغ لري (۳۹مخ) کي "اروېده شو" ثبت دئ.

یا:

دا چیستان د یار د شونډو راته حل شو
اروېده شو یو ځای نقل هم شـراب[11]

(۳۴ - مخ)

یا:

تیاربېره وخت د کوچ راغی خوشـحاله
په هر لـــــوري ناري اروي د جرس[12]

(۸۴ - مخ)

یا:

چې د کبنلیو په لیدل نه وي محـظوظ
د سرود په اروېدل نه وي محظوظ[13]

(۹۲ - مخ)

یا:

مست یم، می پرست یم، رندي کړمه، کړمه، کړم
واوره محتسبه! باده خـــورمه، خــورمه، خورم

(۱۴۸ - مخ)

آیا دا به "خورمه خورم" ؤ، که "څښمه څښم"؟

[12] په "مرغلري - ۱۲۰مخ" او د خوشحال خان خټک کلیات (۵۷مخ) کي هم "اروي" راغلی دئ خو په ارمغان خوشحال (۴۰۳مخ) کي "آورې" ثبت دئ.
[13] په "مرغلري" کي (۱۷۴مخ) او د خوشحال خان خټک کلیات (۲۲مخ) کي هم "اروېدل" دئ خو په ارمغان خوشحال (۴۱۲مخ) کي بیا "آوریدل" ثبت دئ.

د (واوره) کلمې ته ئې په حاشیه کې کښلي دي "قلمی نسخې: واروه". ګویا دا تبدیل د چاپی دېوان د ترتیبوونکو له خوا پېښ سوی دئ.

یا:

د بهلـــــول او د شیرشاه خبرې اورم
چې په هند کې پښتانه وو بادشاهان

(۱۵۴- مخ)

(اورم) ته ئې په حاشیه کې کښلي دي "قلمي: اروم"[۱۴].

زه نه پوهېږم چې موږ ولي د "اروېدل" شکل له کلاسیک قدامت او په لوېدیځه لهجه کې له استعمال سره سره له لیکنې ایستلی دئ په داسې حال کې چې د "اروېدل" شکل په استعمال سره به مو له "اورېدل = بارېدن" سره شکلي التباس هم ورک کړی وای.

په دستارنامه (د پېښور چاپ) کې هر چیرې د "اروېدل" شکل خوندي سوی دئ. لکه: "... دا چه دِ واروېدلی، د خروار مُشت هم نه دی"(۲۰مخ). په فراقنامه(۲۳مخ) کې هم "اروېده" لیکل سوی دئ.

اروېده په دواړو غوږو

(۱۴) په کندهار چاپ "مرغلري" (۲۵۱مخ) کې هم "اروم" ثبت دي خو په ارمغان خوشحال(۴۲۰مخ) او د خوشحال ختک کلیات(۹۲مخ) کې بیا "اورم" لیکل سوی دئ.

هـــم په تا اروړي زړه

په سواتنامه (۲۰ مخ) کې لولو:

پښـــتانه واړه نادان د جــــــهل کان دي

که ئې واروې يوسفزيه په بل کان دي[۱۵]

(۲۰مخ - د کابل چاپ)

اشرف خان هجري ويلي دي:

نصيحت د ناصح نه اروې ســرکشه

په محسنو پسې ځې خپله رضاکړې

(۲۰۳ - مخ)

دغه راز د هجري ديوان ۲۰۸، ۲۵۳، ۳۰۹ مخونه، ...

عبدالقادرخان وايي:

چې له کبره ئې سم نه ويل و چا ته

اوس کــړې خبرې اروي له هر چا

(۳۳ - مخ)

---

[۱۵] په ارمغان خوشحال کې دا دوهم نيم بيتی داسې دئ:

"که ئې واورې يوسفزيه په بل شان دي"

(۱۰۲۲ مخ)

او د خوشحال خان ختک کليات کې بيا بل راز ثبت دئ:

"که دې واورېد د يوسف دا په بل شان دي"

(۹۲۱مخ)

دغه راز ۴۷، ۲۹۵ مخونه، ... د حمید مومند په کلیات کې ځای ځای "اروي" د کاتب یا مرتب له چپاوه خوندي پاته سوی دئ.

ستور د سر په سترګو غوږ اروي هم ویني
سترګې غــــــوږ بویه د زړه بینا شـــنوا

(کلیات - ۱۱مخ)

د میرزا خان انصاري په دېوان کې د "اورېدل" شکل عام دئ خو ځای ځای "اروېدل" هم په سترګه کېږي:

کم دلیل عالم ئې نه اروي له لــیري
د خپل راز خــبري واړه د مقرون کا

(۳۲ - مخ)

یا :

"مــیرزا" واروه اوازونه
واړه دا وایي یک لخته

(۱۱۲ - مخ)

د کندهار نقاد شاعر مرحوم حاجي ولي محمد مخلص ویلي دي:

چي دي پروت وو د بابا د ســـــخا ږوږ
هم د ډېر ښه ســــــــړیتوب و حـیا ږوږ
تا به څه رنګ بـــــولي زوی د هـغه پلار
چي له هیڅ بابه څوک نه اروي ستا ږوږ

(۱۷۰ - مخ)

د دې قاعدې په مثالو کي (چکښو) او (څښکو) هم راتلای سي.
چکښو یا څکښو ئې د کندهار تلفظ دئ او په ځینو لهجو کي (څاښکو، څښکو) ویل کېږي. حمید مومند وایي:

دا په کبر لېچن کسي به دي روغ شي
که څاښکو کړې د خوبانو خاکپای
(۲۲۰ - مخ)

***

۳، ۳، ۱۰: د کلمې د سر تر (واو) وړاندي (الفونه):
د پښتو په لوېدیځه لهجه کي د ځینو هغو کلماتو په سر کي الف زیاتېږي چي په (و) یا (ی) سره پیل سوي وي. دا قاعده د خوشحال خان په کلام کي له ځینو استثناوو سره سره بیا هم ښه ډېره پالل سوې ده. مثالونه ئې دا دي:

اوبال:
د کندهار په لهجه کي دا کلمه (اوبال) ویله کېږي مثلاً وایي "د مرغانو په چیچیانو کارمه لره، اوبال بې در په غاړه سي".
په کلاسیک ادب کي ئې ما په همدې شکل مثال د میرزاخان انصاري په دیوان کي موندلی دئ:

لـــه اوبالــــــه نه ویریږي
خونرېزي ئې کړه مباحه
(۱۲۱ - مخ)

زما د کتبخانې په خطی نسخه کې هم "لاوبال نه ویریږی " لیکل سوی دئ.

خو په ارمغان خوشحال کې او د کندهار چاپ "مرغلري " کې بیا د "وبال " شکل راغلی دئ.

حق ناحق ئې چې ځوک راشي په منګل کښې
خـــــواروي ئې غــــــــــم ئې نه وي د وبال
(ارمغان - ۲۲مخ)

رحمان بابا ئې هم (وبال) لیکي (وګ: د دیوان ۱۰۲مخ)

اوجاړه:

دا لغت په لویدیځه لهجه کې په همدې شکل ویل کېږي. د کندهار مېرمنې وايي "خپله مې اوجاړه، زه د بل پر در ولاړه". یا وايي: "دا خونه مېرمن لري؟ ولې داسې اوجاړه اوجاړې ده پکښې". یعنې ولې داسې بې نظمه بې نظمې پکښې ده (زما د ۸۴ کلني مور په حواله).

په نورو لهجو کې د (ویجاړه، ووجاړه) په شکلونو ما اوربدلی دئ.

خوشحال خان ئې د (اوجاړه) بڼه راوړې ده.

ما وي کلی میشت دی، چې په کلي باندې راغلم
تش کنډر پراته دي، خــــــالي مېنه ده اوجــاړه

(۲۶۳ - مخ)

په ګلشن روه کي هم (اوجاړه) دئ (۲۹ مخ).

دغه راز په فراقنامه –۲۲ مخ کي لولو:

د دادخواهـــو زړ آهـونه
لور په لور اوجاړ ملکونه

هجري وايي:

چي امید په ډاډ د عمر کوي لواړه
ته به خـو پايي زنده په دا اوجاړه

(۴۴۹ - مخ)

عبدالقادر خان ختک وايي:

په طلب ئي د دنیا ودانی پربږده
لېونیو غـوندي ګرزه په اوجـاړه

(۱۹۳ - مخ)

دغه راز بل ځای ئي ویلي دي:

څه عـــبدالقادره په خـوله مینه مینه وايي
څو دي لا اوجاړه نه ده مېنه، نه دي مینه[۱۲]

(۲۴۱ - مخ)

کندهاری مخلص وايي:

[۱۲] دوهم نیم بیتی په کندهار چاپ (۷۹مخ) "څو دِ لا اوجاړه نده مېنه، نده مینه" او کابل چاپ (۲۴۱مخ) کي "څو د لا اوجاړه نه ده مینه، نه ده مینه" ثبت سوی دئ.

چي ننگ شرم دي له ستر گو څخه ولاړ
دا منم کار بــــــه دي هيڅ نشي اوجاړ
ولي کــــــــــورودانول د بل په مال
خلک بد گڼي د خور و لـــــــور تر باړ
(د لوی مخلص کليات - ۱۲۵مخ)

اودل:

دا لغت په کندهاری لهجه کي همداسي ويل کېږي او خوشحال خان ئې هم زياتره په همدې شکل راوړي. د پښتو په نورو لهجو کي ئې د (وودل) ډول رواج لري. ځکه نو په چاپي ديوانو کي هم (وودل) سوی دئ. په ځينو ليکنو کي (اوبدل) سوی هم دئ چي دا راته د کاتبانو (پاړسيت) ښکاري. خوشحال وايي:

چي هر دوړئې و اودلو ته هوس کا
د زربفـــــتو هـــنرچيرې دی اسان
(۱۵۸ - مخ)

په حاشيه کي ورته ليکلي دي چي "... دا مسری په چاپي نسخه کي داسې ده:

(... وودو ته هوس کاندي). دلته بيا د چاپي متن ترتيبوونکو له (اودلو) څخه (وودو) جوړ کړی دئ. د خوشحال خپل تلفظ (اودلو) دئ.

په گلشن روه کي اول نيم بيتی داسي دئ:

"په هر دهورئې و اودلو ته هوس کا "

او په (مرغلري) کي بيا "چه هر ډُوړئې و اودو ته هوس کاندي " دئ.

يا:

د بخــــــملو په اودل به خــبر نه شي
په شماره که اتيا زره بوريا باف وي

(۴۰۰ - مخ)

د خوشحال خان په شعر کي (ويده، بيده) هم هر کله د (اوده) په شکل راغلی دئ، (مثالونه):

گوره بيا دي څه په زړه کوم مي گناه دی
چي ليدو لــره دي درشم ځان اوده کړې

(۴۴۲ - مخ)

يا:

د ســــــــــحر گتنه ډيره تر هــر څه ده
ځني ځني ورته وينې ځني اوده کړې

(۴۴۸ - مخ)

اوربشينه:

د خوشحال خان په کلام او د پښتو په لوېديځه لهجه کي (اوربشي) او (اوربشينه) له (الف) سره يو ځای ويل کېږي. په نورو لهجو کي ئې (وربشي) او (وربشينه) بولي. خوشحال ويلي دي:

د ماړه تر فهمه هیڅ نه ده غنمینه
ولې وږي ته حلوا ده اوربشینه

(۲۷۸ - مخ)

یا:

ډوډۍ غنمینه وی که اوربشینه
په وخت د لوږی خوږه لګینه
موړ د نباتو حلوا ته نه ګوری
هوښیار به پوه شی په دا رازونه

(رباعیات–۸۳ مخ)

یا:

د غنمو په لذت به نه پوهیږي
د هر چا چې زیست روزګار وي په اوربشې

(۴۶۷ - مخ)

یا:

چې اوربشې کرې، کله غنم ریبې
پټه نه ده څه کړې هغه اخلې

(۴۷۹ - مخ)

په دستارنامه–۵۲ مخ کې راغلي دي: "آس دي ... نور ... ښه په پوخ وا ښه او په اوربشو مړاوه شي." خان په سواتنامه کې ویلي دي:

هر هر بیت د قصیدې چې درمرجان دی
په پښتو کې تر اوربشو لا ارزان دی

(۴۵ - مخ)

عبدالقادر خان خټک وايي:

قوت خو هومره چي قوت ځني حاصل شي
که پـــــه ټوک ئې د اوربشو که غنـمین کا

(۲۳ - مخ)

په ارمغان خوشحال کي هم د "اوربشي" لیکنه عامه ده.

رحمان باباوايي:

هـر چي کر کا د اوربشو غــنم غــواړي
له خاطره دي بیرون کا دغه خیال خوک

(۲۹ - مخ)

حمید وايي:

چي کرلي دي اوربشي د عمل دي
بیا به نه مـــومي غنم په اخســته

(کلیات-۱۹۲مخ)

اوربل:

دا کلمه هم د پښتو په زیاترو لهجو کي (وربل) ویل کېږي. د لویدیځي لهجي ویونکي ئې (اوربل) تلفظ کوي. د خوشحال په کلام کي ما دواړه شکله لیدلي دي. یو ځای وايي:

ډېر به ما غوندي په عقل تېروبېر کړي
چي وربل دي تېروبېر درخـــه شــته

(۲۲۵ - مخ)

یا:

دلــربا، خوبـــــا اوربل دې تیروبېر دی
هر هر تار ئې د عاشق تر زړه چاپېر دی

(۳۲۵ - مخ)

یا:

یا د ښو زلمیو خیال دی په شــمله کې
یا د ښو نجونو د تور اوربل دماغ دی

(۳۳۲ - مخ)

په ځینو ځایو کې خوشحال غوښتي دي چې د (اوربل = کاکل) او (اوربل = آتش) تر منځ د تجنیس صنعت تطبیق کړي خو دلته لا هم د چاپي نسخو ترتیبوونکو د (وربل) شکل لیکلی دئ او د خوشحال خان هڅه ئې په پام کې نه ده نیولې. مثلاً:

توري دي زلفې دي تور دي وربل دی
مــخ مي دي ولــیده لـــکه اوربل دی
هم تور لوګی دی هم سرې لمبې دي
د غـــوښو زړه مې پکښې قـــبل دی

(رباعیات - ۱۲۸ مخ)

قادر خان وايي:

که طالع د عـــــــاشـقانو توري نه وي
تور اوربل ئې په مخ ولې تار په تار شو

(۱۳۹ - مخ)

اوربوز:

په لوېديځه کي (اوربوز) ويل کېږي خو د خوشحال په کلام کي مي يو ځای (وربوز) وموند.

و مــغل ته به خــبرې په وربــوز کـــړم
سر مې پرېوزه که به سر ورته بيا کوز کړم

(سواتنامه - ۱۵مخ)

که دا د کاتب يا مرتب لاسوهنه وي نو په دغه مورد کي د لوېديځ ګړدود او خوشحال خان ختټک د لهجې لار سره يوه ده.

اورسۍ:

په پارسي ئې (اُرسی) بولي. په ظفراللغات کي ئې په (آئينه) معناکړې دئ. خو په کندهار کي اورسۍ يو راز دروازې وې چي د پورته کېدلو او کښته کېدلو ميخانيکيت به ورته جوړسوی وو او د اړتيا په وخت کي (خوني ته د روڼا او هوا د راتلو له پاره) ئې پلې پورته کېدلې او کښته کېدلې.

هجري وايي:

په اُرسۍ[۱۷] به ثاني بدر هويدا شي
هر ساعت چي پرسيده د مخ آيات کا

---

[۱۷] په چاپي متن کي: "په اُرسۍ که ثاني بدرهويدا شي" دئ چي ما ته سم نه ايسي.

(۲۷۰ - مخ)

په نورو لهجو کې (ورسی) ویله کېږي.

اورغوی:

دا لغت هم په نورو لهجو کې (ورغوي) تلفظ کېږي. د خوشحال خټک په کليات کې هم د (ورغوي) په شکل ثبت دئ. که دا د کاتب تصرف نه وي، نو دلته به هم په دغه مشخصه قاعده کې د خوشحال وينګ او د لوېديځې لهجې تلفظ يو له بله سره بېل وي.

اورکزي:

د پښتنو دا قوم په ځينو لهجوکي (ورکزي) ويل کېږي. د لوېديځې لهجې وينګ ئې (اورکزي) دئ. خوشحال خان هم (اورکزي) راوړی دئ:

که اورکزي ئې سراسر واړه ګمراه دي
اپريدي دي تر ګــــــــمراهو لا ګمراه

(۲۹۸ - مخ)

اورمېږ:

"مثلا اوسپنه پيدا ده چه توره شی - که د استاد تر لاسه ورغله، توره ځنې سازه شوه، ...، د کافر تر اورمېږ پريوته..." (دستارنامه – ۲۸ مخ)

هجري وايي:

چي ئې لاس زما امېل د اورمېږه کړه

له نشاطـــــه مي د سترګو دُر نثاروه

(۴۵۵ - مخ)

د هجري په دېوان کي (ورمبړ) هم راغلی دئ (۴۴ مخ) چي ما ته د هجري خپل تلفظ نه ايسي.

اورنی:

د اورني کلمه په لوېديځه لهجه کي د (اوني) په شکل ويل کېږي. په ځينو لهجو کي (ونی) ورته وايي. د خوشحال خان په کلام کي ئې هم د سر الف ورسره پاته دئ خو په ارمغان، کليات (د کامل صاحب) او په کندهار چاپ کي ئې ځای ځای الف ځني ايستلی او ځای ځای ئې (اونی) کړی دئ. خوشحال وايي:

هغه وخت چي د زانګو او د اورني وو

په مــرغيي هيـــــخ نظـــــــــر نه و د ده

(۲۲۷ - مخ)

يا:

ته لا طفل د اورني ئې

که دي ړيره کـربلا ده

(۲۷۷ مخ)

په چاپي نسخو کي (اونی) دئ.

حميد مومنديې هم (اورنی) وايي:

که هر څو مې لکه وورکی د پرهېز په اورنې بلېښ
تپند زړه را څخه ترکـــــو عـــاقبت ځان ته راکېښ
(کلیات–۱۰۱ مخ)

اوریځ:
حمید وایي:
د مـــــخ پټې ښکلې حسن کشش ډېر کا
ولې تاب وي د اوریځې د آفتاب سخت
(۴۷ - مخ)

بل ځای:
لا که مخ له خال و خطه آب و تاب ډېر
ولې تاب وي د اوریځې د آفتاب ډېر
(کلیات - ۷۲ مخ)

د کندهار په لهجه کې (اوریځ) ویل کېږي او په نورو لهجو کې (وریځ).

✷✷✷

۳، ۱۰، ۱۰: اورېدل:
د پښتو په نورو لهجو کې (اورېدل = باریدن) د (ووریدل) په شکل ویل کېږي.
رحمان بابا وایي:
که هـــــمه عـــــمر باران وربانـــدې ووري

لاګرمي ئې په صورت کښي د آفتاب وي

(۱۰۸ - مخ)

د پروفيسر عبد المجيد افغاني په چاپ (۷۲مخ) کي د لومړي نيم بيتي (ووري) د (اوري) په ښکل ثبت دئ.

د لويديځي لهجې تلفظ ئې (اوربدل) دئ. خوشحال خان دواړه شکله راوړي دي.

ستا د مهر باران نه ووري چې شين شي
مـــــا په زړه کرلی ستا د مينې کردی

(۳۱۲ مخ)

په ګلشن روه کي د خوشحال خان خټک د کلام په (۳۴ مخ) کي "ستا د مهر باران نه اوري چه شين شي" ليکل سوی دئ او همدا ئې د خوشحال خان خپل تلفظ بايد وي ځکه د ميجر راورټي له پاره د (ووري) او (اوري) ترمنځ يو انتخابول مطرح نه وه.

يا:

په لاتقنـــــطوا تکـــــيه ده
که نه، اور ووري تور تم دی

(۳۴۲ - مخ)

په رباعياتو کي هم (ووري) راغلی دئ (۱۹۵ مخ).

ما ته (ووري) د کاتبانو او مرتبينو لاسوهنه ښکاري (والله اعلم).

اوړکی:

هجري وايي:

عـارفان دي له نېستۍ هسـتۍ ويزار دي
لکه اوړکي ترخه ګوټ کا په شودو کښې

(۲۵ - مخ)

دغه راز ۳۵۴ مخ، ۴۳۲ مخ.

د رحمان بابا د کلام په هغه برخه کې چې ميجر راورټي په ګلشن روه (۳۲ مخ) کې راوړې ده، (ووړ = کوچنی) د (اوړ) په شکل ثبت دئ:

عاشـــقي به دِ اسمان غـنـدِ سـر لـوړ کا
که مجنون غندِ هر څو په صورت اوړ ئي

(بيت د ګلشن روه په ليکدود دئ)

اوړی:

اوړی د (دوبی = تابستان) معادل لغت دئ. د کندهار د لهجې تلفظ ئې همداسې دئ خو په نورو لهجو کې (ووړی) تلفظ کېږي. خوشحال خان ئې هم (اوړی) کاروي.

په دا باغ کې يـــــــوه ونه، تل تازه تره برخـــنه
چې ئې اوړی ژمی بر خورم، برخو هسې وي کنه

(۲۹۵ مخ)

دغه راز په سواتنامه کې داسې راغلي دي:

تر کابل نه ئې هوا د اوړي ښه ده
د کابل هـــوا ترخه د ده خوږه ده

(۴ - مخ)

حمید وايي:

چې پوښاک کا ژمی اوړی یو خرخوړی
وي به ســـبزه لکه ســــــروه ژمی اوړی

(کلیات–۲۷۴ مخ)

میرزاخان انصاري ویلي دي:

گــــه اوره، برېښــنا ، تناچي باران وورې
گهـ(ي) اوړی، منی، ژمی او بهار شي

(۳۸ - مخ)

او سپنه:

خوشحال په دستارنامه کی ویلي دي:

"مثلاً اوسپنه پیدا ده چه توره شی- که د استاد تر لاسه ورغله، توره ځني سازه شوه، ...، د کافر تر اورمیږ پریوته.. "(دستارنامه – ۲۸ مخ). رحمان باباوايي:

نصیحت د ناصحانــــــــو اثر نه کا
د سړي اوسپني خوشي ټکول دي

(۹۵ - مخ)

اوسپنه په ځینو لهجوکي (وسپنه) تلفظ کېږي. د کامگار ختک په دېوان کي زه د (وسپنه) پر شکل پېښ سوی یم:

په کي نه مومــــــم د صـــبر یو بخـــری

که د وسپنې سینه کړم ، زړه له سنګه

(۱۲۱ - مخ)

زه د "وسپنې" دغه راز استعمال ځکه د بل چا لاسوهنه بولم، چې کامګارختک خو "ومه شه، ونه لید ، ... "لا د "اومه شه، اونه لید " په شکل کاږي. له دې کارېدنې سره سره د کلاسیک ادب مثالونه ئې ټول د لوېدیځې لهجې له وینګ سره برابر دي.

عبدالقادر خان ختک اوسپنه په توصیفي شکل کې "اوسپرین " لیکي:

د زړه مست لـــــــره د زلفو زنځیر بویه
په اوسپرین زنځیر دا مست تړلی نه شي

(۳۰۰ - مخ)

اولجه:

دا لغت هم له لوېدیځې لهجې پرته په نورو کې (ولجه) ویل کېږي. خوشحال خان ئې هم له الف سره یو ځای لیکي.

بیا به صبر د خوشحال ختک اولجه کا
راځرګنده شوه سره کړې خوله په پانو

(۱۸۰ - مخ)

بل ځای:

له کوره لـــــــوته واخلي، استنــجا لره روان شي
تقوی تر هسې حده، په اولجه ئې وړي که زر شته

(۲۵۹ - مخ)

یا:

له ځوانمرده هومره غواړه چې د زیست شي
د نامـــــرد خو نه هــــــمه واړه اولــجه کړه

(۳۰۲ - مخ)

دغه راز دستارنامه –۹۵ مخ کي راغلي دي:
"... غلیم نفاق شمارلی بویه، چي دا هسې وخت اولجه دی."
په ارمغان خوشحال کي زیاتره "اولجه" ثبت ده خو کله کله ئې "اُلجه" هم لیکي (۱۸، ۲۰ مخونه)
هجري ویلي دي:

اُلجه مــال له ترکه چــا ګټلی نه دی
د باغي نه و قاضي ته څه فریاد دی

(۱۹۹- مخ)

میرزا خان ویلي دي:

دا حضور زمان اولجه ده
وبال پرېږده کـــړه ثواب

(۲۴- مخ)

اوسی (هوسی):
د کامګارخټک د دېوان د الف ردیف په لومړی نیمګړي غزله کي د پنځم نیمګړي بیت په دوهم نیم بیتي کي د (اوسی = هوسی) له

سرخخه الف ایسته سوی دئ او "وسیـ" ځيني جوړه سوې ده. دی وايي:

"د وسیـ مشک ئې پیدا کړه په صحرا "

(د کابل چاپ دیوان–۱ مخ)

کامگار ختټک د خوشحال خان ختټک کړوسی دئ. که د "وسیـ" دغه راز وينگ د ده خپل تلفظ وي او د کاتب لاسوهنه نه وي، نو بیا ثوک ویلای سي، چي دغه وخت د اوسنیـ ختیځي لهجې قاعدې د تکوین تر مرحلې وتلي او شعر ته ئې لار موندلې وه.

اولس:

دا کلمه د پښتو په نورو لهجو کي (ولس) ويل کېږي او مشتقات ئې هم بې الفه وي. لکه: ولسي جرګه، ولسوال، ولسوالي، ...

خوشحال خان ئې د (اولس) په شکل راوړي:

درست اولس، قبیله واړه
گرفتار په ډېر غضب شول

(۱۰۷- مخ)

یا:

په ښادي ســـره شریک دي اولســونه
غم یوازې د خوشحال ختټک د ځان دی

(۳۱۸- مخ)

یو ځای مي د (ولس) په شکل هم په سترګه سو:

د خټک ولس پــــــه ننــگه نه پوهــېږي
کار ئې درست د نادیده و په خصال دی
(۳۴۷ - مخ)

خو دې بیت ته ئې په حاشیه کې کښلی دي، چې په "دویمه او دریمه" خطی نسخه کې (اولس) ثبت دئ.

دغه راز په دستارنامه -۱۵۴ مخ کې لولو:

"... پښتون ډیر دی، تومنونه اولسونه، د واړو گنجایش نشته. که حق تعالی نجات راکړه ... په کور علیحده تاریخ به انشا شي ".

د خوشحال کړوسی کامگار خټک وایي:

د آشــنا په عشق کې هسې بینوا شــوم
چې خندان د اولس، کلي، محلت زه یم
(۷۴ - مخ)

اولکه:

دا کلمه په ختیځه لهجه کې (ولکه) تلفظ کېږي. اوس ئې د (واک، قبضه، تصرف) په معنا استعمال عام دئ. د کندهار په لهجه کې (اولگّه) ورته وایي. خوشحال خان ئې هم (اولکه) لیکي. په دستارنامه (د ۱۹۹۱ع چاپ) کې لولو:

په دستارنامه کې دا کلمه داسې لولو:

"... چنگیزخان کافر خوک خوروه، اتفاق ئې په قوم په قبیله په خیل خانه کښې وه، پلار ئې د یوې اولکې ښښتن وه. ده په ربع

مسکون حکم و چلاوه... "(۲۰۸ مخ).

د هوتکو په نارو کي یوه ناره داسي ده:

د قیتول پر سر مي ده رابیا ولاړه
یوه لو ناره ئې وکړه، د حاجي میرخان ګټلي اولکه ولاړه

ایږ:

په کندهار کي ئې (ایږ) بولي. په ختیځو لهجو کي (یږ) ورته وایي. د میرزاخان انصاري دېوان په قلمي نسخه کي (زما د کتب خاني) دا لغت همداسي راغلی دئ، خو په چاپي دېوان کي ئې د دغه لغت مربوطه غزل ځکه د (یاء) په ردیف کي راوړې ده، چي نوري قافیې ئې (خیږي، کیږي، لویږي،...) دي او ښکاره خبره ده، چي (ایږ) ئې د (ایږی) په شکل ثبت کړی دئ.

مګر بخل دي په حلم باندي زور شو
و جحیم وته تیار شـــوي لکه ایږی

(۲۳۱ - مخ)

زما د مطلب ټکی په (ایږ) یا په (ایږي) کي نه دئ، بلکي د دغه لغت د سر په الف کي دئ چي ګویا میرزاخان ئې هم (ایږ) لیکي نه (یږ).

اینه:

په کندهارۍ لهجه کي اینه (جګر = lever) ته وایي او د تلفظ پر

مهال ئې فشار پر دوهمه څپه راځي. اینه د (جگر) په معنی په نورو لهجو کې (ینه) ویل کېږي او فشار ئې هم پر لومړۍ څپه دئ.

خوشحال خان خټک یو ځای ویلي دي:

ستا له خویه نه مي خوږینه ده اینه
ځـــکه هسې وهم کانې په ســـینه

(مرغلري - ۳۴۲مخ، کلیات د کابل چاپ ۲۸۷مخ)

بل ځای ئې (ینه) هم راوړې ده:

د دلـــبرو په ستاینه
ما پخه کړه خپله ینه

(مرغلري - ۲۲۲مخ)

میرزا حنان بارکزي ویلي دي:

ستاد میني گرگ په هسي شان رنځورکړم
چي زهـــوب مي مـــدام وزي لــــه اینې

(۱۸۱ - مخ)

بل ځای وایي:

ترو رېښمو ئې پسته هسي سینه ده
و بغل تې د زاهد خـــوږینه اینه ده

(۲۰۴ - مخ)

مولوي بریالی وایي:

چمبه گل مي په سینه لاسونه سره کا

په اینه مي وهي گــوتي د منگول ناز

(اهار– ۴۷ مخ)

تر (واو) وړاندي د (الف) د زياتولو قاعده دومره پراخه وه، چي "ونه ليد" غوندي کلمات لا هم "اونه ليد" او "ومه شه" د "اومه شه" په شکل ويل کېدل. کامگار خان ختټک ويلي دي:

په دنيا کي مي اونه لــيده په ســـترگو

په فردوس کي د سرور نبي صحبت را

(ديوان–۲۴ مخ)

تر قيامته بيا په ما باندي اومــه شه

که د تا د لاس د زخم څه درمان کړم

(ديوان–۲۴ مخ)

دغه راز "اوخوت" په ۲۸ مخ کي.

د اسمي الف (اينه) او د فعلي الف (اوکره) دوي څله بېلي پېښي دي، وروستنۍ، وروستنۍ يا اوسنۍ ده.

***

۲،۲، ۱۱: څخه:

(څخه) هم يو هجايي تلفظ لري هم دوه هجايي. له دوه هجايي تلفظ سره ئې د ختيځو لهجو کاتبانو مشکل نه دئ موندلی او ځای ځای ئې پر خپل حال پرې ايښی دئ، خو يو هجايي تلفظ ئې يو مخيزه

ایستلی او پر ځای ئې (نه) ایښی دئ (وګ: معیاري پښتو – ۲۱۲ مخ).
د دې کلمې پر ځای د پښتو په ځینو لهجو کې (نه) توری استعمالېږي. د خوشحال خان په کلام کې د (څخه) استعمال ډېر په سترګه کېږي. داسې ځایونه هم ډېر دي چې د (څخه) پر ځای (نه) ورلوېدلی دئ او که دغه ځایونه بیرته په (څخه) ولیکل سي، د شعر پر روانۍ باندې ښه اثر ښندي. مثالونه ئې:

موسی څخه هیڅ نه وو، ورڅخه یوه عصا وه
قارون څخه دنیا وه، خـــود ئې ولیدل آفات

(۳۹ - مخ)

د پښتو په ځینو لهجو کې په پورتنیو مواردو کې (سره) کلمه ډېر رواج لري (موسی سره هیڅ نه وو، ورسره یوه عصا وه).
د نورو کلاسیکو شاعرانو په دېوانو کې هم کاتبانو (نه) سرباری کړی دئ. لکه د حمید په دې بیت کې چې ئې لولو:

دا مې پربـوته پېـښه د زړه لـــه داغـه
که د لاس نه د نمر مخې مشال پرېووت

(کلیات –۵۰ مخ)

د دوهم نیم بیتي سمه بڼه باید داسې وي:

"که د لاسه د نمر مخې مشال پرېووت"

زما یقین دئ چې په خطي نسخه کې به د (لاس) په کلمه کې د سین پر سر باندې زور (فتحه) له کاتبه هېره سوې وي او د کلیات

مرتب یا بل چا به د نیم بیتي د وزن د پوره کولو په خاطر (نه) پر زیات کړی وي.

د خوشحال خان په کلام کي د (درخخه، راخخه) نور مثالونه دا دي:

(۱) ورخخه او ورسره دوې ځله ببېلي ماناوي لري. راخخه، درخخه، ورخخه د خاوندتیا مفهوم لري، خو راسره، درسره، او ورسره بیا د ملګرتیا په مفهوم او مانا دي: "له ژوندونه خو هم دا څه ؤ راخخه".

چه هنر د بزرګئ درخـــخه نه وی
طالع څه کا تا په سر واخلی مګر
(دستارنامه – ۲۸ مخ)

یا:

ځان او زړه، صبر ارام ئې له ما یووړل
له ژوندونه خو هـــمدا څه وو راخخه
(۲۰۵ - مخ)

یا:

یو قــــــرین هسې پیدا نه شو راخخه
چې دما په زړه ئې نه کړل منګول ښخه
(۲۰۲ - مخ)

یا:

آئینې وته نــــــظر کړه ګل به څـه کړې

چې خـپل مخ د ګل په ځبر درځخه شته

(۲۲۵ - مخ)

دغه راز په سواتنامه کې لولو:

په ورتله به بیا خـدمت راځخه غـواړي

پښتانه چې سره وژنو، دیو پرېې ویاړي

(۱۴- مخ)

هجري وايي:

زړه عجب راځخه ګُم شه نه ئې مومم

بې ګُمانه به هورېې وي چې صنم دی

(۱۸۵- مخ)

رحمان بابا وايي:

په یـوه نـــــظر ئې زړه راځـــخه یـوړ

خدای دي خیر کا چې لا وکړي بل نظر بیا

(۱۷ - مخ)

میرزاخان وايي:

دغه نن ساعت درځخه غنیمت دی

د پـــــرون اندیښــنه واړه ده سلفه

(۱۲۴ - مخ)

د کندهارلهجه د (ځخه) د استعمال دغه راز موارد ډېر لري. ملا محمد عیسی کندهاری د عمرجان صاحبزاده کیشانی (۱۳۴۸ هـ ق مړ) په مرثیه کې وايي:

اوس ئې ببلتون دئ له جهانه څخه
ولاړئ صـــاحب له خراسانه څخه

(د ؟مخ)

پوهاند زیار صاحب د خوشحال په کلام کې د "څخه" د استعمال په ارتباط لیکي چې د خوشحال خان په کلام کي د دغه ضمیر "بېځایه کارونو څرک ... هیڅ نه لیدل کېږي ... او دا چې (څخه) ئې زیاتره د (سره) هممانیز کارولې دی کومه نادوده نه بلل کېږي "*.

پوهاند صاحب د "څخه" بل انډول "نه" معیاري نه بولي او دلیل داسي راوړي، چي "له نفي وییکي (نه) سره ګډون پېښوي". دغه راز د کندهاري ګړدود "څه" هم معیاري نه ګڼي. دوی ئې دلیل نه دئ راوړئ خو غالباً به ئې مراد له "څه = قدری (فارسي) " التباس وي.

پوهاند صاحب د دې ضمایرو پر ځای "له - سره" معادل معیاري ګڼي (وګ : د خوشال ادبي پښتو- ۷۹ مخ). زه د پوهاندصاحب دغه پیشنهاد سوې قاعده له پخوا څخه په ټینګه تعقیبوم*.

***

---

* "څخه" او "سره" یو د بل پر ځای باندي راوړنه مانایي غلطي پېښوي نو یو د بل پر ځای راوړني څخه یې باید غوځ پرهېز وسي (ع. پالوال).

* "څه" د "څخه" وګړیز کورلټ څېر دئ، او په ارتباطي مانا کارول کېږي (ع. پالوال).

۲،۲، ۱۲: (پر) او (په):

د خوشحال خان په کلام کي د (پر) پر ځای زیاتره (په) راغلی دئ. پوهاند زیار صاحب هم دغي ګډوډۍ ته اشاره لري (د خوشحال ادبي پښتو – ۷۸ مخ) او دا بیا د ختیځو لهجواغېزه بولي. زما په خیال د (په) دغه راز بېځایه استعمال د خوشحال خپل انتخاب نه بلکي د کاتبانو لاسوهنه ده. د پوهاند صاحب دا خبره چي وايي " له کندهارۍ او تاریخي ادبي پښتو پرته نور زیاتره ګړدودونه (په) او (پر) سره ګډوي، پر يوه وخت یا دواړه په الي، ارتباطي او تسلسلي مانا کاروي، په بله وینا دواړه د (په) پاژه پر ځای کوي او یا دواړه په استعلايي مانا ؛ یا په بله ژبه دواړه د (پر) دنده تر سره کوي، ... "[18].

د پوهاند صاحب د دغي خبري د تایید له پاره د شمس الدين کاکړ یو بیت رااخلم چي د (په) او (پر) د کارولو ډېر ښه مثال کېدلای سي:

چي ئي شرط تاړه په سر د یار پر زلفو
مستو جــــــبه د کشتن شو زمـا دل

(۸۱ - مخ)

د (په) او (پر) په برخه کي ما (هوتک) یو وخت په دعوت جریده (۱۱۳ - ۱۱۴ ګڼه ۹ مخ) کي د زیارصاحب پر "وانښه پر خوله" باندي

---

[18] زیار، مجاوراحمد (دوکتور)، ويي پوهنه – ۴۷ مخ، کابل پوهنتون – ۱۳۶۰ ش. د ډبري لیکه ده. دا خبره د لیکلارښو د په ۳۱مخ کي هم تایيد کړې ده.

تبصره کړې وه او ليکلي مي وه، چي دلته د ظرف و مظروف په حکم (وانبه په خوله) کره* راځي. پوهاند زيار صاحب پخپل کتاب (ليکلارښود – ۳۲ مخ د۱۳۸۲ش چاپ) کي زما په جواب کي بيا پر خپله خبره ټينګار کړی دئ او خپل دلايل ئې داسي ليکلي دي، چي:
"... يو خو په ظرفي مانا او جاج (په) ما هيڅکله، په هيڅ ګړدود او متن کي بې (کي) سربله نه دی موندلی او بله دا چي دلته اړينه نه ده چي وانبه دې کورټ او سکوټ دننه په خوله کي ونيول شي، بلکي کېږي د چا خبره هسې ئې اکټ وشي ...". زه د دوی له دغو دلايلو سره سره بيا هم "وانبه پر خوله" سم نه بولم او "وانبه په خوله" کره ګڼم. دلته (کي) حذف سوی دئ او دا چي پوهاند صاحب وايي په هيڅ متن کي ئې (په) له (کي) پرته ليدلی نه دئ، د حميد دا شعر د دوی په جواب کي ورته راوړم چي ويلي ئې دي:

رستمان د صبر په دا په ځمکه؟
و هلک ته د زارۍ وانبه په خوله کا
(د عبدالحميد مومند کليات–**۳۵۵** مخ)

لومړی نيم بيتی سم نه دئ ثبت سوی سم شکل به يې داسي وي:

رستمان د صبر زهد په دا مځکه
و هلک ته د زارۍ وانبه په خوله که

---

* آيا دغه "کره" پښتو لغت، د "سره" sará په مانا دئ، که له کراهت څخه اخسته سوئ عربي لغت دئ؟ (ع. پالوال)

یا:

که هر څو ورته نیوه په خوله واښه
لا ئې ځــان لکه لمبه راته گــواښه
(کلیات-۳۷۴ مخ)

* * *

۲،۲ ، ۱۳: لره:

خوشحال دغه اداتي ضمير هم له لوېديځ گړدود سره سم کاروي.
پوهاند زيار صاحب د خوشال ادبي پښتو په **۵۲** مخ کي د دې قاعدې
په مثال کي "هر طبيب لره چې ويرشمه ناقص دی" راوړی دئ.
د تلوکان ملاحسن اخوند (**۱۲۴۵**هـ ق مړ) ويلي دي:

چي چندڼ لره ورځي سر خو به بايلي
د اپي مارانو ځای د چندڼ سيوري

* * *

۲،۲ ، ۱۴: خبر، خبره:

د کندهار په لهجه کي (خبره) د (خبر – د باء په زوره کي) په
شکل ويل کېږي. جنس ئې مونث دئ. د خوشحال خان په ځينو بيتو کي
که (خبره، خبري) د (خبر) په شکل راوړه سي، د مسری وزن به بر روان
کېږي. د (خبرې) په سته والي کي د خان شعر بې وزنه سوی دئ. مثال

ئي:

څوک د وصل خبري کاندي

موږه خوښ په خپل بر بست يو

(۱۷۸- مخ)

په دې غزل کي هر نيم بيتی اته څپې دئ. که (خبر) د (خبري) په شکل وليکل سي، د نيم بيتي وزن يوه څپه زياتېږي او نهه (۹) کېږي. خو که (خبر) د کندهار له لهجې سره سمه وکښل سي، د څپو شمېر اته کېږي او وزن هم په سمېږي. د دې غزل نور بيتونه داسي دي:

په سما مـــــو قدم ايښی

لکه مــــزکه هسې پست يو

هغې خــــولې وته نظر کړه

هغه هسې نيست و هست يو

له موضوع سره د ارتباط په لړ کي، خوشحال (څېر) کلمه هم بې له (هـ) کار کړې ده خو د کاتبانو لاسوهني له هغې څخه (څيره) جوړه کړې ده او د خوشحال خان شعر ئې بېخونده کړی دئ. بيت دا دئ:

لس کالـــونه تېر کا په يـــوه جـــامه خـــيرنه

کوز وجود برمنډ، په سر څيره* کښېږدي زرينه

(کليات-۲۵۴مخ، کابل، مرغلري - ۲۷۳مخ)

---

* ښايي له څيره څخه به د نارينه وو له پاره ګلابتوني يخه خولۍ مراد وي، او د ښځو له پاره به زرينه جوغه مراد وه (ع. پالوال).

دلته (څیره = چهره، څهره) معنا نه ورکوي او دا کلمه غالباً (څپر) ده، چي د (خبر = خبره) پر وزن مجازا د (خولې) معنا ورکوي. (څپر) په نورو لهجو کي (څپره) ویل کېږي. په کندهار کښي څپر له ښاخلو او وابښو څخه جوړ کړه سوئ وي چي د درمند غنم له ورېو څخه په ایستل کېږي، او نارونه ئې پروړ ګرځېږي.

***

۲،۲ ،۱۵: د (ې) لنډون:

(د دې قاعدې له پاره د لنډون اصطلاح پوهاند زیارصاحب کارکړې ده) دا قاعده په کندهارۍ لهجه کي ډېره عامه ده او ما په (پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه - ۹۴مخ) کي په تفصیل سره بیان کړې ده. دلته ئې د خوشحال په کلام کي هم څېړم:

بې = به ئې:

خوشحال وایي:

نه به سترګې د سړي په چا خوږې شي
نه بې مـــــاته په اوبو شي د چا تنده

(۲۰۷ - مخ)

د (بې = به ئې) قاعدې په پوهېدلو کي د پښتو د زیاترو لهجو ویونکي مشکلات لري. همدا سبب دئ چي د خوشحال خان ختک

کليات په (۱۳۲مخ، نوی چاپ) کي دا بيت له خپل اصلي حالته اړول سوی دئ او دوهمه مصرع ئې "نه ئې ماته په اوبو شي د چا تنده" ثبت کړې ده خو دې ته ئې پام سوی نه دئ چې د لومړۍ مصرع (نه به) د دوهمي له (نه ئې) سره د زماني په لحاظ تناقض لري او دا تناقض بيا د خوشحال له "سخنورۍ" سره سر نه خوري. خوشحال خان د دومره کښېنته سويې شاعر نه وو، چې د يوه بيت دوې مصرع گاني دي په دوو بېلوبېلو زمانو کي سره وتړي.

بل ځای وايي:

اشــرف خان به چــرته بند وي
څه به کا څرنگ بې ژوند وي

(فراقنامه-۳۱مخ)

شمس الدين کاکړ ويلي دي:

کافران بې له هيبته مسلمان شي
مسلمان به په اسلام شي مفتخر

(۵۷-مخ)

نهې = نهی ئې:

خوشحال خان يو ځای ويلي دي:

واړه امــــــر مې قـبول دی
ترې توبه چې نهې نام دی

(۳۱۹ - مخ)

دلته (نهې = نهی ئې) ده. دا قاعده د کندهار په لهجه کې عامه ده.

یا:

په هر لورې = په هر لور ئې:

په دا اور کې دې زما لمن ونه سوه
په هـر لورې رسېدلې شرارې دي
(۳۸۱ - مخ)

دلته "په هر لورې = په هر لور ئې" دئ. دغه قاعده د کندهار د لهجې قاعده ده. د خوشحال خان ختک کلیات (۲۷۱ مخ) کې دوهم نیم بیتی "په هر لوري رسېدلې شرارې دي" لیکلی دئ، چې سم نه دئ. په پورتني بیت کې "شرارې" له "دا اور" سره تړلې دي یعني د "دا اور" شرارې هر لور ته رسېدلې دي او دا مطلب په "هر لوري ئې رسیدلې شرارې دي" سره ښه افاده کېدلای سي خو دغه لیکنه بیا د شعر وزن له دوولسو څپو څخه دیارلسو څپو ته زیاتوي او سکته منځ ته راوړي. د دې سکتې چاره په "هرلورې = په هر لوري ئې" سره کېږي او "سخن شناس" خوشحال له دغې قاعدې سره ښه پوره بلد وو او په شعر کې ئې کار کړې ده. که "په لوري رسېدلې شرارې دي" ومنو نو بیا دا حکم عام دي او له "دا اور" سره چې د (دا) په اشاره سره مشخص سوی دئ، نه جوړېږي. په دغه راز باریکیو باندې پوهېدل د متنپوه له پاره حتمي او لازمي دي.

څي = څه ئې:

خوشحال خان ويلي دي:

ګرګدن ګردن د فيل خوري
څـــه ميږيه څي قوت وي
(۳۹۲ - مخ)

دلته (څي = څه ئې) دئ.

د خوشحال خان خټک کليات (۲۸۵ مخ) او ارمغان خوشحال (۷۱۹ مخ) او د خوشحال خټک مرغلري (۴۸۳ مخ) کي دوهم نيم بيتی "څه مېږی څه ئي قوت وي" راغلی دئ. دلته بيا وينو چي د "څي = څه ئي" په پوهېدلو کي مشکلات پېښ سوي دي ځکه ئې نو د بيت د وزن ساتلو په نيامت د خوشحال خان "مېږيه" په "مېږي" اړولی دئ. د کابل چاپ کليات د "مېږيه" په ثبت کي د هغي نسخي ليکنه په پام کی نيولې چي د خوشحال خان خټک په ژوند ليکل سوې ده.

بوري = بوره ئې:

خوشحال خان وايي:

که په دا حسن د ګل غوندي پيدا ئې
بوري مـــور که ښـــا پير يه ئې راوړي
(۴۷۱ - مخ)

دلته (بوري مور که = بوره ئي مور که) ده. که ئې په بشپړه توګه وليکئ د شعر وزن ته تاوان رسېږي.

پړې = پړ ئې:

خوشحال خان ويلي دي:

چې مين شوې درست د يار په رضا دروه

اوس که خپله رضا کــړې خوشحاله ! پړې

(۴۷۱ - مخ)

پړې = پړ ئې (ملامت ئې):

يا بل ځای وايي:

د عشق شــورې د عاشق له دله نه ځي

په جهان ئې فيروزي ده په دا تور کې

(۴۷۷ - مخ)

دلته (شورې = شور ئې) دئ.

يا: دې = دي ئې:

خوشحال ليکي: " نبه آس، نبه توره، نبه عورت په بخت په طالع په لاس کنبيوزی - تجربه ئې هونبره چا کړې ده، چه پوست دِ (دې) تنک وی، شادِ (دې) وبله ته نزدې وی، سترګې دِ (دې) غټې وی، سر دِ (دې) هسک او بې ګوشت وی... "، (دستارنامه - ۵۳ مخ).

په قوسينو کې (دې) ما په نقل قول کې ورزيات کړی دئ او په ټولو ځايو کې "دِ = دې = دي ئې" معنا ورکوې. په دستارنامه کې دغه راز ځايونه نور هم سته (۲۱ ، ۱۰۲مخ).

نې = نه ئې:

نه په تلـه د جهان غم کړم
نې په راغله یم خوشحال

(فراقنامه - ۲۸مخ)

په حاشیه کې ورته کښلي دي "نې: نه ئې، اصل: نه په".

کې = که ئې:

د سوات ملک چې پکې روغې حویلې دي
په هـــر کور کې ګلزارونه، سهیلې دي[۱۹]

(سواتنامه–۵ مخ)

چې = چي ئې:

حمید وایي:

مخ به ځنې کوږ کا اوس د ستاغوندې دلبره
خدای چې کــــړوي له بدبخــتیه د چا ورځ

(کلیات - ۲۱مخ)

دلته "چې" د "چي ئې" وظیفه سر ته رسوي.

تیغونې = تېغونه ئې:

هجري وایي:

---

[۱۹] د خوشحال ختټک کلیات (۹۱۸ مخ نوی چاپ) کی دا بیت داسی دئ:
د سوات په ملک کې روغې حوېلې دي
په هـــر کور کې ګلعذارې سهیلې دي

هسې شـــنه تيغونې وزوول له زمـکې
چې ئې باغ کان د فولادو سر په سر که

(۱۱۷- مخ)

په اصل کې "تيغونه ئې" دي چې په شعر کې يو سېلاب زيات کړی او سکته ئې پکښې راوستلې ده.

ډکې = ډکی ئې:

هجري ويلي دي:

چنبې زيړ گلـــونه وزوول له تنـه
هر يو ډکې نمونه د چنډڼ هار که

(۱۳۱- مخ)

په متن کې "ډکی ئې" دئ چې دنيم بيتي يوه څپه ئې زياته کړې ده او شعرېې عيبې کړی دئ. که ئې د هجري پخپله ژبه "ډکې = ډکی ئې" لوستلی وای داعيب ئې له منځه تئ (تلئ).

رازې = راز ئې:

حميد مومند ويلي دي:

دا چې ته په هسې رازې د رقيب
ځکه ورمـــه زه ناسازې د رقيب

(۴۴- مخ)

دردوني = دردونه ئې:

مولوي بريالی وايي:

هجر شوخ فراق ئې شوخ دردونې شوخ دي
نازئې شوخ کبر ئې شوخ کوي گفتار شوخ

(اهار - ۲۷مخ)

***

۲،۲، ۱۲: يوه (د مذکر له پاره):

په کندهاري ګړدود کي (يوه) د (واو) په زوه ره کي سره د مذکر له پاره کارېږي او د (واو) په زوَر (فتحه) سره د مونث له پاره کارېږي. لکه: (يوه سړي راته وويل، يوه نجلۍ راغلله). دا جملې په نورو لهجو کي (يو سړي راته وويل، يوه جنۍ راغله) ويلي کېږي. د خوشحال په کلام کي هم د مذکر له پاره د (يوه) کلمه استعمال سوې ده.

چې احوال د هر يوه راته معلـوم شو
هـر يوه ته مې تيار کړل يو څو چخه

(۲۰۲ - مخ)

يا:

په سنت به د همه زړونو مردود شي
که د چار شي تر يوه پوري مردوده

(۲۰۷ - مخ)

یا:

یوه زړه لـــــــره یـــــوه مینـــه کــافي ده
څوک چې ډېرې مینې کا د غم لایق شي

(**۳۵۵** - مخ)

د اول نیم بیتي لومړی "یوه" د (واو) په زوره رکي او دوهم "یوه" د (واو) په زور (فتحه) باید وویل سي. یا:

زویه چه ووت د پلار لـــه رایه
توبه دې وکاکم بخت ته وایه
توبه که نه کا ســـزا به مومی
په دواړه کونه لـه یوه خدایه

(رباعیات – ۸۲ مخ)

یوه: (د "واو" په زوره رکي – د مذکر له پاره). حمید وایي:

په یوه به دې هم سترګې خوږې نه شي
که نظر کــــــــړې د دې دور په دا خلق

(کلیات – ۱۲۳ مخ)

✶✶✶

۲،۲ ۱۷: یو (د مونث له پاره):

هجري وایي:

یو لقمه بې غـــــــمه نه لري د خورد
په څو رنګ نقش پیدا په یوه دم کا

(۴۰ - مخ)

حمید وایي:

تر دا منځ یـــــو غزاله فتنه انګېز
لکه دی هسې شوخ چشمه بلاخېز

(۴۸۲ - مخ)

***

۲،۲، ۱۸: لمن:

په لوېدیځه لهجه کي (لمن) په همدې شکل رواج ده او جنس ئې د نورو لهجو په شان مونث دئ. په نورو لهجو کي ئې د (لمنه) په شکل وايي. خوشحال خان دا لغت د (لمن) په بڼه زيات راوړی دئ.

که لاس مې رقيبان په تيره توره سـره پرې کا
لمن به دې لا هــم زما له لاسه نه شي خلاصه

(۲۲۵ - مخ)

يا:

لو يه پيشکشي ده په وصال کې درته وايم
دُر ئې په لـــــمن کې ورته ګــــوره تلوه

(۲۹۳ - مخ)

يا:

په دا اور کې دې زما لمن ونه سوه
په هر لـوري رسېدلي شرارې دي

(۳۸۱ - مخ)

یا:

ګډ شـــم په ګلشن کې لمن ډکه کړم له ګلو
بیا بیخوده لاړ شم واړه ګل راڅخه تل شي
(۴۱۱ - مخ)

ددې بیت دوهمه مصرع به بنایي داسې وه : بیا بېهوښه پرېوزم واړه ګل راڅخه تل شي/ دل شي. کاتب یامرتب د "بېهوښه " پرځای "بیخوده " وراچولی دئ.

یا:

د مــــــرد چه نه وی لمن خیرنه
پاک وی په ژبه پاک وی په ژمنه
که زر بلاوی انـــــدوه دي نه کا
فرښتې بـــه واړوی بلا لـه ده نه
(رباعیات - ۷۹مخ)

رحمان باباوایي:
مـــا دي ستا لمن ته اچولی دا خپل ځـان دی
ستا دی ځما نه دی که دانا دی که نادان دی
(۲۳۹ مخ)

هجري وایي:
مـــــرګ بې واره لمن کله د چا نیسي
ولې نه پایي یو دم چې رزق ئې تم که

(۷۳مخ)

عبدالقادر خان وايي:

سرې سرې اوښکې مې له سترګو په لمن ځي
د يار غـــــمه راشه ګـــــــوره لاله زار خــپل

(۸۷ - مخ)

شمس الدين کاکړ وايي:

مـــحبت هســـي لـــمن ده
چي پر څرخه د زړه ستن ده

(۱۰۷-مخ)

* * *

۲،۲ ، ۱۹: خپلوان:

خپلوان د (خپل) جمع حالت دئ. د ختيځی لهجې ويونکي دا کلمه اوس د مفرد له پاره هم کاروي او د ليکني ژبې ته ئې هم لار موندلې ده. دمثال په توګه: په دې جملوکي چې "دی زماخپلوان دئ" يا " دازماخپلوانه ده "[۲۰] څخه ئې مراديوتن وي .په لوېديځه لهجه کي د مفرد له پاره د خپلوان کلمه نه راځي او پر ځای ئې "خپل" کاروي. د مثال په توګه: "دی زماخپل دئ، دا زماخپله ده، دوی زما خپلوان دي،

تاسي زموږ خپلوان یاست "[۲۱].

خوشحال خان هم "خپلوان" د جمع له پاره کاروي.

بدخویي به د خپلوانـــــو سره څوک کا
چي په خپله په خپل ځان پسندي اندوه
(۲۸۴- مخ)

حاجي ولي محمد مخلص کندهاری وایي:

خپلوان خپل کړه چي دي وس رسي تر څو
زړه ئي ســــــاته د ځلـــــــمیانو د زړو
هغه څوک مه کـــــــــــړه له ځانه مـرور
چي ئي بیا پخلا کـــــــــوې په مرکو
(کلیات-۲۱۰مخ)

په کندهار کي د "خپلوان" له پاره "کریبان، قریبان" هم رواج لري. د "قریبان" کلمه خو به ښایي د عربي "قریب" څخه راوتلي وي. په عربي کي د "قریب" جمع "اقارب، اقربا" ده، خو د کندهار په لهجه کي ئې د پښتو ژبي د جمع قاعده پر تطبیق کړې ده. حمید مومند د (قریب) کلمه د (خپل) په معنا کار کړېده. دی وایي:

که لړۍ ده و ما "حمید" راکا په عشق کي

---

[۲۱] په لوېدیځو مطبوعاتو کي د "طالبان" کلمه د مفرد (یوه طالب) له پاره هم کاروي. مثلاً (One Taliban was killed) یعني یو طالب وژل سوی وو، خو که دا انګرېزي جمله ټکي په ټکي وژباړل سي، معنی به ئې دا سي وي: یو طالبان وژل سوی وو.

نشـــــته بل یار و آشـــنا قـــریب زمـــا

(کلیات - ۱۷مخ)

شمس الدین کاکړ وايي:

اقارب شول عـقارب راپوري نښلي

خدای و ما ته کړل دا خپل هسي بلا

(۳۲ - مخ)

اشرف خان هجری د "قریبان" پر ځای "قرابات" لغت راوړی دئ:

زه خټک هر گز رضا په پردیس نه یم

د یار میني کـــــــړم جدا له قراباته

(۳۵ - مخ)

***

۲،۲، ۲۰: رونړا، رڼا:

د کندهار په لهجه کي د (رونړا) وینگ عام دئ. نوري لهجي ئې د (رڼا) په شکل تلفظ کوي او لومړي توري ته ئې زور (فتحه) ورکوي. د خوشحال خان په کلیات (کابل چاپ) کي دا دواړه شکله زما په سترگه سوي دي:

زوړ خوشحال چي د دلبرو دیدن غواړي

د دلبرو په وصـــــــال کي رونړـایي ده

(۲۸۷ - مخ)

یا:

لکه ستا کسي په خوارو برابر شي
د طالع تر روڼا ښـــه دا سیاهي شوه
(۲۹۰ - مخ)

***

۲،۲ ،۲۱: یي = وي:

د لوېدیځي لهجې ویونکي کې د "ول" په ګردانولو کې د راتلونکي زمانې احتمالي (وي) حالت زیاتره د (یي) په شکل کاروي. مثالونه ئې دا دي:

- زما په خیال مېلمانه به راغلي یي (راغلي وي).
- خور به مي له کابله راغلې یي (راغلې وي).
- تاسي به اورېدلي یي (اورېدلي وي) چي فتح خان د کلابس وو.

ما د خوشحال خان په دستارنامه (۱۱مخ، د ۱۹۹۱ع چاپ، پېښور) کې د (یي = وي) شکل لیدلی دئ. دی لیکي: "تا به آرویدلی ئي چه پښتانه د کوهستان، راجګان د هندوستان چه ډېر نام و ناموس لري ـ تهورو بسالت په افراط لري ـ... ."

په دې عبارت کې "تا به اروېدلي ئي = تابه اروېدلي وي" له لوېدیځي لهجې سره سم راغلی دئ.

د دستارنامې دغه چاپ له هغې نسخې څخه تهیه سوی دئ، چي

د خوشحال خان تر مړيني نونس کاله وروسته د هغه د لمسي افضل خان په غوښتنه استنساخ سوي ده. په کابل چاپ دستارنامه (۲ مخ) کي ئې دغه ځای "تا به هم اوربدلي وي... " ثبت کړی دئ.

بل ځای د خط د هنر په باب ليکي: "کور د ده وران شه چه د ده دمخه څه ورانه ئي، څه ودانه ئي په جهان... "(دستارنامه ۳۲ مخ).

(څه ورانه ئي، څه ودانه ئي = څه ورانه وي، څه ودانه وي).

په کابل چاپ دستارنامه (۱۹ مخ) کي ئې دا برخه داسي راوړې ده: "کور د ده وران شه چي د ده دمخه څه وراني، وداني په جهان شي ".

ما (هوتک) ته داسي ايسي چي د کابل چاپ دستارنامي ترتيبوونکي دي د (يي = وي) په پوهېدلو کي ستونزي درلودي.

د پښتو په نورو لهجو کي هم د (واو) واول په (ی) سره اوړي. (مور) د (مېر) په شکل وايي. په لوېديځه لهجه کي په (ی) سره د (واو) د اوښتلو دوه مثاله زماپه سترگه سوي دي، چي يو ئې همدا پورتنی (يي = وي) او بل ئې (خليرويشت = څلورويشت) دئ.

د شمس الدين کاکړ په دا لاندي بيت کي (يي = وي) معنا ښندي:

زړه د کـــبر پـــه فـاقه سره مـــړ ښـــه يي
چي خوړه خوله مي د يار و خوا ته نه شوه

(۱۱۹- مخ)

"و خوا ته" دلته د (اشتها) په معنا راغلي ده. "ډوډۍ مي و خوا ته نه کېږي" يعني اشتها مي نسته، ډوډۍ نه سم خوړلای.

***

۲،۲، ۲۲: راغله، ولیده، وکړه، کړه (د جمع له پاره):

د کندهار په لهجه کي که د (راغله) کلمه د لام په زور (فتحه) وویل سي د مونث له پاره راځي او که په زوه ره کي وویل سي د جمع له پاره کارېږي. دا قاعده په کلاسیک ادب کي هم پالل سوي ده.د خوشحال خان خټک اوده د کورنۍ د شاعرانو په کلام کي په دغه راز حالاتو کي (راغله) او(راغلل) دواړه موندلای سو.خوشحال خان په سواتنامه کي ویلي دي:

دا سګان رالـــره راغله، زه ئې وینس کړم
په لیده او په راتله ئې په تشویش کړم[۲۲]

(۴۸مخ)

هجري وايي:

هغه تللي یاران نه راغله لا رغه شول
په کاته پې ســـتړي دوه لیمه شـــول

---

[۲۲] دي بیت د خوشحال خان خټک په کلیات (۹۲۷مخ، دویم چاپ) کي لاس خوړلی دئ او "دا سګان را لره راغلل، زه ئې ویش کړم" ځني جوړ کړی دئ. (ویش) به ئې د (تشویش) قافیې له اسیته اړولی وي او (راغلل) به ئې معیاري کړی وي. خو تر دې بیت ئې څلوربیته وړاندي بیا "کړه" فعل د جمع (ملکان، شیخان) له پاره ثبت کړی دئ. که د اوسنۍ قاعدې مراعات په کلاسیک ادب کي روا وي نو دلته ئې هم باید د (کړه) پر ځای (کړل) راوړی وای. په متونو کي دغه راز لاسوهني د ژبپوهانو ستونزي ورزیاتوي.

(۳۹۱مخ)

حمید مومند (ولیده) د جمع له پاره راوړې ده.

د دنیا اهلِ دُوَل د زړه پــه سترگو
واړه ولیده ترڅان خواروبتر ما

(کلیات –۸ مخ)

د کندهار په لهجه کې (ولیده) د جمع له پاره ویل کېږي. "ډېر خلگ مې ولیده چې چکچکې ئې کولې". په دغه راز حالاتو کې اوس (ولیدل) شکل کارېږي.

حمید "کړه" هم له کندهارۍ لهجې سره سم د جمع له پاره کاروي:

ما په یار پسې لیمه په ژړا سپین کړه
یار په مـــــا پسې کـــــوي توره بلا

(۲۲ - مخ)

"لیمه" دلته جمع ده او له نننۍ قاعدې سره سم باید په تېره زمانه کې د "کړل" فعل ورته راسي. یا:

په یوه نظر ئې هر څه له ما لوټ کړه
مه شه ســـــاز په چا د ترکو روایت

(کلیات –۵۱ مخ)

دلته بیا د (هر څه) له پاره، چې جمع حالت دئ، د (کړه) فعل راغلی دئ.

میرزا خان انصاري هم (کږه) د جمع له پاره راوړي:

سالکان ئې د هـجران په تاو پاخه کړه
اوس ئې ګوره استعداد ورته د لودی

(۲۰۷ - مخ)

اشرف خان هجري هم (کږه) د جمع له پاره کاروي:

د ژړا سیل مي جوړه کسي لاهو کړه
کله زړه د دهر سوړ شه لا شدت کا

(۲۷۸ - مخ)

"جوړه کسي " جمع ده او فعل ئې ورته "کړه " راوړی دئ.

خوشحال خان په یوه بسته غزله (دوولس بیته) کي (کړه) د جمع له پاره راوړي دي خو د کاتبانو او مرتبینو تصرف او لاسوهني له هغه ځخه (کړل) جوړ کړي. غزل داسي ده:

ما په ننګ د پښتانه ځوانان قربان کـړل
بیا مي غوره غوره جمع ښه ځوانان کړل

(کلیات - ۱۱۱مخ)

دې غزلي ته ئې په حاشیه کي کښلي دي:

"دغه نظم په چاپي نسخو کي د (هـ) په پټې کي خپور شوی دی او په ټولو نسخو کي د (کړل) پر ځای (کړه)راغلی دئ."(پر "کړه " باندي تاکید زما دئ. هوتک) ځوک اریان پاته سي چي د مرتِب له پاره به د دغه راز لاسوهني مجوز څه وي؟ چي "ټولو نسخو " (کړه) ثبت

کړې وي او دی ئې (کړل) کوي* !

کندهاری شاعر میرزا حنان بارکزي د (کړه) فعل د (مارانو) له پاره داسي راوړی دئ:

زما و مرگ ته دي د زلفو ماران جوړ کړه
د مېږي په مــرگ حشر څه کــوي خــوک

(۷۹- مخ)

حشر دلته د (اشر) په معنا کار سوی دئ.

میرزا خان انصاري (ټوله) د جمع له پاره کاروي نه (ټول).

دا څه وخت شــو د هولي
هندوان ټوله شو ولولي

....

نارینه چي دېوانه شوه
هسي ښځې دي بهولي

(۲۵۱ مخ)

(شوه) د (واو) په زوه ره کي د جمع فعل دئ. د کندهار په لهجه کي هم (نارینه) د جمع په حالت کي راتلای سي. په ختیځه لهجه کي اوس د (نرینه) لیکني د رواجولو هڅه روانه ده[۲۳].

---

* "کړه" د "کړل" مخفف شکل دئ – د لام /ل/ په اخفاء سره ترمخني زورءکی پاته سوئ دئ. په افعالو کښي /ل/ د فعلي جمع ماني دئ (ع. پالوال).

(۲۳) د دغه رازالفانو د حذف مثالونه د ډاکټر پالوال صاحب د کتاب "معیاري پښتو" په ۱۱۴مخ کي وگورئ.

***

۲،۲، ۲۳: درلود:

عبدالقادر خان د خپل پلار خوشحال خان خټک په باب وايي:

خپل پردي له ده هــــمه شکر گـــذار و
خاموشي حلم ئې ډير درلود بردبار و

(۴۶۲ - مخ)

د پښتو په ختيځه لهجه کي د "درلودل" پر ځای "لرل" زيات کارېږي او د "درلود "پر ځای په دغه شان حالاتو کي "لاره" ويل کېږي.

***

۲،۲،۲۴: گډېدل:

گډېدل مصدر د پښتو په نورو لجو کي د "نخېدلو، رقصېدلو" په معنا کارېږي. "گډا" ئې اسم دئ. د کندهار په لهجه کی د (خبرو کولو) په معنا ويل کېږي په تېره بيا د بېځايه خبرو کولو په معنا ډېر راځی. په همدي معنا ئې خوشحال خان هم کاروي:

لږوار و ما ته راکړه چه زه هم درته ووايم
څو ته هسې گډيږې پـــه خبرو نامحـــکم

(ارمغان– ۷۹ مخ)

مولوي عبدالغفار بريالی وايي:

"بریالیه" عبث مه ورته گـډېږه
کانه نه اروي د بل له قاله هيڅ

(اهاړ–۳۲ مخ)
د کندهار ګډېدل د ګړېدل د /ړ/ په /ډ/ سره اووښتنه ده.

***

۲،۲ ۲۵: چپ:

(د لومړي توري په زوه ره کي) د خاموش، پټه خوله په معنا د لوېديځي لهجې ژوندی لغت دئ. د پښتو نوري لهجې ئې (چوپ) تلفظ کوي.

حميد وايي:

د داغلي زړه له آهه شم څه شان چپ
د چمن په ګلـــو ، نه وي بلبلان چپ

(۴۵ - مخ)

د کندهار په لهجه کي د ډېري خاموشۍ له پاره "چپه چپايي " لغت کارېږي چي په نورو لهجو کي ئې "چوپه چوپتيا " بولي.

***

۲،۲ ۳۲: رانيول = خريدن:

دا لغت د نورو لهجو ويونکي (راونيول) ليکي او وايي، چي معنا ئې "ګرفتار کردن" راځي. (رانيول) په کندهار کي د (پېرودل) په معنا عمومي رواج لري او په کلاسيک ادب کي ئې هم د کارولو مثالونه سته.

ميرزا خان ويلي دي:

مخ په مخ ئې واړه رنګ له رنګه ویوست
په ســـایه ئې دولــت رانیـــو له هــمایه
(۱۰۴ - مخ)

یا:

نارینه وو میراث رانیوه له ښځو
له ناکامه د دوی هم ورسره سازه
(۱۴۴ - مخ)

***

۲،۲ ، ۲۷: لو (لویه):

(لو) د (لوی) ښځینه شکل دئ، چي په لوېدیځه لهجه کي عمومیت لري. لو نجلۍ، لو لار، لو کوڅه، لو واله، او نور ئې مثالونه دي. د کندهار ښار په شمال کي یو کانال بهېږي چي د کندهار خلک ئې (لوواله) بولي. د دې ولې شا پاله ته د استوګني لو مېنه پرته ده، چي د ښاروالۍ یوه ناحیه او په رسمي اسنادو کي د (لو واله) په نامه قیدده.
(لو) ښځینه صفت په نورو لهجو کي (لویه) دئ.
د میرزاخان انصاري په دېوان کي د "لو " صفت ما په دغه شکل یو ځای لوستی دئ، نه پوهېږم چي دا به دده خپل وینګ وو که د کاتب یا مرتب ؟ دی وایي:

د کامل یوه بېحــــده لـــو رڼا شــــوه
د باور لاس ئې په هر لوري دراز دی

(۲۰۳ - مخ)

په پورته بیت کي که (لویه رڼا) ولیکل سي، د بیت وزن په ورانیږي.

✶✶✶

دريم فصل

۳، ۱: د وينګ (تلفظ) او وراشو مشترکات:

احتياط:

په پښتو کي دخيل لغت دئ. عربي تلفظ دري څپې دئ خو په پښتو کي ئې وينګ دوې څپې سوی دئ.

په روښاني ادب کي د (احتياط) وييی د (هتيات) په شکل راغلی دئ خو څپې ئې بيا هم دوې دي. ميرزا خان وايي:

ترو له شرکه دي هتيات شي
هـــــر کلام دي سلامت کا
(۲۴ - مخ)

يا:

ډېر دانـا پـــــه هـتياتي ځي
چي دا ډېر باريک مزل دئ
(۳۷ - مخ)

ارت:

خوشحال خان دا لغت دوې څپې کاروي:

کښېني په خلوت کي شيخه! سود ئې راته وايه

ولې په (پر) خپل ځان دا هسې ارت جهان تنگ کړې

(کلیات-۱/ ۴۴۹مخ)

په "په" سره یوه مانا، او په "پر" سره بله مانا ورکوي چې د خوشحال هم دغه مراد ده.

میرزا خان انصاري ویلي دي:

د مجاز د کاروانونو پرې گذر دئ

لکـــــه ارتـــه بیړیه یا جـــــهازه

(۱۴۴ - مخ)

د کندهار په لهجه کې دا لغت دوې خپې ویل کېږي. پوهاند زیار صاحب هم دا خبره تاییدوي (وگ: د خوشال ادبي پښتو –۳۱ مخ).

حاجي ولي محمد مخلص کندهاری وایي:

کــه کــرهنې ته هـــر خـــو پتې لرې

او بهـــــــېږې بانـــــــدې ارتې ولې

و بې نه خورې گټه څو چې ئې په زیار

له ســـتړیا پر ځـــان رانه ولې خـــولې

(۲۰۸ - مخ)

نوري لهجې ئې یوه خپه وایي. د رحمان بابا په دېوان کې دا کلمه یوه خپه راغلې ده:

پس له مرگه که څوک آرت غواړي خپل گور

که حق وایـــــــــم هُمره آرت دي بویه کـــور

(۱۴۴ - مخ)

حمید مومند هم (ارت) دوې څپې راوړی دئ:

په مهــــــــــجور ارت جهان هجر زندان کا
ځــکه هسې پکې تنګ پاڅې تنګ کښېني

(درومرجان - ۱۱۸مخ)

په کلیات (۳۱۲مخ) او د عبدالحمید مومند دېوان (۳۹۰مخ) کې "په مهجورو ارت..." راغلی دئ، چې په دغه راز ثبت کې باید (ارت) یوه څپه ولوستل سي. دا راز لوستنه د کلاسیک ادب ملاتړ نه لري.

په لیکلارښود (۵۳ مخ) کې د (اَرَت) ارخاییک وینګ او د لوېدیځ ګړدود تلفظ په پام کې نه دئ نیول سوی او فتوا پر "یو څپیز" تلفظ ورکول سوې ده. د (ولې؟) جواب ئې مسکوت پاته دئ.

اَړَخ:

په لویدیځه لهجه کې د(اړخ) کلمه دوې څپې ویل کېږي او نوري لهجې ئې یوه څپه تلفظ کوي. د خوشحال خان په کلام کې دا لغت دوه څپیزکار سوی دئ. پوهاند دوکتور زیار صاحب هم د خان په کلام کې د دغه ویي دوه څپیز استعمال تاییدوي (د خوشال ادبي پښتو- ۳۱مخ)

(مثالونه)

اختیار (دوې څپې):

په کلاسيک ادب کې (اختيار) دوې څېړې ثبت سوی دئ.
خوشحال خان وايي:

و بلا ته د اختيار توره په لاس کې
و قضا وته تسليم په شان د مړه يم

(کليات - ۱۲۵مخ کابل)

اشرف خان هجري وايي:

تل دې لاف د پت کاوه پخپل وطن کښې
د کــڼ څه دی که رښـــتيا کوې اخـــتيار

(دېوان - ۴۲مخ)

ميرزا خان انصاري ويلي دي:

اختيار هر چې ئې ويشلی
ځای ځای سود ، چرته زلل و

(۳۲ - مخ)

يا:

په اختيار ئې بې اختياره چارې کـېږي
د نظر حساب ئې نشته چې حصار شي

(۳۸ - مخ)

په يو بيت کې ئې (اختيار) درې څېړې راوړې دئ (۱۸۹ مخ) خو تر هغه دوه بيته وروسته ئې بيا بيرته دوه څپه ييزه کار کړی دئ. له دې څخه ثوک ويلای سي چې د لومړي درې څپه ييز (اختيار) په ثبت کې

ورانی پېښږي دئ.

د کندهار په لهجه کي اختيار دوې ځپې ويل کېږي. مولوي عبدالغفار بريالي وايي:

کم قــوته خلک ځان ځني جــار باسي
ما په خپل اختيار په شاکئ غر د شعر

(اهاړ-۴۴مخ)

اعتبار (درې ځپې):

اعتبار کلمه پښتو ته له عربي ژبې راغلې ده او عربي وينګ ئې په درو ځپو سره کېږي. دا کلمه د کندهار په لهجه کي هم درې ځپې ويل کېږي او د پښتو په ختيځو لهجو کي د (اِتبار) په شکل دوې ځپې تلفظ کوي. اردو ژبې ئې هم دوې ځپې وايي.

حميد مومند "اعتبار" درې ځپې کاروي:

د غـــــــمجنو په آهِ آتشـــبار ږو
د بې غمو د خوښۍ په اعتبار ږو

(کليات-۴۳۰ مخ)

په (۴۲۲ مخ) چي (اعتبار) دوې ځپې راوړه سوی دئ، ما ته د حميد خپل انتخاب نه ايسي، بلکي د کاتب يا مرتب لاس پکښې دخيل دئ.

پرده در د عيب جـــــويۍ چې پـــــرده دار شي

پلار له زويه بې اعتبار(ه)، زوی له پلار شي

دلته ورانی د لومړي "زوی" په کلمه کې پېښ دئ. اصل نیم بیتی باید داسي وي: "پلار له زوی بې اعتباره، زوی له پلار شي" په دې ډول د "اعتبار" کلمه د حمید د نورو شعرو په شان، درې څپې راځي او همدا ئې صحیح تلفظ دئ. زما د کتبخانې "نیرنگ عشق" په خطي نسخه (۲۹ مخ) کې دا نیم بیتی هغه راز راغلی دئ، لکه ما چې پورته کښلی دئ او (اعتبار) درې څپې کار سوی دئ. "زويه" کلمه په پښتو ادب کې د "اولادو" په معنا راغلې ده. خوشحال خان ويلي دي:

واړه د برش زويه لـرمه
اوس حاضر په دا آوان

(ارمغان–۳۲ مخ)

(اعتبار) کلمه میرزا خان انصاري هم درې څپې کاروي:

ابوبکر (رض) ئې په صدق زورور دی
په دا صدق نبـــــه باور او اعـتبار شي

(۳۹ - مخ)

بزرگي Bu-zar-gi:

د عبدالقادر خان په کلام کې دا لغت دوې څپې دئ. د لوېديځي لهجې ويونکي ئې هم دوې څپې وايي. په ختيځه لهجه کې درې څپې ويل کېږي.

د بزرگیه په مقام به هــاله کښېني

که دورکــړو د مړانې په وزر ځې
(۳۲۵ - مخ)

په ختيځو لهجو کې (بزرګي) د لومړي توري په زور (فتحه) باندې درې څپې تلفظ کېږي.

بانه (بهانه):

دا لغت په کلاسيک ادب کې دوې څپې موندلای سو.

حميد وايي:

که ئې څوک د مرګ بانه پوښتي له خلـقه
د "حميد" د يار له غـــمه سر په ګور شه

(کليات – ۲۲۸ مخ)

پوهاند دوکتور زيار صاحب د خوشال ادبي پښتو (۲۳مخ) کې ليکي، چې خوشحال خان دا لغت د عربي تلفظ پر خلاف "دوه څپيزوي".

د ميرزا خان انصاري په ديوان کې (بانه) او (بهنه) دوه شکله راغلي دي خو دواړه شکله ئې دوې څپې کار کړي دي.

که بهنه ئې د باغـبان تربيت نـــه وای
دغه دومرې فيض به چا ووړ له پالېزه

(۱۴۸ مخ)

ميرزا حنان بارکزی وايي:

خوبرویان په هنر زړه له خلکو یوسي
د ملــهم په بانه کښېږدي د الــم داغ
(۷۵- مخ)

شمس الدین کاکړ ویلي دي:

چي دا هسي مي د قتل بهانه غــواړي
نور تر څو به راته درنگ کړي هغه یار
(۵۲- مخ)

دلته که څه هم (بانه) د (بهانه) په شکل ثبت ده خو وینگ ئې باید دوې ځپې وي.

بیابان:

په کندهارۍ لهجه کي "بیابان" دوې ځپې ویل کېږي. خوشحال خان ئې هم دوې ځپې کاروي:

زړو ما ته هسې خوار وو
لــکه خـــاورې د بیابان
(ارمغان–۳۲ مخ)

میرزا حنان بارکزی وایي:

ســتا له غمه څخه ورک پر بیابان شــه یم
چي پر کور مي روغ عالم کُل په عذاب کړ
(۲۳- مخ)

مولوي عبدالغفار بریالي ویلي دي:

چي لاله رنګـــه پـــــــر بتهي بيابان نه سي
کله وړای سي د شهرت پر ځيګر خال مفت
(اهاړ - ۱۴مخ)

توان:

په لوېديځه لهجه کي دا لغت د لومړي توري په سکون يوه څپه تلفظ کېږي. د کندهار په پښتنو کي دا متل ډېر عام دئ، چي وايي:

"غر به در په شاکړم، توان به درپيدا کړم "

کامګار خټک دا لغت يوه څپه کار کړی دئ:

ستا دواړه زلفينو توان پرې نه ښو په ناتوان کې
هيڅ ويلی نه شم چې دې مـــخ دی په مـــيان کې
(۱۴۴ - مخ)

ميرزا حنان بارکزی وايي:

د عاشق بې ياره کله شي توان يو دم
پتنګ کله له ډېوې ساتي ځان يو دم
(۸۳- مخ)

نوري لهجې "توان" د لومړي توري په زور (فتحه) دوې څپې وايي.

په کندهار کي "توانو " د نارينه وو د نامه په توګه ايښوول کېږي.

د ډيورنډ پر کرښه باندي سپين بولدک ته نزدې د "حاجي توانو " په نامه يو کلی ستنه.

توانا:

يوه ځپه:

ميرزا خان انصاري وايي:

حياتي ئې بې نقصانه
هم په هره چار توانا ده

(۳۱ - مخ)

د يوې ځپې بل مثال:

له اوله ئې خپله روح په ده کښې پوکه
په دغه قوت توانا و ، هـــــم علـيم شو

(۳۳ - مخ)

دغه راز:

توانايي مي په هر چا کښې
دانايي د هـــــــــر يوه يم

(۸۳ - مخ)

پرېشان:

په لوېديځه لهجه کي د دې لغت وينګ د لومړي توري په سکون، دوې ځپې دئ. خوشحال خان خټک او نور کلاسيک شاعران ئې هم دوې ځپې کاروي.

خوشحال وايي:

توري زلفيني پـــــر مخ شان شان لري
اوربل په وچولي پرېشان پرېشان لري

د نورو کــــــــوډو حاجت هيڅ نشته
د سترگــــــــو سحر جهان جهان لري
(ارمغان - ۱۲۹مخ)

يا:

پرېشان په ځان کښېږ په ډېر حيرت يم
څه وم دا څه شــــــوم په څـه حالت يم
چې تل مې ځای شول غــرونه رغونه
زه دا پـــــه چا پسې مجنون صفت يم
(ارمغان – ۱۵۹ مخ)

پسرلی (سپرلی):

په کلاسيک ادب کې دا لغتونه له کندهارۍ لهجې سره سم دوې ښپې راغلي دي (زيارصاحب هم اشاره ورته کړې ده - ۲۹مخ) ختيځه لهجه ئې ۳ ښپې وايي. سپرلی دوه سپونه، او پسرلی هم دوه او هم درې سپونه لري، پُسرلی، اصلي حالت په مغيره حالت کښې دوه سپونئ کېږي.

خوشحال وايي:

تمام ژمی ئې ساته په تماغـه کښې
په هنر کـــــړه په پسرلي د بازدارئ
(ارمغان-۱۰۱مخ)

یا بل ځای وایي:

د پسرلي ګلونه څه دي چې ئې ستایم
تر ګلـــونو چې زېبا ده هــــــغه ته ئې
(۴۷۵ - مخ)

(پسرلی) په ختیځه لهجه کي درې څپې(پَسَرلی) ویل کېږي.

پښېمان:

پښېمان کلمه په لوېدیځ ګړدود کي دوې څپې او (پښېماني) درې څپې تلفظ کېږي. په نورو لهجو کي (پښېمان) درې څپې او مغیره شکل ئې څلور څپې ویل کېږي. په کلاسیک ادب کي د لوېدیځ ګړدود قاعده مراعات سوې ده.

خوشحال خان وایي:

چې نادانان دي چې فـــــاسقان دي
یـــــو دم کار وکا بیا زر پښېمان دي
چې ئې په کار کښې پښېماني نشته
یا عــــــــاقلان دي یا صالحان دي
(ارمغان–۲۳۰ مخ)

عبدالقادر خان وایي:

نن ئې وې چې سبا راشه خوله به درکړم
مدد ګار شي بخته ! بیا مه شه پښېمان
(۱۳۰ مخ)

حمید وایي:

زر په زر به ئې سیاهي د خط پښېمان کا
دا د مخ پـــــه روښنايي باندې مغرور
(کلیات – ۷۳ مخ)

میرزا خان وايي:

نتيجه به پښيماني له دې ځای یو سي
که پـــــه مينه همنشين شي له بدانه
(۱۸۲ - مخ)

کامګار خټک وايي:

د وصـال وعـــده دې کـــړې وه محـکمه
نه پوهېږم چې بیا کوم یوه پښېمان کړې
(۱۳۵ - مخ)

بل ځای وايي:

زر پښېمان په خپلو بدو شه رقیبه
یار مې ولې له راتلو پښېمانه وې
(۱۵۴ - مخ)

شمس الدين کاکړ هم (پښېمان) و یی هر ځای دوه ځپیز کار کړی دئ. ده ویلي دي:

یار دي قتل لـــره راغی "شـــمس الدینه"
خدای دې نه کاندي پر دا نېکي پښېمان
(۹۴ - مخ)

مولوي بريالی وايي:

چي لـيلا کـــــړه د توبې دروازه بنده
د مجنون په مذهب کفر پښېماني ده
(اهار – ۱۰۹ مخ)

(پښېمان) کلمه په ختيځو لهجو کي د لومړي توري په زور (فتحه) دري ځپې ويل کېږي.

حرص:

په ځينو لهجو کي (حرص) د لومړي توري په زېر (کسره) او د دوهم په زور (فتحه)، دوې ځپې تلفظ کېږي. ځيني نوري لهجې ئې بيا يوه ځپه وايي.دکندهارپه لهجه کي يې دواړه رازه وينګ سته ،خوالبته دجملې په ترکيب پوري اړه لري. په کلاسيک ادب په تېره بيا د خوشحال خان د کورنۍ په شعر کي هم دوې ځپې کار سوی دئ.

خوشحال خان ويلي دي:

د زړه ښهر مي په ځای د قناعت دی
په ناحقه مي حرص پکښې امـير کړ
(مرغلري - ۱۳۲مخ)

يا بل ځای وايي:

قـــديمي د پښتـنو جـــهل خـــــرتوب ؤ
اوس په طمعه، په حرص درومي له ميانه
(کليات – ۲۵۳ مخ، کابل)

هجري وايي:

د ابليس خبيث حــرص درته تعـين دی
پټ سپاهي کړه د ځان د خيره په صلاح

(۳۱۲ - مخ)

عبدالقادر خان وايي:

د حرص په ځنځير سپي غوندي ښکاوه شي
زور قـــــوت که زيات تر شېر لري طامعه

(۲۱۱ - مخ)

يا:

د حرص د سپي غاښ مات په قناعت شوی
پـــــــــه زنځير ئې بيا د صـبر وو ترلی

(۲۵۱- مخ)

حميد وايي:

اضطراب مي د حرص کړي له زړه لېري
قناعت قــــــوي لنگر د دې جـهاز را

(کليات–۱ مخ)

يا:

له صحبته ئې کهښت د حرص خېژي
دي پـــــه اصـل کې پمن اهـل دنيا

(کليات–۵ مخ)

د کلیات په **۱۵**مخ کې "حرص" یوه څپه کار سوی دئ، سبب ئې دانه دئ چې حمید گویا دا لغت یوه څپه وایه، بلکې دا دئ چې د نیم بیتي رانقلوونکي "حرص" یوه څپه وایه او له دې خاطره ئې تر هغه وړاندې فعل دوې څپې کړی او د نیم بیتې وزن ئې په پوره کړی دئ.

ناسم ثبت ئې:

شوخ بې شرم کړلې حرص تر هسې حده
چې نه شرم کـــــــړې له خـــدایه نه پروا

په دې بیت خو "حرص" باید یوه څپه وویل سي.

سم ثبت ئې:

شوخ بې شرمه کړې حرص تر هسې حده
چې نه شرم کـــــــړې له خـــدایه نه پروا

په دې بیت کې بیا "حرص" دوې څپې راغلی دئ. زه دا دوهم شکل ځکه سم بولم چې په یوه بیت کې د یوه فعل دوه رازه ثبته (کړلې، کړې) د حمید له "موشگافۍ" سره سر نه خوري او هرومرو باید په دې دوو شکلو کې یو د کاتب لاسوهنه وي. د دغه استدلال پر بنسټ باید د "کړلې" شکل د کاتب تصرف وګڼل سي.

د شمس الدین کاکړ په دیوان (د پښتوټولني چاپ) کې هم دا کانه سوې ده او له بده مرغه په نوي چاپ (۱۳۸۸ش) کې هم همداسې ناسمه پاته سوې ده. شمس الدین ویلي دي:

که صورت ئې وي میرې غوندي ناتوانه

هـم له حــرصه پر شا اخلي بار د عشق

(۷۳ - مخ)

که بیت په همدې شکل ومنو، نو رشتیا هم (حرص) باید یوه څپه ولوستل سي. خو په دوهم نیم بیتي کي د (هم) کلمه د ناقل لاسوهنه ده چي له دوه څپیز (حرص) څخه ئې یو څپیز جوړ کړی دئ. زه دا خبره په دې استناد کوم چي د شمس الدین په کلام کي نور ځایونه (حرص) دوه څپیز راغلی دئ او تاسي به ئې مثال د همدې بحث په پای کي ولولی.

میرزا خان انصاري هم "حرص" هر کله دوې څپې راوړې:

د حرص ځانګونه مات کړه

مخالف شه و هــــــــوا ته

(۱۱۲ - مخ)

یا:

قناعت به دې هــاله په زړه قرار شي

چي یک لخته حرص رانسي له نسه

(۱۵۰ - مخ)

زه د ده په دېوان (د کابل چاپ) کي پر یوه ځای باندي پېښ سوی یم چي دا لغت ئې یوه څپه کار کړی دئ خو هغه بیت بیا د مناقشې وړ دئ. دی وایي:

د زړګي پر کښت ئې حرص د توقع دی

سیراب کېږي لـــه خـــریفه شی ربیعه

(۱۲۱ - مخ)

دلته رشتیا هم که (حرص) دوي ځپي وویل سي، د بیت وزن ته تاوان رسوي خو د همېش خلیل مرتبه دېوان مرزا خان انصاري (۱۰۹مخ) کي بیا دا بیت دا سي دئ:

د زړګي په کښت ئې حرص توقع دی
سیراب کیږي له خـــریفه له ربیعه[1]

دلته وینو چي (حرص) که دوي ځپي وویل سي، په شعر کي وراني نه پېښیږي او د (حرص) د دوه ځپیزتوب خبره پیاوړې کوي.

کامګار ختټک هم (حرص) دوي ځپي راوړی دئ:

د حرص له بده رنځه به فارغ شي
که څوک صبر دازل په اول وېش که

(۱۱۵مخ)

شمس الدین کاکړ هم (حرص) دوي ځپي راوړي:

ډېر نعمت د دنیا لړ په حرص بولي
په صرفه صرفه او به چښی له دریا

(۳۳ - مخ)

[1] زما په خطي نسخه دوهم نیم بیتی دا سي دئ:
"سیراب کیږي له خریفه له ربیعه"

ږمنځ (ږمونځ) يوه څپه:

د کندهار په لهجه کي يوه څپه او په ځينو نورو لهجو کي دوې څپې ويل کېږي. خوشحال خان يوه څپه کاروي (د پېښور کليات - ۱۸۲مخ، د "خوشال ادبي پښتو" د ۳۲ مخ په حواله). پوهاند زيار صاحب ئې دغه وينګ د کرلاڼي ګړدود وينګ بولي. ګويا کرلاڼى وينګ او کندهارى وينګ سره يو راز دئ.

عبدالحميد مومند وايي:

زړه مې له غيرته پـــــه کوګل دننه دود شي
ږمنځ چې دې بې فهمه وهي ګوتې په کاکل
(کليات - ۱۳۴مخ)

يا بل ځاى ئې ويلي دي:

که ښښتن ئې په خپل فضـــل ږمنځ نه کا
ښې ښې ږيرې به شي سپکې لکه درب
(۳۴ - مخ)

دلته "ږمنځ" دوې څپې ويل کېدلاى سي خو زما په فکر دلته د (ږيرې) کلمه د جمع په حالت کي ده او فعل ئې بايد (ږمنځې) وي. په دې صورت کي نو (ږمنځ) بايد يوه څپه تلفظ سي. په دې ډول:

که ښښتن ئې په خپل فضل ږمنځې نه کا
ښې ښې ږيرې بـــه شي سپکې لکه درب

د اروابناد ښتين صاحب په لاس تهيه سوي ديوان کي ئې دغه

بیت ته په حاشیه کې کښلي دي: "په چاپي نسخه کښې د (ږمنځ) په ځای (درنې) راغلي دي" دلته وینو چې د (ښې ښې ږیرې) له پاره (درنې) فعل د جمع په شکل راغلی دئ نو له همدې اسیته باید د (ږمنځول) فعل هم د جمع په بڼه (ږمنځې) راسي.

میرزا خان انصاري وايي:

د مــــــــــیرزا خبرې ږمنځې د معنا دي
چې غونچه ملوکې زلفې پرې تارتارکړم

(۸۱ - مخ)

مولوي بريالی وايي:

چې په عشق کې ځان تالا کې لکه ږمونځ
عاقبت به ځان رســــوا کې لکـه ږمونځ

(اهار - ۳۱مخ)

دلته (کې = کړې) دئ خو د (کول) له مصدره اخيستل سوې کلمه ده.

سُجِدَه - درې څپې:

د کندهار په لهجه کې (سِجده) زياتره درې څپې (سُجِدَه) تلفظ کېږي. په کلاسيک ادب کې زياتره دوې څپې کار سوې ده، خو د ميرزاخان انصاري په کلام کې يو ځای درې څپې کار سوې ده، چې دا راز وينګ ئې له لوېديځ ګړدود سره ورته دئ.

یک جنس واړو سجده و ده ته وکړه
او شیطان ئې امر نه مانه رجیم شـو
(۳۴ - مخ)

د همیش خلیل په مرتبه دیوان کې دا غزل د (ش) په ردیف کې راغلې ده:

یک جنس واړو سجده و ده ته اوکړه
او شـیطان ئې امر نه مـانه رجیم شَ
(۸۷ - مخ)

(سجده) کلمه دلته هم درې څپیزه کار سوې ده.
د میرزا حنان بارکزي په کلام کې درې څپیزه (سجده) داسې لولو:

سجـــدې د شـــکرانې کـــړم بسمل طـــوره
چې د زړه غوښې مې توی شې په منگول ستا
(۳۹ - مخ)

یا:

سر و پښو ته سجده زلفې په دا که
د هـــندوانو وې له اوره ســره کار
(۵۲ - مخ)

سکندر:

دا نوم د خوشحال د کورنۍ په شعر او د پښتو په لویدیځه لهجه دواړو کې د لومړي توري په سکون دوې څپې ویل کیږي. نوري لهجې

ئې درې ځپې وايي. خوشحال خان ويلي دي:

نه بهرام وونه ئې ګور وو
نه ســــکندر وو ، نه دارا

(ارمغان - ۴۲مخ)

عبدالقادر خان وايي:

په سکندر او په دارا ئې وکړې چارې
په شـــــداد او په نمرود ئې وکړې لا

(۳۲- مخ)

دغه راز ۲۲۸ مخ او نور.

حميد مومند وايي:

که هر څو ئې جنګ جدل په دنيا وکا
ځنې يـــو نه وړه سکندر و دارا هيڅ

(کليات - ۲۲مخ)

په ۷۵مخ کې چې "سکندر" درې ځپې راغلی دئ، هلته بيت سم نه دئ لوستل سوی.

ناسمه لوستنه ئې: "ونړاوه سد د سکندر ځو ځو ما ځو ځو " (سکندر – ۳ ځپې)

سمه لوستنه ئې: "ونړاوه سد د سکندر ځوځو و ما ځوځو " (سکندر –۲ ځپې). بل ځای:

ځوک ئې څه نومي سکندر که قلندر ئې

د کـــــــــوم ګل و نار بلبل و سمندر ئې

(۴۷۲ - مخ)

میرزا خان انصاري ویلي دي:

مهتر خضر و ما هسي اوبه راکړې

د سکندر ملکونه وینم بې مـرآته

(۱۱۰ - مخ)

یا:

د سکندر د آیینې ننداره چــــــــا کړه

دا جهان په جام کښې چا لیده بې جمه

(۱۸۲- مخ)

د میرزا حنان بارکزي په کلام کې هم پر دوه ځپیز (سکندر) باندې پېښېږو:

زما د زړه سکـــندر به کلــه ځنې ګرزي

چې ئې خط شو راته خضر خوله حیات

(۴۲ - مخ)

د بلوچستان پښتو اکېډمۍ چاپ دېوان (۵۹مخ) کې هم د (سکندر) کلمه په همدې بیت کې دوې ځپې ثبت ده خو د حنان بارکزي د دېوان د لومړي چاپ مُدوِن چې د (سکندر) کلمه غالباً درې ځپیزه ویله، په لومړي نیم بیتي کې لاس وهلی دئ او (سکندر) ئې درې ځپیز کړی دئ:

سکـــــندر د زړه مي کلـــه ځني گـــرزي
چي دي خط شو راته خضر خوله حيات

(۱۴ - مخ)

د شمس الدين کاکړ په کلام کي (سکندر) دوې څپي کار سوی دئ:

معلومېږي سنگدلي د خوبرويانو
آئينه که د سکـــندر دا حـــکايات

(۴۱ - مخ)

سليمان:

دا نوم په کلاسيک ادب او لوېديځ گړدود کي د لومړي توري په سکون او د دوهم په زېر (کسره) دوې څپې (سلېمان) ويل کېږي. خو په نورو لهجو کي د لومړي توري په پېښ (ضمه) او د دوهم په زور (فتحه) درې څپې (سُلَيمان) تلفظ کېږي. کامگار ختک وايي:

کله گل په هوار سور لکه سلېمان شو
چي بلبل په نوا ســـر لکـــه داود شـــو

(۷۹ - مخ)

يا:

د زړه تخت دي ځـــکـــه ونيوه ديـــوانو
چي دي گوتې د سلېمان لاړه له لاسه

(۹۹ - مخ)

شلومبې:

په کلاسیک ادب کې (شلومبې) زیاتره دوې ښچې کار سوې دې.

خوشحال وایې:

که د غواد بزو شلومبې خورې زیان ئې نشته

اشـــــتها د ســـــــــرې زیاته کا په خـــور

(ارمغان - ۵۷مخ)

په کندهارۍ لهجه کې هم (شلومبې) دوې ښچې ویل کېږې. پوهاند زیار صاحب هم دا خبره تاییدوې (د خوشال ادبي پښتو - ۳۲مخ). په نورو لهجو کې (شلومبې) درې ښچې تلفظ کېږې او شین ته زور (فتحه) ورکوې.

(وګ: خلرم فصل د "شلومبې" لغت).

ښایسته:

د ختېکو د کورنۍ په اشعارو کې "ښایسته" درې ښچې راغلی دئ او د لوېدیځې لهجې تلفظ ئې هم درې ښچې دئ*.

خوشحال خان وایې:

ښایسته د کندهار د چــا په یاد دې

په دا حسن ئې بنده واړه کشمیر کړ

(۷۲ - مخ)

* په ځینو نورو لهجو کښې دوه سپونځ، ښېسد - ته، ویل کېږې (ع. پالوال).

عبدالقادر خان ویلي دي:

په راتله ئې ښایسته د مزکې مخ (شو)
په دا شان ځوک په زمین راغلی نه دی
(۲۲۹ - مخ)

عبدالرحیم هوتک وایي:

ښایسته کندهار ډېر ډېر یادومه
نه هېرېږي که هر څو ئې هېرومه

عَیَب:

په کلاسیک ادب او لویدیځه لهجه کي د لومړي او دوهم توري په زور (فتحه) دوې څپې تلفظ کېږي. په ختیځو لهجو کي (عېب) یوه څپه ویل کېږي. اردو تلفظ ئې هم یوه څپه دئ**.

حمید وایي:

مه کړه زار د نو خاسته حسن له جوره
عیب نـــــــــه دہ غلـــطي د نوآموز
(۸۵ - مخ)

ناتوان - دوې څپې:

حمید ویلي دي:

په غرور د توان تېری په ناتوان مه کړه

** موږ ئې هم یو سپونځ Eayb وایو او هم دوه سپونځ (ع. پالوال).

چې د منه توله سپکېږي په سپر گــوره

(کلیات - ۲۱۷مخ)

مراد - یوه خپه:

(د لومړي توري په سکون)

حمید ویلي دي:

بې کرداره گفتار محض سرِ درد دی

مونده نه شي د مراد مغز په دا پوچه

(کلیات - ۲۰۰مخ)

یا:

د مراد حسن ځني ځي پا په رکاب شه

چې ئې پاڅېده د خط غــبار لــه مخه

(۲۰۱ - مخ)

میرزا خان ویلي دي:

د صورت په صفت ولي غلطیږې

له اوله مـــــراد آواز دی له جرسه

(۱۵۰ - مخ)

د میرزا حنان بارکزي په کلام کي هم (مراد) یوه خپه لولو:

لا مي نه و مراد د وصــل پیدا کــړئ

د هجران د لمبو دود مي تر سر ووت

(۴۹ - مخ)

شمس الدین کاکړ هم (مراد) یوه ښځه راوړی دئ. دی وایي:

هر سړی د خپل یار لاس نیسي له مــراده
خدای زه نن ورځ دغه ښځنګه نامراد کړم

(۸۵ - مخ)

مشران او کشران - (دري ښځې):

له کندهاری لهجې سره سم دري ښځې وایي. خوشحال خان له خپلو زامنو ښخه د شکایت په ترځ کي ویلي دي:

مشران ئې د شــړیه ګنده پشم
کشران دي په مثال اومه حریر

(ارمغان -۴۰مخ)

حمید وایي:

لـــــري مشر مشره بخره کشر کشره
برابرنه دی چرګ بانګ لــه ملابانګه

(کلیات -۲۴۱مخ)

نوري لهجې ئې دوې ښځې تلفظ کوي (دوکتور زیار، د خوشحال ادبي پښتو - ۳۳مخ)

***

۳، ۲:کاف په قاف اړول:

د خوشحال په کلام کي زیاتره پښتو کافونه په "قاف" سره

اوښتي دي. لکه د کلا پر ځای قلا ، د چیکړ پر ځای چیقړ او نور.
دا کار په یقین سره د کاتبانو لاسوهنه ده، ځکه خوشحال خان پخپله هم د دغو "قافو" استعمال غندلی دئ. دی چي کله په سوات کي د اخوند درویزه ننګرهاري له پیرو "میانور" سره د مباحثي جریان بیانوي هوري د میانور د ناپوهۍ د اثبات له پاره یو دلیل دا راوړي چي نوموړي پخپل لیک کي کافونه په قافو اړولي دي:

کتابت ئې لا پـــــــخوا و، راته کښلی
مشتمل په جـــــهالت و، ناپســـندلی
نه ئې خط، نه ئې املا، نه ئې انشا وه
فضولي ئې خپله کښلي پـــــه مـلا وه
د سلــــــوک د تصوف، واړه لافـونه
په املا د کاف پـــــر ځای واړه قافونه

(سواتنامه - ۵۰، ۵۱ مخونه)

پوهاند زیار صاحب هم په لیکلارښود (۵۲مخ) کي دغه قافونه "چي په ختیځو ګړودو کي دود لري" د پردیو اغېزه بولي او وايي چي باید "معیاري ونه ګڼل شي" خو دا چي د خوشحال په کلام کي ئې بیا د کافو دغه اوښتل د "لندي غاړې" د ګړدود اغېزه بللې ده (د خوشال ادبي پښتو - ۳۵مخ)، د تامل وړخبره ده. د ډاکټر پالوال صاحب په نظر په ختیځه لهجه کي په قافو سره د کافو اړول د "هندی الاصله ژبو اغېزه" ده. نوموړي پر لوېدیځه لهجه باندي د پارسي او

نورو آريايي ژبو اغېزې ته هم اشاره کړې ده (وګ: معياري پښتو-۱۱۵، ۱۱۷مخونه)

***

۳، ۳:سره ورته متل وشمه وراشې:

"د بولاق غوا مندنو بوتله ":

هجري وايي:

له دېواره دې سر پورته که(کړ) غلغل شه

مـــــاوې غـــوا مـــندنو بــوته د بــولاق

(۳۸۰-مخ)

په کندهار کې هم يوه وراشه سته چې د ډېر غالمغال او ښورماښور په وخت کې ويله کېږي. وايي " د جتانو غلبېل اوبو وړی دئ ."

***

د پنو په ځای کې:

په پښتنو کې "د موچنو په ځای کې " ، "د کپيو په ځای کې " د کښېښنستلو اصطلاح وي د يو چا د اجتماعي موقف د کښته والی ښکارندويي کوي. په کندهار کې د دغه راز مطلب له پاره "د بوټو په ځای کې " وراشه باب ده. له دې راز متنوعو وراشو څخه د ژوندانه د وسايلو تغير و بدلون (پنه، کپۍ، موچنه، بوټ) ډېر ښه څرګند بدلای

سي:

عبدالقادرخان وايي:

د پښو پـــــه ځای به ناست وی په مجلس کي
اوس دي ناسته که په غيږکي د خپل يار شي

(۴۵۰ - مخ)

حميد وايي:

هر چي تا غوندي دلبر ئې په ښنگ کښېني
د پښو په ځـای هـــــغو ته اورنگ کښېني

(کليات-۳۱۱مخ)

***

په پالوده کی غاښ وتل:

په کندهار کي "په پالوده کي غاښ وتل" اصطلاح هغه وخت کارېږي چي يو څوک په ډېر اسانه او ساده کار کي پاته راسي؟

حميد وايي:

د بوسي په هـــــــوس غـم کړه ربوده
بدبختی مي ويوست غاښ په پالوده

(کليات-۲۰۷مخ)

(د لرغوني شاعری ګړني) کتاب کي دا ګړنه نسته.

***

هډ و پوست کېدل:

د ډېر رنځ له امله دونه ډنګرېدل چي یوازي ئې پوست او هډوکي پاته وي نور ئې غوښه ټوله ویلي سوې وي.

حمید وایي:

زه د ستا له ډېره غمه هډوپوست شوم
ته زمـــــا لـــــه خــرابیيه بې خبره

(کلیات - ۲۱۳مخ)

دا وراشه په کندهار کي ډېره عامه ده.

نن رنځــــور یم د کلو پر ږدنو پروت یم
هډوپوست یمه طبیب راخخه پردی سو

(سرامني اوښکي – د لیکونکي شعري مجموعه، ۳۷مخ)

د "لرغوني شاعری ګرڼي" په **۲۵۲**مخ کي د (هډوپوست کېدل) ګرڼي ته لیکل سوي دي: "ډېر غمېدل، دردېدل، سختیٔ ګالل". دا ئې ضمني معناوي کېدلای سي.

✶✶✶

تر خېښن نس ورپېښن:

د کندهار په ښتنو کي دا متل عام دئ چي وایي: "تر خېښن نس راپېښن دئ".

حمید هم دا اصطلاح راوړې ده:

اول مــه وای مین شوی چي مین شوې
اوس راپېښه هر چې ده نسه په خوښه

(۲۳۵ - مخ)

***

۳،۴-د (ښين) او (ږي) لرونکو لغتو مشترکات:

د (ښين) او (ږي) اوازونه د پښتو ژبي له پاره خورا ډېر اهميت لري. د پښتنانه او پښتو زړه له همدې توري سره تړلی دئ که دا توری د پښتانه او پښتو څخه ليري سي، له دواړو څخه به يوه بې معنا کلمه جوړه سي. لکه انګرېزي چي د (ډال، ړي، ټي) تورو په تلفظ سره له نورو اروپايي ژبو څخه بېلېدلای سي، لکه عربي چي د حلقي تورو (ح، ع، ق، ...) له مخي پېژندل کېدای سي، لکه چينايي ژبي چي د "ونګ، ښګ، منګ، ... " وشمه آوازو له رويه معلومېدلای سي، دغه راز پښتو هم د "ښ، ږ" د لوېديځ او منځني ګړدود له تلفظ څخه تشخيص کېدلای سي. د ختيځ ګړدود تلفظ ئې ځکه ما ياد نه کړ، چي هغه کټ مټ د (خ) په شان دئ. (خور= خواهر) او (ښور= حرکت) کټ مټ يو راز تلفظ کوي.

پوهاند دوکتور زيار صاحب خولا په دې عقيده دئ چي د (مونشن) او (زوريخ) ښارو نومونه دي (مونښن) او (ثوريښ) وليکل سي او دليل دا راوړي چي په الماني او روسي ژبو کي د (ښ) او (ږ) ږغونه " له پښتو سره ګډون لري " (وګ: ليکلارښود - ۵۵مخ). البته د پوهاند صاحب مراد د دغو اوازو هغه راز وينګ نه دئ لکه د پښتو په ختيځو

او شمال ختيځو لهجو کي تلفظ کېږي.

د خوشال خان او د ده د عصر په نورو پښتو ادبياتو کي د (ښين او ږې) د کارولو او تلفظ کولو هغه مشترکات چي له لوېديځي لهجي سره ئې لري، په لاندي ډول د الفبې په ترتيب وړاندي کېږي.

اخښل:

په نورو لهجو کي ئې (اغښل) وايي.

ميرزا خان انصاري وايي:

چي اوره ئې د مظلوم په وينه واخښه
په هغو شوي جاودانه ښــادی زوږی
(۲۳۳- مخ)

اخښی:

د خور مېړه، د ماندينې ورور.

خوشحال خان په دستارنامه کي ليکلي دي:

"خسر د سړي پلار دی اخښي وررونه شخينې خويندې
د خسرعـورتې واړه پـــــه حساب کښې لکــه ميندې
(۱۸۳- مخ)

اخښي ته په نورو لهجو کي (اوښی) وايي.

***

بخښل:

په لوېديځه لهجه کي ئې (خ) او(ښ) دواړه تلفظ کېږي او په کلاسيک ادب کي ئې هم وينگ او کښنگ دواړه همداسي دئ. په ختيځو لهجو کي ئې د (بخل) په شکل تلفظ کوي.

خوشحال وايي:

غرگناه راته د خس غوندي ښکارېږي
چي په مهر کـرم رايشم بخـښل کــړم

(۱۲۷- مخ)

∗∗∗

پکښي:

د کندهار د لهجي دا کلمه په نورو لهجو کي (پکي) ويل کېږي.

خوشحال خان ئې د (پکښي) په ډول ډېر زيات راوړي.

څه خوښي ئې پکښي ايښي ده پوهېږي
هـــر نفـــس چي دي واته ننـــواته کـا

(۱۵- مخ)

د خوشحال خان د دغه بيت عرفاني مفهوم حضرت شيخ سعدی ◆ داسي بيان کړی دئ: "هر نفسی که فرو ميرود ممدّ حيات است و چون بر می آيد مفرّح ذات پس در هر نفسی دو نعمت موجود است و بر هر نعمتی شکری واجب" (وگ: د گلستان مقدمه).

يا:

شيــــخــــان چه هسي اوږده نمــونځـــونه کا

پکـــښې باغـــــونه اســـــونه جـــــونه کا
پکښې رنګین رنګین ګنډی وربښمین سکڼې
پکښې د ســــپینو د ســـرو ګنـــجـــونه کا
(ارمغان - ۱۰۹مخ)

***

پېښې:

پېښې د (تقلید) معنا لري. مفرد شکل ئې (پېښه) ده، چې فشار ئې پر دوهمه څپه راځي. په کلاسیک ادب کې ئې مثالونه سته. په ختیځو لهجو کې د (پېښه = واقعه، حادثه) او (پېښه = تقلید) جمع دواړې په اوږده (ې) لیکې. د کندهار لهجې د کلاسیک ادب قاعده خوندي کړې دهچې د پېښه جمع په اوږدې (ې) او د پېښه (واقعې) جمع په لنډې (ي) سره کوي.

رحمان وایي:

په هر شان چه یار خوښېږي زه هغه کړم
خپـــلول د صاحبانـــــــو په پېښو دي
(۲۱۲- مخ)

***

ښنبل، چنبل:

دا کلمه د پښتو په زیاترو لهجو کې (ښکل، چکل) ده. په کندهاری لهجه کې ئې (چنبل) تلفظ کوي. خوشحال خان ویلي دي:

که بیا دې له اغیاره ســــــره نه ده باده څښـلې
سکه وو ایه دلبرې چې په څه دی دا طرب ستا
(۳۳ - مخ)

یا:

که دتن وینې یو جام وڅښې لا ښې دي
نه او ګـــــــــــره د بخـــیلانو یو کاشک
(۱۰۵- مخ)

یا:

مـــــــــورې به ځنې نشم، زه د میو مستسقی یم
تل که هسې ډکی پیالې څښمه، څښمه، څښم
(۱۴۸ - مخ)

قادر خان خټک ویلي دي:

چې داخل دې د دنیا په خـــرابات کې
په وار وار به واړه څښې د مرګ ایاغ
(۷۵ - مخ)

* * *

خېښن:

د کندهار په لهجه کي "خېښ، خېښان" هغه دوستان او خپلوان دي چي د نجونو د ودولو له لاري خپلوان کېږي. نَسَبي خپلوانو ته

خېښ نه وايي.
په ودو کي که خېښان يو له بل څخه ناراضه سي نو بدلزني په بابولاله کي وايي:

چي پر موړېوه، موړ خو وکړه
اوس چي وار پر خېښي راغی، خېښي غول پر لينګو وکړه

خو که يو له بل څخه راضي وي، داسي وايي:

چي پر موړېوه، موړ خو وکړه
اوس چي وار پر خېښي راغی اميري کاروني وکړه

د کندهار په پښتنوکي دا متل عام دئ چي وايي: "تر خېښ نس راپېښ دئ".

حميد هم دا اصطلاح راوړي ده:

اول مه وای مين شوی چي مين شوې
اوس راپېښه هر چي ده نسه په خو ښه

(کليات - **۲۳۵**مخ)

بل ځای:

چي هر چا ده آشنايي نيولې خېښه
عاقبت به جدايي شي ورته پېښه

(کليات - **۵۰۵**مخ)

خوشحال هم د "خېښ" ويی په همدې معنا راوړي:

څـوک چه قانع دی مخـدوم ئې وګـنه

څـوک چه حريص دی محـــروم ئې وګڼه
که ورور که زويه که خپښ که دوست دی
چه ســـتاپه رای نه وی مــعدوم ئې وګڼه

(رباعيات - ۲۴مخ)

په رباعياتوکي ئې د (خوښښ) په شکل هم کښلی دئ (۱۵۱مخ).

زه فکر کوم چي دلته به د فارسي "خويش" رسم الخط اغېزه کړې وي.

هجری وايي:

مـا هر ګـز راستي د چـا لـيدلي نه ده
برادر که يار و خويش که عزيزان دي

(۱۸۳- مخ)

ميرزا خان وايي:

کل همت ئې په مجـــاز پوري تړلی
د لباس زيبايي زياته شوه له خپښه

(۱۵۵- مخ)

شمس الدين کاکړ ويلي دي:

پر صحرا لکه مجنون ګرزم له خلقو
نه مي راز له بيګانه شي نه له خپښه

(۱۱۳- مخ)

***

شرمښ:

چه دا د ســـا ښتـــن هـــمه يو
که فهـــم وکـــړي لـــکه رمـه يو
مرګ لکه شرمښ راباندي ځغلي
د رب وفضـــل وته په تـــــمه يـو

(رباعيات - ۳۳مخ)

په کلاسيک ادب کي "لېوه" هم موندلای سو او عموماً داسي فکر کېږي چي دا کلمه د "شرمښ" معنا لري. د کندهار په لهجه کي شرمښ او لېوه دواړه سته. ښاغلی ډاکټر عبدالرازق پالوال د "لېوه" کلمه د ټولو (درنده ګانو) په معنا بولي (معياري پښتو - ۱۷۰ مخ).

ميرزا خان انصاري "لېوه" د ځنګله درنده بللی دئ او له دي څخه ثوک د ښاغلي پالوال د نظر ملاتړ موندلای سي ځکه شرمښ د دښتو او غرو درنده حيوان دئ.

د شيطان دانش عذاب دی که باور کړي
چي ئې نغوړي بد لېوه د تورځنـګل دی

(۲۰۵ - مخ)

کندهاری مخلص وايي:

چي سموالی د چا نه واوري په غـوږ
په ورو ورو تګ غلط مه سه د هر ګړ
شرمښ غلی تر شـپانه پوري ورځي
څـو چي ونيسي تر غـــاړه د بل مـږ

(۱۲۹ - مخ)

په خوشحال فرهنګ - ۱۳۱مخ او د خوشال خان خټک کليات په وييپانګه - ۱۲۳۰مخ کي شرمښ د (شرمخ) په شکل ليکل سوی دئ، چي دا راز تلفظ نه د خوشحال خان خپل وينګ دئ او نه هم د ختکو.

***

ښانک:

له لرګو څخه جوړي سوي غټې کاسې ته وايي.

خوشحال خان وايي:

نه په خوله ګولۍ خوړلې د ټوپک[1]

نه نـــــمړۍ د لئيمانـــــو د ښانک

(۱۰۵- مخ)

په سواتنامه کي راغلي دي:

[1] په کلاسيک ادب کي ټوپک هر ځای په (ټ) سره ليکل سوی دئ. پوهاند دوکتور زيار صاحب د (ټوپک) او (توپک) تر منځ زړه نازړه دئ. يو ځای د (توپک) شکل تر (ټوپک) کره بولي (وګ : د خوشحال ادبي پښتو- ۳۶مخ) خو بل ځای ئي بيا په ليکلارښود(۲۰۸مخ) کي له دغه حکم سره سره د (ټوپک) شکل معياري بللی دئ. توپک د توپ مصغر شکل دئ او توپکچه ئي لا نور هم (وينه: معياري پښتو: ۴۳۴ مخ).

د "تــالي" کــه درته وايم يــو کــالی دی
ډک ښانک دی د اوګرې، که يا تالی دی

(۳۰ - مخ)

رحمان باباوايي:

چه په اصل خدای نسکور وي پيدا کړی
څوک به څه خوري د دې دهر له ښــانکه

(۱۷۲- مخ)

هجري ويلي دي:

عاشق زړه هسي د يار په زلفو بای کړو
لکه بای کړو ګدايانو په ښــانک روح

(۳۱۳ - مخ)

عبدالقادر خان ختک ئې "ښانکی" شکل ثبت کړی دئ، چي د ښانک مصغر دئ.

هر چې وخورې هغه ستا شي نورې پرېږدي
دا دنيـــا د مهـــــــــمانيه ښـــــــانکی دي

(۲۷۳ - مخ)

په دستارنامه (۱۴۳مخ) کي "شحنکونه" هم ثبت دئ

***

ښخ:

په کلاسيک ادب کي(ښخ) او (ښخول) کلمات د لوېديځي

لهجې له وینګ سره سم راغلي دي. خوشحال خان وايي:

په لویه ورځ به ستا په ګرېوان ښخي کړم منګولې
څه ته، څه دې ویل دي ستا د خون څه پروادار یم

(۱۱۹ - مخ)

په ختیځو لهجو کې ئې کله (خ) تر مخ لیکي او کله (ښ). (وګ: معیاري پښتو - ۱۴۷مخ)

***

ښکار، میرښکار:

میرشکار، میرښکار هغه څوک دئ چې د ښکار چاري پر مخ وهي. په پخوانیو منصبو کي (میرآخور، میرغضب، میرمنشی، میرهزار، میر شب،...) بېلابېل ملکي او پوځي منصبونه ول.

د خوشحال فرهنګ په ۱۹۵مخ کي چې ئې د (میرښکاران) معنا "د ښکار مهارت لرونکي، د ښکار ماهران" کړې ده، د تامل وړخبره ده.

خوشحال خان وايي:

د ښکار په کار کښې که هر څو ښه یم
چــه باز مې ځـــان دی هـــغه یو زه یم
په باز که هـــرڅو قـــازو کلــنګ نیسم
رېره مې سپینه شوه میرښکار لا نه یم

(رباعیات - ۲۵مخ)

***

ښکنځل:

خوشحال خان هر وخت دا کلمه د (ښکنځل) په شکل راوړې ده او که ځای ځای مو د (کنځل) پر شکل پېښېږو، هغه به یا د کاتب لاسوهنه وي یا د مرتب. مثالونه ئې دا دي:

واړه مست شو بد ویل کا
و سړیو ته ښکنـــــځل کا
(۲۷-مخ)

یا:

خوشـــــحال چه تشه مـــینه په بل کـــا
تـــر حلــــق به پورته خـــالی ویل کا
خدای ئې وړپرېږده یو هسې یار لری
په قهـــــر راشی ورته ښکنــځـــل کا
(رباعیات- ۲مخ)

حمید وایي:

چې دې وپاخـــوي مـــا ته په ښـــکـــنځلو
څه په بد کې نېکخواهي کاندي رقیب زما
(کلیات- ۱۲مخ)

د خوشحال خټک کلیات په ځینو برخو کې د (کنځل، کنځا) شکلونه راغلي دي خو دې ټولو مواردو ته ئې کښلي دي چې په خطي

نسخوکي د (ښکنځل، ښکنځا) شکلونه ثبت دي ګویا د کنځل ثبت د کاتبانو او ناسخانو لاسوهنه ده. لکه دا ځایونه:

که هر څو راته کنځل کا ، یا قهریږي
په خوله واړه شکربار دی هغه کس

(۸۳ - مخ)

په لمنلیک کې ورته کښلي دي: "لومړی، دریمه، دوهمه: ښکنځل ".

د سرو شونډو په شرابو چې بیخود شم
له مســـتیه رقیـــبانو ته کنـــځل کړم

(۱۲۰- مخ)

دلته ئې په حاشیه کې ورته کښلي دي "په قلمي کې: ښکنځل ".
په دستارنامه ۲۱۴ مخ کې شکنځل لیکل سوي دي.
په سواتنامه کې لولو:

مخامخ په یو څو ورځې ښـه نمانځـه شــم
پسې شابه حرام خور، ګیدي ښکانځه شم

(۱۴- مخ)

حمید وایي:

په دغه لمانځه نمانځه نه شي ښکانځه شي
چې دې زړه دی په رباب مـــخ په محـــراب

(۳۴- مخ)

عبدالقادر خان ویلي دي:

په ښکنځل ئې سرفراز عبدالقادر کړ
د ژوندون له باغــه خــوره ســمنبربر

(۵۲ - مخ)

میرزا حنان بارکزي هم د (ښکنځل) په وینگ کي د کلاسیکو شاعرانو لار اخیستې ده:

تبسم ئې له ښــکنځلو ســره زېب که
قدر زیات لري ترخه چي شي شراب

(۴۳ - مخ)

✷✷✷

ښندل، شیندل:

د خوشحال په کلام کي دا دوه لغته سره ښېل او هر یو پخپل ځای کي کار سوی دئ. "ښندل" د "بخښل، نثار کول، قرباني کول" په معنا راغلی دئ. "سرښندنه" ئې، چي د قربانۍ معنا لري، له مشتقاتو څخه ده. خوشحال ئې هم په همدغه معنا راوړي.(وگ: د کابل چاپ د ستارنامه - ۹۷مخ)

رحمان بابا وایي:

که ښندي مال و ملک واړه
هـیڅ رنگ نه مومي امــان

(۱۹۸- مخ)

عبدالقادر خان ویلي دي:

د خپل ځان د پاره نیم درم اسراف دی
چې په بل خونه ښندي بې اسرافي ده

(۱۷۹- مخ)

حمید وایي:

چې دا هسې سرومال ښندي په ښکلیو
شـــوم "حمـید " کـړ محبت یخي داتا

(کلیات -۱۲مخ)

"شیندل" په فعلي حالت کي د "پاشل" په معنا راځي او په اسمي حالت کي ئې هم استعمال د کندهار په لهجه کي عام دئ. "شیندل" د دال په زور (فتحه) د بولو (متیازو) په معنا په لوېدیځه لهجه کي ژوندی لغت دئ. د خوشحال په کلام کي "شیندي" د "ناوړه چارو، ناخوالو" په مفهوم راغلی دئ، چي دغه شکل ئې د پښتو د لوېدیځي لهجې له "شیندَل" سره تلازمي ورته والی لري. خوشحال وایي:

جن په حـجاب کښېږي د مــور له ځـنګه
مګر ځان ژغـــوري د مـور لــه چــنګه
که په صحرا ګرځي که کوڅه ګرده شي
شــــنده به وکـا په خـــپله ننـــــګه

(رباعیات -۵۲مخ)

دغه راز بل ځای ئي جمع شکل راوړی دئ:

گـــوره چي کـــيږي په خوشـــحال شندي
اوبه په ښنگ کښي مـــرگ ئي لــــه تندي
له چـــا به څـــه لـــــره مــــانه گيــــله کا
خود ئي په ځان وکړي دا رنگ ناپسندي

(۲۹۹ - مخ)

عبدالقادر خان وايي:

چي ئي اوس په ټولـــولو نه مـــړيږي
همدا خيل دولت به وکا په تا شنده

(۱۸۵- مخ)

"شيندی" د بيکاره ګل په معنا هم راوړی دئ:

بد مــــــخ ناحــــــقه په زر پســـاله شی
ښه مخ چه بيا مـــومی پسول هـــاله شی
که هر څو رنګ لری سري سپيني پاڼي
شـــــــيندی به چـــری نرګس باله شی

(رباعيات - ۱۵۵مخ)

اشرف خان هجري ويلي دي:

تا به کله هومره شندي په هجري کړي
که ئي صبر ستا له ميني کـــړی فـــواد

(۳۲۳ - مخ)

حمید وایي:

په بد خوی به د چــا څه کړي
په خپل ځان به شندې وکړي
(کلیات - ۲۷۹مخ)

د شیندل لغت اوس په میډیا کې د "ګلانو پاشلوله پاره" کارېږي. دغه استعمال ئې زما په نظر سم نه دئ ځکه په شیندلو سره هغه فرحت او خوښي نه سي افاده کېدلای چي د ګلانو د پاشلو پر وخت چا ته میسره کېږي.

په دستارنامه (۱۷۲مخ) کي (ښندل) د (شیندل) په شکل هم راغلی دئ:

"مال تر ځان ګران دی، چه په ډیر ضرور وګاته شي –د شرم د پاره وشنده شي". دلته که د کاتب غلطي نه وي پېښه، نو (شندل) د پاشلو په معنا کار سوی دئ. په کابل چاپ دستارنامه (۹۷مخ) کي دغه عبارت "وښنده شي" راغلی دئ.

***

غاښی:

د کوتل سر، تر غره د اوښتلو بند. مثال ئې "د کوږک غاښی" دئ.

خوشحال وایي:

مه کـــږه نادانه د نــه کـــړو کار دی
دا چه پرې خېژی غاښی دشوار دی
خر دې کـــمزوری زبون لـــیده شی
چه دې پرې ایښې دا هومره بار دی

(رباعیات - ۱۴۸مخ)

په سواتنامه کې هم "غاښی " راغلی دئ خو هلته ئې د شعري ضرورت په حکم "غاشی " لیکلی دئ او دا خبره پر دې حقیقت باندې یو بل دلیل کېدلای سي چې خوشحال خان (بښ) د (خ) په شان نه تلفظ کاوه.

هندوستان وته تور غر لرې بد غاشي
پرې خــاته به د لښکرو په غـــوغاشي

(۳مخ - د کابل چاپ)

په ارمغان خوشحال (۱۰۱۸مخ) کې ئې هم "غاشي " کښلی دئ.

✶✶✶

کښ:

د بر کوچني سپک رېغ ته ويل کېږي. هغه رېغ چې د يوه شي د څکېدلو له اسيته منځ ته راځي.

عبدالقادر خان ويلي دي:

په تش کښ لکـــه هوسۍ راځني ترپلي
له يارۍ مې دې توبه شه چې د کښ ئې

(۳۵۹مخ)

دا (کښ) د کاف په زوره کي ویل کیږي. که د کاف په زور (فتحه) وویل سي نو بیا ئي معنا اوړي او د یو وار څکولو په معنا کاربړي. حمید مومند وایي:

د خوبانو د خودیه په چلــم کي
د یوه کښ تمباکو شه زما روح

(کلیات - ۵۲مخ)

***

کښ: برید ، حمله، هجوم. کښ واچوء: څه، لار دي وهه !

کښتیـ:

د کښتیـ له پاره د پښتو په زیاترو لهجو کي (بېړۍ) کلمه کاربړي، خو په لوېدیځه لهجه کي د کښتیـ استعمال عام دئ.

خوشحال خان هم د کښتیـ کلمه زیاته راوړي.

چي کښتیي پکښي بیایي، په عظیم دریاب ګډیږي
په بیولـــــو د کښتـــــیه مــــــلاحان پوهــــــېږي بس

(۸۳ - مخ)

په لوېدیځه لهجه کي (بېړۍ) د زولنو یو ډول ته هم ویل کیږي.

***

کښته:

دا لغت له لوېدیځي لهجي پرته په نورو لهجو کي (ښکته، کته)

ویل کېږي. خوشحال خان ئې د لویدیځي لهجې له وینګ او کښنګ سره سم راوړي*.

هسې مال را مه کړه چې ئې ځای وي تر زړه کښته
هسې امـــوال راکـــړه چې ئې ځای د زړه د پاس
(۸۲ - مخ)

رحمان باباوایي:

نه مې کښته ملک لیدلی دی نه پورته
خـــبر نه یم پـــه یمـــین و په یســـار
(۳۵ - مخ)

د کندهار ښځمنې د اتڼ په نارو کې دا بند ډېر وایي:

پورته پنجوایي، کښته سپېروان دئ

***

کښـل:

د خوشحال په کلام کې (کښـل) هم د (لیکل) په معنا راغلی دئ او هم د (مچول) او هم د (ایستل) په مفهوم. د کندهار په لهجه کې (کښـل) د لیکلو په معنا عام استعمال لري او هم له ژوره ځایه څخه د ایستنې په مانا.

خوشحال خان وایي:

که څـــوک زر کـــتابه وکښي له دې بابه

---

* اوس کوښښ کېږي چې پر ځای ئې "تیټ" وویل سي (ع. پالوال).

که په کښل شي، زر به نور پسې اغاز کا
(۱ - مخ)

یا:

ستا په راز مې صورت سر تر پایه یو دی
زړه مې گوره په تصـــویر کښلی کتاب
(۳۵ - مخ)

یا:

اول فکر د زړه وکړه، بیا ویل کړه
کاتبان تر کښنو پخوا وهي مسطر
(۲۹ - مخ)

حمید مومند وایي:

څوک دې صبر آرام نه غواړي په عشق کې
د ازل کاتب دې کښلي په دا باب ســـخت
(کلیات - ۴۷مخ)

عبدالقادر خان وایي:

د خپل زړه په تخته کښه عبدالقادره
په کاغذ د عشق ویل نه دي د کښنو
(۱۴۹ - مخ)

رحمان بابا وایي:

چه رنگین رنگین مضمون پرې ښکلی نه وي
څه په کــــار دی د بیـــاض ورق رنگـــین
(۸۳ - مخ)

ميرزا خان انصاري وايي:

په اوراق به ئې نه مومې
نه چا کښلي په دفتر دي

(۴۸ - مخ)

بل ځای وايي:

مــحبت خبري گـــرمي تر لمـــبه دي
کاتبان به ئې په کومو گوتو کښينه

(۱۹۱ - مخ)

يا بل ځای:

قلــم ژبه د حـــال کښونی
سم گفتار ئې ښه رهبر دی

(۴۹- مخ)

د خوشحال خان کړوسی کامگار ختک وايي:

نه ئې لوستی يو الف و ، نه ئې کښلی و يو حرف
ولې درست وه پوهــــېدلی په اسرارو مـــا اوحی

(ديوان - ۱۵مخ)

له دې څخه ثوک ويلای سي چي د "کښل" ويی تر دغه وخته لا هم د (ليکل) په معنا په ختيځه ژبنی حوزه کي کاريدی.

ميرزا حنان وايي:

مُصوِّر که دي صورت کښئ حيرانېږم

چي په څه دستوربه وکاږي ستا ناز

(۶۷- مخ)

شمس الدين کاکړويلي دي:

چي پر کښېږي ما "شمس الدين" د غم سندري

اوس دلبر کړ کاغذباد هغه ورق

(۷۳- مخ)

خوشال خان بل ځای "کښېل" د "ايستل" په معنا کاروي. دی وايي:

چي يوسف ئي د کنعان له څاه وکيښ

د نيک بخت ستوري زوولی و بشير

(۶۶- مخ)

دلته (کښېل) د ايستلو په معنا راغلی دئ چي د پښتو په نورو لهجو کي په دغه راز مواردو کي (ايستل) يا (وباسل) کلمه کارېږي.

يا:

په درست جهان به نه وي يو زما غوندي رسوا بل

ورځم توره وکښېلي چي مين واورم په تا بل

(۱۰۸- مخ)

يا:

که ته تيغ د جفا وکاږي و ما ته

ستا و تيغ وته به سر لکه گياه ږدم

(۱۳۲- مخ)

د میرزا حنان بارکزي په کلام کي (کښلئ) د (انتظار) له پاره د فعل په توگه د (ایستل) په معنا راغلی دئ:

بس که ډېر جور و جفا پر "حنان" مه کړه
چي ئې کښلئ ستا د وصل انتظار سخت

(۴۷ - مخ)

بل ځای د (توبې) له پاره د ایستلو (توبې کولو) پر ځای (کښل) فعل کار سوی دئ:

چي توبه ئې په ماکښه دا ستا له میني
په یوه دیدن دي ولي شو چف چف

(۷۲مخ)

د کندهار بل شاعر شمس الدین کاکړ (کښل) د ایستلو په معنا داسي راوړی دئ:

په ژوندوني خو غواص تر سر تېر نه شي
له دریابه کله کښلای شي گوهر بیا

(۳۵ - مخ)

مولوي عبدالغفار بریالي هم (کښل) د ایستلو په معنا کار کړی دئ:

د تقوا جامې ئې وکښې زما له تنه
اول ناز، دوهم ادا، دریم غضیب

(اهار – ۹ مخ)

رحمان بابا (کښبل) د(مچول) په معنا داسي راوړی دئ:

ما چي زخم ستا د توري، په خوله کښبل کړ
نور مي دا لذت بیا نه موند په مرهم کښبې
(۱۲۱- مخ)

عبدالقادر خان خټک ئې داسي راوړي:

دواړه لب به ئې هغه عاشقان کښبل که
چي لــه یاره سرومــال نه لـــــري لب
(د کندهار چاپ دېوان - ۱۵مخ)

د ختیځی لهجې ویونکي تر کاف وروسته د (ښ) په تلفظ کي ستونزه لري، ځکه نو (کښبل) د (ښکل) په شکل وايي. د همدي لهجوي مجبوریت اغېزه ده، چي د عبدالقادرخان خټک په نوي چاپ دېوان کي د دغه بیت لومړی نیم بیتی داسي ثبت سوی دئ:

"دواړه لب به ئې هغه عاشقان ښکل کا "
(۴۱ - مخ)

* * *

کښبلی:

خوشحال خان دا لغت د (ښکلي، ښایسته) په معنا راوړي. د کندهار له لهجې پرته د نورو لهجو ویونکي د دې لغت په لوستلو کي ستونزه لري او د (کشلي) په شکل ئې وايي.

خوشحال وايي:

هر چې ستا په کښلي مخ باندې مين دي
هغـه درســـته شــپه له ماهه گفتــگو کا
(۳۱ - مخ)

دغه راز هجري ويلي دي:
په ازل چه ئې جفا وکښليو ورکـــړه
بيا ئې زړه کا د دردمنو د وفا روغ
(۷۰ - مخ)

***

کښېې (کښته خوا):
کندهاريان وايي:
"چې باد ئې وي د کښېې، اوريځ ئې نه وي د توښې ".
مولوي بريالی وايي:
راته مـــه کاږه ساړه آهـــونه شــيخه
د خلې د کښېې له باده باران بد وړي
(اهاړ- ۱۳۸مخ)
په دستارنامه کي لولو:
"... په ناست په نماست تر نامه لاندي د کښيه تر زنگانه د پاسه دا
د پتولو ځای دي مرد... " (۱۷۷ - مخ).
عبدالقادر خان وايي:

لـه کښـــیه وچاوده وخت د صـــبا شـــو
په هـــر مســـجد کې اذان ادا شــــــو
راشه چې ګښل دي کړم اوس به ببلېږو
په ځـــان زمـــــوږه صـــبا بلا شــــو
(۳۷۳ - مخ)

میرزا خان ویلي دي:
له اورو ئې ښه باران پر ځمکه ګښې کړ
ځای په ځـای ئې نباتات باندي کـرلي
(۴۴- مخ)

***

اینښوول:
د پارسي (ماندن) په معنا.
د امر صیغه ئې (کښېږده) ده، چې په ختیځو او نورو لهجو کې (کېږده، کېده) په شکل کاریږي. په کلاسیک ادب کې د (کښېږده) شکل عام راغلی دئ.
خوشحال خان وایي:
زر دی چه زېرمه د ننګ و شرم کا
صحبت د هـــر چـا وبله ګـــرم کا
ډېر ګـــران کارونه په زر اســـان شي
زر په فولاد کښېږده فولاد هم نرم کا

(رباعیات - ۷مخ)

عبدالقادر خان وايي:

د دنیا خوښی که واړه ورته کښېږدي
دروغجن دی که پرې غم د آشناورکا

(۱۷- مخ)

میرزا خان انصاري وايي:

په ګور کښي به ئې کښېږدي
پرې به پاس خاوري حجرت کا

(دیوان -۲۰مخ)

***

کښېنستل:

دا لغت د پښتو په ځینو لهجو کي (کېنستل) ویل کېږي. زیاتره ماخذونه ئې د لوېدیځي لهجې له تلفظ سره سم (کښېنستل) لیکي. خوشحال ئې هر وخت په ټولو صیغو کي له (ښ) سره یو ځای کاروي. دی وايي:

په هر ځای چي ځو محبوبې سره کښېني
هغه ځـــای مې تر جنت ښــایستــه لا کا

(۷ - مخ)

یا:

که هیڅ کاروبار دې نه وي درته وایم

هسې مـه کښـېنه بې کاره، نا په کار
(۷۱- مخ)

کامګار خټک وايي:

څوک چې کښېناسته د ميني په اورنګ
نه ئې سيال دارا شــکوه دی نه اورنګ
(ديوان- ۵۵مخ)

ميرزا خان وايي:

چې پر تخت د سليمان باندي ديو کښيناست
او په حــــکم ئې عــمل مــــار و لــــړم کا
(۲۹- مخ)

له موضوع سره د ارتباط له مخې به بده نه وي د "کښېنول" پر مصدر باندي هم وږغېږم.

نجار (ترکاڼ) د دروازي چوکاټ جوړوي، بنا (ګلکار، خټګر) ئې په دېوال کي کښېنوي. جوړول د انګرېزي (make) انډول او کښېنول بيا د (installation) معادل دئ. په پښتو کي د ځينو افعالو سره بېلول ډېر ضروري دي.

په ليکلاربنود (۳۸مخ) کي "دروازه کښېنوله" جمله د "دروازه جوړه کړه" په معنا تعبير سوې ده، تېروتنه او بايد سمه سي.

کښېنستل د (رفع حاجت) په معنا هم کارېږي. ډاکټر د کوچني (ماشوم) له مور څخه پوښتنه کوي "دا هلک نن څو واره کښېنستلی

دئ " یعني څو واره ئې (رفع حاجت) کړی دئ. د نس ناسته له همدې کښېښستل څخه مشتق سوې ده. اوس چي زه د غونډي یا میټنګ له پاره په رسنیو کي د (ناسته مي ورسره وکړه) جمله اورم، ډېره خوا مي بدېږي. دا د فارسي ژبي په پېښو د (نشستی داشتم) ټکي په ټکي ترجمه ده. دغه راز دا لاندي جملې د معنا له مخي یو له بله توپیر لري:

"ډوډۍ تیارول" د "ډوډۍ پخول" معنا نه ورکوي.

بنا بام ته زیني وخېژولې. مطلب ئې دا دئ چي زینې ئې جوړي کړې

د بادرنګو جوړنګ (بوټی) وغزېدی یعني وده ئې وکړه.

سړی په ګامو سو، یعني رهي سو.

بوټ ساز بوټ پر غالب سپور کړ.

***

کښېښن:

د خوشحال خان او د هغه د کورنۍ د شاعرانو په کلام کي دا لغت د ایښودلو په معنا د لویدیځي لهجې له استعمال سره سم، خو په لږ بدلون راغلی دئ. په لوېدیځه لهجه کي (کښېښو، کښېښود) ویل کېږي. له امکانه لیري نه ده چي د (کښېښن) کلمې د پای پر توري به کاتب پېښن (ضمه) ایښي وي. که دا امکان سهي وي نو د (کښېښو) د استعمال اورشو نوره هم پراخېږي.

خوشحال خان ویلي دي:

قارون ولاړ تحت الثری لره لا درومي

مـوسی پاس پــه علیین کښېښ قدم
(۱۲۳- مخ)

کامگار خټک ویلي دي:

چي جمال دي برهنه شــــه له نقابه[۲]
په ادب ورته مخ نمر په زمین کښېښ
(دیوان - ۴۷مخ)

***

کوښي:

کوښي د پارسي (پاپوش - کفش) په معنا په کندهاری لهجه کي ژوندی ویی دئ. د کندهارنجوني په لوبو کي وایي:

---

[۲] د دي بیت له مقطع ځخه داسي ځرګندېږي، چي دا غزل دي شاعر د "سعید" په جواب کي ویلي وي. مقطع داسي ده:

د کامگاریي و جواب ته څه امکان دی
چي سعید په پښـتو ژبه تزئین کښېښ

سعیدویلي دي:

د ســعید شــعر کــه گل د یوه باغ دی
دي غزل په پښتو شعر تزئین کښېیښ
(دیوان – ۸۷ مخ د همېش خلیل مرتبه)

باید وویل سي چي د سعید په دیوان کي د دغه غزل د ټولو قافیو(کښېیښ) د (کشیش) په شکل کښل سوی دئ او په مقطع کي ئې "پښتو" هم "پشتو" لیکلي ده!!

د کامگار خټک د دیوان په (۵۲ مخ) کي هم د دیوان ترتیبوونکي د "کښېښ" پر ځای "کشیش" کښلی دئ او په حاشیه کي ورته کښلي دي: "چ: کیښو".

"کوښې مې اوبو یووړې، غیم ئې چې یو ئې وړي، پلاړ مې سوداګر دئ بیا به نوري راته راوړي".

رحمان باباويلي دي:

د دینداري ارتینې له یوې کوښې
صدقــه شه ســــل بې دینه نارینه

(۸۷ - مخ)

٭٭٭

منبک:

د خوشحال خان په کلام (د کامل چاپ) کې (مشک) د (منبک) په بڼه ډېر لیکل سوي دي، نبخه چې ولي؟ که ئې همداسې ولیکو، نو د پښتو په ختیځو لهجو کې ئې باید (مخک) ووایې! ما له هیڅ پښتانه څخه دا راز وینګ نه دئ اورېدلی. د (منبک) په تلفظ کې د لوېدیځې لهجې ویونکي هیڅ راز مشکل نه لري خو دا تلفظ د کندهار په لهجه کې نسته، سره له دې به ئې یادونه له ګټې خالي نه وي.

زلفې ئې ښکاره کړې منبک عنبر ئې په ماتوی کړل
اوس به لــــه دې پسه څه عـــطار لـــره وردرومـــم

(۱۳۷- مخ)

د خوشحال رباعیات بیا(مشک) لیکي:

باړخــو ئې نه دی ګل د ګلاب دی

زلفي ئې طعن د مشـک ناب دی
راشه که دواړه شونډې ئې گوري
چه پرې مستېږي هغه شراب دی
(۱۲۳- مخ)

پوهاند زیار صاحب د (مښک) ویی په "را پښتو شویو پورویییوونو " شمېري (وگ: د خوشحال ادبي پښتو- ۳۹مخ) گویا په (مښک) کي راغلی ښین په حقیقت کي د پارسي شین دئ.
(مشک) که په شین ولیکل سي، ما ته سم ایسي. مښک ئې خوشي ناوړه ښه ده.

د کندهار شاعر شمس الدین کاکړ وایي:
نرخ د مشکو به ارزان که په خُتن کښي
که نســـیم راوړي له زلفو بوی دا ســـتا
(۲۹ - مخ)

***

نخښه:
د خوشحال کلام دئ، چي وایي:
ډیري لـــري نښې د صـــورت د زیبایۍ
څه خو درته وایم یو څو نخښې آشکارا
(۷- مخ)

د "نښې " لغت ته ئې په لمنلیک کي کښلي دي چي په "لومړۍ،

دوهمه، دریمه "خطي نسخه کي" په دواړومصرعو کې: "نخښبي" راغلی دئ. باید ووایم چي له لومړۍ خطي نسخې څخه ئې مراد هغه نسخه ده چي د خوشحال خان په ژوند کي په "۲۳ شهر رمضان سال ۱۰۹۹ در مقام جانکوړه" کي لیکل سوې ده. ښاغلی استاد حبیب الله رفیع په دې نظر دئ چي دا نسخه د خوشحال خان په خپل لاس لیکلې سوې ده (وګ: خوشحال ریویو، درې میاشتنۍ مجله، ۲۸ مخ، د ښاغلي رفیع مقاله، پښتوا کېډیمي، پشاور). دا نسخه په خوشحال خټک کلیات (د افغانستان د علومو اکاډیمۍ) کي "لومړۍ قلمي نسخه" بلله سوې ده.

د دې غزلي په مقطع کي ئې د (نخښبه) کلمه د (ننبه) په شکل راوړې ده، خو په حاشیه کي ورته کښلي دي چي په قلمي نسخو کي (نخښبه) ده. عبدالقادر خان ویلي دي:

د بوریا نخښبي په تن د مسکینانو
لا ښایست تر منقش جامو د زرکا

(۱۷- مخ)

***

وربښم:

د خوشحال په کلام کي له "وربښته" څخه (ر) ایستل/ ایسته کړه سوې ده خو په "وربښم" کي بیا پاته ده. وربښم په کندهار کي په همدې شکل ویل کېږي خو د پښتو په ختیځه لهجه کي ئې (و) څني ایستل/

ایسته کړه سوی دئ او "رېښم" تلفظ کېږي خوشحال ئې "ورېښم" لیکي:

د کیمخواب وته ئې مه غړوه سترګې
په ورېښمو کي چینجی دي د حـریر
(ارمغان - ۴۰ مخ)

***

وښی:

وښی د (باهو) په معنا باندي (سره) د کندهار په لهجه کي مروج لغت دئ. خوشحال خان هم راوړی دئ.

د خوشحال خټک د پاره چي می خور شو
په مغـان مي وښي کېښول باهو هـم لا
(۱۸ - مخ)

***

وېښته:

د کندهار په لهجه کي (ورېښته، ورېښتان) د (وېښته) او (وېښتان) په نسبت زيات ویل کېږي. خو (ویښته او ویښتان) هم عام رواج لري. خوشحال خان دا دوهم شکل راوړی دئ.

هر وېښته چي په صـورت باندي لـیده شي
که پري خیر شي د شناخت ور به درته واز کا
(۱ - مخ)

دغه راز رحمان بابا ویلي دي:

د صورت له عیبه هسې پاکېزه دی

لکه ذات د وېښته نشته دی په هـا
(۱۷- مخ)

اشرف خان هجري ويلي دي:

په بدن مي وېښته ودري بې شکه
چه قصه د وامق ياده له عــذرا کا
(۳ - مخ)

عبدالقادر خټک وايي:

سپين وېښته د بدنامۍ په وسمه تور کا
چې آرزو د صـــفا رويو د وصـــال کا
(۲۰- مخ)

خوشحال خان له لوېديځ ګړدود سره سم "وېښته" د جمع په صورت کي هم کاروي او صفتئي "ځره، زره = زيره" راوړي.

وېښته ئي د سر ځره د تن هم ځره ګرلنډ بدرنګي
يکـــدله ګـــېدوره پـه خـــوړلو نه مـــــړېږي
(ارمغان- ۹۰مخ)

پوهاند زيار صاحب د خوشحال خان پر دغه "زره" صفت باندي د (زيږ) د مونث خيال کړی دئ (د خوشحال خان ادبي پښتو – ۵۰ مخ) چي د تأمل وړ دئ. د (زيږ) مونث شکل د (ږ) په زور (فتحه) سره ويل کېږي. که (ږ) ته زوه رکی ورکړه سي، هغه وخت نو بيا مونث شکل نه بلکي د جمع شکل دئ. د خوشحال خان (زږه) د (ږ) په زوه رکي بايد تلفظ سي.

***

هېښ:

هېښ د (حيران)، (هک پک) او ځای ځای د (ساده) معنا لري.
دا لغت له لوېديځ ګړدوده پرته په نورو لهجو کي د تلفظي ستونزې له اسيته د استعمال مواردنه لري او که لري ئې، هم ډېر نادر دي.
خوشحال خان د (هېښ) لغت زياتره د (ساده، اريان) په معنا ډېر راوړی دئ.

ځوک به ما غوندي يو هېښ په زړه ساده وي
چې وفــا غواړم لـــه کښـــليو، په دا اش يـم
(۱۱۲- مخ)

په دا هومره هوښــــياريه هسي هېښ يم
ځوک چې زهر راته نوش کا هم منل کړم
(۱۲۷ - مخ)

يا:

ســــتاد خـــولي خـــبری نورې د زړه نورې
زه خوشحال ختهک يو هېښ يم پرې باور کړم
(۱۴۵- مخ)

ميرزا خان انصاري ويلي دي:

د دنيا په چــاري پـــوه تر انده تــېره
څه د دين په طلب نه پوهېږې هېښه

(۱۵۴- مخ)

***

۳، ۵: رِي لرونکي لغتونه:

برږوه Bazáwe:

برږوه د کندهار په لهجه کي (ګیدړي) ته وايي (لس زره پښتو لغتونه). د برږوي انګولا ډېره ببرروونکې، او د ګیدړي او چغال له انګولا ځخه ډېره ببیله ده.

خوشحال وايي:

هم ئې وينم، هم ئې اروم ترې تېرېږم
چې په ځنـــګ راتـــه برږوه کـــابوبو

(۱۷۱- مخ)

یا:

در پېښنه مه شه د بخت کرږوه
خونی مـــزری کا په تا برږوه
د باز شرلې زرکه مې ولیده
د باد خورکـو باندې زورږه

(رباعيات- ۷۵مخ)

په چاپي دېوانو کي د دې بيت (اروم) د (اورم) په شکل راغلی دئ او دا يادونه د دغه مخ په حاشيه کي هم سوې ده. دا خو د اړولو

برخه ده چي پخپل ځای کي په تفصيل سره څېړل سوې ده.

***

ږغ:

د پښتو دغه متنازع فيه لغت په ځينو لهجو کي (غږ) ويل کېږي. خوشحال خان د (ږغ) شکل راوړی دئ او ځای ځای ئې د (ژغ) په بڼه هم استعمال کړی دئ. هغه ځايونه چي دا کلمه پکښې د (غږ) په شکل کار سوې ده، ما ته د خوشحال خان خپل وينگ او کښنگ نه ايسي. مثالونه ئې:

د بد زويه ږغ د فسق و د فساد ځي
د ښــه زويه ځي ناري په ملــکوت
(۳۸- مخ)

يا:

خوشحال خان د خپل لمسي "معظم" په مرثيه کي وايي:

څــه د بدو ږغ ؤچې مـــاښـام راباندې وشــو
تندرؤ، يا توپ ؤ پرې مې تخنې تخنې زړه شو
(۱۸۱- مخ)

يا:

چه ئې لرزه وه په ملــک لــه جيشه
زړه ئې شـــاد کام ؤ لـه هــره حيثه
گوره په گور کښې هغه شاهان دی

چه ږغ ئې نه شی د مــرګ له طیشه

(رباعیات–۲۰ مخ)

دغه راز د رباعیاتو په ۲۲۸مخ کې هم (ږغ) ثبت سوی دئ.

ژغ:

ربه ډېر اولاد دې راکړ، منت داریم

د خوبیه ژغ ئې بیایي په هــر لــور

(۵۹ - مخ)

یا:

چې مې نوم په ژبه واخلي هسې خوښ یم

لـــکه ژغ د خـــلاصې وشي په بندیانــو

(۱۸۰- مخ)

محشي ورته کښلي دي چې په دریمه او ځلورمه نسخه کې (ږغ) ثبت دئ.

په دې بل بیت کې هم (ژغ) ثبت سوی دئ خو په حاشیه کې لیکلي دي چې په ځلورمه خطي نسخه کې (ږغ) دئ.

د رسا ویشتلي کله توان د ژغوي

په فراق کې ناره مه وهه لـــه باره

(۲۹۱- مخ)

غږ:

په عالم د مجنون غــږ دی، مرد مې بوله

په محشر که ځنې وړاندې خپل علم وړم

(۱۳۵ - مخ)

***

ړو (قسمیه):

خوشحال خان وايي:

په وفا د عاشـــــــقانو
د معشوقو په جفا ړو[1]
د وصال په سل خوښیه
د هجران پـــه زر بلاړو
(۱۷۲- مخ)

دا کلمه د (قسم خوړلو) په مفهوم کارېږي. (په) دلته د (قسَمیه) کلمې وظیفه سر ته رسوي او له ظرفي یا استعلایي آداتو سره باید مغالطه نه سي. په فارسي ژبه کي (ب) د قسَمیه توري کار ورکوي.

بجان دوست که غم پرده بر شما نه درد
گـــــر اعتماد بر الطاف کار ساز کنید

دلته (بجان دوست) معنا (د دوست په سر مي دي قسم وي). په عربي کي (واو) د قسمیه توري له پاره راځي:

"والعصر"، "والشمس" یعني قسم مي دي په مازیگر وي، قسم مي دي په لمر وي.

د (ړو) کلمه د کندهاریو شاعرانو په کلام کي سته:

---

[1] په ارمغان خوشحال (۴۸۳ مخ) کي د دي ټولي غزلي د پای قافیوي (ړو) په (گو) اړولی او د خوشحال شعر ئې خندنی کړی دئ.

مولوي عبدالغفار بريالی وايي:

ړو په ناز د دلـــــبرانو
ړو په آه د سوخته گانو
ړو په کــبر د خــوبانو
ړو په درد د بيـــدلانو

(اهاړ- ۹۵مخ)

د ميوند د ډاګ قهرماني، ملالي ويلي دي:

که په ميوند کي شهيد نه سوې
خدای ړو لاليه بې ننګۍ ته دي ساتينه

(ځيني کسان دا لنډۍ د "ړو " کلمي د استعمال له وجهي جعلي بولي او وايي چي "ړو " د دې سيمي لغت نه دئ. مګر تاسي د اروانباد بريالي په شعر کي ولوستل چي هغه مرحوم ئې په روانۍ سره کاروي. "ړو " کلمه له کندهاره تر اټکه د استعمال پراخه اورشو لري. حميد مومند په نيرنګ عشق کي پنځه ويشت بيته د (ړو) پر قافيه باندی سره تړلي دي (وګ کليات – ۴۳۰، ۴۳۲ مخونه).

خوشحال خان بل ځای ويلي دي:

چي سر په مخ کي کيږدې، زړه دې ډوب په اند ښنو شي
په خدای ړو که خــبر ئې د خـــــاصانو له ســـــــجوده

(۲۰۸- مخ)

يا:

مرگ د رقیبانو بل ژوندون د حبیبانو
خدای رو په هنگام د وصل کیږي دا دوه کاره
(۲۱۷- مخ)

هجري ویلي دي:

نور به تېر عمر رانه یشي په رب رو
که نظر تغیرد کسیو په ژړا کړم
(۸۴ - مخ)

په متن کي "... په رب گو" لیکل سوی دئ چي په قطعي ډول ئې د اشرف خان هجري خپل وینگ نه سو بللای.

پوهاند دوکتور زیار صاحب په (گ) سره د (ږ) اړول له معیاریت څخه سرغړونه بولي او کړې ئې (وگ: لیکلارښود - ۵۲مخ)

* * *

سرږه:

د کندهار په لهجه کي د غره د مرږه ښځه "سیرږه" بولي (وگ: ښکار او کندهار - ۳۳مخ). خوشحال خان ئې د "سرږه" په شکل لیکي:

زرکه دي لېږي له بازو کرځی
سرږه دي لېږي له پړانگه غورځی
ګنه بښي به ئې په پورته غورځی
په خوکه کښبوزی نوره به پرځی
(رباعیات - ۲۰۰مخ)

په سواتنامه کې لولو:

هم ګاوز، بزونه، سرزې هم کوته پايي
اما ورکې کړې توپچيانو څه به وايي

(۸ - مخ)

✱✱✱

سپږمې:

د پزي غارو ته وايي. د کندهارۍ لهجې وينګ ئې (سږمې) او د ځينو لهجو تلفظ ئې (سپږمې) دئ. خوشحال خان ئې د لوېديځې لهجې وينګ ته نزدې کاروي.

خوشحال وايي:

په عطـــرو ډوبه هغه خــوش رويه
راغــــله ناګاهه لــــه يوه ســويه
تمامه شـــپه ئې راســره تېره کړه
سږمې مې ډکې دی د دی له بويه

(رباعيات - ۴۷مخ)

د پښتو په ځينو لهجو کې سپېږمې ورته وايي. په ارمغان خوشحال کې هم يو ځای په همدې بڼه ثبت دي:

دارچيني د پرمــهرې ســــــره لازم دي
د سپيږمو نسوار ئې يوسي رنځ له سره

(ارمغان - ۸۰ مخ)

دغه نصوارو ته په کندهار کې د "پزي نصوار" وايي.

کندهاری مخلص وايي:

پر تندي دي خــولۍ ایښــېده په نــاز
نه خـــبرېږې په دربې د لـــوړ جــهاز
هغه وخت به درځرګند سي خپل همت
چي دي بوی په ســږمو ننوزي د غــاز
(۱۲۲- مخ)

***

غېږ:

د کندهار په لهجه کي همداسي ده خو په نورو لهجو کي (غېږه) ویله کيږي.

میرزا خان انصاري ویلي دي:

د عـــالم هنر به واړه پرې تمام کـــړم
که سرکښ خاطر په غیږ کي ونیسمه
(۱۸۴- مخ)

شمس الدین کاکړ ویلي دي:

بي کامه بې زبان لکه رباب د یار په غېږ کښېي
هـــردم کـــوم لـــــه شـــــوقه تن تناتنا تنا
(۳۰ - مخ)

***

کريږه:

کندهاریان ئې (کرږه) بولي.

حمید وايي:

چې "حمید "د یار له غم کا سوي کریږه
د پیریانو غوني زیږ دېوان په دوک شي

(کلیات - ۲۸۹مخ)

***

کړان: (کړیان)

(کوږ) هغه څیرونکی حیوان دئ، چې په پارسي ئې (کفتار) بولي. د کندهار په لهجه کي ئې جمع (کړیان) ده او خوشحال خان ئې هم دې ته ورته کاروي. په فراقنامه کي لولو:

شغالان، گــــرگان، کړان
پاس پښې ږدي په گلان

(۴۵ - مخ)

***

کړل - کړلی:

یو څه یا کار، حرکت بدشگونه گڼل، یا په یوه عیب سره ځان ځني ژغورل. دا لغت په لوېدیځه لهجه کي پوره عمومیت لري خو په ختیځه کي ئې ځای "غندلی" نیولی دئ.

خوشحال وايي:

بل ته شــــــــړلی، لــــــیږلی تا یم

بیا په دا کارکښې کـــــړلی تا یم
چه ستا په نه دید د ځنکندن شوم
کـــــه مې ته نه وژنې وژلی تـا یم

(رباعیات - ۲۰مخ)

په دستارنامه کي د لور د ودولو په برخه کي لولو:

"... چه په اصل په نسب کړلی نه وي، د دین د صلاحیت په حُلیه متحلي وي، و هسې سړي دي ورکوله شي " (۱۳۱- مخ).

میرزا خان انصاري وایي:

په طلب ئې نحسیت له ستوریو واخیست
په ښه خوی ئې هیڅ ساعن ؟ نه دی کړلی

(۴۷- مخ)

د کندهار شاعر شمس الدین کاکړ ویلي دي:

څو به شماري منجمان زما د وصل کوکب
څو به له لاسه د فلک په بخت کړلی ګرزم

(۸۷ - مخ)

***

مرږ:

نر پسه ته ویل کېږي. د کندهار په لهجه کي د (مرږ) بنځینه شکل (مېرږ) ده، چي په نورو لهجو کي ئې (مېږه) بولي.

عبدالقادر خان وایي:

ودانې د کائنات ده په درې خـــیزه
اول مږ، دویم غنم، دریم عنب دی
(۲۵۹-مخ)

***

وړی:

په کندهار کې (وړی) د انګورو یا غنمو (خوشې) ته وايي. خو زیاتره د غنمو له پاره کارېږي. د اومو انګورو له پاره (ډنډوری)، چې انګور ئې خوړل سوي وي او د پخوله پاره د (وانښکې) کلمه رواج لري. خوشحال خان د (وړي) کلمه د انګورو له پاره راوړې ده:

زړه مې سر تر پایه واړه آبله دی
په فراق کې، لکه وړی د انګور
(۵۴ - مخ)

***

۳، ۲: د (ڼ) مشترکات:

ورونه:

خوشحال د "ورور" جمع "ورونه" او د تذکیر آلت دواړه په (ڼ) لیکي او دا تلفظ ئې له کندهاري وینګ سره یو شان دئ. په ختیځو لهجو کې دا دواړه لغتونه په نون ویل کېږي.

څو تجربه نه کړې خپل زویه وورونه
هـــومره د دیو په کـــار مه مــــونه

زويه هغه دی چه ځان خـرګـــند کا
ګـــــنه بهـــتر دی لــه زويه لـــونه

(رباعيات - ۲۲مخ)

د پښتو په نورو لهجو کي وروڼه په نون ويل کېږي. زيار صاحب وايي چي خوشال "وروڼه او غين له کښيني ګړدود سره سم په (ڼ) پای ته رسوي " (وګ: د خوشحال ادبي پښتو - ۳۸مخ). د ليکلارښود په (۲۷۷مخ) کي د نون شکل د لهجوي ارجحيت تر اغېزې لاندي کره بلل سوی دئ.

خوشحال خان په فراقنامه کي ويلي دي:

سکه وروڼې قـــتل کړي
ده ئې مال ګنجونه وړي

(۲۲ - مخ)

په حاشيه کي ورته کښلي دي "وروڼې = وروڼه ئې ".

عبدالقادر خان وايي:

بې عمله به دي ښه په چا و نه شي
نه په ورونو په پلارونو نه په ترو

(۱۳۲ - مخ)

دغه راز په (۲۷۱مخ، ۳۲۹مخ، ...) کي هم وروڼه په (ڼ) کښل سوي دي.

حميد هم د (ڼ) په برخه کي د ختکو لار اخيستې ده. دی وايي:

د یار یار د خپلو خپل د ورونو ورور یم
لکه ومه هغه شان په خـــپل انځــور یم
(۳۲۷- مخ)

***

انګڼ:

په لوېدیځه لهجه کي همداسي ویل کېږي، خو ختیځه لهجه لکه د (ښ) له آواز څخه چي ځان پېچي، د کلمې د پای له (ڼ) څخه هم حتی الوسع ځان ساتي او په دې لړ کی ئې د (انګڼ) پر ځای (انګړ) ډېر کاروي.

د خوشحال خان په کلام کي دواړه شکله لیدل کېږي. یو ئې هرومرو د کاتب لاسوهنه ده. تاریخي و ژبني قراین پر دې باندي دلالت کوي، چي (انګړ) به د کاتب د تصرف نتیجه وي. خوشحال وایي:

ځان و زړه مي هم چاپیر درسره درومي اي نګاري!
چي ګهي پـــه شین شین په انګـــڼ کي شي روانه
(۲۴۹- مخ)

بل ځای وایي:

رقیبان دي لکه سپي دي په کـوڅه کي
چي انګړ دي پاکیزه شي، واړه چخ کړه
(۲۲۵- مخ)

***

څلورم فصل

۴ ، ۱:د کلاسیک ادب او لوېدیځي لهجې ګډ لغتونه:

په دې برخه کې به هغه لغتونه چې په کلاسیکو ادبیاتو کې راغلي او اوس په لوېدیځه لهجه کې ژوندي پاته دي، د الفبې په ترتیب راوړل سي.

آب بازي،اوبازي:

په لوېدیځه لهجه کې "آب بازي" تر "لامبو" زیاته عامه ده. د لامبو یو بل شکل "لمباو" دئ، چې د کندهار په زلمیانو کې رواج لري. خوشحال خان د آب بازۍ او لامبو دواړه لغتونه کار کړي دي.

خوشحال خان په دستارنامه کې لیکي:

"دا دوه هنره یاد شوی، یو تیر اندازی بل آب بازی ... که آب بازی چا نه زده وی، لوئی نقصان واقع کیږی ... " (دستارنامه - ۴۸مخ) په همدې بحث کې د "لانبوزن" لغت هم کاروي، چې په ورپسې مخ کې ئې د "لامبوزن" په شکل کښلی دئ.(په کابل چاپ کی دواړه د "لامبوزن" په شکل دي)

میرزا خان انصاري وايي:

کم دلیلو د باور اوبازي نه زده
بیا د شک ګرداب هر ګوره دی عمیقه

(۱۲۹- مخ)

***

آهنګر:

په مروجو پښتو قاموسو کي (آهنګر) ته د (پښ) معنا ليکله سوې ده. خوشحال خان د آهنګر لغت راوړی. زه د ده په کلام کي د "پښ" پر لغت نه يم پيښ سوی خو د اشرف خان هجري په ديوان کي پښ د "پهش" په بڼه راغلی دئ.

لکه اور د پهش له دمه زياده شي
هـغه زړه چي مبتلاوي په دلبرو

(۵۰۵ - مخ)

خوشحال خان ليکي: "په دا شان هنر د آهن ګر چه توره، نيزه، چاړه، زغره چه آلات د محاربات دي، تعلق په ديو لري" (دستارنامه - ۱۴مخ، دغه راز ۳۰، ۳۱ مخونه).

په کندهاری لهجه کي آهنګر(اييڼګر) او (پښ) يو څه توپير سره لري. پښ زياتره د اسانو نالونه او دې ته ورته شيان جوړوي خو آهنګر چړې، ارې، د تاکبيرۍ ارې، د پسو د سکوستلو وسايل، قلفان او نور جوړوي. په کليوالي ژوندانه کښې پښ دغه ټول کارونه کوي.

خوشحال هم د آهنګرۍ په هنر کي همدا شيان شامل ګڼي.

رحمان هم د "آهنګر" کلمه کاروي:

یا تـــــنور دی یا دوکان د آهــــــــنګرو
چي په عشق کښي تصور کړم خپل قلوب
(۲۴-مخ)

عبدالقادر خان وايي:

همنشين دي نغمه نه مومي بې زيانه
په بد فعل بدخصلت دکان د پښ ئي
(۳۵۹ - مخ)

آهنګر ته په کندهار کي ګګر هم ويل کېږي. "سل د زرګر يو د ګګر" چي مراد ئې سوټک دئ. يعني د زرګر سل سوټکه (چکوښه) د آهنګر له يوه سوټک سره برابر دي.

***

اَدوم:

دا لغت د خوشحال خان په کلام کي داسي لولو:

څه به هر يوه ته حال وايي خوشحاله
د ليـــــــمو په حال خـبر کله ادوم دئ
(۳۴۸-مخ)

اَدوم کلمه د کندهار په لهجه کي ژوندۍ کلمه ده او معمولاً د حيوان (څاروي) د پښې هغې برخي ته ويل کېږي، چي تر زنګانه پورته ده او په پارسي ئې (ران) بولي. د انسان د پښې دې برخي ته (ورون)

وايي*. د ادوم لغت کله کله د انسان له پاره هم کارېږي. د کندهار په لهجه کي د انسان د پښي ېبلابېلي برخي له ګوتو څخه لوړي دا نومونه لري:

- د پښې په خپړ (خپړه) کي: ګوتي، تله، پونده، بجلکه، د پښې بند.

- د پښې تر بند پورته: پونډۍ (پړکی)، زنګون، ورون، ښنګښر، غبانده. پونډۍ د کښته لېنګي لاندي خوا ده، او پړکی ئې باندي خوا ده(پالوال).

د پښتو په نورو لهجوکي آدوم ته (پتون) وايي. لکه د ادوم مغيره شکل چي(آدامه) دئ دغه راز د (پتون) مغيره شکل(پتانه) دئ.

حميد وايي:

چي شبنم غوندي شبګير واخيست په سر ما
کېښود سـر په پـتانه د سمنبر ما
(کليات–۸ مخ)

ما يو وخت خپل د پوهنځي استاد جاج صاحب ته خپل يو شعر ولووست:

صوفي مـوږ منعه کولو د ښايسته وو له ديدنه
منافق ته چي ښه ځير سوم سر ئې پروت وو پر ورانه

* ورون ئې سربېرنه برخه يا خوا ده، او ادوم ئې لاندنۍ برخه يا خوا ده. د بدن و بېلابېلو غړو ته اندامونه(اندام) ويل کېږي(ع. پالوال).

استاد راته وويل چي د (ورانه) پر ځای (په پتانه) ورواچوه. زما خيال سو، چي د دوی په لهجه کي دغه کلمه عامه نه وه.
په انګرېزي ژبه د چرګانو ادوم ته (drum stick) وايي يعني د ډول لرګی. د کندهار په لهجه کي له اوسپني څخه جوړي سوي دغه راز وسلې ته (خوردوم - خُردم) وايي.
خوشحال د ادم خېلو اپريديو د توصيف په ترځ کي د "پنډۍ" لغت داسي راوړی دئ:

په وجــــود کي لکه ها له وينبتو خلاصي
پښې کمکی، غونډې پنډۍ پهن سريني
(۴۶۰ - مخ)

***

اركه:
خوشحال خان د كاله (كالا) پانۍ د هبليو په بيان كي د "اركه" لغت راوړی دئ.

په اركه وو مـــــالامال دي
سونا هم پكي خال خال دي
(فراقنامه - ۴۷مخ)

د (اركه) په نامه مرغه ماته نه دئ رامعلوم او نه مي په مروجو قاموسونو كي موندلی دئ او د خوشحال فرهنګ چي د معاون سرمحقق محمد اسمعيل سره بن په قلم په ۱۳۶۵ كال په كابل كي

خپور سوی دئ، د نومونو په برخه کي ئې راوړی دئ او ورته کښلي ئې دي: "یو کوچنی مرغۍ ده چي د باز په واسطه ښکار کیږي". په دې قاموس کي لکه نورو نومونو ته چي لاتیني نوم هم کښل سوی وي، د دغه نامه لاتیني معادل نسته، ځکه ئې سمه څېړنه راته میسره نه ده.

په کندهار کي هغو کوترو ته، چي په هوا کي بازۍ نه کوي او تر لوټې (ملاقي) کوترو غټې هم دي، (ارغه) کوتري وايي. ارغه کښېنته الووزي، او له کوره څخه لیري واټن ځي. لوټې د کور پر شاؤخوا لوړې الووزي. رنګونه ئې ځله ببل دي.

***

ارهټ:

ارهټ، ارهټ هغه کوهي (څاه*) ته ویل کیږي چي د لویو مځکو د اوبولو (خړوبولو) په نیامت کیندل سوی وي. دغه راز کوهي ته اوس (باوړی) وايي**. دا کلمه پاکستان ته د افغانانو د وروستي مهاجرت په دوران کي د کندهار لهجې ته راغلې ده. پخوا دا کلمه د ډیورنډ تر پولې ها خوا ته ماوربدلې وه. باید ووایم چي د کندهار په عامه محاوره کي دا کلمه د (ارهټ) په شکل ویله کیږي. د کندهاریو شاعرانو په دېوانو کي چی د (ارهټ) په شکل ثبت ده، غالباً به د

* په کندهار کښي څاه بلل کیږي او جمع ئې څئان ده (ع. پالوال).
** ارهټ ژور وي او لوی وي. باوړی ئې د اوبو کښلو اووښتونئ تخنګي دئ چي د لوښو ماشین ئې په بودګانو سره څرخوي (ع. پالوال).

کلاسیک ادب د خطي دېوانو همدا راز ثبت اغېزه پکښې کړې وي.
میرزا خان وايي:

د وحدت په ځان لــه ځان ســـره بازي ده
د کثرت نوم ئې ارهټ کړ یا ګرداب شو

(۹۷- مخ)

میرزا حنان بارکزی وایي:

ماتول او سازول د فلک کار دئ
زنده سر واړه منـــګي دي ارهټ

(۵۰ - مخ)

شمس الدین کاکړ وايي:

کښت د عمر مي سیراب په باران نه شو
اوبوم ئې د ســرو ســــــترګو په ارهټ

(۴۲مخ)

***

استوګنه:

استوګنه د (اوسېدلو) په معنا لرغوني کلمه ده. دا کلمه په پخوانیو متونو کې د "استوګه" په شکل راغلې ده. د کندهار په لهجه کې هم پخوا "استوګه" رواج وه خو اوس ئې پر ځای "استوګنه" ویله کېږي.

اشرف خان هجري ویلي دي:

په ادب پـه نېکۍ مټ کوه خـــټکه !
د استوگې ځای دلې نشته سفر دی
(۱۹۲ - مخ)

بل ځای ئې بیا د استوگنې په شکل راوړی خو هلته بیا کاتب په (ږ) کښلی دئ.

رُخ دې نه دی مانې مه شکوه فلک ته
د استوږنې مکان ستا نس د ټُراب دی
(۵۲۵ - مخ)

د رحمان بابا په دېوان کې هم "استوږنه " چې د "استوگنه" ناسمه لیکنه ده، زیاته راغلې ده.

په تـــوده زمکه استوږنه ده مشکله
څه به زیست شي له رحمان سره د چا
(۱۳۲ - مخ)

په ۱۹۱مخ کې ئې بیا په (گ) کښلې ده.

نېه استوگنه د دوه ورونو سره نه شي
بلـــــــکه اخـــلې یو تر بله آزارونه

مرحوم قلندر مومند په پټه خزانه کې د استوگنې کلمه د دغه کتاب د جعلیت یو دلیل بولې چې نور پوهان ورسره موافق نه دي. استوگنه لغت د پټې خزانې تر کښلو پخوا په پښتو ادب کې مروج وو.

***

الابلا:

هر څه ته لاس اچول، حلالي و مرداري سره ګډول، ...

په ظفراللغات کي ئې د دې ويي معنا داسي کښلې ده: "بيکاره او بې ښې څيزونه، ګډ ګا ډېره څيزونه، ...، درد ، رنج، مصيبت"

د کندهار ښځمني وايي: "الابلا به وکم، زوی و لوربه په ماره کم، د مولا جواب به څه کم".

خوشحال خان ويلي دي:

که مثال ئې په دنيا غواړې له مانه

چې الابلا پکې وي هـــغه ډنډ دی

(۳۳۸ - مخ)

يا:

هـره ورځ د دې فاني دنيا دپاره

زرفتني، الابلا ، دغادغل کړې

(۴۴۴- مخ)

پارسي ژبي هغه وخت چي غواړي د يوه کار له ذمه واری او مسئوليت څخه ځان وکاږي نو وايي " الابلا ، بگردن ملا "*.

***

اليته:

---

* د دغه ترکيب "الا " ښايي "الله" وي، مثبت، او "بلا " ئې منفي ده. ملا لا هم ورکښې ايستل سوئ دئ (ع. پالوال).

د سر له خوا د څلورو تورو په زوَر (فتحه) تلفظ کېږي او فشار ئې پر وروستۍ څپه دئ. سراسیمه هلي ځغلي کول.

دا لغت د کندهار په لهجه کي د (وارخطا ، سرګردانه) په معنا ژوندی دئ او په ورځنۍ محاوره کي زیات کارېږي. ظفراللغات ئې هم دي ته ورته معناوي کښلي دي. په کلاسیک ادب کي ځای ځای د عربیت تر اغېزي لاندي "الفته" ليکل سوی وي.

خوشحال خان ویلي دي:

ښه خو دا چي ئې برقع په مخ پرته ده
او که نه پري به وګـــړي الفته شي

(۳۷۱- مخ)

یا:

که د مخ ښایست ئې دا دی چي لیده شي
لا به ما غـــــوندي پري ډېر الفته کیږي

(۳۷۳ - مخ)

په دستارنامه کي هم "الفته" راغلي ده.

"لږ چه تازه دم وی، بهتر تر هغوډېرو چه ستړی آلفته وی" (۹۵ - مخ). اشرف خان هجري وايي:

الفته قیس ئې هسې رنګ جـدا کا
چه د تور قفس بندی غـم د لیلا کا

(۴ - مخ)

په وړاندنيو بيتونو کښي د الوۍ سوي، کباب سوي مانا سمه ورسره لګېږي. تلفظ ئې هم بېل دئ–لام ئې پېښن اخلي.

✷✷✷

انا:

په کندهار کي د مور يا پلار مور ته (انا) وايي. په ختيځه لهجه کي ئې (نيا) بولي.

حميد مومند ويلي دي:

چې، انا ! په فلاني کلي کي مقامه
يــوه جن ده ګل اندامـــــه وفا نامه

(کليات–۵۰۹ مخ)

✷✷✷

اوتاک:

د اوتاک لغت په کلاسيک ادب کي هغه راز راغلی دئ لکه په لوېديځه لهجه کي چي کارېږي. اوتاک د کندهار په لهجه کي تر "خوني، اطاق " پراخه معنا لري. پخوا به په لوی اختر کي خلک د شاه اغا مېلې ته وتل. د هري ډلي اوتاک به معلوم وو. د شالمار په مېلو کي به هم د هر کلي اوتاکونه جلا ول. په اوتاک کي به ئې يوه برخه د اشپزۍ له پاره وه، نغري به ئې پکښي جوړ کړي ول، بله برخه به د ناستي ځای وو، کمبلي به پکښي اواري وې او بستري به شاوخوا پرتې وې. د شپې د خوب له پاره ئې هم له دغه ځايه کار اخيست. د

لمانځه له پاره به ئې بله برخه ټاکلې وه. دې ټولو ته ئې په مجموع کې اوتاک وایه. د روسانو د اشغال پر وخت د کندهار په ماله جات او ارغنداو او نورو سیمو کې د مجاهدینو اوتاکونه ول.

په پښتو کلاسیک ادب کې د اوتاک لغت زیات راغلی دئ. په دستارنامه کې "اسباب معیشت" تر عنوان لاندې داسې لولو:

"بل اوتاک یعنې د استوګنې ځای "(۱۴۵- مخ):

په فراقنامه کې وایې:

اوس ئې رخ د مـــــلنګۍ او د دوهۍ دی
د خوشحال چې سرای اوتاک و واړه تبر شه
(۷- مخ)

بل ځای:

هـــغه ملـــک واړه اوتاک دی
چې پکې کښلی بختناک[1] دی
(۳۸- مخ)

د میرزا حنان بارکزي په دیوان کې اوتاک کلمه په قاف لیکل سوې ده خو مراد ئې (خونه، کوټه، اطاق) نه دئ، بلکې مطلب ئې هغه راز اوتاک دئ چې کلاسیکو شاعرانو پخپلو اشعارو کې راوړی دئ. دی وایې:

لکه ځغلې لېونی سپی لـــه اوتاقه

[1] بختناک د خوشحال خان زوی وو.

هسي ورک شوه رقيبان د شکرلب

(۴۴-مخ)

پوهاند زيار صاحب چي د اوتاک کلمه د عربي (اطاق) ګڼلې ده (د خوشال ادبي پښتو - ۳۲مخ) د تأمل وړ خبره ده. د پښتو (اوتاک) غالباً له تورکي ژبي څخه راغلی دخيل لغت دئ. په تورکي کي "اتاق" د خوني او خېمې په معنا کارېږي او وايي چي کله کله ئې د "اتاغ" په شکل هم تلفظ کوي (وګ: غياث اللغات). زما خيال دئ ته چي د عربي "اطاق" به هم د تورکي "اتاق" معرب شکل وي ځکه په قرآن کي د "اطاق" کلمه نه ده راغلې (وګ: معجم الفهرس- د الف رديف. هورې تاسي د "اطاق" کلمه نه مومی).

دوکتور هاشميان صاحب "اتاق" دري ژبي ته له ترکي څخه راغلې کلمه بولي (وګ: آئينه افغانستان، شماره مسلسل: ۱۱۸ - صفحه ۳۳).

* * *

اوستری:

آخري، وروستی.

قاموسو هم په همدې معنا ثبت کړی دئ. مذکر حالت ئې (اوستری) دئ لکه: اوستری ديدن

دا لغت په کندهار کي په همدې شکل ژوندی کلمه ده. يو متل دئ چي وايي "اوستری ورځ نامرده ده". "اوستری خور" = جمادی

الآخر.

حمید مومند ویلي دي:

راشه که هوا د اوستري دید لرې بې رحمه
مـــړ ستا د دیدنئې سره کفن کې ونغاړه
(کلیات - ۲۲۳مخ)

***

ایځي:

په ظفراللغات کې دې لغت ته کښلي دي: "په ټکو ویل، مجازاً یوه خبره ښه یادول " او په مثال کې د خوشحال خان همدا بیت چې ما هم راا خیستی دئ، راوړی دئ.

د کندهار په لهجه کې کوچنیانو ته د "قاعده بغدادي" د تدریسولو په وخت کې د کلمو د حرکاتو له مخې د هغو د تلفظ زده کولو یوې طریقې ته (ایزګی) ویله کېږي. د مثال په توګه د "معلم" کلمې تلفظ داسي ورته ښوول کېږي "میمه عین زرمع، لامه میم زیرلیم، معلم" دا طریقه د تلفظ زده کولو یوه پخوانۍ اوږده تخنیکي قاعده وه چې اوس لا هم د کورني تعلیم په نصاب کې شامله ده.

د خوشحال خان په کلام کې دې عمل ته "ایځي" ویل سوی دئ. (ایځي) او (ایزګي) سره ورته لغتونه دي*.

---

* دغه ایځي به ښایي له هیجایي څخه اخسته سوئ وي (ع. پالوال).

خوشحال وايي:

هغه کـــــوم سبق د ناز او د نياز دی

چې وما ئې په ايځي نه دی راکـړی

(۳۵۲- مخ)

دغه راز لوست ته "په زوَر و زېر ويل" اصطلاح هم په کندهار کي ستته.

✶✶✶

ايداد:

(ايداد) په لوېديځه لهجه کي د (سرزنش، سزا، ترټل) په معناعام لغت دئ. علامه رشاد ◗ د امير شېرعليخان او سردار محمدامين خان د مخالفت په برخه کي د امير له خولې ليکلي دي: "... سردار محمدامين ته ووايه زما ستا سپکاوی نه دئ هېر ... که زه په بري کابل ته راستون سوم، ايداد به درکړم (د کندهار يادابښتونه - ۱۸۲مخ).

ډاکټر پالوال صاحب يو ځای کښلي دي: "ځنګه چي ساګزو له انګليسانو سره په جنګ کښېي د سرغنه محمدايوب ملاتړ وکړ، نو تر بري وروسته، امير عبدالرحمان خان، چي په کندهار کښېي په تور امير سره شهرت لري، ډېری ساکزيان ئې په ايداد کښېي له هلمند ناوې څخه د افغانستان و شمال ته فرار کړل" (معياري پښتو - ۴۴مخ).

د کندهار ښځمني يوه وراشه لري: "مور و پلار مي وکړه

ازارونه، ما خواري تې راکړه ایدادونه ".

د خوشحال په شعر کي دا لغت ځو واره راغلی دئ خو کاتبانو او ناسخانو ئې په لیکنه کي ځو شکله (هداد ، اهداد ، احداد) ثبت کړي دي.

تل ګریوان په اوښکو لوند ، ساړه آهونه
چې خوشحال مین کېده دا ئې هداد دئ
(۳۵۲- مخ)

په حاشیه کې کښلي دي: "په دریمه کې (ایداد) په ارمغان، کلیاتو او دوهمه کې (احداد) دی".

یا بل ځای له پښتنو ښځه د سر ټکولو په وخت کي وایي:

اول زه، دا نـــورد پـــسه
ځو شته واړه د احداد دي
(۳۵۹ - مخ)

دې ځای ته مرتب هیڅ راز حاشیه نه ده ورکړې او داسي ښکاري، چې د چاپي متونو ترتیبوونکي د دې کلمې په معنا کي مردود (شکمن) ول ځکه ئې همداسې پرې ایښی دئ. کاتبانو او ناسخانو د ایداد پر کلمه باندې د عربي "احداد " خیال کړی دئ. د عربي احداد د عبدالقادر خان ختک د دیوان (د ۱۳۲۸ش کال چاپ) په لغتنامه کي په "په جرم حد لګول، سزا ورکول، تعزیر " معنا سوی دئ. دا معنا خو له ایداد سره هم نژدېکت لري خو د پښتو ایداد مستقل او په پښتو کي مروج لغت دئ او د عمومي عادت له مخي به عربي ګڼل سوی وي.

خو د دې خبرې یادونه به هم په زړه پورې وي چې په قاموسو کې د (احداد) لغت په دغه معنا ثبت سوی نه دئ. په لغتنامه دهخدا کې د (احداد) لغت ته داسې لیکل سوي دي: "... سوگ داشتن زن بشوهر، ... باز ایستادن زن از زینت. جامه سوگ پوشیدن، ... تیز کردن کارد و امثال آن بسنگ وسوهان". یا:

ســـــــاقي نن د سرشاریه شـــراب راکړه
محتسب چې حاضر نه دی، څه احداد شي
(۴۱۸ - مخ)

دلته بیا فکر کوم له (ایداد) څخه (احداد) جوړ سوی دئ.

یا:

چې بل مـــخ وته نظر کړم دهداد شم
تورې زلفې ئې دورې دي اویزاندي
(۴۲۹- مخ)

(هداد) د (ایداد) مسخه سوی شکل دئ. په حاشیه کې ئې ورته کښلي دي "په لومړۍ کې (احداد) او په دوهمه او دریمه کې (اهداد) دی". یا:

په گل چه هومره مینه بلبل کا
سیل د بلبلـــو باندې غلغل کا
د ښایسته ؤعـــاشقان ډېر دي
عالم به ولی احـــداد د گل کا
(د خوشحال رباعیات - ۲مخ)

د رحمان بابا په دیوان کې هم د "اهداد" په شکل ثبت دئ.

هر اهداد چه راکاوه شي ستا په مينه
په ليمه ځــــما قبول هغه اهداد دی
(۲۴۱ مخ او دغه راز ۲۵۹مخ)

هجري ويلي دي:

په ټګۍ مي ئې زړه يووړ اوس مي سر وړي
چي دې مست مي ورکاوه دا لوی هداددی
(۱۹۹- مخ)

عبدالقادرخان وايي:

نور چي بوس و کنار کا عيب ئې نه وي
زه چي تش کاته کــــوم زما اهـداد شي
(۲۹۲- مخ)

په حاشيه کي ئې ورته کښلي دي: "ک: (هيداد)، (پ،آ): احداد ".

حميد مومند وايي:

چي په ما دي هم له ما دي
پري ناحق د بل ايداد کړم
(کليات - ۱۴۴مخ)

يا:

چي مي کړی خود کــــرده په ځان فساد دی
هر چي شوَمه بنه چي شوم دا مي اهداد دی
(۴۳۲- مخ)

کامگار ختک وايي:

وابه نه ورېږم د دابرو لـــــــه جــواره
خپل پردي که همګي زما اهدادکه

(۱۱۳- مخ)

په دې باب نور مثالونه هم سته. "احداد، اهداد، هداد، هيداد " ټول د "ايداد " مختلفي املاوي دي.

دا لغت د راحت زاخيلي په لغات افغاني او د وزير محمدګل خان په پښتو سيندکي نسته او له دې څخه څوک ويلای سي، چي په ختيځو لهجو کي ئې رواج عام نه وو. ظفراللغات بيا اخيستی دئ او زما يقين دئ چي د هغه ماخذ به هم کلاسيک متون وي نه عامه محاوره.

***

ايسېدل:

د کندهار په لهجه کي د (ښکاره کېدل، معلومېدل) پر ځای د (ايسېدل) کلمه زياته باب ده. خو په "ښه مي نه ايسي" عبارت کي ئې معنا دا ده چي "ښه مي نه درڅه راځي"، "بد مي په نظر راځي". دا کلمه په کلاسيک ادب کي سته خو اوس ئې د استعمال هڅه کمه سوې ده.

حميد مومند ويلي دي:

هر خاکسار چي خاکساري نه کا ښه نه کا

هر څوک ښه ایسي په خپل رسم و رواج

(کلیات - ۵۳مخ)

بل ځای وايي:

لکه شوم چې په خوړونکي سپې نازېږي

هسې ښــــه ایسي د ترکو رقیبان شوخ

(۲۰- مخ)

میرزاخان انصاري وايي:

مینه نــه شي بې دیدنه

دیدن ښه ایسي په مینه

(۱۹۰- مخ)

مولوي بریالی وايي:

زوی چې دم د بې لارۍ په ځان کې پوکئ

نـور زیاتي ورته بد ایسي د خپل پلار مخ

ما چې دم د شــوخو سترګو پر ځان پوکئ

ته وا څه به مي ښــــه ایسي د بل کار مخ

(اهاړ - ۲۲مخ)

***

بارخو:

په لوېديځه لهجه کي (باړخو) د (رخسار) له پاره کارېږي. د پښتو په نورو لهجو کي ورته (اننگي) وايي. خوشحال خان ختېک خال خال (اننگي) لغت کاروي خو د (بارخو) کلمې د استعمال پله ئي درنه ده. خوشحال خان پخپله جوړه کړې الفبې کي د (ړ) توري له پاره پر (ر) باندي همزه ږدي. ما ته دا فکر رالوېږي چي په "باړخو" کي به کاتبانو دغي همزې ته سمه پاملرنه نه وي کړې. خو دا صرف يو حدس دئ. دا ځو ځايه به په ګډه سره ولولو:

گل د لاله ښه دی، راته وايه که بارخو ئې؟
ســـــتا زيبا بارخو به له گياه کړم برابر؟

(۷۰-مخ)

يا:

په بارخو دې مار حلقه شو که صهبا مې
ستا د تورو زلفو خولې وته سر مات کړ

(۷۲- مخ)

د خوشحال رباعيات (د پښتو ټولني چاپ) کي ئې "باړخو " کښلی دئ.

باړخـــو ئې نه دی گل د گلاب دی
زلفې ئې طـعـن د مشک ناب دی
راشه که دواړه شونډې ئې گورې
چي پرې مستيږی هغه شراب دی

(رباعيات - ۱۲۳مخ)

د خوشحال خان او رحمان بابا په دېوانو کي ځای ځای د (بارخو) پر ځای (اننګي) ورلوېدلی دئ چي ښاغلي پالوال صاحب ئې تفصيلي يادونه او هغه ورانی بيان کړی دئ، چي د دغي لاسوهني له اسيته د رحمان په شعرکي پېښې سوی دئ. (وګ: معياري پښتو - ۲۳۳مخ)

***

برايي- برايه، تېره شپه:

دا لغت په لوېديځه لهجه کي ډېر عام دئ او په ختيځه لهجه کي ئې پر ځای "بېګاه" ويل کېږي. په کلاسيک ادب کي ئې مثالونه ډېر موندل کېږي. اشرف خان وايي:

د دوو سترګو کسي غوارېم مونده نشي
شـــــايد يوړه برايه دغه ســـيلاب ستا

(۲۷۷- مخ)

بل ځای:

برايه غـــمان؟راغلی د هجـران وو
د لښکرو حد ئې نه وه بې پايان وو

(۴۲۲- مخ)

عبدالقادر خان ويلي دي:

برايه مي اشنا وليده په خـــوب کي
په ژړا مي کـــړ په اوښکو بستر تر

(۵۲ - مخ)

حميد مومند وايي:

لا يو ښکلی گل اندام چې شاهد نام و
برابې زمـــــونږ په کلي کي مــقام و

(کليات - ۴۹۲مخ)

***

برقه، برقع:

(د ښاري پښتنو ښځمني ئې د حجاب په خاطر پر سرکوي. دا کلمه او جامه پښتنو ته له بلي خوا راغلې ده. مغولي - ترکي کلمات ئې ټول فارسي دي، لکه: کله گی، چشمکي، تا ، چين، دولاق،...

په فراقنامه کي لولو:

ښه خو دا چی ئې برقع پر مخ پرته وي
او کنه پرې بـــــه وگړي الفــته شي

(۱۵- مخ)

هجري ويلي دي:

دبدبه د نمر باطلـــه هغه دم شی
چه سرگنده تر برقي د مخ ضيا کا

(۱۰- مخ)

***

برمند: لخ، لوخ

خوشحال خان ویلي دی:

هـــــــــومره بلا دي و تا ته پنډې
چې شـــــــمار ئې نشته پټې برمـنډې
گوره په کـــــــــومه بلا به سـر شي
چې پکښې ته گرځې په منډې منډې

(ارمغان - ۱۲۷مخ)

عبدالقادر خان وایي:

پښې برمنډې سر برمنډ گریوان پاره وی
په طلب ئې په مــــــــلکـــونو آواره وی

(۲۵۲- مخ)

د کندهار په لهجه کي "برمنډ " رواج لري. مولوي صالح محمد هوتک وایي:

مخ پر سره اور ورځه
لکه خونخـور ورځه
د جنگ پر لور ورځه
برمنډ سرتور ورځه

(پاشلي ویناوي - ۷۹مخ)

مولوي بریالی وایي:

کي کاکل د کفر توره کــــــــړه برمنډه
د صنعان به صحیح دین کړي ورغلط

(اهاړ - ۲۰مخ)

کي = که ئې. (برمنډ) په نورو لهجو کي "بربنډ " دئ.

حمید وایي:

هیڅ له شرمه راته مه وایه ناصحه
د بربنډ له اوبـــو څه اند ښنه باک
(کلیات - ۱۲۶مخ)

***

برند ، برنده*:

د لومړي توري په سکون او د دوهم په زور(فتحه) ،
دا لغت په کندهار کي د صفت په شکل کارېږي. که له (څوانۍ)
سره راسي نو (برنده څواني) د خوانۍ اول ټاپی، د څوانۍ د مستۍ
شپې و ورځې معنا ورکوي. که له سترګو سره راسي نو بیا (برندي
سترګي) د شوخو سترګو معنا ورکوي. دا لغت قاموسو اخیستی دئ
او همدغه شاني معناوي ئې ورته کښلي دي. په کلاسیک ادب کي ئې
هم په همدي معنا موندلای سو. هلته چي کله له "کښېښستل" سره یو
ځای کار سي نو "برند کښېښستل" د مغرور کښېښستلو معنا ښندي.
دغه راز کښېښستلو ته په کندهار کي "په اډه مار کښېښستل" وایي.
اډه مار د (په ځان مغرور) معنا لري.

خوشحال خان په دستارنامه (۱۱مخ) کي ویلي دي: "څوک چه دستار
تړي - د دستار په حقیقت ِد وپوهیږي - د دستار حق ِد وپیژني - قابلیت او
لایقت ِد ئې حاصل کا - که قابلیت او لائقت ئې حاصل نه کا - دستار په سرکا

* برند: د رند غوندي برګ – برګ کتل، رند (ع. پالوال).

–برند کښیني –دا هسې دستار، دستار باله نه شي ".

برنده:

خوشحال خان وايي:

چې سترګې په رنجو کړې، برنده کښيني خورې زلفې
چې غټې به درته ګــــوري يو يو مرد بـــــويه بللی
(۳۲۲- مخ)

په سواتنامه کې لولو:

نوم په ځان باندې کیږده د عـــالمانو
په دا هسې علم برند کښېني ملا شي
(۳۴- مخ)

يا:

د خوشحال غوندې به مست ګــرځي په ميو
چې هوا د برندو سترګـــــو د چا ستا وي
(۴۰۹- مخ)

هجري ويلي دي:

يوه سترګه يَم د ګنګ بله جــــمنا کړم
چه رايادې برندې سترګې د اشنا کړم
(۸۴ - مخ)

رحمان بابا وايي:

وبه نه وينې د ترکــــو برندې ســـترګې

مگر ځان په خپلو وينو کشي سالو کړي

(۴۹- مخ)

د کندهار مولوي بريالي صاحب ويلي دي:

يا مي خيال د برندو سترگو سو په زړه کي

يا په برخه د بډای ســـــــو د دولت رنځ

(اهاړ -۳۰مخ)

په ظفراللغات کي ئې د "غصه ناک، سپين سترگي او بې حيا" معناوي هم ورته کښلي دي. د دې معناوو مصداق ما نه په کلاسيک ادب کي موندلی دئ او نه مي پخپله لهجه کي. تر کومه ځايه چي ما څېړنه کړې ده. (برند، برنده) دواړه په مثبتو صفتو کي راځي.

***

بدلي، سندري (غزلي، تراني):

مفرد ئې (بدله) ده. دا لغت په لوېديځ گړدود کي د (غزل) له پاره زيات کارېږي. نوی نسل اوس د (سندري) ويی هم کاروي خو په عامه محاوره، په تېره بيا د ښځمنو په خبرواترو کي (بدلي) لغت ډېر کارېږي. په ختيځ گړدود کي د (بدله) جمع په اوږده (ې) سره ليکي.

خوشحال خان وايي:

هومــره بدلي هــــــومره سـندري

تـــــمامي نه شوې د عشق خـبري

فهم مي وکړ د عشق په کار کښې

لـــــرې نژدې دی نژدې دی لـرې
(رباعيات-۲۸۰ مخ)

په دستارنامه کي د "ازدواج د معاشرت " په برخه کي راغلي دي:

"چي ميره ئې غائب وي... سندرې بدلې دا دي نه وايي - حزن دلګيري دې پرې غالب وي " (۱۲۲-مخ).

د سيد راحت الله راحت زاخيلي په لغات افغاني، د وزير محمدګل خان مومند په پښتو سيند او د ميا بهادرشاه ظفر کاکاخېل په ظفراللغات کي د دې لغت نسته والی پر دې خبره باندي دليل کېدلای سي، چي په ختيځو لهجو کي دا لغت دونه عام نه دئ چي قاموسو ته دې لار موندلې وي خو د خوشحال خان په ژبه کي دا لغت موجود وو.

***

بوده:

د بار وړونکي حيوان (خره، آس) په معنا په لوېديځه لهجه کي ژوندۍ کلمه ده. خوشحال خان ئې هم راوړي:

په هر نام چي دي رضـا هغه مي بوله
آدم زاد ، فرښته، پري، بوده، ليوه يم
(۱۲۵-مخ)

***

بيهاڼ:

د کندهار په لهجه کي بيهاڼ د آس بچی ته وايي. په نورو لهجو کي ئې د (بياڼ) په شکل تلفظ کوي. ښځينه جنس ته ئې (بيانه) وايي.

خوشحال وايي:

بيهاڼ د اســـــپو کله يکـــــسان دي
ځيني ټټـــــوان دی ځيني اســـان دي
ځيني د بار دی د زيست روزګار دي
ځيني د تـــــورې د برګســـتوان دي

(رباعيات - ۱۵۲مخ)

مولوي بريالی وايي:

د رقيب په خوشګويي به غلط نه سم
پای بسته وي پــــه اول مـزله بيهاڼ

(اهاړ - ۹۰مخ)

***

پدل:

محجوبيت، حيا ، سام.

په لس زره پښتو لغتونه کي ئې د دې لغت معنا "اثر" کښلی دئ. لغات افغاني نه دئ ثبت کړی. پښتو سيند په "تاثير" سره معنا کړی دئ او ظفراللغات ئې "شعور، بې عقل، اثر" معناوي بللي دي. پدل ماتېدل ئې په "بې اثر کول" سره معنا کړی دئ. د خوشحال خان خټک

کليات (نوی چاپ) په وييپانگه کي ئې "گټه، فايده، مثبت اغېز، ښېگڼه" معناوی ورته کښلي دي.

دا لغت د کندهار په لهجه کي ډېر عام دئ خو کومي معناوي چي قاموسو کښلي دي، د کندهار د لهجې له استعمال سره ډېري نږدې نه دي. په کندهاری لهجه کي (له يو چا سره پدل ماتېدل) دا معنا لري چي له هغه سره اوس په خلاصه خوله، بې له کوم مانع او خنډه او بې له کومي ملاحظې راشه درشه، خبري اتري کېدلای سي. د مثال په توگه يو څوک د يو چا مجلس ته د شرم او حيا يا کوم بل دليل له اسيته ورتللای نه سي. يو بل څوک ئې له ځانه سره د غه مجلس ته بيايي. تر دې وروسته نو د ده پدل مات سو او نور نو په پوره زړه نوموړي مجلس ته ورتللای سي.

خوشحال خان ختک دا لغت کار کړی دئ خو په معنا کي ئې زه شکمن يم. نه هغه معنا پکښې موندلای سم چي قاموسو راوړې ده او نه هغه مطلب ځني اخيستلای سم چي زما پخپله لهجه کي ځني اخيستل کېږي. گويا دا لغت په "حل طلب" لغاتو کي راځي.

خوشحال خان وايي:

نه ئې قـدر شــــته نه پدل

ډير ترمور او تر جراد دي*

(۳۵۹- مخ)

---

* تر مېږيانو او تر مچانو ډېر دي (ع. پالوال).

دا بیت په ټولو چاپو "مرغلري"، "ارمغان" او "د خوشحال خان خټک کلیات" کي په همدې شکل ثبت دئ او د هغي غزلي د پای له خوا دوهم بیت دئ چي د پښتانه په ذم کي ویلې سوې ده او مطلع ئې ده:

پښـــــتانه که آدم زاد دي
په خویونو کښي هناد دي

په نوموړي بیت کي "ترمور" کلمه ما ته "ترهور، ترور" ایسي او چاپي متونو دا کلمه سمه ثبت کړې نه ده. ځکه اول خو د (ترمور) لغت هیڅ معنا نه لري او هیڅ قاموس هم دا لغت نه دئ راوړی. دوهم دا چي په نیم بیتي کي "ترمور، اوتر، جراد" پرله پسې راغلي دي او مترادف لغتونه باید وي. (ترهور، ترور) وارخطا ته وایي، (اوتر) هم وارخطا، سراسیمه ته ویل کېږي او (جراد) د بې پروا، زړه ور ته وایي. دا معناوي له بیت سره لګېږي هم.

په ارمغان خوشحال (۳۹ مخ) کي راغلي دي:

د ناقصي پوهي پدل په کار نه دی
د دانا فکـــــــــر خطر لري خطیر

***

پسور:

د (عرض، بر) په معنا په کلاسیک ادب او لوېدیځه لهجه کي کارېږي. په ختیځو لهجو کي له (پسور) او (سپور) دواړو څخه (پ)

ایستل سوې ده خو په لوېدیځه لهجه کې بیا دا دواړه لغته له (پ) سره تلفظ کېږي. په کلاسیک ادب کي هم له (پ) سره یو ځای راغلی دئ. په ځینو ځایو کي چي (پسور) د (سور) په شکل راغلی دئ، یقین ته په نزدې گمان سره ویل کېدلای سي، چي دا به ئې د شاعر خپل تلفظ نه وي. مثلاً خوشحال خان د (پسور) لغت په مغیره حالت کي (پساره) کاروي.

خبردار ئې په پساره په اوږده نه وي
چې دریاب تر کومه لاړ دی پهن تر
(۵۷- مخ)

دلته که له (پساره) ځخه (پ) وایستل سي، یو بې معنا شی ځني جوړېږي.

د (سپور) ویی هم له (پ) سره یو ځای راوړي.

د جـــهان بلا دې کل وي
خو دې نه شي ویی* سپور
(۲۸- مخ)

***

پل*:

---

* دغه (ویی) د کاتبانو غلطي بولم، دغه به په ډېر احتمال سره "ولي" وي. ای "ولي" به داسي څوک ؤ چي خوشحال به په سپکه سترګه ورته کتل (ع. پالوال).
* ښایي پل به د خپل پخوانی لنډون وي – حق راخپل که! (ع. پالوال)

(د لومړي توري به زوه ره کي) معاف، بخښل.
د کندهار په لهجه کي (پل) په همدې معنا ژوندی او په محاوره کي عام لغت دئ. څوک چي په کوم غټ سفر ځي، دوستانو ته وايي "حق راپل لرئ" يعني که مو حق راباندي پاته وي، راويې بخښئ. دغه راز غوښتني ته "حق پليت" وايي.
(پل) لغت په همدې معنا په نورو لهجو کي نسته. ارواښاد سرمحقق دوست شينواري په "زړه پانګه " کي د دې لغت په باب ليکلي دي: "... (پل - پله = معاف، بخښلی) صفت دی، چی د پښتو په لويديځه (د کندهار) لهجه کی بيخی ژوندی او مروجه لغت دی. خو په ختيځه لهجه کی له استعماله وتلی دی. دغه کلمه نه يوازی دا چی زموږ په لرغونی ادب کی زياته استعماليدله بلکی په آريايی ژبو کی يی ژوره ريښه لرله ... " (زړه پانګه - سريزه - ۴ مخ. نقل قول کټ مټ او د چاپي متن په املاء رانقل سوی دئ. م. هـ).
خوشحال خان ويلي دي:

ما خپل خــون ورته پل کـړی
که زما د مرګ عذاب شته[1]

(۲۹۴- مخ)

ميرزا خان انصاري وايي:

چي په قصد و هسي جنګ وته هوس کړی

[1] د ظفراللغات په مثالو کي دا بيت داسي ثبت دئ: "که زما د خون عذاب شته "

اول خـــپله خـــــونرېزي کـــــړه پله پله

(۱۷۹- مخ)

***

په متېي:

بالآخره، منتها.

د کندهار په لهجه کي دا لغت د (ایله، ایله ببله) په معنا کارېږي.

پوهاند زیار صاحب ئې (په) ځني غورځولی دئ او پر ځای ئې یوازي "متېي "کاروي.

حمید وايي:

په دا رنګ ئې تر ببګاه په هـــزار متېي
وساتلي په ګرېوان کې سرې سکروتې

(۴۸۹- مخ)

مولوي بریالی وايي:

نا امید او ســـه له ښکلو "بریالیه "
دوی په متېي عملي کا اول خپل ناز

(اهار- ۴۸مخ)

***

پوري ووري:

"په یوه خوا ننوتل او تر بلې خواوتل " ته ویل کېږي. په قاموسو کي په "آنطرف واینطرف " ترجمه سوی دئ. په لوېدیځه لهجه کي عام مروج لغت دئ. په کلاسیک ادب کي ئې د استعمال موارد سته.

میرزا خان وايي:

ښايســـته بانه ئې غشی د خدنگ دی
تر دا سختو زړو به ووزي پوري ووري

(دېوان - ۲۲۵مخ)

شمس الدين کاکړ ويلي دي:

د هجران په سيخ سوری شوم پوري ووري
لـــــکه نی لـــــه هـــره بنده جـــدا وايم

(۹۱ - مخ)

***

پوونده*:

په لوېديځه لهجه کي کوچيانو ته (پوونده) هم ويل کېږي.

ميرزا خان انصاري ويلي دي:

ځيني ځـيني پـــوونده شي
ځوک حاصل له تجارت کا

(دېوان - ۲۰مخ، د کابل چاپ - ۱۳۵۴ش)

بل ځای:

پوونده و مزارع ته وکړه سانه[۲]

---

* هغه ځوک چي غيلي او بودګان پيايي، کوچيان راز – راز دي. خو هغوی چي د غيلو رمې لري، پوونده کوچيان وي (ع. پالوال).

[۲] په زړه پانګه کي ئې "سانه" ته (خبره) معنا کښلي ده. په کندهاری لهجه کي "سيانه" هغه چا ته ويل کېږي چي (هوښيار، په خبره پوه) وي.

د زړه ذکر دي پټې شو پوله پانه

(۱۹۳- مخ)

***

پېخر:

د (پېخر) لغت د کندهار په لهجه کې د (ډېر زيات) په معنا کارېږي. قاموسو په همدې معنا ثبت کړی دئ او خوشحال خان ئې هم په همدې معنا راوړی دئ:

په پيخر به د هـــــرچاکره پراته وو (۳)

که دا دُرمي د ړلې غوندي ارزان وای

(۳۳۸ - مخ)

خوشحال خان په سواتنامه کې وايي:

که په سوات کې په پېخر دي وربې ماشي

د منگـــــــوړو، بروړو، ويل په چا شي؟

(۷ - مخ)

***

سيانه: هغه څوک چي تر پراړه لاندي اوبه بيايي! هغه چي ځان ګول اچوي (ع. پالوال).

(۳) په حاشيه کې ئې کښلي دي چي د (پېخر) لغت د چاپي دېوان؟ ترتيبوونکوسم نه دئ لوستلئ او (پخسر) ئې ليکلی او په ارمغان کې ئې (بې خرته) ځني جوړ کړی دئ. د کابل چاپ کليات سم ثبت کړی دئ.

پېزی:

مړاوی، پژمرده (پارسي).

د کندهار په لهجه کي په همدې معنا ژوندۍ کلمه ده. قاموسو هم راوړې ده.

حمید مومند وایي:

له ســـــاده مخه د صبر سبق چا زده
څو پېزی د خط په زېر و په زور نه شي

(کلیات - ۲۹۱مخ)

***

تسپې:

دا لغت د عربي (تسبیح) مفغن شکل دئ. د کندهار په لهجه کي ئې وینګ عام دئ. خوشحال خان ئې هم (تسپې) لیکي (د پېښور چاپ ۴۴۲مخ د پوهاند زیار صاحب د خوشال ادبي پښتو، ۲۴ مخ په حواله).

د عبدالحمید مومند په کلیات او نورو ټولو چاپو کي ئې هم (تسپې) کښلی دئ:

ساده د لـــــوته کمند ړدي د نیولو
چي په لاس توري تسپې کا د آبنوس

(کلیات - ۹۳مخ)

***

تبنتن:

د کندهار په لهجه کي تر ما وړاندي نسل دا کلمه (ثښتن) نه تلفظ کوله بلکي (تبنتن) ئې ویله. په کلاسیک ادب کي هم (تبنتن) تر (ثښتن) زیات کار سوی دئ.

میرزا خان وایي:

چي مــوجود ته ثریا دی له ثرا
د تبنتن له حکمه نه دی ماورا

(۵۷-مخ)

د میرزا په دېوان کي زه یو ځای پر (ثښتن) پېښ سوی یم (۲۱ - مخ) او دا راته د کاتب یا مرتب مداخله ایسي.

***

تلتک:

تلتک ته د پښتو په زیاترو لهجو کي (بړستن، بړستنه) وایي. په کندهار کي (تلتک) ډېر رواج لري. جمع ئې (تلتکان) وایي. خوشحال خان هم تلتک لغت راوړی دئ:

کشکي ځوان د پښتانه په ننگ کښې مړ وای
نه چي گور لـــــــره روان شـــــــو له تلتــــکه

(ارمغان-۲۱مخ)

په متن کي د (وای) پر ځای (وی) او د (تلتک) پر ځای (تولتک) راغلی دئ. چي دغه ئې تحریفات دي.

***

تندی:

تندی د فارسي (پیشاني) په معنا د خوشحال خان په عصر کي معمول لغت وو. دا لغت په لوېدیځه لهجه اوس هم ژوندی او د ورځنۍ محاورې لغت دئ. په نورو لهجو کي د تندي پر ځای تنده او (وچولی) زیات کارېږي.

عبدالقادر خان وايي:

په دا لاري تله په سترګو په تندي شي
ځکه پاتـــــو د ناقص ځني قـدم شو
(۱۴۳- مخ)

بل ځای وايي:

ځو دي زړه هــــومره ستم کوه دلــبره !
په تندي مي قبول کړی ستا ستم دی
(۲۲۸- مخ)

حمید مومند هم (تندی) لغت راوړی دئ:

وابه نه ړَوم نور مــخ له ســـــاده رویو
که د خط اره مي کښېږدي په تندي بیا
(کلیات- ۱۰مخ)

کامګار خټک وايي:

په فراق ئې د خوړ(و) لبو میګونو

دو دســـته تندی وهم لــکه مگس

(دیوان - ۴۵مخ)

بل ځای ئې ویلي دي:

چا چې زېرمه په دنیاد دین ونه کړه

په ارمــان به دودســته تندی وهي

(۱۵۲- مخ)

د کامگار ختېک په دېوان کې یو ځای (وچولی) هم کارسوی دئ:

(چې مې) ښکلې د ښو په غشې ولي

نه کړم وچولی خپل تریو لکه هــدف

(۵۳ - مخ)

د دغه بیت د اړوندي غزلي هر نیم بیتی یوولس هجاوي (څپې) دئ خو که څوک ځیر سي د هماغي اړوندي غزلي په ټولو بیتو کي صرف د همدې یوه بیت وزن ډېر وران سوی دئ او له دې ورانۍ څخه بیا څوک حکم کولای سي چي د دې ورانۍ گوته د کوم بل چا لاسوهني ته نیول کېدای سي. زه حدس وهم چي د دې بیت اصلي بڼه به داسي وه:

"نه به کړم تندی خپل تریو لکه هدف "

خوشحال خان هم د "وچولی "ویی راوړی دئ:

په کاغذو کښې خــوانا ئې ولولي

چه کښلي نه وي هغه څوک څه لولي

هسې مردان شـــته په دا دنیا کښې

تختې د وچــولې تختې د زړه لولي

(رباعيات - ۱۲۲مخ)

دلته هم د څلوريځې وروستى بند د خوشحال د شعر رواني نه لري؟

***

توري:

فلزي پيسې، پول سياه (پارسي)، ايکې.

توري د فارسي (پول سياه) او د انګرېزي (change) په معنا هم د کندهار په لهجه او هم په کلاسيکو ادبياتو کې سته. د نورو لهجو ويونکي ئې دومره نه کاروي.

دا نــاکســــــان دې وګـــړې کسې

د غــــــره واورته لاســـونه نيسې

درچه په سپينو په سرو موندل شي

دې ئې په تـــــورو پيسو رانيسي

(رباعيات - ۲۹۵ مخ)

د کندهار په لهجه کې "رانيول" د "پېرودلو" په معنا کارېږي.
خوشحال خان ئې هم په همدې معنا راوړي. د پښتو د نورو لهجو ويونکي ئې نه کاروي. همدا سبب دئ، چې زياتره ئې "راونيول" ليکي خو هغه بيا د "ګرفتن" معنا لري.

خوشحال خان په دستارنامه ۳۷مخ کې وايي: "ځنې خوش نويس

یوه قطعه، دوه درې بیته اوکښې، په مهربها کیږي - ځنې په روپۍ، ځنې په تورې ... ".

په سواتنامه کې هم دغه لغت راغلی دئ:

کلــه کلـــــه پکې هسې ارزانې شي
چې په دوو تورو د شلو مهمانې شي
(۴- مخ)

***

تول- (په لنډ واو).

دا لغت د کندهار په لهجه کې د (کښت، مځکې، جایداد) په معنا راځي. "غنم مو له خپله توله دي". یعنې غنم له خپلې مځکې څخه راته راځي. په بازار کې ئې نه رانیسو. دا لغت قاموسو اخیستی دئ (ظفراللغات، زړه پانگه) خو په نورو لهجو کې دا لغت عام رواج نه لري. د خوشحال خان د دیوان زیاتره ناسخان او ترتیبوونکي د دغه لغت په ثبت کې ستونزې لري او (تول) ئې لیکي او سبب به ئې غالباً له دغه لغت سره نابلدتیا وي. خوشحال خان وایي:

اشنایي لکه ښه تول چې ورته اش کړي
جـــــدایي لـکه ړلی ورانی د تول کا
(۴- مخ)

یا:

چې هــــــم تول ځي، هم دلــیه، دا طوفان دی که ړلیه

چې بې ويري، مونده نه شي، هی توبه له هسې کښته
(۱۹۷- مخ)

حميد مومند وايي:

د حــــيا پـــــه تول مې واوري ږلــيه
په خندا چې راته سپين کاندي دندان شوخ
(کليات - ۲۰مخ)

په متن کې "تول" ليکل سوی دئ چې تېروتنه ده. په وييپانگه کې د "تول" لغت نه راوړل بيا دا معنا لري چې د متن ترتيبوونکي دغه لغت نه پېژانده.

***

تيک:

دا کلمه په لوېديځه لهجه کې د (قد راست) په معنا زيات رواج لري. علامه رشاد ◄ ويلي دي:

تيک تيک ځه اخله اوږده اوږده گامونه
په پسې د سرو، مـــايه اوښـــو کـــتار
(د افغانستان بدي ورځې - ۴۲مخ)

د کندهار شاعر شمس الدين کاکړ وايي:

و شهرت وته دا هسې رنگ تيار دئ
په لړ تاو شي لکه ډول و مـا ته تيک
(۷۵- مخ)

د خوشحال خان په کلام کې یو ځای (تیکه) کلمه راغلې ده او له (تاجکه، ورکه، کنډکه، ختکه، ...) سره قافیه کړې ده. د کلیاتو په کابل چاپ (۲۳۰ - مخ)، دانش چاپ (۱۴۹- مخ) کې په همدې شکل ثبت ده خو د کندهار چاپ (تِک) لیکې ده (۱۸۷- مخ). ما ته د (قد راست) او (سیده) په معنا ښکاري چې همدا (تیک) باید وي.

چې ئې تــوره پکار نه وي حبــطه ده
که ئې روغه وي د سپینو زرو تیکه*

(۲۳۰ - مخ)

د عبدالحمید مومندپه دیوان (۱۷۴ - مخ) په در او مرجان (۵۴مخ) او د عبدالحمید دیوان په (۷۷مخ) کې د "تک" په شکل ثبت دئ:

په لړِ تاو مه شه نادانه
لکه ډول و شر ته تک

(دیوان - ۱۷۴مخ، د ۱۳۲۳ش چاپ)

د حمید مومند په کلیات (۱۳۰مخ) کې ئې په متن کې "تک" ثبت کړی دئ خو په وییپانګه کې د "تیک" په شکل کښلی دئ.

په مختلفو چاپو کې د دغه راز ثبت څخه څوک ویلای سي چې د (تیک) لغت په همدې راز وینګ د دغو چاپو د ترتیبوونکو په لهجو کې عام استعمال نه درلود.

* تېکئ: د توري پوښ، د چاړې پوښ، د خنجر، سېلاوې پوښ (ع. پالوال).

د عبدالحمید مومند کلیات په وییپانګه کې ئې "تیک" ته لیکلي دي:

"سینه وتی ولاړ، هغه ولاړ چې سینه او خېټه ئې راوتې وي"

***

جوړه (فشار پر وروستیِ څپه دئ):

په کندهار کې ناوي ته تر واده دمخه د خسر له کوره او تر واده وروسته د پلار له کوره چې کالي، پسول او نور سوغاتونه لېږل کېږي، دې ته "جوړه" وايي. په دغه معنا ئې خوشحال خان په دستارنامه کې راوړي:

"... لکه د پښتانه دود د کشيده قميص، د پايڅو د سرکاه د مقنع، دا دودونه دي نه پرېږدي – هر کله چه په دا جوړه وواده شي - نورې مهينې جوړې دي زرګونه ورسره وي" (۱۳۲- مخ).

***

چخه:

د سپي د شړلو له پاره، چغه.

میرزا خان وايي:

اوس د نفس اماره په کــومي کښېووت
ناز پرور کوکری به څوک کا څني چخه
(۱۲۳- مخ)

***

چغر*:

په لوېديځه لهجه کي "چغر" هغه چاته ويل کېږي چي يوه سترگه ئې له بلي څخه په رنگ يا جوړښت کي توپير ولري. دا صفت له ځارويو او مرغانو له پاره هم کارېږي.

په هېليو کي يو راز هېلۍ سته چي سترگي ئې يو مخ د مرغلري په شان تکي سپيني وي. نينک ئې بالکل نه معلومېږي. دې هېلۍ ته "چغر" وايي. په انگرېزي ئې (Ferrugineus Duck) بولي. (وگ: ښکار او کندهار -۹۲مخ، د ليکونکي اثر)

خوشحال خان په دستارنامه کي د آس په باب وايي:

"... په يوه سترگه چغر، دا دي نه وي - کم خوردي نه وي - کهنه لنگ دي نه وي ... "(۵۰ - مخ).

***

چغلي*:

د يو چا خبره بل ته رسول "چُغلي" ده. په عربي ئې (نمامت، سعايت) او په پارسي ئې (سخن چينی) بولي. په کلاسيک ادب کي په همدې معنا راغلې ده او په کندهار کي هم دغه عمل ته چغلي وايي.

(پښتو سيند) او (لغات افغاني) دا لغت نه دئ راوړی او داسی ښکاري چي د دغو قاموسو د ليکني پر وخت د قاموسو د

---

* په يوه سترگه ړوند (ع. پالوال).

* چوغلي: د خبرو غلا ئې بولم، او "چو" به و خبري ته ويل کېدل (ع. پالوال).

ترتیبوونکو په لهجوی حوزه کي زیات مروج لغت نه وو. په دغو قاموسو کي "چغلباز" لغت راغلی دئ، چي هغه چا ته ویل کېږي چي تر واده دمخه د ناوي کور ته تګ راتګ کوي. د کندهار په لهجه کي دغه کار ته "ګردني" وايي. ظفراللغات د "چغلي" لغت اخیستی دئ.

خوشحال خان په دستارنامه کي ویلي دي:

"... هغې معشوقې د بن زي په خوله چغلي کړې وه ..."

(دستارنامه-۱۹۰ مخ).

یا بل ځای:

"ملوک چه بې تمیزه شي، د غمازو د چغلو د رشوت خورو بازار ګرم شي "(۱۹۱ - مخ).

اشرف خان هجري وايي:

هر ستم په مین کړه چاره ئې نشته
حکایت د غماز فهم کړه چُغل دی

(۵۰۳ - مخ)

***

چمکلئ*:

د ښځو یو راز ګېڼه ده، چي د تاج په شاني په سر کي ایښوول کېږي. (پښتو سیند)، (لغات افغاني) او (لس زره پښتو لغتونه) دا

---

* چمکلئ د بوتکیانو یو اوږد لاړ دئ چي سرونه ئې پر اوږه سره غوټه وي او منځ ئې تر بل لاس (تخرګ) لاندي وي (ع. پالوال).

لغت نه لري خو ظفراللغات راوړی دئ.

په کندهار کي دا ګڼه او نوم ئې دواړه ژوندي دي. په کلاسیک ادب کي ئې هم مثالونه سته.

اشرف خان ویلي دي:

چمکلی ئې ځکه سره د یار په وینو
چه خالش ته ئې هر دان لکه نشتر کا

(هجري - ۲۲مخ)

***

چوټي*:

د ښځو د سر د شا پاله وربښتان چي په مخصوص ډول پېچل سوي وي. په (لس زره پښتو لغتونه) کي ئې په "ګیسوی کلان" معنا کړی دئ.

هجري وايي:

چه ئې زړه د ډیر عالم قتل پسند کا
څړی هــله د چوټي په سر پیوند کا

(هجري - ۲۹۳مخ)

***

چوهاړی، چوړی:

* د چوټي له پاره د ښځي وربښتان پر درو برخو وېشل کېږي او بیا سره اودل کېږي. کوڅی ډېري وي او نری وي (ع. پالوال).

د کندهار په لهجه کي (چوړی) د (اصیل) په مقابل ښځینه نوم دئ. مذکر ئې (چوړی) دئ او جمع ئې (چوړیان) دي. په کلاسیک ادب کي دا نوم د (چوهاړی، چوهاړی) په شکل کار سوی دئ. په ظفراللغات کي ئې معنا "خاکروب" راوړې ده.

"د چوړیانو کور" اصطلاح د کندهار په لهجه کي د بې سرښتي ښځي د کور له پاره کارېږي د (چوړی) نوم د (مېرمن) ضد لغت دئ.

رحمان بابا وایي:

چوهاړي د حلال خور په نامه بولي
له ښو خلقو بدګـویي نه ده ممکنه

(۱۹۲- مخ)

حمید وایي:

رغړوي مې زمـــانه له محتاجیه
لکه سپی د چوهاړي رقیب په پښو

(کلیات - ۱۷۳مخ)

کندهاري شمس الدین کاکړ ویلي دي:

عشق سړی کا چوهړي غوندي بې باکه
که هـر څـو وي په نسـبت په ذات شریف

(۷۱- مخ)

***

څخویکی:

په کندهار کي ئې څخواکی (څاڅکی) بولي.

رحمان بابا ويلي دي:

د بـــــهار په ګلـو ووري بارانـــــــونه
د څخويکي طاقت نشته په حباب کښې

(۱۲۵- مخ)

بل ځای:

د غفلت بنياد د اوښـو په مـــــوج خيژي
يو څخويکی خواب آلود لره طوفان شي

(۲۲۸- مخ)

دا لغت اوس په عامه محاوره کي نسته خوپه يوه معما کي
داسي راوړل سوی دئ:

خـــــم چي واړاوه يونس
څخـواکی ځيني پرېووت
هوش د مدهوش ورک سو
اسم لـــــــــوی سو د هغه*

* زما داسي په ياد دئ:

خم چي يونس واړاوء
څخواکئ ځني پرېووت
هوښ له مدهوښ ورک سو
پاته نوم پاک د هغه

(يونس خيبري) (ع. پالوال)

***

خاربندي:

په کندهار کي د باغو پر شاوخوا د دېوالو نخرېِ او کندووونه په ځوزانو بندوي. د دېوالو پر سرو باندي هم له يوه سره تر بل پوري د اغزيو بوټي په ختهٔ کي ايږدي. دغه کار ته خاربندي وايي.

عبدالقادر خان ويلي دي:

خاربندي مې د ښو کـــــــــــړه ترې چـــاپيره
ګوندې خيال د يار په سترګو کې حصار کړم
(۱۰۰- مخ)

د دې لغت اصل خو به فارسي وي خو زما ئې له مورو پلار سره کار نسته زه ئې د استعمال اشتراک ته ګورم.

کامګار خټک وايي:

(مشکين) خط دې چاپيره تر ښکلي مخ شه
خـــــاربندي وشــــــــوه د ګلو د باغ کلـــکه
(۱۱۸- مخ)

***

ختهکی:

يوه مېوه ده چي له لوېديځي لهجې پرته ئې په نورو لهجو کي

(خربوزه) بولي. د کندهار نجوني په لوبو کي وايي: "هلته هلک ژاړی، چنجن ختښکی غواړي، چنجن ختکی نسته له کابله بې راغواړي".
په کلاسیک ادب کي (ختښکی) لغت راغلی دئ. خربوزه که راغلې هم وي، زما په سترګه سوې نه ده.

عبدالقادر خان ختښک ویلي دي:

که په رنګ د ختښکي ئې په دا څه شو
چې مزه د ختښکي نه لـــــرې پهوته
(۱۷۰- مخ)

خوشحال خان وايي:

که د نغن سره ئې خورې ختښکی ښه دی
په نـــــــــهاره ئې خـــوړل دي تنهاشر
(ارمغان - ۵۸مخ)

بل ځای وايي:

نه ئې بوی شته نه ئې رنګ شته نه ئې خوند شته
حــــــاســــــدان مې د سپلـمیه ختـښکي دي
(۳۵۸- مخ)

***

خچې ګوته:

د لاس په ګوتو کي تر ټولو کوچنۍ ته په لوېديځه لهجه کي "خَمَچه ګوته، خچې" وايي. د خچې ګوتي يادونه په سواتنامه کي

راغلې ده. خوشحال خان وايي:

دريا خان مې د خچې ګوتې ثلی دی
ايــمل خان مې د پګړۍ شملـګی دی

(سواتنامه -۱۱مخ)

په کندهار کې د کوچنيانو په لوبو کې يوه داسې ده چې د کوچني (ماشوم) د لاس هرې ګوتې ته يو نوم بيانوي. په دې ډول: "دا خچې مچې، دا پر بند نرۍ، دا لاکو لکړه، دا د رزق ګوته، دا پنډو کاپره".

ميرزا خان وايي:

د صورت په کمينې کښې درجه ده
د نګين لايـــــــقت ورغی و خچه

(۱۲۰-مخ)

***

درخته، ونه*:

د کندهار په لهجه کې (درخته) او (ونه) دواړه رواج لري. ښارې او سېدونکي (درخته) زياته استعمالوي او (ونه) پر خپله اصلي معنا سربېره د (قد) له پاره هم کاروي "پلانی په ونه جګ سړی دئ".

---

* ونې په کندهار کښې په دښت لا غرۍ کښې طبيعي ولاړې وي، خو درخته باغي او په نهال اينښوو له سوې وي، ډېرې او پر وخت اوبه غواړې (ع. پالوال).

خوشحال خان دا دواړي کلمې راوړي دي خو د (درخته) کلمه په هغه تلفظ نه راوړي چي په کندهار کي عام دئ. په کندهارۍ لهجه کي (درخته) د لومړي او دوهم توري په سکون سره ويله کېږي. خوشحال وايي:

د بــهارپه وخت ئې بيا نشوونما شي
په خزان چي پاڼې پرېوزي له درخته

(۱۹۵- مخ)

په دې بيت کي د (دَرَخته) کلمه له فارسي تلفظ سره سمه راغلې ده او (دال) او (رې) ئې دواړه فتحه (زوَر) لري.

يا:

په سم دي، که په غره دي د بهار خاصه گلونه
آخر به رژون وي د گلـــــــــونو له دَرَخـــته

(۱۹۸- مخ)

دغه راز د خوشحال خان په کلام کي (ونه) داسي راغلې ده:

چي په ښاخ ئې ډول ډول ميوې زانگي
لا به کله د وصـــــــال د ونې بر خورم

(۱۴۰- مخ)

يا:

د وفا ميوه د دهر په باغ نشته
بيهوده ئې هـــره ونه لـــتوم

(۱۴۳- مخ)

***

درست:

دا لغت د کندهار په لهجه کي د (ټول، ګرده، بشپړ) په معنا کارېږي. خوشحال خان ئې خورا زيات کاروي.

کـه د کښلـــــيو د ديدن مينه ګـــــناه ده
سکه خوشحال خټک درست عمر جنايت کا

(۳- مخ)

درست عالم ئې په بازار په کوڅه وايي
لا و چا وته ښـــــــکاره نه دی راز زما

(۲۱- مخ)

عبدالقادر خان وايي:

د عالِم فساد، فساد د درست عالَم دی
شيطان کله هـــومـــره ډېره ويارني کا

(۲۷- مخ)

***

دَرَسته*:

وسله بند، وسله.

---

* د وسلي افزار لکه دارو (باروت)، مردک (ګولۍ)، پليته، سرچومې، اورټاک ... (ع. پالوال).

په دستارنامه کي اولادو ته د چنگيزخان د وصيت کولو کيسه راغلې ده. هورې داسي لولو: "په وخت د مرگ د چنگيزخان وصيت و اولادو ته دا وه چي درسته ئې راوغوښته، يو غشی ئې د درستې نه وکيښ... " (۲۰۸ - مخ).

په فراقنامه کي داسي لولو:

بيا ئې تشي هــــــم په ما کړې
چې درستې مي ورتر ملا کړې
(۲۱- مخ)

د کندهار خلک وايي "درسته (وسله) هغه ده، چي په لاس درغله ".

***

دروازه:

د کندهار په لهجه کي "در"، "ور" کلمات په محاوره کي سته. ډېر نږدې گاونډي ته " در په دېوال همسايه" وايي. ډېر غريب او سرگردانه و لا لهانده ته "دربدره، خاک په سره" ويل کېږي. خو په ورځنيو خبرواترو کي د "در" پر ځای "دروازه" ډېره مروجه ده.

اشرف خان وايي:

سحرگاه که اهل دل رب ته نياز
هــغه دم وي دروازه د قبول باز
(۳۳۴- مخ)

***

دِرونه:

د انسان باطن ته (دِرونه) وايي. خو په کندهار کي د "زړه يخولو " پر ځنګ "دِرونه يخول" اصطلاح هم رواج لري. خوشحال خان هم "دِرونه" راوړې ده:

د دوزخ لمبې به کار په عاشق نه کا
چي ئې تاو د دِروني دی په دا دال
(۸ - مخ)

***

دفتين ، دفتۍ، دپتۍ:

د کندهار صحافان دفتۍ هغه کلکه کاغذي تخته چي د کتابو وقايې ځني جوړوي، دفتۍ بولي. خوشحال خان ئې د "دفتين" په شکل ليکي. "مشق په تخته بدفتين بويه - که په نرى قلم ډير کښېې، خوش نويس به نه شې" (دستارنامه - ۳۹مخ).
"بدفتين" زما په ګومان د متن ناسمه لوستنه ده. سم شکل ئې "مشق په تخته په دفتين (پر دفتۍ باندي) بويه".

***

دلې او هورې:

رحمان بابا وايي:

نه دلې شوې نه هورې شوې
تر مينځ ډوب شوې مذبذبه

(۱۲۴- مخ)

حمید وایي:

که دلي سوال وځواب کړي مرد هاله ئي
چي غلط نه شي هورې په ســوال جواب

(۳۳- مخ)

د کندهار په لهجه کي د دې دوو مکاني اشارو پر ځنګ (دورې) هم سته چي په نورو لهجوکی د (هیسته) لغت یو څه ورنږدې دئ.

بریالی صاحب وایي:

د تنصیح عســــکر دورې ساته ناصــحه
زما د عشق په بغاوت دئ د زړه سرای اړ

(اهاړ- ۴۸مخ)

٭٭٭

دنده:

د کندهار په لهجه کي "دنده" د دوهمي څپي په فشار تلفظ کېږي او د ختيځي لهجي تلفظ ئي د لومړۍ څپي په فشار دئ. خوشحال خان يې له کندهاري تلفظ سره سم کاروي، فشار ئي پردوهمه څپه اچوي او له (بنده، ګنده) سره په يوه قافيه کي راوړي.

چه نوکــــــري کا څوک د ېر ګنده کا
سړی آزاد وی خــپل ځـــــان بنده کا
تر آزادی نــــه بـــــهتر هيڅ نشــته

چه څوک په کور کښېږي خپله دنده کا

(رباعيات - ۴مخ)

***

دَوَخته:

ډېر پخوا*، وختي لا، اول لا، مدتها پيش (پارسي):

دا لغت په کندهارۍ لهجه کي ستَه او په ورځنۍ محاوره کي ژوندی او د استعمال وړ لغت دئ. له ظفراللغات پرته مي په نورو قاموسو کي نه دئ په سترګه سوی. په نورو لهجو کي ئې د کارولو په باب دقيق معلومات نه لرم. خوشحال خان ويلي دي:

د لور عفت غـــــواړه د زويه توره
هـــغه چه دا لــــرى بـلا ئې دوره
چه دا ئې نه وی مرګ ئې مبلمه شه
مـور دې دوخته شی په دواړو بوره

(رباعيات - ۷۸مخ)

په فراقنامه کي راغلي دي:

په هر دم دي پـه ماني مرم
خو په مرګ دي مړ دوخته

(۲۴- مخ)

ميرزا خان انصاري دا کلمه ډېره کار کړې ده.

* ډېر دمخه، ډېر ترمخه. پخوا تر دوخته ډېره ليري زمانه ښووي (ع. پالوال).

لکه لمر دوخته لـــوی په نظر کښېوزي
چي شعله ئې په کمال شي صورت کم کا

(۲۸- مخ)

یا:

د عـــــنقا طلب ئې نه وکړ دوخته
د نوسک په نغوته پاته شو پرتهور

(۷۱- مخ)

***

دیدې (سترګي):

اشرف خان هجري وايي:

نه به وصل درانـــجاوشي لـه هیره
نه به هیر دیدې روشني په رانجا کا

(۴ - مخ)

په متن کي "روشن" دئ چي د یوې هجا کمبود په شعر کي سکته راوړې ده. په اصل کي ښایي تر نون لاندي زېر یا له کاتبه پاته سوی وي، یا به د متن چاپوونکي دقت نه وي ورته کړی.

***

دي وه:

"دي وه، دي وي" قسمیه کلمات دي، یعني د قسم (سوګند) پر وخت کارېږي.

اشرف خان هجري ویلي دي:

د احمد رسول په حق دي وه یا ربه
خطا مه کـړه د ختټک بنده ایمان

(۱۱۰- مخ)

"ستا دي وي که به ئي راخخه پتهوي" اصطلاح په کندهار کي عامه ده.

***

ډکی، ډؤکئ:

(فشار پر لومړی څپه دئ) وچ ښاخ، وچ لرگی:

رحمان باباویلي دي:

سره لمبه گـــوره چي څه کا په وچ ډکي
مخ د یار په رحمان هسي چاري کاندي

(۱۳۵- مخ)

یا:

کم بختان د یار په وصل کښي مهجور دي
د وچ ډکي بهـــــــره نه وي په بهـــار کښي

(۱۲۲- مخ)

هجري ویلي دي:

چنبي زیړ گلـــونه وزوول له تنه
هر یو ډکي نمونه د چنډڼ هار که

(۱۳۱- مخ)

په متن کي "ډکی ئې " دئ چي د نيم بيتي يوه څپه ئې زياته کړې ده او شعر ئې عيبي کړی دئ. که ئې د هجري پخپله ژبه "ډکې = ډکی ئې "لوستلی وای دا عيب ئې له منځه تی.

په کندهاري لهجه کي ئې "ډوکی، ډوک " بولي.

"هوا داسي سړه وه چي مرغه پر ډوک يخی کېدی "(زما د سپين سري مور له خولې).

***

رو:

لار، وار، مجازاً د ازدحام، ګڼه ګوڼه په معنا هم کارېږي. په لوېديځه لهجه کي ژوندی لغت دئ. هجري وايي:

په دوکان د ښکلو رو د صورت نشته
واړه زړه سودا کوي صاحب مدار دی
(۵۰۴ - مخ)

خوشحال خان د (لار) په معنا کار کړی دئ:

زه خوشـــحال ختـک د هغه چـا بنده يم
چي ئې رو د زړه د خولې سره يکسان وي
(د خوشحال ختک کليات - ۳۵۷مخ)

***

رودبار:

رودبار په لوېديځه لهجه د (رودخانې، د رود غاړه) په معنا کارېږي.

رحمان بابا ويلي دي:

هغه ملک چي په کښې سیند و رودبار نه دي
دهقانان به ئې هــــمه خــــــانه خــــراب وي
(۱۰۷- مخ)

کامګار خټک وايي:

بې له تا په ما د ګلـو باغ زندان دی
ماهی کله بې رودباره مومي حظ

(دیوان - ۴۹مخ)

***

روک:

په کندهارۍ لهجه کي "روک" د (صریح، ښرګند ، په ډاګه، تورت) په معنا کارېږي. هجري وايي:

دانایان دي روک دمــا په شــعر ګـــوري
نیک و بد به ئې روښن کاندي محک یم

(۴۰۸- مخ)

په چاپي متن د لومړی نیم بیتي ثبت سم نه دئ او داسي ثبت سوی دئ:

"دانایان دي روک د شعر په ما ګوري "
ما ګوتي پکښې ووهلې او سم مي کړ.

***

ربز:

د مرغانو (چغار او خواندن) ته وايي. په لوبدیځه لهجه کي

ژوندی لغت دئ.

عبدالحمید مومند وايي:

په چمن کې د بلبلـــــو اورم ربز
رنګ د ګلو دی له رنګه د رنګریز

(۸۲ - مخ)

مولوي بریالی وايي:

سهار ربز بلبلان یو په بل وصیت کا
چي د "ګلو پـــه ګلزار نسته باور"

(اهار - ۴۰مخ)

* * *

رېګ:

د پښتو په ځينو لهجو کي د (رېګ) له پاره (شګه) لغت عام دئ. خو په کندهاري لهجه کي شګه او رېګ دوه جلا جلا نومونه دي. رېګ هغه ماده ده، چي په انګرېزي ژبه کي ئې (sand) بولي او شګه هغو ميدو ډبرو ته وايي چي په انګرېزي ورته (graval) ويل کېږي. د "رېګ" په نامه د کندهار په جنوب کي يوه منطقه هم سته چي د پاکستان سره پوله جوړوي او هغه رېګستان دئ.

رحمان بابا وايي:

عمارت په سر د ريګِ روان کاندي
هر چه کاندي عـــــمارت په دا دنیا

(۷ - مخ)

عبدالقادرخان وايي:

که عقل پوهــه که تېغ که د ېګ وو
په پښتانه کې د خوشحال بېګ وو
زرئې هــمت وته په شمار د سلو وو
زرئې ســــخا ته د صحرا رېګ وو

(۳۷۲ - مخ)

بل ځای ئې "شګې" داسې راوړې دي:

جمعيت چې له دنيا په دنياغواړې
هغه غــــړې په معنی د شګو پړی

(۲۴۹ - مخ)

حميد وايي:

لکه سېل چې رژوي کمر د شګو
نړوي مې هسې مينه وار په وار

(کليات - ۲۹مخ)

دلته "شګې" د "رېګ" معنا نه ورکوي.

بل ځای:

کوم ساعت به دې سرلاندې ځنې لګي
د شګلن کـــــــمر په سر باندې ولاړه

(۲۲۰ - مخ)

بل ځای "رېگ " هم راوړي:

په خوله پټه يشبېده لــکه پوخ دېگ
رژېده ئې د ژوندون لــه مخه رېگ

(۳۹۱-مخ)

شمس الدين کاکړ (شگي) د (رېگ) په معنا نه راوړي:

که به څوک شمېري غمونه د هجران لړ
د هغـــو په نظـر شـــگی د بيابان لـــړ

(۲۱-مخ)

* * *

زنګاري:

يو راز رنگ ته ويل کېږي. د کندهار تلفظ ئې "زنګالي " دئ.

رحمان بابا وايي:

د گلګـــــونو ميو ناوېراته ناســته
زنگاري کميس اغوستی د مينا دی

(۲۲۱-مخ)

* * *

سازل:

د "خلقت " په معنا په لوېديځه لهجه کي سته. په دغه لهجه کي (رازل) هم په دغه معناکارېږي.

ميرزا خان وايي:

مخلوقات د آدمزاد د پاره وشول
او سړي دي معرفت سرع سازلي
(۴۵- مخ)

***

ساية:

خوشحال خان خټک د (سيوري) تر څنګ د (ساية) کلمه هم زياته راوړي او دا هغه کلمه ده چي د عاميانه معياري ژبي لارويان ئي د کندهار د لهجي د ګډوډی په ثبوت کي راوړي. خوشحال خان وايي:

څوک چي مخ په نمر روان شي خو دی ګوري
چي سـايه وريسې درومي په قـفا
(۱۰- مخ)

يا:

بادشاهي ئي په نصيب او په قسمت وي
چي سايه د چا په سر کاندي همای دی
(۳۱۲- مخ)

يا:

که دي پـه غـولی ولاړه ونه ده
هومره پرې ويارږ خو لويه پلنه ده
يا به ميوه لری يا به سايه لری
جوړه پـه ونه باندې ستاينه ده
(رباعيات- ۱۰۱مخ)

په دستارنامه ۱۹۵مخ کي راغلي دي: "د بدر په ورځ رسول عليه السلام تر سايه لاندي ناست وه- اصحاب په نمر وو ".

هجري وايي:

که سايه د مرغـــه وشي ستا په ونه
څه عجب که ئې له وزنه خميده شي

(۵۰۹ - مخ)

عبدالقادر خان وايي:

تر سايه ئې د جنت خوښيه مومم[1]
د خپل يار قامت و مـــا ته شو طوبا

(۳۰ - مخ)

رحمان بابا ئې يو ځای د شعري اړتيا له مخي (سايا) هم راوړي:

نه يم خوښ د سرو گلـــــونو په سايا زه
خوښ يم ستا د مخ په اور باندي جليازه

(۱۵۳- مخ)

حميد وايي:

له مستيه بناخ بنوره د سـحر باده
چي سايه ئې پر زلفانو وبنوربږي

(کليات - ۲۸۵مخ)

ميرزا خان ويلي دي:

(۱) په اصل کي (مومی) دئ.

مخ په مخ ئې واړه رنگ له رنگه ویوست
په ســــــــایه ئې دولت رانیو له هــمایه
(۱۰۴- مخ)

بل ځای وایي:

منقلب د ناز په سیوري فراغت کا
بې سایې برهــنه خبر دی له تموزه
(۱۴۲- مخ)

میرزا حنان بارکزي ویلي دي:

سیابختی لکه سایه راپسې ځغلي
چې دا ستا په تورو زلفو شم اشنا
(۳۲ - مخ)

د خوشحال په دېوان کې (سیورې) د (سیوره) په شکل هم سته.

چې ئې سیوره په ما وه لکه بادشاه وم
ستا د تورو زلـــــــفو سیوره همایي ده
(۲۸۲- مخ)

عبد القادر خان ختټک هم سیوره راوړې ده:

مستغني دي د جهان له بادشاهي کړم
د هــمای تر سیورې بهه ده ستا سیوره
(۱۹۱- مخ)

د میرزا خان په کلام کې هم (سیوره) ځو ځایه راغلې ده.

که تــــه مخ په نمر ونیسې
در پسې به درومي سیوره
(۱۳۴- مخ)

خوشحال خان هم یو ځای (سیوری) د جنس له مخي مونث کار کړی دئ.

اشــــــنا ته وایه نه شي، نااشنا به څه خبریږي
دا راز چې له مانه دی اوربدلی خپلې سیورې
(خوشحال - ۴۳۶مخ)

دا هم باید وویل سي چي د کندهار په لهجه کي (سیوری) کلمه هم ستهٔ. مولوي بریالی وایي:

ما د تشــــــهیر منصب بخښلی دئ اومه زاهد ته
د گمنامۍ د پردې سیوری مي وجدان کئ پوخ
(اهار - ۲۸مخ)

***

سپم:

(د لومړي توري په سکون) د ستني سوری.
د رحمان بابا په دېوان کي ئې "سم" لیکلي:

بې د ستا له زیبا مخه و بل مخ ته
منتظر د یوې ستني تر سم نه یم
(۷۵- مخ)

***

سپومی:

مړسپمی. خوشحال ویلي دي:

دا دواړه بدان نه ګـــــــوري له کسـته

په ښه مخ باندې و مه شه داني، سپومي

(۴۰۷-مخ)

د کندهار په لهجه کي مړسپمی د مخ د پوست یو راز ناروغي ده، چي پر مخ باندي سپېرې، یاسرې ټپلي (داغونه) پیدا کېږي. زما په خیال مړسپمی به هغي جلدي ناروغۍ ته وایي چي کابلیان ئې (رشک) بولي.

***

ستاره:

(د لومړي توري په سکون):

دا لغت د "دبدبې، درنښت، هیبت" په معنا په کندهار کي کارېږي. ښځمني ئې ډېر وايي. کوچنیانو ته چي دوعا کوي، داسي ورته وايي:

"خدای دي د ستارې و د بارې که". د "ستارې" کلمه له (ستر)

سره ژبنۍ رابطه لري*.

خوشحال خان په سواتنامه کي وايي:

پوهېدم دما ستاره وه پرې غالبه
له هـــــيبته ئې دا ووته لــه ژبه
(**۵۵** - مخ)

* * *

سرګومه:

بې هوښه، هغه ناروغ چي سر ئې د راپورته کېدلو نه وي.

د کندهار ښځمني وايي: د زوی مي ټکولې تبه ده، له پرون راهيسي سرګومه پروت دئ.

رحمان بابا وايي:

خدای راپېښه نرۍ لار کړه ناليدلې
لکه ورانه ماشوره چي وي سرگومه
(۸۰ - مخ)

* * *

سَسَتَی:

يو راز دښتي بوټي دي. په رېګستان کي زيات پيداکېږي. د

---

* ښايي له ستوري سره اړه ولري. څوک چي لېزيمه وي، وايي ستوری ئې لوېدلئ دئ. لېږيمه: عاجز، اسکېرلئ (ع. پالوال).

کندهار خلک ئې د اور د پېلوځي په توګه کاروي.
خوشحال خان ويلي دي:

ستا د مخ په سينه سوزم، لولپه شوم
د آتش لـــمبه هيڅ نه پرېږدي د سسي
(۳۵۲ - مخ)

***

سمندر:

د (سمندر) کلمه چي اوس د (بحر) په معنا زياته رواج لري، په کلاسيک ادب کي په دغه معنا نه موندله کېږي او د کندهار په لهجه کي هم په دغه معنا نسته. په دغه معنا ئې د رواج زمانه، چي د اردو ژبي تر اغېزې لاندي پښتو ته راننوتلې ده، تر شلمی پېړۍ ها خوا ته نه اوږدېږي. هغو مستشرقينو چي په پښتو ژبه کي څېړني کړي دي، دا کلمه د (درياب، بحر) په معنا نه وه اوربدلې. پروفيسور دورن او هنري والټر بيليو پخپلو ترتيب سوو قاموسو کي د (بحر، درياب) په معنا نه ده ثبت کړې، بلکي په هغه معنا ئې ثبت کړې ده چي په کلاسيک ادب کي راغلې ده. په کلاسيک ادب کي (سمندر) د هغه حيوان په معنا راغلی دئ، چي وايي په اور کي ژوند کوي.

وزير محمد ګل خان مومند په پښتو سيند (د ۱۳۱۲ ش چاپ) کي د سمندر کلمه ګرسره لري نه. ده د "اوقيانوس" له پاره پښتو معادله کلمه "سيند" بللې ده (۵۱ - مخ). د دې معنا دا ده چي د وزير صاحب

مرحوم په ژوند کې دغه کلمه (سمندر) د (بحر) له پاره نه کارېدله. که سمندر کلمه د ده په ژوند کې د پښتو کومې لهجې د (بحر) له پاره کارولای، هرومرو ئې ثبتوله.

په (لس زره پښتو لغتونه) قاموس کې چې د ارواښاد وزير صاحب تر قاموس (پښتو سيند) خلور کاله وروسته د کابل د پښتو ټولنې د معاون محمداعظم ايازي او د لغت د څانگې د نورو غړو په همکارې ترتيب سوی دئ، هم د (سمندر) کلمه نسته.

د ارواښاد سيد راحت الله زاخيلي په (لغات افغاني) نومي کوچنوټي قاموس کې چې (سمندر) کلمه هم د "دريای اعظم - آگ کاکيړا " په معناوو ثبت سوې ده، زه ئې د اردو ژبې اغېزه بولم. (زما سره چې د لغات افغاني کومه نسخه پرته ده، د چاپ نېټه نه لري).

(سمندر) په پارسي ادب کې هم د نومورې حيوان په معنا کار سوی دئ.

شيخ سعدي عليه الرحمه وايي:

سمندر نه ای گرد آتش مگرد
که مردانگی بايد آنگــه نبرد

په لغتنامه دهخدا کې کښلي دي چې سمندر له يوناني لغت "سالامندرا " څخه مشتق سوی دئ او په فرانسوي ژبه کې هم له همدغې ريښې څخه په همدغه معنا (salamandre) سته.

سالامندرا د اور پرښتې (فرشتې) ته ويل کېدله.

د خوشحال خان خټک په کلیاتو (د دانش ټولنی چاپ) کي ما د غزلیاتو برخه د (سمندر) لغت له اسیته وکتله، فقط یو ځای مي وموندله او هوري هم د (بحر) په معنا کار سوي نه وه:

ژواک ژوندون مي همګي واړه په غم شو
غــم په مــثل لکـــــــه اورزه سمــندر

(۴۱- مخ)

د خوشحال د رباعیاتو په برخه کي مي سمندر هیڅ په سترګه نه سو.

حمید مومند وایي:

هسي یم په درد و غم کي د دلــبر خوښ
لکه اوسي په سره اور کي سمندر خوښ

(۹۲- مخ)

میرزا حنان بارکزی ئي د دریاب په معنا نه، بلکي په دا دوهمه معنا کاروي:

حذر څو وکړي "حنان" د عشق له اوره
همېشه وي د اوَر خلاص پر سمندر در

(۵۹- مخ)

یا بل ځای وایي:

د یار عشق راکښي پیدا کړ هسي سوز
ســـــمندر راته حــیران دئ شب و روز

(۲۸- مخ)

شمس الدین کاکړ ئې هم د دریاب په معنا نه راوړي:

علاوه د یار غمونه پسي غوارم
نه مرېږم سمندر غــوندي په اور
(۵۱مخ)

***

سنګړه:

غټه ګردۍ ډبره. په لویدیځه لهجه کي زیاته مروجه کلمه ده.

حمید وايي:

اوس حمید کوي ناري د یار له غمه
چي ئې ولي دا رقیب په لــو سنګړه
(کلیات - ۲۲۲مخ)

ښاغلي پالوال صاحب د ډبرو نور انواع داسي راوړي دي:

کاڼی، اره، پربنه، تیږه، ګوسه، لپاڼکی، ګیندجوړی، غرګی، بغری، شاځه، بغرګی یا لوړه ډبره، وارئ، مرغ، شګه، ریګ، سال. (د تفصیل له پاره وګورئ: معیاري پښتو - ۲۵۹، ۲۷۰ مخونه). زه به پر دغو نومو باندي (سنګچل، سخر، او کرکنډه) هم ور زیاته کړم.

***

سَوی اولوی:

عبدالقادر خان ویلي دي:

یو مجنون سوی او لوی د عشق نه و

مېني ډېر کړل تر مجنونه سوي لوي
(۳۱۴ - مخ)

یا بل ځای وايي:

د عالـم له ویري آه وکښلی نه شم
په کوګل کي مي دننه وشول لوې
(۳۱۹- مخ)

په حاشیه کي ئې (لوی) د دود په (ګرد) معنا کړی دئ؟

(لوی) د (الېيل) سره بې رابطې نه دئ. الېيل پر اور باندي د پسه د پوست سوځلو (پخولو) ته وايي. د کندهار قصابان د ژمي په موسم کي پسه الېيي. د (الېيل) له پاره د (الوی) انډول د پښتو په نورو لهجو کي سته. پسه الېيل کېږي او غنم په وږي کښې او همداسي جواري الوئ کېږي.

په(لولپه=مکوټ) کي د سر(لو) هم له(لوی) سره یوه ریښه لري

✶✶✶

سیب:

خوشحال خان ختک د (سیب) او (منه) کلمې دواړه راوړي خو د (منې) استعمال ببخي لږ دئ. د پښتو په لوېدیځه لهجه کي د (سیب) کلمې استعمال عام دئ. خوشحال وايي:

پوزه ئې غونچه وه د زنبق، سیب سپینه زنه ئې
مشک د مخ خالـــــونه په مخ کښلي مــه پارا

(۷- مخ)

یا:

لکه و ، د زنخ سیب په هغه شان دی
نه چې اوس ئې تبر و ببر دی تلـذذ

(۴۸- مخ)

یا:

لکه سیب زما په خوله کې
غه شــېرین ذقـــن وای تل

(۱۰۹- مخ)

یا:

چې یا سیب یا بهي کــېږي
بصل مه شه، حنظل مه شه

(۲۹۸- مخ)

په یوه ځای کې چې ما د خوشحال خان په کلام کې (منه) ولیدله هغه بیا د ترتیبوونکي له خوا ناسمه لوستل سوې وه. بیت دا دئ:

هیڅ پرې نه پوهیږم، دا دي زنه که منه ده
خـــال دي دی د زنې کــه دانه د مــماني

(۴۸۲- مخ)

په حاشیه کې ورته کښلي دي چې په دوهمه او څلورمه خطي نسخه کې دا نیم بیتی داسې دئ:

هیڅ پرې نه پوهېږم چې دا وږمکه (ده) که مه ده

یا:

نن په نظر راغـــــله یوه تره
زنه ئې سېب وه شونډې نره
بله به نه وي هسې دلـــــــبره
نه پـــــه خشـکې نه په تره

(رباعیات - ۲۸۵مخ)

په سواتنامه کې راغلي دي:

دُر، شبه، کانې، یاقـوت ورته یو شان دي
سېب، شلغم، انار، بهي ورته یکسان دي

(۲۵ - مخ)

رحمان وايي:

چې یوسف غوندي هزار پکښې پراته دي
بندیوان د هـــــــغه سېب ذقن په چـاه یم

(۷۳ - مخ)

یا بل ځای وايي:

که ئې زنه د ځوانۍ په وقت کښې سېب وي
هغه سېب ئې په پېرۍ کښې بیا حنظل شي

(۲۰۹- مخ)

هجري وايي:

دواړه شونډي ئې نبات اننگي سيب دي
د عشاقـــــو زړونه ټول په دغه خوان کا

(۱۲- مخ)

عبدالقادر خان ويلي دي:

دا ئې شونډي دي که لـعل يا ياقوت دی که مرجان
سېب دی دا که ناشپاتي که د بخت ستوری که ذقن

(۱۳۲ - مخ)

حميد مومندپه يوه مخ کي د پنځو بيتو په فاصله هم (منه) راوړې ده او هم (سېب).

څه تعريف ئې کړم د زني له د دُرخشه
د عيسی له لاس منه وه حيات بخشه

(۴۸۷- مخ)

که منه په قافيه يا بل داسي ځای کښې راغلې وي چي له سبب سره ئې د اليشبډني کابو نه وي نو به ئې پېبيل اصلي وي (ع. پالوال).

پنځه بيته وروسته وايي:

په سينه ئې جلوه گردوه غوره سېب وو
مجرب دارو دوا د هـــــــــرآسيب وو

ميرزا حنان بارکزي ويلي دي:

دا ئې زنه ده که سبب ده، د "حنان" د زړه آسيب ده
چي په تش آرزو ئې کـــېږي د رنځـــــورو زړو دوا

(۳۹-مخ)

په کلاسیک ادب کي د (سیب) کلمې له دونه (دومره) پراخ استعمال سره به بیا هم د عامیانه معیار لارویان حق ولري، چي لوېدیځه لهجه د دغي کلمې د استعمال له اسیته وکړي.

***

سیرۍ:

وقف سوې مځکه:

په سواتنامه کي راغلي دي:

چي ملا د "میان نور" په حکـــــم درومي

هم هغه د سوات په ملک کې سیرۍ مومي

(۳۲-مخ)

***

سیژمې، سیږمې: (دا به سپږمې وي چي ترمخه ئې هم یادونه سوې ده).

د پزي سوري، چي په پارسي ئې (سوراخ بیني) بولي.

خوشحال خان په دستارنامه کي لیکي:

"په ژمي د باز د دومې د زکام د نزلې هم بدکشنده زحمت دی. سیژمې ئې ونیوی شي ... د مهورې مرغونه ئې دي واخلي- اوبه دي ئې نچوړک- په شیژمو کنبې دي ئې وڅخوي ... " (۲۴-مخ).

په دستارنامه کي ئې د "سیږمې" شکل هم ستة "... په شپه په ورځ که د میرو تریوه سیږمې ویني ځي تر بله زوې ځي ... " (۱۲۱-مخ).

***

سيخ پري، سرخ پري، سرخ سري:

دا دري نومونه د هيليو د جلا جلا جنسونو دي. (وګ: ښکار و کندهار – د ليکونکي اثر - ۱۰۰، ۱۰۲، ۱۱۴ مخونه).

په فراقنامه کي لولو:

مرغاوۍ په هـــر هر لوروي
سونا هـــــم پکښې لا ډيروي
په آخـر راشي ســــرخ پري
هم سيخ پرې هم سرخ سري

(۴۷ - مخ)

دلته د مرغابۍ کلمه بايد د پای د تانيثي (ۍ) له اسيته فارسي کلمه ونه ګڼل سي. دغه راز پسوندي (ی) په فارسي ژبه کي نسي ويل کېدلای. د پښتو تأنيثيت پر تطبيق سوئ دئ.

***

سېر:

په کندهار کي (سېر) د (من) په اجزاوو کي دئ. يو من ځلوېښت سيره دئ. د سېر وزن له (خورد) سره برابر دئ. په نورو سيمو کي (سېر) تر منه په تاله ډېر دئ. د کندهار يو من لس پاوه دئ په داسي حال کي چي د نورو سيمو سېر شپاړس پاوه کېږي.

د حميد مومند په کلام کي (سېر) تر منه کم ښوول سوی دئ:

په غرور د توان تېری په ناتوان مه کړه
چې د منه توله سپکېږي په سېر* گوره
(کلیات - ۲۱۷مخ)

***

سیله:

طرفداري، پلوي.
په کندهارۍ لهجه کي په همدې معنا ډېره کارېږي.
خوشحال په سواتنامه(۵۸ -مخ) کي دا لغت داسي راوړی دئ:

که په دا طور اور پورې په درست سوات شي
مگر هـــــاله دمـــــا سیله مـــکافات شي

***

شاړه:

د کندهار په لهجه کي هواره پيته لويه ډېره چي غله پر گيرگيره کېږي. (شاڅه، شياڅه) د قبر ډبري ته وايي "هغه وخت به پوه سې چي سر دي د لحد شاڅه ووهي".

ميرزاخان وايي:

د قضا شاړه به ستا څنگونه مات کا
که ته هر څو پورته پورته په هوا ځې
(۲۴۲-مخ)

---

* د کوړک په سهېل کښني سېر د کېلوگرام معادل دئ(ع. پالوال).

***

شامت:

شامت په لوېدیځه لهجه کې په همدې شکل د (نحس) په معنا مروجه کلمه ده. د پښتو نورې لهجې ئې د (شومیت) په بڼه اوس کاروي. پوهاند زیار صاحب د خوشحال په کلام کې د "شومیت" شکل د کرلاڼی لهجې ځانګړتیا بولي.

خوشحال خان د شامت کلمه څو ځایه راوړې ده:

چې د کښلیو ننداره راخخه لاړه
خبر نه یم کوم ګناه و کوم شامت

(۳۷- مخ)

یا:

په شامت ئې دما ترې غرنړیږي
لا پــــه دا د اپریدیو بصرنشته

(۳۰۵- مخ)

یا:

دا کل شومیت د نفس دی چې په تا شي هسې شندې
هــــزار رنګــه غــــــــمونه فســـادونه دم په دم

(۱۵۲ - مخ)

یا:

چه کار ئې بیایي فلک په کښــته

چـــارى به کاندى بې مصلـحته
کجير که ځير دى چه بې تدبير دى
په خزه بند شى لـه دې شـــــامته

(رباعيات - ۵۹مخ)

رحمان بابا يې هم (شوميت) ليکلي:

دا همه واړه شوميت دى د شومانو
ګنهٔ ته د چا په زړه مه نهٔ ږې ســـترى

(۲۴۹ - مخ)

عبدالقادر خان ختک وايي:

په شامت د ديو سرېو باران پرېږده
شــــکر دا چې اور نه ووري له اورو

(۱۳۲- مخ)

زما په فکر د دې کلمو ريښه په "شوم " کې سته؟
په ارمغان خوشحال کې د "شامت " شکل خوندي دئ. (وګ: ۲،
۱۲، ۲۰، ۴۲ مخونه او نور)

* * *

شِبَه:

د لومړي توري په زېر او د دوهم په زور(فتحه).

يو ډول مصنوعي (نقلي) مرۍ ته ويل کېږي. په کندهار کي ئې ښځمني پېژني (زما د ثلور اتيا کلني مور په تصديق). ما د لومړي توري په پېښ او د دوهم توري په زور اوربدلی دئ. په لغات افغاني، پښتو سيند، د خوشال خان خټک کليات په وييپانګه کي دا لغت نسته. ظفراللغات اخيستی دئ خو هورېږ ئې د تلفظ په باب څه نه دي ليکلي خو د خوشحال خټک مرغلري (۳۹ - مخ د کندهار چاپ) په حاشيه کي ئې ورته کښلي دي: "په چاپي نسخه کي لمړی توری زبر او دوهم توری زور لري، په قلمي نسخه کي محشي (مشکنهی) ورته کښلی دی چي مصنوعي مری ځني مطلب دی".

خوشحال خان وايي:

له ياقــوته دي هــاله ســيالي شِبَه کا
که د اور په تاو کښېږ دانه شي بې آبه

(مرغلري - ۳۹مخ)

په سواتنامه کي لولو:

په تميز کي ســـراسر واړه مبهوت دي
چي ړلی ورته ګوهر، شبه ياقوت دي

(۲۱ - مخ)

بل ځای:

دُر، شِبَه، کاڼی، ياقــوت ورته يو شان دي
سيب، شلـغم، انار، بهي ورته يکسان دي

(۲۵- مخ)

***

شک*:

په يوه شي خبر (آګاه).

دا لغت په همدې معنا په کندهارۍ لهجه کې ژوندی دئ. "ولاکه په شک لا يم" يعني قسم ده، که په خبر يم. دا لغت قاموسو په دغه معنا نه دئ اخيستی.

خوشحال ويلي دي:

په ناحق ئې په زندان کـــــړم يو خو کاله
خدای خبر دی که په خپل ګناه زه شک يم

(ارمغان- ۲۴مخ)

اشرف خان هجري وايي:

هسې زشت عــمل مې اوليد له ناکسو
چه له ګرګه لــيده نشي نه پرې شک يم

(۹۲- مخ)

بل ځای وايي:

د ښايست پـــــوله دې چرته ده حيران يم

* د کندهار په پښتو کښې "جګ درېدل" مانا لري. محضې شک شکه ده. په دغه مانا له مشکوک، شک کول څخه دئ. خودښکه په شک لا دې: نه پرې پوهېږې. شک شکه د بيجلو يو بازې هم ده (ع. پالوال).

نه مې حد يقين موندلی نه پرې شک یم[١]

(۴۰۷- مخ)

✱✱✱

شکرپاره:

د زردالو په شان مېوه ده. معمولاً وچه کارېږي. د کندهار د وچې مېوې په صادراتو کې مهم قلم دئ. په قاموسو کې مې په سترګه سوی نه دئ.

خوشحال وايي:

دواړه شونډې دې خوږې شکرپارې دي
د ګلابـــــو ګل دې دواړه رخسارې دي

(۳۸۰ - مخ)

✱✱✱

شمله:

د پښتو په زياترو لهجو کې شمله د بګړۍ هغه برخه ده چې د ولونو د پاسه د جوغې په شان جګه ولاړه وي. په کندهارۍ لهجه کې شمله د بګړۍ هغه برخه ده، چې د غوږ پر برابرې مخ یا شاته کښته راځړېږي*. خوشحال خان سره له دې چې په اشعارو کې ئې یو ځای

[١] دا نيم بيتی په متن کې "نه ئې حد يقين موندلی نه پرې شک يم" دئ. ما سم کړ.
* سيکان و لنګوټې ته بګړۍ وايي. ځکه نو په کلاسيکو ادبياتو کښې دستار راوړ سوئ دئ (ع. پالوال).

شمله د بګړۍ د جوغې په معنا کاروي (دستارنامه - ۱۲مخ) خو په مجموع کې ئې د شملې تعبیر له کندهارۍ لهجې سره سم دئ. دی په دستارنامه (۵ - مخ) کې د حضرت رسول ◄ د شملې د اندازې په باب لیکي: "په ځینو روایتونو د رسالت پناه درې دستاره یاد شوي دي – یو اته لس ګزی، شمله ئې نیم ګز شرعی - دویم دوازده ګزی، شمله ئې یو ګز هغه د جنګ ده - دریم شپاړس ګزی، هغه به ئې په اختر په جمعه په سر تاړه".

لوستونکي متوجه دي که خوشحال خان د بګړۍ له شملې څخه مراد د هغې جوغه وای، نو نیم ګز یا ګز شرعي جوغه جګه دربېدلای نسي او نه په پښتنو کې چا په دغه اوږدوالي جوغه لیدلې ده.

تر دې چې ورتېر سو ، خوشحال خان پخپل یوه شعر کې شمله له زلفو سره تشبیه کړې ده. زلفې ځړېدلې وي جګې نه درېږي. بیت دا دئ:

یو ځل بیا سرتـــــــوره مســـته راښکاره شه !
چې ګېسو دې په سپین مخ شملې شملې وي

(۳۶۴- مخ)

اشرف خان هجري هم شملې او زلفې سره تشبیه کړې دي. دی وایي:

توري زلفې دې دائم شملې شملې دي
له ښه مخه دې هــــرګز مه شه جدا نور

(۳۳۱ - مخ)

***

شموخه:

په وریجو کي هغه ناپاکه سوې دانه چي پوست پر پاته وي. کندهاریان ئې "شماخه" بولي.

میرزا خان ویلي دي:

له عـــادته عــبادت لــــــره نه درومي
په پاخه اتام کښېږي اوم لکه شموخه[1]

(۱۲۴- مخ)

د کابل چاپ دیوان په لغتنامه کي دا لغت نسته. خو د پېښور چاپ په "فرهنګ" کي دې لغت ته کښلي دي: "یو قسم وابښه چه خوند ئې تریو دی". په پارسي ئې (شماق) بولي (د لس زره پښتو لغتونه په حواله).

***

شنه:

وحشي وابښه.

په دستارنامه کي راغلي دي: "د آس سرکشي ... د سواره د ناپوهۍ شي- یا ئې بې روخه په تازیانه ووهي، یا ملونه ناموافقه ورواچوي، خوله ئې خوږ کا – یا جای بند وي، شنه ئې خوړلي

[1] په پېښورچاپ دېوان کي دوهم نیم بیتی "په پاخه طعام کښېږي اوم لکه شموخه" دئ.

وي... "(۵۰ - مخ).

په کندهار کي قصابان د پسرلي پر وخت وايي: "پسونه پر شنو دي، غوښه ئې ببخونده سوې ده".

په پورته نقل قول کي "جای بند" اصطلاح هم په کندهار کي عامه ده. د دغه ځای خلک وايي "تر جای بنده آس، گنبته خربنه دئ".

***

شوپرک:

شوپرک ته د پښتو په نورو لهجو کي "کځلکی، اسمان کځلکی" لغتونه سته. عبدالقادر خان ئې د "شوپرک" په نامه راپېژني. د کندهار پښتانه ئې هم "شوپرک" بولي.

عدل چي د ده لکه افتاب په جــهان وخوت
پټ په سوراخونو کي ظالم، شوپرک وار شو
(۴۷۸ - مخ)

میرزا خان انصاري ویلي دي:

شوپرک چي په حجاب گرزي له ورځي
د دیدن طـــــاقت ئې نه لـــــري نظر
(۶۲ - مخ)

بل ځای وايي:

عارفان د دواړو کــونو ننداره کا
شوپرک په تیاره گــرزي بې نظره

(۱۳۱- مخ)

په زیاتره دېوانو کې د پارسي میرزایي کتابت تر اغېزې لاندې د (شوپرک) نوم (شب پرک) لیکل سوی دئ. د میرزاحنان بارکزي په کلام کې لولو:

رقیب نه شي ستا د مخ سـیل کولای
شب پرک شي له پرتوه د آفتاب ورک

(۷۸- مخ)

مولوي بریالی وایي:

سره څه دي د گلرخ او د شیخانو؟
پر ډېوه کله وهي شـــوپرکان موج

(اهار - ۲۳مخ)

په اصل کې د میرزایي کتابت تر اغېزې لاندې (شب پرکان) لیکل سوي دي.

✶✶✶

شوکور:

هغه څوک چې د شپې له خوا په سترگو هیڅ نهویني.

عبدالقادر خان وایي:

چې رقیب ئې مخ ته گوري زه هم گورم
دا کتل به مې شو کـــور کاندي پوهېږم

(۱۰۴- مخ)

مولوي بريالی وايي:

چي د لمر تر ډوبېدو ئې کئ شوکوره
و شـــوم بم ته بس دغه آسيب د صـــبح

(اهار -۲۴مخ)

په چاپي متن کي (شبکوره).

***

شولان، شولانونه:

سالن، سالنونه.

سالن هغه کتغ ته ويل کېږي چي د وريجو (پلو،چلو) پر څنګ ئې پخوي. غورمه، کوفته، بانجڼ، پاتی، دوپيازه، سبزي، دولمه او نور په سالنو کي شمېرل کېږي.

خوشحال وايي:

څوک چه ډوډی د دهـــــقانی، خوری
خواږه د حــــــورو د مهمانی، خوری
چه ئې په ظلم خوری واړه ئې زهر شه
که شـــــــولانونه د سلطانی، خوری

(رباعيات)

خوشحال خان په دستارنامه کي ليکلي دي:

"د مردانو په شولان کښې د هر چا برخه شته،... "(۱۴۳- مخ).

شولان ما ته د (سالن) په معنا سهي ښکاري او شين راته د هغه

ژبني جریان اغېزه ایسي چي د (سو ، سي ، سم،...) سینان ئې په شینانو سره اړولي دي.

د خوشحال کلیات (نوی چاپ) کی ئې شولان ته کښلي دي:

"کمند ، کمندونه" چي سهي نه ده.

د خوشحال فرهنگ (د یارمحمد مغموم ختټک) شولانونه لغت او د خوشحال په کلام کي ئې مثال راوړی دئ (۱۳۳- مخ)، خو معنایې ځني پاته سوې ده.

د خوشال خان ختټک کلیات په وییپانگه (۱۲۳۲- مخ) کي چي شولانونه په "کمند ، کمندونه" معنا سوي دي، د حیرانتیا وړخبره ده !

سالن لغت د اروانباد عبدالهادي ریشاپه یوه شعرکي داسي دئ:

که پلو وي که سالـــــن وي که مـېوه وي
که شیدې که پراټې که کېک کولچه وي
خدای و هست که خـه لنده وي او که وچه
نوش جان دارو درمـــان دي د مېلمه وي

***

شلومبې:

په کندهار کي ئې هم شلومبې بولي. په نورو لهجو کي ورته (تروې، شرومبې، شناوی) وایي.

خوشحال وایي:

که دغوا دېزو شلومبې خورې زیان ئې نشته

اشــــــتها د ســـــــــړي زياته کا په خـــور

(ارمغان - ۵۷مخ)

په ارمغان (۲۵، ۳۹ مخو کي) د " شلمبو " په شکل هم ليکل سوي دي. په رباعياتو کي "شنوبې " ثبت دئ.

کلپه روپيه نبـــــــايســـته روغه وی

خوچه سوراخ شی نوربی فروغه وی

هيڅوک دخپلــــوشنوبو بد نه وايی

صفت د هـــــــر چا له خپله دوغه وي*

(رباعيات - ۲۱۹مخ)

پوهاند زيار صاحب ليکي چي خوشحال خان "شلومبې " کلمه هغه شان کاروي لکه "چي په لويديزه پښتو کې هم همداسې دود لري ". (وګ: د خوشال ادبي پښتو - ۳۶مخ)

رحمان بابايې هم "شلونبې "دوې هجايي کاروي:

واړه تشي شلونبې شاربې

خبر نه شــــــوي له مطلبه

(۱۲۵- مخ)

په نورو لهجو کي (شلومبې) دري څپې تلفظ کېږي او شين ته زور (فتحه) ورکوي.

***

* "هر څوک وايي چي زما د غرکي خوند ښه دئ " (ع. پالوال)

شوَله:

شوَله هغه درد دئ چي دوامداره نه وي. کله چي راولاړ سي، کرار کرار پسي زياتېږي څو خپل اوج ته ورسېږي. بيا بېرته لږېږي څو وشلېږي. د لنګون درد ته شوَلي وايي. د پېچ يا اسهال پر وخت د کولمو درد ته هم شولي وايي. د کندهار ښځمني ئې په ښراوو کي هم کاروي: "د کولمو شولي دي درولوېږي" په کندهار کي ډېره عامه ښرا ده.

خوشحال خان ئې د "خوارۍ، مشقت، زحمت" په معنا کاروي. دی په دستارنامه کي د شعر په باب وايي:

"يو يو بيت ئې لکه فرزند زوول هسې شولې لري. خدای دي په دا رنځ څوک ګرفتار نه کا".

حميد مومند هم دا کلمه راوړې ده:

يو لـــــه ځلې د سـبق سبقت اندېش
بل له شوَلو د رخصت په خاطر رېش

(کليات - ۴۳۹مخ)

د دغه کليات په وييپانګه (۷۸۸مخ) کې د (شوله) معنا راوړې ده خو تلفظ ئې (sola) ليکلی دئ. چي ګويا د کلمې د سر شين (پېښ، ضمه) لري. دا تلفظ ناسم دئ او د دغه لغت اصلي وينګ د شين توري په سکون باندي (سره) سهي دئ.

"شوَله" په کندهارۍ لهجه کي د (ډېر تېره) په معنا هم کارېږي. د

مثال په توګه "دا چاکو داسي تېره دئ لکه شوَله" يعني دونه تېره دئ، چي وربښته په خريل کېدلای سي.

✶✶✶

صيادي:

په کندهار کي "صياد، سيات" هغه ښکاري ته ويل کېږي چي مرغان د خرڅلاو له پاره نيسي." (وګ: ښکار او کندهار - ۴۲ مخ)

خوشحال هم د "ښکاري" او "صياد" توپير کړی دئ. دی ليکي "د ماهی ښکار د صيادی ښکار چه د اهل حرفت د روزګارِ عالم ښکار دی، دا صيادی د قديمه لا د آدم (ع) د وخته ده ... " (دستارنامه - **۵۵**مخ).

د "اهل حرفت" څخه د خوشحال خان مراد دا دئ چي دا ښکار يو راز کسب و کار و پېشه ده. په کندهار کي هم صيادي خپل کاسبان لري.

د (ت) او (دال) ابدال نور مثالونه هم سته:

جلات - جلاد،

فساد - پسات،

آباد - ابات، ...

✶✶✶

غاو، غوغا:

غالمغال، اعتراض، شکايت.

په دغو معناوو د کندهار په لهجه کي ژوندی لغت دئ. قاموسو اخيستی دئ او په نورو لهجو کي هم سته.

خوشحال خان په دستارنامه کي کښلي دي:

"سرود هـــــــورته دی روا
چه نه غاو وي نه غـــــوغا
سامعان ئې صاحبدل وي
نه وي نفس نه ئې هـــــوا
(۱۲۱- مخ)

اشرف خان هجري وايي:

د حاسد په صعنه غاو نه کا رښتينی
په سنگينه زمکه شور لري سيلاب
(۳۲- مخ)

عبدالقادرخان ختک وايي:

که هر څو ورباندي غاو رقيب غماز کا
عاشــق کله غـــــــوږ د ديو په آواز کا
(۱۸- مخ)

پخوا به د ښار د معتبرو خلکو د کورو په دروازه کي يوه خونه وه چي "غاوچيان" به پکښي اوسېدل. غاوچي د "قابوچي" مفغن سوی شکل دئ او قابوچي تورکی کلمه ده، چي د (دروازه وان، دربان) معنی لري. په خوشحال فرهنگ (۱۵۴- مخ) کي چي "قابوچي" په

"خودغرض، مطلب پرست" معنا سوی دئ، د تامل وړ خبره ده.

* * *

غاري غرځه:

د کندهار ښکاريان ئې "غاري موږيی" بولي (وګ: ښکار او کندهار - ۳۳مخ).

خوشحال وايي:

اې چه په رو کښې ګزار ته سازئې
سترګې دې لکې غوږ په اوازئې
غاری غـرځه دی درباندې درغی
په تخرګ ئې وله کـه تیر اندازئې

(رباعيات - ۲۴۲مخ)

خوشحال خان يو ځای ځان له "خواجه خضري غرځه" سره تشبيه کوي:

په مثال خواجه خضری غرځه خوشال و
چې ګـــــوزار ورباندې وشـــو ناګهان

(د خوشحال خټک کليات–۹۷ مخ)

* * *

غولی:

غولی د کور (انګړ) ته وايي چې په فارسي ئې (حياط) بولي. دا لغت په کندهار کي مروجه ژوندی کلمه او فولکلور ته ئې هم لار

موندلې ده. د کندهار کوچنیان د باران نه اورېدلو پر وخت کور په کور گرځي اوړه، خوړې یا ایکې ټولوي. دا لوبه (ارګوړي) بولي چې په اسلامي ثقافت کې ورته (استسقاء) وايي. د استسقاء له پاره خاصې دعاوي سته. ارګوړي د استسقاء پښتني دود دئ. د ارګوړو پر وخت کوچنیان دغه مسجع عبارتونه په ګډه وايي:

"ارګوړي، برګوړي. خدای دې یو زوی درکې چې پر غولي درته ښورې، ډولاډنگه (لولاډنگه) څه غواړې، یوه کاسه اوړه غواړې، اسمان خړې اوبه غواړې، مځکه شنه واښه غواړي".

خوشحال خان خټک سره له دې چې د (انګړ) او (انګڼ) کلمې هم راوړې خو د (غولي) لغت زیات کاروي:

ودې نه زېږي فرزند
د بابا په غولي، وند
(۴۲- مخ)

یا :

هغه دم چې تور ګیسو په خپل صورت باندې خواره کړې
خوشبویي د خاصه مښکو په درست غولي شي پریشانه
(۲۴۹- مخ)

یا:

په کـــــوټه باندې دا دواړه حبـطه دي
چې دې تش په غولي ګرزي هم بلا دی
(۳۱۴- مخ)

یا:

که وینې ژاړم ګـرېوان چاک کړم
په غولی ګرځم غوغـــــــابلغاک کړم
په دا به تلـــــــــــلی یـاران رانه شي
سکه بایده دا دی چه ځان بې باک کړم

(رباعیات - ۲۸مخ)

یا:

کښېنه په انګړکې مخامـــــخ چې درته ګـورم
تور لونګین، دواړه چندڼ هار په سینه تال کړه

(۲۸۸- مخ)

خوشحال په دستارنامه کې کښلي دي:

"... په لوړ ځای درېدل - په بام ختل، په غولي کښېښ ګرزېدل، دا دي هرګز نه وي... "(۱۳۰- مخ).

رحمان بابا ویلي دي:

د زړه غولی مې نیولی ستا غمونو
نور غمونه دي له زړه ویســتلي ما

(۲۲- مخ)

هجري وایي:

اقبال نه ورځي هرګز د چا په غولي
خو همراه ورسـره نه کاندي زوال

(۷۵- مخ)

میرزا حنان بارکزی وايي:

د ښادی رخ مي ونه لید پر دا غولي
چپه ځغــــــلم بېهوده لــــکه فـــــرس

(۷۰- مخ)

***

غبرګ:

په لوېديځه لهجه کي ئې هم "غبرګ" وايي خو په ځينو نورو لهجو کي "غبرګه" ده. خوشحال خان ئې هم هر وخت د "غبرګ" په شکل راوړي. که ځيني استثناآت موجود وي هغه راته د خوشحال خپل انتخاب نه ښکاري. (د خوشال ادبي پښتو۳۲مخ) کي يادونه سته.

میرزا خان انصاري وايي:

د عالـــــم هنر به واړه پرې تمام کړم
که سرکښ خاطر په غبرګ کي ونيسمه

(۱۸۴- مخ)

***

کاګل ، کاه ګل:

کاګل د کندهار په لهجه کي د (اخبړ) پر ځای کاربړي. مثلاً وايي: په مني مو د کور بامونه کاګل کړي دي.

میرزا خان انصاري وايي:

اوهاله به ئې د مراد تخم زرغون شي

چي د نيو پـــه په اوبو جمال کاګل کا

(۲۱-مخ)

***

کالکوچن:

دا لغت په ظفراللغات کي په "دهوکه باز،... " معنا سوی دئ. د خوشال خان خټک کليات په ويپپانګه کي نه دئ اخيستل سوی او د مغموم په خوشحال فرهنګ کي مي هم په سترګه نه سو. په کندهار کي (کاړکچو، کړکچو) د غالمغال، شور، ږوږ (زوږ) په معنا مروج لغت دئ. عموماً د مرغانو، په تېره بيا میناوو د شخول له پاره کارېږي. ليري نه ده چي له کالکوچن څخه د خوشحال خان مراد (غالمغالي، شرير،...) وي. خوشحال خان په سواتنامه کي ويلي دي:

د "کاچو "نمسی نه خان دی، نه ملک دی

کالکوچن، دروغـــژن غشی د هلک دی

(۳۱-مخ)

***

کاواک:

کهال، ټنبل، لټ:

په لوېديځه لهجه کي کاواک لغت سته او پر ښنګ ئې د همدې مطلب له پاره (کاړي واړي) ويی هم کارېږي.

دخوشحال فرهنګ (د مغموم خټک) دغه لغت اخيستی دئ، چي په مثال کي ئې د خوشحال خان دا بيت راوړی دئ چي ما په کابل چاپ او دانش چاپ کليات کي ونه موند:

سگ مگس خو سگ مگس دی نور به نه شي
که هــــــر څو ئې آړوې کاواک کاواک دی

(د خوشحال فرهنګ، اول جلد ، ۱۵۹-مخ په حواله)

د سپي مچ په آسانه نه وژل کېږي، مګر څوک ئې د دوو ډبرو تر منځ وکوټي. نو دغه کاواک (کم واک) کېدای نه سي (ع. پالوال)

رحمان بابا وايي:

ته ژغوري سرومال په عاشقۍ کښې
عــــاشقي دا هسې چري ده کاواکه

(۲۳ - مخ)

***

کجک، کچک*:

هجري ويلي دي:

مشکي زلفو دي سونا کړه منفعله
په لکۍ ئې کچک پتاله دَ ده ماره

(۱۲۷- مخ)

دا بيت يو څه مغشوش راته ايسي. د سونا هيلۍ، چي په کندهار کي ئې (شين سرې، زرغون سرې) بولي، په لکۍ کي دوه درې تاره ښکي سته چي سرونه ئې چنګ وي. د ښځمنو وربښتانو ته چي د غوږ

* جکه، جکه، جکه – موزي ړيره وهي زما له کجکه زما له کجکه (ع. پالوال)

پر برابري چنگ غچي (قیچي) سوی وي، کجک وایي. د سونا هیلۍ د لکۍ چنگ تارونه او کجک سره تشبیه کېدلای سي.

د کندهاري شاعرانو په کلام کي (کجک، کجکان) زیات راغلي دي. د یوې محلي غزلي سر داسي دئ:

تور کجـــــکان، مـــــا ته جـــابۍ راوړه
که جابۍ نه وي ما ته غاړه بلوڅۍ راوړه

مولوي بریالی وایي:

تاو کجک دي په پرېشانه کاکل بند کړه
د سنبل غوټۍ په شپه دلگیري بنه دي
(اهاړ - ۱۳۴مخ)

***

کچارۍ:

د تجارتي دعوو د فیصلي محکمه.

رحمان بابا وایي:

د وصال دلالان کوم طرف ته غواړم
چي بندي شـــوم د هجران په کچرۍ
(۸۸ - مخ)

مولوي بریالی وایي:

سودا په نقدو کېږي د ژوندون په کچارۍ کي
وریا په دې دوکان کي تبادل څه په کار نه دئ

(اهاړ - ۱۳۲مخ)

د کچارۍ په نامه د کندهار د احمدشاهي ښار په کابل بازار کي یوه ودانۍ سته (وګ: احمدشاهي کندهار، د لیکونکي اثر - لومړی ټوک، ۲۳مخ). کچارۍ ته ئې په کندهار کي(پنچات) هم وایه. دا هندۍ کلمه ده او په کندهار کي ئې د پنچات دفتر ته (فیصله منازعات) هم وایه. بریالی صاحب وایي:

د غمزو پنچاته لــــړ څه خو مــــدد کړه
"بریالی" په دې سودا کي تاواني ولاړ

(اهاړ - ۴۹مخ)

***

کِچړۍ:

کچړۍ یو راز خواړه دي چي له پنډو وریجو او ماشو (میو) څخه پخېږي او پر سر باندي کورت او سره کړي غوړي اچوي. دا خواړه په کندهار کي په ژمي خوړل کېږي.

خوشحال خان وایي:

تود کچړۍ د غوا غوړي په وخت د ژمي
تر حلــوا تر ســــــلوا زیات لــري هنر

(ارمغان - ۵۸مخ)

ځیني کسان د پکتیا د سیمي ژمني خواړه (ډنډکی) له کچړي سره یو شان بولي. خو کچړی او ډنډکی جلا جلا خواړه دي.

***

کِردې:

اعمال، چارې.

خوشحال خان په فراقنامه کې ویلي دي:

چې د بل ښې کردې وینې

ځان اوبه کانـــدې خبيث

(۱۸- مخ)

د اول نیم بیتي "ښې" په چاپي متن کې "شی" دئ. که دا چاپي غلطي نه وي، نو ښايي د ختکو لهجه به د مرتب په پام کې وه*.

عبدالقادر خان وايي:

مرد ئې مه ګڼه چې لافې بې کردې کا

مرد کرده بې لافــو کا، ښځه لافې ده

(۱۷۹- مخ)

په ځينو متونو کی د "کړدې" په شکل هم ثبت سوی دئ. هجري وايي:

په خوله واړه عــــمل کا د اولـــياوو

له کړدو ئې لاس په غوړو د کافر دی

* زه ګومان کوم چې د ختکو په لهجه کښې دي /ښ/ په /ش/ سره وايه کېدئ. خو، د کوټې کاسيان ئې دغسې وايي (ع. پالوال).

(۱۸۷- مخ)

حمید مومند وایي:

ناکردې د محبت و ســــــړي ورکا
په یوه لاس کي پیاله په بل همـسا

(کلیات - ۱۳مخ)

میرزاخان انصاري وایي:

عام وخاص کا د مسکین په نامه فخر
چي ویل کِـــــرده ئې دوارِه ده حنـیفه

(۱۲۷- مخ)

***

کرکنډه:

غټه ګردۍ ډبره چي انسان ئې د پورته کولو قدرت نه لري. په لوېدیځه لهجه کي مروج لغت دئ.

حمید وایي:

عشق مي هسې بې اختیاره دماغ کوز کړ
لکه ورغړي کــــــــــرکنډه په سر ځــوره

(کلیات - ۲۲۳مخ)

***

کړه وړه:

شکل و قواره، قیافه، خد و خال.
عبدالقادر خان وايي:

که لب دي لعل کړم لعل خوشیرین نه دی
که غاښ دي دُر کړم، دُر هسې سپین نه دی
که مخ دي نمر کړم د نمر کړه وره نشته
که سنبل کړم زلفي (خو دا) مشکین نه دی

(۳۹۲-مخ)

د دې رباعۍ وروستی بند په چاپي متن کي همداسي ناسم راغلی دئ. په کندهار چاپ (۱۸۴مخ) کي داسي دئ:

"که دي سنبل کړم سنبل مشکین نه دی"

***

کست:

کست دوې معناوي لري. يوه ئې د (قصد = عمد) پښتو سوی شکل دئ او بله د (رخه) معنا ده، چي په عربي ورته (غبطه) وايي.

دا لغت په دواړو معناوو په لوېديځه لهجه کي ستهٔ. د (کست) کلمې له پاره په نورو لهجو کي د (رَخه) کلمات رواج لري. په کندهار کي (کست) عام استعمال لري. خوشحال ئې هم د (رخه) په معنا راوړي:

په لومړۍ معنا:

ما په وړيو ســـــترګو ډير ياران خوړلي

په ځیرځـیر دې مخ ته نه ګورم له کسته

(۱۹۲- مخ)

په دوهمه معنا:

د اســـمان له عاشقانو سره کست دی

هر زمان ئې په هجران سره غمناک کا

(۹- مخ)

یا: عبدالقادر خان خټک ویلي دي:

وایم مه خانده بل چا سره زه سـوځم

ته زمـا له کسته لا زیاته خندا کړې

(۳۳۰- مخ)

د اشرف خان هجري په دیوان کې د دې لغت دوه رازه لیکنه لولو. دی "قست" هم لیکي لکه په دې لاندې مثالو کې، او "قصد" هم (۲۸۷مخ):

چـــــنار تولي پنــجې پرانتې له شوقه

د بلبل په صوت ئې لاس وهل له قسته

(۴۴۳- مخ)

یا:

تل قدم د ګل په سرکـــېدې له قسته

کوږ ئې نه کا یو ورق د ګوشو پلونه

(۴۴۲- مخ)

دغه قاف د هغه کاف بدلون دئ چې خوشحال خان په سواتنامه

کي (۵۱ - مخ د کابل چاپ) کي سر ځني ټکولی دئ.

***

کشمش:

په نورو لهجو کي (ممیز، مویز) دئ. نور وخکي دا سي بولي.

رحمان بابا وايي:

له خوبانو نه به څوک څه وفا غواړي
ســروي کله د کشمش مــېوه نیولې

(۱۷۷- مخ)

عبدالقادر خان وايي:

د کشمشو پـــــــه لذت به څه پوهــېږي
چې ئې خوله وي عادت شوې له املوکه

(۲۱۴ - مخ)

حمید د انگورو پر څنگ "کوَر" هم راوړي دي:

هر قدم ئې چـول زړونه د دلبرو
په مثال لکه دانې د پخو کورو

(کلیات - ۳۲۷مخ)

یا:

په هنر د پاکـــوبۍ چې آغازگیت کړ
سنگین زړه لکه دانه د کوَرو چیت کړ

(۳۸۳- مخ)

***

ککوړي:

ککوړي يو راز ډوډۍ دي چي د کاک په شان بې له تبې، داښ، تناره څخه پخېږي.

رحمان بابا ويلي دي:

که ښندلي دي په خدای وي يو کيکوړی
نمايان ئې په جهان کښې لکه نمر کړې

(۱۵۱- مخ)

په کندهار کي ښځمني يوه بدل وشمه وراشه لري او د هغه چا په باب ئې کاروي چي تر پزي پوري ئې مړۍ خوړلې وي خو دی لا د لوږې څخه شکايت کوي. وراشه دا ده:

دوې کاسې سرسر، يو د غوايي سر، درې د اور ککوړي، آ! زما نهاري لوري!

حميد وايي:

ټول دې مه شه په زرگونو زر و سيم
چې ته يو کيکوړی خورې پکې يا نيم

(کليات - ۱۵۴مخ)

***

کمبله*:

---

* گلم. کمبله په کندهار کښې عموميت لري (ع. پالوال).

هجري وايي:

هر سړی چي په اسرار د کار خبر شي
تراطلسو خــوښوي کنبله شـــاړه !
(۴۵۰-مخ)

* * *

کوتر:

پوهاند زيار صاحب د خوشحال کليات د پېښور چاپ په حواله ليکي: "(کوتر) ئې زياتره بې ښځينه پايلې ښځينه او کله هم نرينه کارولی دی: اوښتو لره پخته کوتر بايده دی"(د خوشال ادبي پښتو –۵۱ مخ).

د کندهار په لهجه کي "کوتر" د نر له پاره او "کوتره" د ښځي له پاره عام رواج لري. د کوتري نر تر ښځي ښې بازۍ کوي. په پورتني نيم بيتي "اوښتولره پخته کوترbايده دی" خوشحال همدې ټکی ته اشاره کوي. بايد وويل سي چي په کندهار کي د کوترو په نومو کي ټول صفتونه مذکر دي(وګ: ښکارو کندهار -۱۱۱مخ). هجري وايي:

د تن پوست دي ښايسته له اصله نه دی
په چيني جامــه هـــــوس لکه کوتر کړې
(۲۱۸-مخ)

حميد وايي:

هسې رنګ به په نخا تالا کوتر شو

چې به فکـــر د پرې ورته اوتر شو

(کليات - ۳۸۴مخ)

اشرف خان هجري ئې د (کونتره) په شکل هم راوړي:

هغه ښهر چه مـحسود د پېښوروه

نن کونترې پکښې جاله د ببدیا کا

(۲۵۸- مخ)

***

کورنګ:

د آس بچی.

د کندهار په لهجه کې دوې خپې ویل کېږي د هجري په دیوان کې یوه خپه کار سوې دئ.

په هر لور دې د هوس زین کړی کرنګ دی

د لـــغت میدان دې نشته عــمر تنګ دی

(۲۲۰- مخ)

حمید وايي:

راغی ځار شو نر کورنګه د شاهد

رضاجوی په هزار رنګه د شـاهد

(کلیات - ۴۵۹مخ)

شمس الدين کاکړ وايي:

تېز رفتار د "شمس الدين" کورنګ د ژبي

خــو آخــر به شي په دا مــيدان کښي لنګ

(۷۸- مخ)

***

کوغالی:

رحمان بابا ویلي دي:

که نصیب مي شي کوغالی ستا د سپیو

وبه نه کـــړم نور نظر په جام د جم کښي

(۱۲۲- مخ)

په کندهارۍ لهجه کي د غریبۍ محقر کور ته "کونډغالی" وايي.

***

کوکو:

(په اوږده واو) د کوچنیانو په ژبه (ښه، اعلی، ښایسته).

میرزا خان ویلي دي:

د دانا د وړاندي لهـوولعب څه دي

د هلک تر فهمه سره لمبه کوکو ده

(۱۲۷ - مخ)

***

کولک:

کولک دوې معناوې لري:

د خوني کولک: د خوني په چت کې سورى چې د رڼا د داخلېدلو او د دود د وتلو کار ځنې اخيستل کېږي:

هجري وايي:

تر کولک چاپېره مه ګــــــرزه عـابده
ګنه خون به دي په غاړه شي ټوبک (توپک) يم
(۹۴- مخ)

بل د سترګو کولک چې د سترګو کاسې ته ويل کېږي.

خوشحال خان ليکي: "د سترګو رغول څو پردې لرى - وازدې تر چاپيره په کولکونو کښې تور سپين پاسه کولکونه کلک د هډونو د سترګو د محافظت د پاره ..." (دستارنامه - ۲۱مخ).

٭٭٭

کويلى:

کوينى، تاديګى.

د وريجو يا اوګرې هغه برخه چې د ديګ په بېخ پوري نښتې وي.

د کندهار په لهجه کې ئې (کويَنَى) بولي.

عبدالقادر خان ويلي دي:

زويه په کور کې وچ ټوک به ژويې
زوى ئې له لــــوړې کويلې کويې
رښتيا متل دى هــــوښيار ويلى

دنیا خوږه ده تر ځــــــــان ترزویي

(۴۰۷-مخ)

د لام او نون ابدال په نورو پښتو کلماتو کي هم سته. یو څو مثاله ئې دا دي:

لمر – نمر.

لمونځ – نمونځ.

لمانځل – نمانځل.

نولس – نونس.

لمخې –نیمخې.

لماړي –نماړي.

لمسی –نمسی.

***

کیسر:

په کندهارۍ لهجه کي (کیسر) د خرو یو راز ناروغي ده. په دغه ناروغي کي د خرو ګیډه باد کوي.

د حمید په کلیات کي د "قوصر" او "کوسر" په شکلو راغلې ده.

آه سرد نوي مین لـــره ښه نه دی

له تازه پرهاره باد قوصر ژغوره

(کلیات - ۲۱۵مخ)

په ویبپانګه کي ئې معنا نسته.

بل ځای:

چې وهلی د مظلـوم د آه قوصر وي
مه کړه طمع د صحت له هغه رېشه

(۲۳۲- مخ)

یا:

لا ئې اور د غـــــم تازه د خسو خار کړ
دې کوسر ئې هلک زخم لوی پرهار کړ

(۳۶۴- مخ)

* * *

گرگه:

گرگه د وچ لرگي کوندې ته وایي. د ښاخو تر وچېدو وروسته د یوې درختې (ونې) د تنې پاته برخه. کونده سمه منظمه اره کړه سوې وي، خو گرگه هسې تبره و ببره وي؛ په تبر سره کنډوکپر سوې وي.

حمید وایي:

عشق په زړه د تن پرورو کله لـگي
دا چې نه کا اور اثر پـــه لنده گرگه

(کلیات - ۲۳۹مخ)

میرزا خان وایي:

د وصال راحت به هیڅ ورڅخه نه وي
د هجران په اور کې سوځي لکه گرگه

(۱۷۲- مخ)

شمس الدین کاکړ وایي:

لکه اور نه کړي اثر پر لنده ګرګه
هیـڅ اثر راباندي نه کا نصیحت

(۴۰- مخ)

ګرګ (د لومړي په زور) د ایني (جګر) یو راز ناروغي هم ده. ګرګ د پسونو د پوست ناروغي هم ده. په کندهار کي یو متل دئ چي وایي:

"ګرګه ! بله چاره دي نسته بې له مرګه ".

شمس الدین کاکړ وایي:

څه خاصیت و ستا د لب په قنبیله کښي
چي ئې ویوست زما له زړه د هجر ګرګ

(۷۷- مخ)

قنبیله یا ګنبیله یو راز دارو دي.

***

ګړۍ*:

د (ګړۍ) ویی د لحظې، شېبې، ساعت په معنا په لوېدیځه لهجه کي ژوندی او جنس ئې مونث (ښځینه) دئ. په نورو لهجو کي ئې

*ګړۍ د ساعت په مانا سره، او ګړی (مذکر) د شېبې په مانا سره:
رنګ دي ولي بیا ژړی – ژړی دئ
راباندي واچوء لاسونه یو ګړی – ګړی دئ
(ع. پالوال)

جنس مذکر دئ.

خوشحال خان ئې هم مونث جنس راوړی او له "وړی" سره ئې قافیه کړی دئ. دی وایي:

که ســــر د ښځې سپـيني وړی شي
زړه ئې و... ته هـــــــره ګړی شي
ســـــړی نـــــه ده لکــــه پېړی ده
چې... پرې ولاړ شي هاله سړی شي

(رباعیات- ۲۲۲مخ)

رحمان بابا ویلي دي:

په یوه ګړی ئې مخ وي
په یوه ګـــــړی ئې شـــا

(۲۰- مخ)

ښاغلی پالوال صاحب (ګړی، ګهړی) هندي لغت بولي او د رحمان بابا په دغه غزل کې چې شپږ ځایه (ګړی) او لس ځایه (ساعت) راغلی دئ، دې نتیجې ته رسېدلی دئ چې دغه شپږ ځایه (ګړی) د رحمان خپل لغت نه دئ او د بل چا لاسوهنه ده (وګ: معیاري پښتو- ۲۳۵مخ).

میرزا حنان بارکزي (ګړی) مونثه کلمه ګڼي. دی وایي:

پیروي هـــره ګـــړی د هـغو بــــویه
چې ئې خاوري د ببدیا وي په ګذر زر

(۵۹- مخ)

***

گلقند:

طبیبان د گل ګلاب پاڼي په پسرلي کي په مخصوصو دېگو کي د عرق ایستلو له پاره اچوي او عرق (ارَغ) ئې باسي. د ارغ تر ایستلو وروسته د پاڼو تفاله له بورې سره ګډوي او یوه خوږه او خوندوره ماده ځني جوړوي، چي د نس د درد او باد له پاره ئې ناروغانو ته ورکوي. دغي خوندوري مادې ته گلقند وايي او د کندهار خلک ئې له ناروغۍ پرته هم کاروي. میرزا خان ویلي دي:

او قــوت به دي هـــــــــر دم پسې زياتيږي
چي علاج ئې په دا هسې شان گلقند کړې

(۲۳۷- مخ)

***

ګنج:

خزانه، د يو راز شيانو د ذخيرې ځای؛ د يو راز شيانو د ډېرښت ځای.

حميد وايي:

بيا ئې څــــــه نوې متاع په بازار راغله
چي ئې واخيست نوې گنج نوې بازار نن

(د عبدالحميد مومند ديوان - ۲۱۸مخ)

دا کلمه د عبدالحمید مومند د کلیات په ۱۲۲مخ او د درومرجان په ۲۸مخ او د عبدالحمید دیوان په ۸۹ مخ کي "کینج"؟ راغلې ده. دا لغت ئې په پورتنیو چاپوکي معنا کړی هم نه دئ. زما په فکر ئې د هیوادمل ثبت سم دئ. (کینج) لغت زه د کاتبانو مسخه بولم. په مروجو قاموسو کي مي دا راز لغت په سترګه سوی نه دئ.

په کندهار کي (ګنج) کلمه د (بازار، منډیي، نخاس او مارکیټ) په معنا همدا اوس ژوندۍ ده او ظفراللغات هم په همدې معنا ثبت کړې ده. د کابل او شاوخوا سیمي خلک د (نخاس) کلمه پر همدې ځای کاروي. په زاړه کابل کي د (نخاس) په نامه یوه سیمه هم وه. (د لرګو ګنج)، (د پسو ګنج)، (د خرو او غویو ګنج)، (د وریجو او غوړو ګنج) ټول د کندهار د اوسني ښار مشهور او معلوم ځایونه دي.

د حمید مومند په پورتني بیت کي راغلی "کینج" همدا (ګنج) دئ.

د شمس الدین کاکړ په کلام کي هم د (نخاس) کلمه په همدغه معنا راغلې ده:

"شمس الدین" غوندي زرګوني
ئې خـــــرڅـــېږي پر نخـــاس
(۲۲- مخ)

***

ګوار:

د کندهار خلک په ښکنځلو کي "د ګوره زو " جمله کاروي. زما یو وخت داسي فکر ته راغلي وه چي دلته به له "ګوره " څخه مراد "پرنګی " وي ځکه "پرنګي " ته په هندوستان کي "ګهورا " وايي چي اصله معنا ئې "سپین " ده؟

خوشحال خان په سواتنامه کي ویلي دي:

درست عالم ئې د ګوارو په شماره دی
ترتاجکــــو لا په زیست کې آواره دی

(۲۲- مخ)

هجري ویلي دي:

زه ختک په چا خوږې کړم ستر ګي خپلي
تور ګوار پکښي میشته نوم ئې خُبیر شه

(۴۵۲- مخ)

***

ګورم:

(فشار ئې پر دوهمه څپه دئ).

د غواوو ګله.

کندهاریان هغه چا ته چي د پسو رمه پیايي، شپانه وايي، هغه چي غواوي او غوايي پیايي، ګوروان ئې بولي (ګوروان ته په نورو

لهجو کي "غوبه" هم ويل کېږي[۱].
هغه چي د اوښانو ګله پيايي ساروان ئې بولي.
خوشحال په دستارنامه کي ويلي دي:

نه يو سور د تير اندازو
نــــه ګــــورم د نيزه بازو
(۵۱ - مخ)

***

ګوندي*:
(فشار ئې پر لومړی څپه دئ) د (شايد ، ممکن) په معنا.
د کندهار په لهجه کي ژوندی ويی دئ. په نورو لهجو کي د (ګوندي) پر ځای (ګني) کلمه کارېږي.
خوشحال وايي:

ګوندي وي چي د وصال په خوښی خوښ شي

---

[۱] حميد ويلي دي:

شپون غوبه څکه سنګدله ويلاړه شي
چي روزګار ئې وي لــــه کانو د بيديا
(۵ - مخ)

* هيله ده، اميد کوم، آرزو.

ګوندي، ګوندي مي دلبر په خندا راسي دلې
نوئ غم به مي له زړه څخه جلا سي دلې
د شاعر نوم مي ئې هېر دئ (ع. پالوال)

چې خـــــوشـــحال په جدايیه کې ډېر نول کا
(۴-مخ)

يا:

ما وې زړه ئې گـــوندې نرم په ژړا کړم
چې اثر پرې ژړا نه کاندي څوک څه کا
(۸ - مخ)

دغه راز په دستارنامه (۲۳۱- مخ) کې کښلي دي: "... بل حماقت دی له جهله- سړی گوندي په ډېر علم تربيت خلاص شي".

✷✷✷

لار*:

دا لغت د پښتو په ختيځه لهجه کې (لاره، ليار) ويل کېږي. د کندهار په لهجه کې ئې (لار) بولي. د خوشحال کليات په شپږم مخ کې د (لار) په شکل راغلی دئ او ورته ليکلي ئې دي چې په چاپي ديوانو کې د (لاره) په بڼه ثبت دئ او داسي ښکاري چې دوی له خطي نسخو څخه اخيستی دئ.

تلم په خپله لار راســره مله شـــوه نگارا
شوخه، غمزه گره، خنده رويه، خود آرا
(۲ - مخ)

* لارۀ: په کندهار کښې د موزيک طرز دئ. کله چې بدله ورسره نه وي، هغه تشه لارۀ ده (ع. پالوال).

یا:

یار مې لاړ شو په دا لار ورپسې درومم

که د بر سترې په دا لار یـمه په ځـای یم

(۱۳۸- مخ)

یا:

د یار مهر تر ما راغی زمـــا مهر تر یاره

رښتیا ده دا خـبره چې د زړه ده لار د زړه

(۲۹۷- مخ)

دغه راز په سواتنامه کې راغلې دي:

درې ځلورمیاشتې دا لار وي ښه روانه

د بر آفت لـــــــري له برفه، لــه بارانه

(۸ - مخ)

رحمان بابا هم(لار) کلمه له لوبديځ ګړدود سره سمه راوړې ده.

چه ویریږي له کوهي او له ګړنګه

هغه نه درومي پــه لار د دې دنیا

(۵ -مخ، ۴۸- مخ)

هجري هم پر دغه لار روان سوی دئ:

ربه لار ئې پــــه ریاض کــړه برابره

چه هر ګل ئې له عذارو لون سود کا

(۱۳- مخ)

عبدالقادر خان هم دغه لار اخیستې ده:

نن ئې بيا کنبېنو په سر باندې دستار کج
لکه مست هـــاتي په لار کوي رفــتار کج

(۴۸- مخ)

حميد مومند ويلي دي:

لاړ به کله شي د عشق پــه ستغو غاښو
دا په سـمه لار کې سترى ستومان عقل

(کليات - ۱۳۷مخ)

ميرزا خان انصاري ويلي دي:

چي ئې لار ليدلې نــه وي رهبري کا
ړناورځ به توره شپه کاندي په وعظ

(۷۲- مخ)

يا:

پر دا عامه لار ئې لويه لومه کنبېښوه
هيڅ دانا ځني خلاص نه شو بې قانعه

(۱۵۸- مخ)

د کندهار شاعر ميرزا حنان بارکزى وايي:

ستا د قد د راتلو لار گــوري دلـــبره
چي د باغ تر ډېوال سروي سر بدر کړ

(۲۳- مخ)

***

لولپه:

سر تر پایه یو مخیزه مکوټ کېدل.

عبدالقادر خان ختټک ویلي دي:

گاه باران شي د ژوندون اوبه کا تویې
کلــه اور شي لولپه کا تـــــــمام شهر
(۲۰- مخ)

په حاشیه کې ورته کښلي دي چي په (الف، ک) نسخوکي دا مصرع داسي ده: "گهی اور شي سرېِ لمبې کا تمام شهر". دغه لمنلیک چي ما ولووست، په زړه کي مي وویل چي په "لولپه" او "سرېِ لمبې" کي یوه هرومرو د کاتب لاسوهنه ده. دواړه د عبدالقادر خان کلام کېدلای نه سي. له امکانه لیري نه ده چي د کاتب په لهجه کي دي د "لولپه" کلمې وجود نه درلود، نو ئې په "سرېِ لمبې" سره الیشه کړې ده.

(لولپه) په کندهارۍ لهجه کي مروجه کلمه ده. مولوي بریالي ویلي دي:

که لا مکوټ و لولپه ســــــم پر یوه حال یمه
د یکرنگۍ د توحید قول مي ایمان کی پوخ
(اهاړ- ۲۷مخ)

***

لېوه:

لېوه هغه جناور ته وایي چي د کندهار په لهجه کي ئې بل نوم

(شرمښ) دئ او په پارسي ورته (گُرگ) وايي:

ډاکټرعبدالرازق پالوال د (لېوه) مفهوم لري. څه پراخوي او ليکي: "لېوء په پښتو کښې عموماً د شرمښ معادل پېژند ء کيږي. خو په ځينو لهجو کښې لکه د هلمند او بړيخستان پښتو، لېوء د ټولو خيرؤنکؤ حيوانانؤ مجموعي نوم دئ. يعني چغال هم لېوء دئ، بړوې هم لېوء ده؛ کوړ هم لېوء دئ، پړانگ او زمری هم لېوان دي. د لېوء نوم له يوناني او لاتيني څخه و پښتو ته راغلئ دئ. په دغو ژبو کښې لېوء و زمري ته ويل کېږي..". (معياري پښتو - ۱۷۰مخ. نقل قول د ډاکټر پالوال په ليکدود دئ).

د (لېوه) لغت په کلاسيک ادب کي زيات راغلی دئ او دا چي په کلاسيک ادب کي (لېوه) او (شرمښ) دواړه راغلي دي، د ډاکټر پالوال استدلال په پياوړی کېږي. خوشحال وايي:

عاشق يو لکه لېوه په شمال پايي
بل په غټو سترگو خوب کا لکه سويه

(۲۸۲-مخ)

رحمان بابا وايي:

نه لېوه په آدميت آموخته کېږي
نه اميد د مروت شي له افلاکه

(۱۲۸-مخ)

هجري وايي:

په دوو چشمو مي شيرينه تر ليلی ده
خو په زړه مي خرابي لکه ليوان کا

(۱۲-مخ)

قادر خان خټک ویلي دي:

په معنی کي بشر نه دی پړانګ لېوه دی
چې د ده له لاســـــــــه مومي بشر شر

(۵۲ - مخ)

کامګار خټک ویلي دي:

د مجاز په صورت خرنګ ښایسته ئي
په معـــــــنی کې یا لـــــېوه ئي یا بقر

(۳۸ - مخ)

په ظفراللغات کې (لېوه) په (ګرګ) او (خرس) سره معنا کړې دئ او د خوشحال فرهنګ مولف او د هغه په پیروي د خوشال خټک کلیات په ویبپانګه کي شرمښ، چې دوی دواړه ئې د خوشحال د وینګ پر خلاف "شرمخ؟" لیکي، او لېوه یو حیوان بللی دئ (۱۳۱-مخ).

د کلاسیکو شاعرانو په کلام کي ځای ځای داسي قرینې ستنه، چي (لېوه) دي د کندهارۍ لهجې په شان د شرمښ له پاره کار سوی وي. اشرف ویلي دي:

هر ساعت ئې د ستم په داړو نیسي
د یار یاد لکه لـــېوه، هجري بره شه

(۱۱۴-مخ)

یا بل ځای:

څو یاران لکـه رمه هسې غنچه وو
د هجران لیوه په زور سره جدا کړو

(۱۱۱-مخ)

په دې دوو بیتو کې د (رمه)، (بره) لغتونه پر دې خبره دلالت کوي چې (لېوه) دې د (شرمښ) په معنا راغلی وي.

***

مالامال:

تر خوکې پورې ډک لوښی.

خوشحال وايي:

خوبی د عــــمر تر خلو ښښت کاله ده
چه په ځــوانۍ کښې ماله ماله ده
حواس که درست لرې شکر وکاره
څو دې ودانه د عـــــــمر ځاله ده

(رباعیات - ۲۸مخ)

***

ماهی، ماهیان:

په لوېدیځه لهجه کې د (کب) له پاره (ماهی) لغت عام کارېږي.

په کلاسیک ادب کې هم د (ماهي) کلمه ډېره موندلای سو.

خوشحال خان ویلي دي:

ستا وصال لکه دریاب دی، زه ماهی

په هجران دې هر زمان دی په ما ، هی

(۳۳۲- مخ)

رحمان بابا وايي:

لکه غوټې چه ماهيان خوري په درياب کښې

په هــــوا کښې هـــــم دغه کاندي مـرغان

(۸۲ - مخ)

رحمان بابا (کب) هم راوړی دئ (۹۱ - مخ).

هجري وايي:

هــر صنم وخپل مين ته حمــيده وي

ماهی خوښ په بحر نه وي تر تالاب

(۳۲- مخ)

ميرزا خان ويلي دي:

د ماهي له اوبو هيڅ انديښنه نه شي

ســـــمندر څه پروا نه لري له حـرقه

(۱۲۹- مخ)

* * *

متکا*:

دا لغت هم په کندهاری لهجه کي سته او يو راز اوږده پيت بالښت ته ويل کېږي. خوشحال خان ويلي دي:

---

* عربي لغت دئ (ع. پالوال).

کله مست د مال و ملک شي
کله مست شي د صـــــــهبا
د مسند دپاســـــه کښېني
لـــور په لـــــور دي مــتکا

(ارمغان - ۴۵ مخ)

په کندهار کي ما دا ټوکه اورېدلې ده چي وايي: د يو چا کور ته مېلمه راغلی وو. د کور خاوند پر زوی رېغ وکړ، چي کاکا ته دي متکا راوړه. مېلمه په متکا نه پوهېدئ، فکر ئې کاوه چي متکا د خوړلو شي ته وايي او په جواب کي ورته ويلي وه "از متکايت قربان، بان که اولادها بخوره". خود به نو د مېلمه ژبه پاړسي وه، چي جواب په پاړسي ويل سوی دئ.

د بالښت له پاره خوشحال خان د "سروېږدی" لغت هم راوړی دئ: په کندهار کښي عموميت لري.

پروت به ئې په خاورو تر سر لاندي اومه خښته
اوس کــــه دي ســـــــروېږدی نهالئ کاشاني دی

(ارمغان - ۸۵مخ)

د "سروېږدی" کلمه ما د کندهار ښار د اوسېدونکو ناصرانو له سپين ږيرو څخه اورېدلې ده.

* * *

مړونه، مړانه - مېړونه، مېړانه:

خوشحال خان مړانه، مړونه، مړنتوب له کندهارۍ لهجې سره سم ليکلي.

هـــــم مې دولت شته هم مې ملکونه
هم مې ځوانان دي هم لوی لوی غرونه
دا واړه هيڅ دي په کــــوم حساب دي
چې پکښې نشــــــته ښه ښه مــړونه

(رباعيات - ۱۲۰مخ)

پوهاند زيار صاحب هم دا خبره تاييد کړې ده (۳۸مخ). زه بايد پر زياته کړم چې د دې پر څنګ خوشحال خان "مېړه" له لوېديځ ګړدود سره سم زياتره د "شوهر" په معنا کارولي.

لاس مې که هر څو په دنيا ښخ دی
نه چې دولت مې د غـــاړې مخ دی
زه ئې مــېړه يـــــم دنيا مې ژګه ده
زړه مې په هر څه ورباندې يخ دی

(رباعيات - ۱۳۲مخ)

دغه راز په دستارنامه کې مېړه د (شوهر) په معنا راغلی دی:

"... که په هغه خونه د دې په ويل د دې مېړه ومري دا به هم هسې راضي وي" (۱۱۴مخ).

په مړانه د (شجاعت) په معنا داسې راغلې ده:

"... مړانه دا ده چه په غليم راشي - يکدله ورباندې مټ يک جلب وکړي... " (٨٠ مخ).

حميد وايي:

ترکو ډېر په خپلو زلفو دي نيولي
زاهــدان دي لافي نه کا د مړاني
(کليات - ٣٠٨مخ)

رحمان بابا هم "مړنى" د صفت په توگه کاروي نه "مېړنى".

مــړنى ويلى بــــــــويه و هغه ته
چه بې وجهې آزار نه کا هيڅ سړى
(٩٨ - مخ)

هجري ويلي دي:

عابد خان مصلحتي هم مړنى دى
د غليم ســــــره خالـد لکه تبر دى
(١٩٠- مخ)

حميد مومند وايي:

آخر حسن زړه ورمه گـــوره حميده
مړني د لښکر درومي په دنبال پس
(د عبدالحميد ديوان–٢٤مخ، دراو مرجان - ٣٨مخ)

په کليات (٩١مخ) او د عبدالحميد مومند ديوان په (١٢٥مخ) کي "مېړني" ليکل سوي دي.

د حمید د کلیاتو د نیرنگ عشق په برخه (۳۸۰مخ) کي د شاهد د توصیف په ترڅ کي د "مړنیو" کلمه راغلې ده:

په دوو سترګو، کینه ګر لکه مزری
د پـــــــرهېز لــــه مــړنیو وړي برى

دا بیت له وړاندي او وروسته بیتو سره د سیاق له مخې ما ته سم ثبت سوی نه ایسي. په بیت کي د "وړي = میبرد" فعل باید "وړی = بُرده است" وي. په دې صورت کي نو د "مړنیو" شکل هم باید بدلون ومومي او د څلورو څپو پر ځای باید درې څپې "مړنو" سي او همدا ئې ما ته سم ثبت ایسي:

په دوو سترګو، کینه ګر لکه مزری
د پـــــــرهېز لــــه مــړنو وړی برى

د غه راز په ۴۹۸ مخ کي ئې هم "مړنو" لیکلی دئ.

په کندهارۍ لهجه "مړانه" د بلوغ په معنا هم استعمالېږي. په پلاني کال مړاني ووهلم. یعني بلوغ ته ورسېدم. (د بلوغ له پاره "کوزه اخیستل" اصطلاح هم مروجه ده).

***

ملا چرګک:

یو مرغه دئ چي په عربي ئې (هدهد) بولي. ملا چرګک ته په نورو لهجو کي "ګوډی چرګ" وايي. په کندهارۍ لهجه کي ئې ملا

چرګک بولي[1]. په کلاسیک ادب کې دا دواړه نومونه راغلي دي.

میرزا خان انصاري وايي:

سجده څو کړې بې حضوره
د ناسوت کښې ملاچرګکه
(۱۷۴- مخ)

خوشحال وايي:

ګودی چرګ تر مځکه لاندي او به ويني
ولي نه ويني په مځــکه باندي لــــومه
(۲۴۰- مخ)

***

میاشت:

د خوشحال خان په کلام کې موږ د (میاشت) کلمه هغه راز مومو، لکه د پښتو په لوېدیځه لهجه کې چې په عام ډول مروجه ده. په دې لهجه کې (میاشت) د برشو ورځو ته هم ویل کېږي او د (سپوږمۍ) اولو او آخرو شپو ته هم. د خوشحال خان په دې بیتو کې میاشت د (سپوږمۍ) په معنا راغلې ده:

نوې میاشت به دې په مخ ګـوري وګړي

---

[1] د دغه مرغه د پوره پېژندنې له پاره وګورئ: ښکار او کندهار - ۱۱۷مخ.

که په مخ باندي دي جوړ سم د سمند کا

(۲۴- مخ)

څه لره اي مياشتي ! ته خپل مخ ستايې و ما ته

يار په مخ مې نورځي ستا په مخ درومي تورتم

(۱۲۴- مخ)

د دستارنامې په ۱۹ مخ کي بيا مياشت د (month) په معنا راغلې ده: "... چه تنومند شی، تر شپږمې مياشتې پوري ئې قابل د زوولو کا - په نهمه مياشت وزېږي ... ".

او په (۹۱- مخ) کي بيا د "سپوږمۍ" په معنا کارسوې ده.

په فراقنامه ۱۰مخ کي هم د سپوږمۍ په معنا راغلې ده "مياشت دوه نيمې ورځې په هر برج کښې مقام لري... ".

رحمان بابا که څه هم د "سپوږمۍ" لغت مکرر کاروي خو يو ځای دوه ئې "مياشت" د سپوږمۍ په معنا راوړې ده.

خــــم ابـــرو د يارمي نقش په لبـــمه دي

لکه مياشت چي په لوی بحر کښي ليده شي

(۲۱۰ - مخ)

عبدالقادر خان هم مياشت د سپوږمۍ په معنا کاروي:

ښکلي مخ ئې مياشت خجله کړه نمر هم لا

قد ئې سرو کـــــړ سرکوزی عرعر هم لا

(۳۵- مخ)

د خوشحال خان په پښور چاپ کلیات کي چي ځای ځای "میاشته" راغلې ده (د پوهاند زیار صاحب "د خوشال ادبي پښتو - ۳۲مخ" په حواله)، ما ته د خوشحال خان خپل تلفظ نه ایسي.

حمید مومند وايي:

سرتړوني نوې میاشت تر سر جار باسي
د هر ښکلي درد په سر دی ستا له درده
(کلیات - ۲۰۲مخ)

***

مېرمن:

دا لغت په عام ډول د ښځي له پاره او س عام سوی دئ. په کندهار کي "د کور مېرمن" خاص مفهوم لري او هغي ښځي ته ويل کېږي چي د کور سرښته، اداره او تنظیم ئې پرغاړه وي.

خوشحال خان وايي:

تر مېرمني وينځه ښه ده په ښه خوی کښې
نه مېرمن چي نه ئې خوی وي نه بشر
(ارمغان - ۲۰مخ)

رحمان بابا ئې په همدې خاص مفهوم راوړي:

نه رسېږي ستا و حسن و ته حوره
څه به رسي و مېرمن و ته مزدوره
(۱۴۰- مخ)

حمید وايي:

لړلړ ښه هـــــــــم مناسب له نفسه نه دي
غله مېرمن کاندي ځان موړ په څکه څکه

(کلیات - ۲۳۸مخ)

میرزا خان ویلي دي:

تـــــه گدای د ولایت ئې
شاه د دوو کونو مېرمن ده

(۱۲۵- مخ)

یا بل ځای:

اې حاجي له پټه بخته سیالي مــه کړه
چي د کـور مېرمن ونه وینې مه ویاړه

(۱۴۰- مخ)

***

نابوده:

په لغت کي (بد ، د "ښه" ضد) ته وايي نابوده سړی یعني ډېر بد سړی او په اصطلاح کي دغه لغت د (دنیا) له پاره کارېږي. نابوده دنیا ، یعني فاني دنیا ، هغه دنیا چي د خدای نېکانو نه ده خوښه کړې. دا لغت په کلاسیک ادب او لوېدیځه لهجه کي ما په یوه معنا لوستلی او اورېدلی دئ. خوشحال خان ویلي دي:

هم خدای غـــواړې نادانه ! هـــم فـاني دنیا نابوده
په څو به دي روزي شي، فکر وکړه دا دوه سوده

(۲۰۷- مخ)

شمس الدین کاکړ وایي:

خوک به ښـادي کـــــړي په دا نابوده
خوک به ســـودمن شي د دې له سوده
که ئې مقصود شي تمام په لاس کښې
خـــــالي به درومي له دې مقصـوده

(۱۴۷- مخ)

د کندهار ښځمني وايي: "چې زما تر سر سي تېره، خدای دي نه کي دا نابوده دنیا ډېره".

***

ناره*:

د کندهار په لهجه کي (ناره) د فاصلې د واحد په توګه هم کارېږي. دا چي وايي: "پلانی کلی له دې ځایه څخه یوه ناره لیري دئ". مخاطب پوهېږي چي دا فاصله څونه ده؟ خوشحال خان هم ناره د فاصلې له پاره راوړې ده.

که رښتینی محبت لـرې مه ناره
په یوه ناره بیل شوی یار و ژاړه

(۲۹۱- مخ)

د (ناره) بله معنا (مسلسل ژړا، چیغاري) ده.

---

* اصل ئې عربي نعره ده (ع. پالوال).

"دا هلک ولي داسي په يوه ناره دئ" ، يعني ولي پله پسې (پرله پسې) ژاړي او ژړا ئې نه درېږي. عبدالقادر خان وايي:

که غمونه د دې خپل خاطر ښکاره کړم
لوی هلک به هـــــمه واړه په ناره کـــړم
(۱۰۲- مخ)

دلته له "ناره" څخه مراد (ژړا ، فرياد) ده.

* * *

نالي*:

توشک ، کوربچه.

د کندهار په لهجه کي په همدې شکل مروج ويې دئ، خو په نورو لهجو کي ورته (نيالي) ويل کېږي.

عبدالقادر خان ويلي دي:

اسمان خونه د فقير ده
نالي مځکه نمر لحاف
(۷۷- مخ)

شمس الدين کاکړ ويلي دي:

خدای به کله داسي وکا ، چي يو کټ يو مو نالي وي
چي زه پروت يم يو طــــــرف، نازنين پر بل طــــرف
(۷۱- مخ)

* نالي پلنه او کوربچه به ئې په نيمايي پسروره وي (ع. پالوال).

***

ناليږ:

د رود يوه برخه، د رود (سيند) يو ښاخ.

ښاغلي ډاکټر پالوال صاحب ليکلي دي: "له راده يا سينده څخه چې يو ښاخ بيل سوئ وي، او اوبه ئې دوه گرايه يا درې گرايه تر راده لږې وي، ناله بلله کيږي "(معياري پښتو -۱۷۱مخ).

عبدالقادر ختک ويلي دي:

چې ډير ډير د جـــــدايي له غمه ژاړم
په رخسارو کې مې سازې شوې نالې*

(۳۴۸-مخ)

حميد وايي:

که يار غوارې هومره ژاړه څو درځي "عبدالحميده"
دا په دا چې دُر مــــونده شي په درياب نه په ناله کې

(کليات-۳۰۲مخ)

***

نامي:

نامتو، د وتلي نامه خاوند (نوموتی).

---

* د کوږک په سهيل کښې "ناله" و "لښتي" ته ويل کيږي چې د قادر خان بيت سم ورسره وايي (ع پالوال).

د کندهار په لهجه کي(د نامي زوی) د قهرمان په معنا کارېږي.
هجري وايي:

د ليلی غوندې رشتيا وکړه نامي شه
په مجنون پسې وطن کــړه هـندوبار
(۴۲- مخ)

***

ناويات:

نادر، انتيک.
خوشحال خان په سواتنامه کي ويلي دي:

په دا هسې شـــــان کتاب ئې مــباهات دي
د جامي تر "هفت اورنگ" ورته ناويات دي
(۴۷- مخ)

***

نجار:

په کندهار کي د (ترکاڼ) لغت باب نه دئ او هر وخت ئې پر ځای باندي (نجار) ويل کېږي. په کلو کي ترکاڼ بلل کېږي، او دا متل هم سته چي: "ترکاڼي د بيزو کار نه دئ".
حميد مومند هم د (نجار) ويی راوړی دئ:

چي د عشق نجار اره کــــــړم سر تر پايه
تن مي پروت تختې تختې، شه دړه دړه

(کلیات - ۲۲۲مخ)

شمس الدین کاکړ وایي:

بې مېوې ونه که پرې که
پر نجــــار نه شي غضب

(۳۸- مخ)

***

نس*:

په لوېديځه لهجه کې د (ګېډه) کلمه زیات استعمال نه لري او پر ځای ئې (نس) ویی کاروي. خوشحال خان هم سره له دې چې (ګېډه) هم راوړي خو (نس) ئې ډېر راوړی دئ.

په کاته شم و عــالم وته حــیران
چې د نس دپاره څه کا دا سګان

(۱۵۳- مخ)

یا:

په خواری کې، زیست روزګار تر مرګ بتر دی
یا د بل ګـــــیډه یا خــپله ګـــــــیډه بڼه کـــړه

(۳۰۲- مخ)

د رحمان بابا په دیوان کې هم "نس" او "ګېډه" دواړه راغلي دي:

نس په خاورو په خس ډک ښه دی بې غمه

* د آس او خره د نس او ترمخنۍ پښو تر منځ، چې تانګ پر تړل کیږي، ګېډه ئې بولي. په اصل کښې ګېډه معده ده (ع. پالوال).

نه د غـــــم په خـــــاروخس پخه حلـــوا

(۱۳- مخ)

که تمام جهان په خپله ګېډه وخوري

یاد به نه شي پـــــــه درود و په دُعا

(۱۳- مخ)

دغه راز هجري ویلي دي:

مخ د مځکي که فـــراخ دی ستا پر څه دی

ستا نصیب د دي په نس کښېي دري ذراع

(۲۷ - مخ)

عبدالقادر خټک ویلي دي:

که وصال عبدالقادره د یارغواړي

یو قــدم په دنیا کښېږده بل په نس

(۲۷ - مخ)

حمید مومند د "نس" لغت خورا ډېر کاروي:

اې مدام د نس په زېرمه مبتلا

ځان ته ولې وېښنوې ویده بلا

کامګار خټک وایي:

واف د روح مې په قفس د تن زهیر شو

چې انیس ورسره نس لــکه عقــیق شو

(۸۱ - مخ)

***

نغاړل:

تاوول، پېچل.

په مشتقاتو کې ئې (نغاړکۍ، نغاړۍ*) د اسم په توګه د کندهار په لهجه کې عام لغت دئ [چې د کوچنۍ نالي(نيالي) معنا لري].

د کاکړو په باب ويل کېږي: "کاکړ څه کي؟ کاغذ په ګوتو نغاړي، يو شر د خدايه غواړي"**.

خوشحال په سواتنامه کې داسې ويلي دي:

د دنيا حــــــرام، حـلال وبله نغاړي

همه مدعي دي چې خدای غواړي

(۵۸ - مخ)

رحمان بابا وايي:

تمامي جــــــهان لـــــــمن راخــــه نغاړي

سپين زړوکی مي اغوستی تور کودی* شوم

(۷۷- مخ)

---

* نغړۍ او نغاړکۍ په استعمال کښې تېر دئ، خو جوړښت ئې بېل دئ. نالي کېدای نه سي (ع. پالوال).

** "کاکړه يم، نيم ګز تر نورو لوړه يم؛ پلو په ګوتو نغاړم، يو شر له خدايه غواړم" (ع. پالوال).

* کودی هم له مشترکاتو څخه دئ، کودی د مات خاورين لوښي لويه ټوټه وي او کودري، کودرکي ئې کوچينۍ ټوټې وي (ع. پالوال).

مولوي بريالی وايي:

د دماغ معلم مي بس بس راته وايي
گمنامي مي لـــمن نغاړي په تابوت

(اهار - ۱۵مخ)

***

نونس:

نزده (پارسي)، ۱۹ عدد.

دا عدد په نورو لهجو کي (نولس) ويل کېږي او د لوېديځي لهجې تلفظ ئې (نونس) دئ. خوشحال خان ئې هم (نونس) ليکي.

څه صفت د هسې حسن په غـــــزل کړم
چې په نونس بابه کل مشکل پسند دی

(۳۱۷- مخ)

د خوشحال خان خټک د دېوان په ټولو چاپو کي، له ارمغان پرته، "نونس" ثبت سوی دئ (د کامل مرحوم چاپ راسره نسته)، ځکه نو څوک ويلای سي چي همدا به ئې د خان خپل تلفظ وو.

***

نمای:

په کندهار کي "نمای، نمايداره" د ښايست، موړ، فيشن له پاره

کارېږي. خوشحال ئي هم په همدي معنا راوړي. دی په دستارنامه کي ليکي: "خبر شه چه دستار په سر کول د شيوې او نمای دپاره نه دی. دستار د مرد شرم او عزت دی". (دستارنامه - اول فصل - ۴مخ – د پېښور اکيډيمی چاپ - ۱۹۹۱ع).

رحمان بابا وايي:

چي يو غاښ په خوله کښېږي زوړند شي يا ووزي
درسته خـــــــوله پرې بد نمايه شي هرگـــور
(۱۴۵- مخ)

هجري وايي:

سره کونډۍ ئې په مړوند عجب نمای کا
هـــــــرگز مه شه په آفت د گردون ما ته
(۳۴- مخ)

عبدالقادر خان ويلي دي:

چي تنکی لښــته وې وخت د نـــــــمای وو
هــــــحــرکت دي زمـــــــــا په رای وو
چي ښاخ شوې شوخ شوې تبر تر ښځ غواړې
محنت مي واړه ضـــــــــايع بې ځــای وو
(۳۷۷- مخ)

✶✶✶

نوغی:

نوغی د (شرم، پېټ، عیب) په معنا په لوېدیځه لهجه کي کارېږي. نوغی د پزي یا غوږ پرې کول دي. پخوا به ئې د بداخلاقۍ په سزا کي د ښځو پزي، یا غوږونه پرې کول. دا عمل ئې (نوغی) باله. نوغی په پوري سو، وراشه به د هغه چا له پاره ویل کېدله چي دغه راز سزا به ورکړه سوې وه.

خوشحال "نوغی" یوازي د (داغ) په معنا راوړی دئ خو د کندهار په لهجه کي نوغی (د شرم داغ) ته وایي. ښځه چي له مېړه سره پر بې وفایي باندي ګیر کړي نو ورته وایي چي " مړه دي کړم که نوغی درپوري کړم".ښځو به زیاتره مرګ قبول کړ.

خوشحال وایي:

مهینه توره خورنګ تمام وړی
ځیني ئې ګیډه یا یو اندام وړی
ځیني مخ واړوي نوغی ونه کا
د هغو تورو ناحق ځوک نام وړي

(رباعیات-۲۳۰مخ)

***

واته:

د (وتل) له مصدر څخه. په کندهار کي ویل کیږي چي "سترګي مي له حیرته ورته ووتلې". خوشحال عین مطلب راوړی دئ:

په تورو خاورو کښېږي که ګوهر پراته دي
په خـوارو سترګـــــــو ورته کاته دي
په دا کـم نه شي د ګـــــوهـــــــرو قدر
د پـــــوهو سترګـــــو باندي واته دي

(رباعیات-۲۹۴مخ)

دغي ثلوريځي ته ئې په حاشيه کي کښلي دي: "ښايي واته د باور په معنی وی څکه وتنه په دغه معنی په ادب کښې ډېره (واته، وتنه) دواړه د حاصل مصدر شکلونه دی". دې حاشيې ما ته دا فکر پيدا کړ، چي د محشي په لهجه کي "د سترګو واته*" ورا شه نسته. که وای داسي غير محتمله معنا ئې نه ورته کښله.

✶✶✶

واري:

تر جارېدل، تر قربان کېدل.

عبدالقادر خان وايي:

بل که هر څو ښايسته وي خدای دي نه کا چي ئې ګورم
تر يــــوه بانه د کښلي دي جـــــهان شـــه واري واري

(۲۸۴-مخ)

---

* رحمان بابا وايي:

په کاته، کاته مي سترګي په واته شي
چي خبر دي د راتلو راباندي وشي

له ياده څخه که په ديوان کښې وکتل سي ښه به وي (ع. پالوال).

معصوم هوتک ویلي دي:

دروارې سم، درواري سم آزموږ ښکلي کندهاره
آ اشـــــرفه د ښـــارونو آ تاجـــداره آنامـــداره

* * *

واله، ولې:

دا لغت په نورو لهجو کي (ویاله، ویالې) تلفظ کېږي. د لوېدیځي لهجې وینګ ئې (واله، ولې) دئ، چی په کلاسیک ادب کي زیات موندل کېږي.

خوشحال خان وایي:

د بادشاهـــــانو چي امرګان دي
د یوه بحر ولې شـــان شـــان دي
واله چه لـــویه که کم لښتی وي
اودس پاکیـ لره واړه یکسان دی

(رباعیات - ۱۸۹مخ)

دغه راز په دستارنامه کي لولو:

"... د دریاب ولې لکه د دریاب د اوبو مزه هسې د ولو د جویونو د شهنشاه د حکم وتلی دی... "(۱۲۸ - مخ).

خوشحال په فراقنامه کي وایي:

ګاه د آه لمبي تر خـولې ځي
ګاه له دوو سترګو ولې ځي

(۵۱ - مخ)

په سواتنامه کي داسي لولو:

په هر کلي په هـــــــر کـور کې ئې ولې ځي
هم ئې خوري، هم ئې هر لوري ته غلې ځي

(۴ - مخ)

رحمان بابا وايي:

ستا له غمه مي په مخ باندي ولې دي
لړ مي وپوښتـه له حـــاله چه ولې دي

(۲۰۲- مخ)

کامگار خټک وايي:

په ژړا ژړا مي اوښـکې نه وچـــــېږي
په دا دوه ولې لوی بحر خرنگ کم کړم

(دېوان- ۲۲مخ)

پوهاند زيار صاحب "واله" د خوشحال خپل " تېرنی گړدود " بولي (۳۷مخ). گويا د خوشحال تېرنی گړدود په دغه برخه کي له لوېديځ گړدود سره يو راز قاعده لري.

شمس الدين کاکړ د (ولې = ويالې) لغت داسي راوړی دئ:

چي جاري مي شوې ولې تر دواړو سترگو
لکه سـرو نن د جـــــــــوی پر کــنار راغی

(۱۳۱- مخ)

د خوشحال په بیان کې دغه راغلي (جوی) ته، چې تر ولو (ویالو) ئې د غټوالي په حساب درجه وروسته ده، ته د کندهار په لهجه کې (لښتی) وایي.

خوشحال خان بل ځای وایي:

"... حفر نهر، د ولو جاري کول، د کوهي کیندل، باغ پر مرتب کول، دا کارونه په عمر جاوید شمارلي بویه "(دستارنامه - ۱۴۸مخ).

ښاغلی ډاکتر پالوال صاحب لیکلي دي، چې "د نالې نیمائي برخه اؤبه چې له راډ ء څخه بیلي کړل سوی وي، پاتاو باله کیږي (پاتاو اصلاً یوناني لغت دئ). د پاتاو نیمائي اوبه چې بیل بهید ولري "وا- wa " نومیږي. د "وا " نیمائي اوبه "ببله" نومیږي. د "ببلې" نیمائي اوبه "واله" نومیږي ... د "والې" دریمه برخه اړبه "لښتی" نومیږي".

(وګ: معیاري پښتو- ۱۷۱مخ)

مولوي بریالي ویلي دي:

اې زخمي ژر بــــه دي سي ګل د هوس وچ
چې غفلت دي کی جــاري لښتی د وس وچ

(اهاړ- ۲۸مخ)

* * *

والی:

ګوشواره (پارسي) غوږوالی.
اشرف خان هجري په مغیره شکل داسي راوړی دئ:

د قـیامت ساعت نازل په زمانه کا
هغه دم چي ئې ژړنګا شي د والیو

(۴۲۱ - مخ)

✶✶✶

وچ موری:

هغه کوچنی (ماشوم، طفل) چي مور ئې د ده پر یو کلني باندي بیا امیندواره سي یا ئې شیدې د کومي بلي پېښني له اسیته وچي سي، (وچ موری) بلل کیږي. په لس زره پښتو لغتونه کي دا ویی راغلی دئ او په "شیرسوخته" ئې معنا کړی دئ. نورو قاموسو هم اخیستی دئ. په لوېدیځه لهجه کي هم عام استعمال لري.

میرزا خان وایي:

دا جـــهان په نعمت پور دی
په خواری کي دی وچ موری

(۲۱۱ - مخ)

✶✶✶

ورخ:

ورخ د اوبو هغه دانه (دهانه) یا بند ته وایي چي له هغه ځخه و

کښت ته کُردو (کوردو*) ته اوبه ورځي. "ورخ اوبو یوور" اصطلاح هغه وخت کارېږي، چي کار تر کار تېر سوی وي.

رحمان بابا وايي:

تر ورخ تيري اوبه بيرته نه جاروزي
نه جاروزي تېر ساعت په بيرته بيا

(۱۱۲- مخ)

قادرخان خټک وايي:

نه ګوري که وګورې احوال به مي معلوم کړې
ځي چي ځي په مخ زما د سرو اوښکو ورخونه

(۲۳۰- مخ)

***

ورون:

د پښتو تر زنګانه لوړي برخي ته په لوېديځه لهجه کي ورون وايي. نوري لهجې ورته (پتون) وايي.

اشرف خان هجري ويلي دي:

د حرص تيغ دي ناحق په غـــاره کيښنو
پري غوځ کړی دي د صبر د آس ورون دی

(۴۷۴- مخ)

*کوردونه د پولي مربع شکله وېشونه دي (ع. پالوال).

یا:

زه د یار د عشـــــقه چیرته ګرېز وکړم
چه داغ کړی مي د زړه د آس پتون دی
(۴۸۱- مخ)

عبدالقادر خان ویلي دي:

په قامت د مــــــــوذن قـیام پسو کړم
ښایسته مي په ورانه باندې سرا یښی
(۲۵۰- مخ)

شمس الدین کاکړ وایي:

تازیانه ورسره وصل لکه لم وي
یو دم نه وي له ورنو د ده جــــدا
(۳۱- مخ)

***

وری:

بار ته وايي.

عبدالقادر خان وايي:

هسې درونـد وری ئې بار په ما ضعیف کړ
چي اسـمان ورته خپل ځـان نیولی نه شي
(۳۰۰ - مخ)

***

هول:

وارخطايي.

په کندهارۍ لهجه کي هولکي (اولکي) وارخطا ته ويل کېږي.

ميرزاخان انصاري ويلي دي:

د قيامت هول و هيبت راباندي تېر شو

د اجل پياله ئې راکـړه پر حـيات شوم

(۹۲ - مخ)

شمس الدين کاکړ وايي:

له دوا مـغزی پېچمه لـکه طـفل

زړه مي هول د طبيب له دوا وخوړ

(۵۹- مخ)

* * *

يک لخته:

په کلاسيک ادب کي زيات راغلی دئ. د کندهار په لهجه کي د (يومخيزه) په معنا رواج لري. خوشحال وايي:

يا د مارغوندي راضي له خپله بخته

چي د غم له پوسته ووتم يک لـخته

(۱۹۵- مخ)

يا:

په وخت د ښو ګلونـــــو د وصال باده نوشلي

د زړه اندوه دې واړه دا عشرت يوسي يکلخته
(۱۹۸- مخ)

***

يوم:

د پښتو په نورو لهجوکي د (يوم) له پاره (ښېل) لغت عام استعمال لري. خوشحال خان ئې (يوم) بولي.

د دهقان فــــهم په پانه*يا په يـــوم دی
د سپاهي نظر په توره، په تيرکش وي
(۳۲۷- مخ)

ميرزا خان وايي:

د پندار پـــه نوک ئې گروي
شرک ئې عين د زړه يوم دی
(۵۲ - مخ)

***

يوې:

په نورو لهجو کي ئې قلبه بولي.
اشرف خان هجري ويلي دي:

د فرقت يوې مي دل هسې سادين کړ

* پانه به ئې ښايي د اغاز په مانا وي. اغاز د لرگي وي، او پانه د اوسپني وي (ع. پالوال).

چي ئې ببخ د عيش يوړ د غم په سپاره

(۱۲۰-مخ)

حميد ويلي دي:

ستور په يوې کې په کيل برابر درومي

ولې ته له شـــرعې درومې ناصـواب

(کليات-۳۳مخ)

٭٭٭

۴، ۲:متفرقات:

ده غلامان*:

په دې نامه د کندهار په جنوب کې يو کلی سته.کندهاريان يو متل لري چي وايي: "په مريانو که اباد ېدلای، اوس به ده غلامان اباد وای". رحمان بابا هم "ده غلامان" د ځای او کلي په معنا راوړی دئ (۱۹۳- مخ). داسې ښکاري چې د سيمې له پاره دا نوم يوازې په کندهار پوري محدود پاته سوی نه دئ.

٭٭٭

* "که په مريانو آباد ېدلای، ده غلامان به آباد سوئ وای". که په وګړو آباد ېدلای، کندهار به آباد سوئ وای (ع پالوال).

چغتی:

په کندهار کي چغتایانو (چغتانیانو) (مغولو) ته چغتی وایي. د چغتي په نامه په کندهار کي یوه کورنۍ سته.

هجري وایي:

مـــــا به محــبّس غــــــــمونه ژوول
که رشوت د چغتي په دربار پور وای

(۵۱۵ - مخ)

په چاپي متن کي "وی " دئ.

* * *

مغولګۍ:

د خوشحال خان ختک په یوه بیت کي پارسي ژبه "مغولګۍ " بلله سوې ده.

ما ساده پښتانه څه زده چي ئې وایي
پــــه پارسۍ پارسۍ خبرو مغولــګۍ*

(۴۹۳- مخ)

هجری هم وایي:

د پښــتو ژبه مي ناوې کړه په نظم

---

*ښایي مغولګۍ به یوه ښځه وه چي پارسي به ئې ویله (ع. پالوال).

د مغلو په شعر هم عالي مکان يم

(۱۰۱- مخ)

د فارسي ژبي له پاره دا نوم ما له ملاعبدالباقي افغان پرته د بل چا په کلام کي که لوستلی نه دئ. ملاعبدالباقي افغان په تهذيب الواجبات (شپږم مخ) کي وايي:

فارسي خواره د کم ځای چي آب ونان و څه ته وايي
مغـــــولي ژبې بللـه، پښـــــتنو ته کلــــه ښـــايي

دا مشابهت ما ته په زړه پوري دئ خو دا خبره د ژبني مشابهت په کتار کي نه شمېرم، هسي مي د حسن ختام په توګه راووړ.

✶✶✶

۴، ۳:نتيجه:

د پښتو په کلاسيکه مرحله کي د پښتو قواعد، لغتونه، اصطلاحات، تلفظي ځانګړتياوي تر ډېري اندازې پوري د پښتونخوا له يوه سره تر بله سره پوري سره يو شان او يا سره نږدې وې. په دغه دوران کي لکه "ټول پښتون چي له کندهاره تر اټکه د ننګ په کار کي پټ و آشکار" سره يو وو، دغه راز ئې ژبه او لهجې هم د نن په شان سره ليري نه وې. تر کلاسيکي مرحلي وروسته، چي د کال و مياشتي په حساب ئې ما ته نېټه ټاکل مشکله خبره ده، پر پښتنو او پښتو باندي

مځکني و اسماني اپتونه نازل سوي دي او دې اپتو ئې پر ژبه هم درنې اغېزې کړی دي. په پښتو کي خورا ژور ګرامري، تلفظي او لغوي بدلونونه راغلي دي. په دې بدلونو کي د اقتصادي، سياسي او ټولنيزو حوادثو تر اغېزې لاندي د پښتو ژبي لهجو د يووالي او نزديکت پر ځای د سره ليري والي لار اخيستې ده او دا لړی تر دا ننه هم روانه ده.

تر څو په پښتنو کي د قبيلويت روحيه واکمنه وي، د ژبي د لهجو موسسات به ئې هم ژوندي او فعال وي. د لهجو نفي کول له ځان سره نوري ستونزي راولاړوي خو نزدېکت ئې هم ځان ته خپل تاداو غواړي. دا تاداو په نصيحت کولو نه ودانېږي، بلکي د پښتنو په ژوند کي د اقتصادي او ټولنيزو بدلونو په راتګ سره د فرهنګ او ژبي موسسه هم ورسره بدلون مومي. ګويا د ژبي د يووالي او کره والي او د لهجو د نزدېوالي ستر کار د پښتنو په ژوند کي د اقتصادي و ټولنيزو تغييراتو او تبدلاتو سره تړلی دئ.

په ژبه کي بدلونونه راتلل يا راوستل يوه طبيعي پېښه ده. وايي، بدلون د طبيعت ناموس دئ. د ژبي د بدلون په وړاندي د لهجو عکس العمل يو راز نه وي. ځيني لهجې دا بدلونونه ومني او ځيني ئې بيا پخوانۍ قاعدې، لغتونه او تلفظونه ئې وساتي. لکه تاسي چي په دې کتاب کي ولوستل، د پښتو لوېديځي لهجې د کلاسيک ادب ډېر څه خوندي ساتلي دي او دا هغه څه دي چي ما ئې په دې خپل کتاب کي د

ځرګندولو او بیانولو هڅه کړې ده. دا چې دې هدف ته په رسېدلو کې به څونه بریالی سوی یم، سپینېدل ئې په تاسې درنو لوستونکو پورې اړه لري.

خدایه ! چا وته ئې کښېم، څوک به پرې پوه شي
مــــــا ویلی هـــــــــــــر یو بیت دی دفــــــترونه
(خوشحال ختټک)